Download from:aghalibrary

# د سمڅي یاران



ناول

سعدالدين شپون

کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# د سمڅي یاران

سعدالدین شپون

۱۳۸۱

Download from:aghalibrary

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم :: د سمڅې یاران

لیکوال :: سعدالدین شپون

خپرندوی :: دانش خپرندویه ټولنه

د چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ کال :: ۱۳۸۱ش/۲۰۰۲ م

کمپوزر :: محمد نادر "هاشمي"

چاپخې :: دانش کتابتون، قصه خواني بازار، پېښور

Ph:2564513/E-mail:danish2k2000@yahoo.com



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# د خپرندويې ټولنې يادښت

"د سمڅې ياران" د پښتو ژبې د خانګړي سبک ليکوال ښاغلي سعدالدين شپون دريم ناول دی، چې په خوږه او خانګړې ولسي ژبه ليکل شوی دی.

"شين تاغی" د شپون صاحب لومړی ناول و، چې خپراوي يې په زړونو کې هيلې راوټوکولې او د دويم ناول (ګټيالي) په خپرېدا هغه راټوکيدلې هيلې لا پسې تاندې او وغوړېدې، چې دا دی" د سمڅې ياران" يې هم خپور شو او ستاسې تر لاسونو دررسېده

دانش خپرندويه ټولنه د دې کتاب خپراوی د ځان لپاره وياړ بولي او د ده د فکر و فن مينه والو ته يې په وړاندې کولو خان سرلوړی بولي.

موږ ددې پرځای، چې په کتاب څه ووايو. پرېږدو، چې ګران لوستونکي يې پخپله د خپل قضاوت وينا و په تله کې واچوي او ويې ارزوي.

په پای کې ښاغلي سعدالدين شپون ته د دې کتاب د خپراوي مبارکي وركوو او د څښتن تعالی په دربار کې ورته د اوږد عمر لپاره لاس په دعا يوو.

د ليکوال د همداسې نورو ليکنو د خپرېدا په هيله

دانش خپرندويه ټولنه

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ډالۍ :

زما د کلي او د ټول وطن اولس وژلو ته !

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# سریزه

تېر کال يوه غنم رنګې خوان، چې ما په عمر نه ولېدلې ؛ د ـ متې سرد. په ويرجينا کې په مورِ شپه راوړه. وروسته بيا خبر شوم چې چا ورته زما ويلي و چې دده ته خپله کيسه تېره کړه. په امانت به يې درته وليکي. د ورځې له خوا به دی او مېرمن يې د واشنګټن په سيل وتل او شپې به يې راته دخپل ژوند بيان کاوه. اته شپې زما مېلمانه پاتې شول. زما کور والا ددده د مېرمنې . سره دومره يې پرېښودلې وې چې کله چې دوی بېرته آيوا ته روانېدل. دواړو ژړل. اوس هم په تلفون کې اوږدې مرکې کوي. مېرمن مې د دوی په شتو کې يو سهار ماته پټ وويل. "دانجلي خو تيارد بناپيرې دده". دغه ډاکتر ته د کړې ژمنې سرد سم. دا کيسه. لکه څنګه چې دده ماته تېره کړه. لوستونکيو ته بيانوم.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

## «۱»

لږ بر، د ډاکټرۍ زېږې لګېدلی و. د کلي د مور او پلار تلوسه همدا وه چې يره، که د زوی نه مې ډاکټر جوړ شي. زه هم په همدې تېل کې لاړم. د پلار سړه خو يو دوه نه شو کېدای. په مور مې د خدای وسې وکړې چې طب نه لولم. اوس وايم دا به د ملا لنډه کي تاثير و چې خلکو وريسې جوړه کړې و د چې د حديث ترجمه هم په پښتو شعر کوي او هدايه هم داسې په شرنګولي غږ تېروي، ته وايې کوچانی تکی وراچوي. که به مړز جنګېده او که به درمند ځای کې جوار په بټ کې نيني کېدل، ملا لنډه کي به سور او تال ور برابر کړ او شعر به يې پسې وايه. رحمان بابا خو يې همېشګي متل و. نو دوړ درو واړو يارانو د ادبياتو پوهنځي ته پخه کړې وه. خو پلار مې تر غوږ نيولی کابل ته بوتلم او تر هغې را سره و چې په کانکور کې د طب پوهنځي ته شوم.



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

سالم جان چنغړک او بريالی، چې بيا وروسته، بر ماڼو شو، خپل مطلب ته ورسېدل. بيا هم غنيمت و چې په ليليه کې خو سره يو ځای وو، او که نه په کابل کې به مې زاره چاودلې وه. بس دلته مو هم د يو څو نورو اطرافيانو سره هر ماښام بندار جوړ و، او موږ درو کليوالو به د رخصتي په ورځو نورو ته يکې خپل کمالات ښودل. تر دې حده مشهور شوو چې پس شا به ځينو د درو ډماڼو ډله بللو. زموږ ډمګري دا وه چې ما شپېلۍ غږوله، بر ماڼو به غږ را سره غبرګون کاوه او سالم جان چمبه وهله. دا کمالات موږ د وړکتابه نه ياخه کړي وو. ما د سيند د غاړې د درو نه شپيلۍ سازه کړې وه، سالم جان به کله چلمچي او کله چمبه د کور نه پټوله او هماغلته به د رمندځای کې به مو د بريالي د آواز سره شور بګټ جوړ کړی و. د ابا له، برې مې دروی شپې د بالښت لاندې پټاوه. هغه به د ربغه وهل کول او څو څو ځلي يې دروی رامات کړی و. دا خو ورځه، د سيند د غاړې ځنګل چې وي، سړی به بل جوړ کړي، خو د زېږو پخه شپېلۍ چې د ادې د څو کالونو د پيسه پيسه سپمانه مې اخيستې وه، هغه يې هم راله ماته کړه. د ابا کار بس ماتړل، مروړل او ډبول وو. مېزان يې چې ما په بده ترې پټول، هماغلته راته مروړل. بس ددې پړانګ و چې شين سهار به جومات کې را باندې سبق ووايي او بيا مې، کله سباري کړی او کله نهر، مکتب ته ورسوي. ياد مې شي چې يو دورځ مې د خره نه په راغوځاړېدو با کومې بلې شيطانۍ پښه اوښتې وه، تر دې چې په څلورې مې ځان کور ته ورساوه. په سهار مې پښه د پاړکي نه پاس تر زنګانه د خيګ په شان وپړسېده. خو د مور د زاريو



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

سره سره ابا مکتب ته روان کړم. دی مخکې او زه کله په نګو ښېدا او کله په څلوري وريسې. د ابا په نزد، ښېدو د طالبانو په شان، موسيقي، د نوروز ځانګل، په لوړ غږ خندا او په سلهاوو دغسې شيان چې کلبوالو غم پرې غلطاوه، حرام وو. حتی مور مې هم دهغه دسخت ګيری نه شکايت کاوه. په ټول کلي کې زما د همدغو دوو يارانو سره راز شريک و سالم جان په چنغړک څکه مشهور و چې د ډېر ډنګروالي نه يې چنغړک په ستوني کې د آغوز په شان لړ بر کېده. بريالی بيا دنجونو پسې د ډېر څوس (توس) له کبله په کلي کې د سپی مه په نوم يادېده چې لړ بر تاجکانو هغه په قطغنی ژبه، سګه لک باله او په رښتيا هم بريالی نجونو او حتی ښځو هلکانو ته سپی سپی کېده.

يوه ورځ درې واړه د جومات دمخې پيتاوي ته ناست وو. هلته لرې د تاجي لور، ملواره، لګيا وه د شکری نه يې غوشايه را اخستل او په ديوال يې تپل. مور د منې هندوانه خوړله، خو بريالی نجلی ته ځير و. په آخر کې يې سوړ اسويلی وکېښ او ويې ويل، «بره، ارمان چې زه غوشايی وای، ملوارې رانه ځپياکې جوړولې، په ديوالې يې پورې کولی». چې مور وخندل نو هغه وويل« نه ګورئ چې په ځومرد نياز پېړې جوړوي، بيا يې په ديوال په ځومره قابلی اونې او بيا په خپل پېزوان وربانديې نقشونه جوړوي. که دهغې په ځای يې ماته دومره ناز راکړی وای، ما به څه بد کول چې ستاسو سپېرو سره د غلا هندوانه سرېوم». چې مور دده په بد ذوقی و خندل چې د ځپياکو او داړو د پېړې فرق نشي کولی، نو دی نور هم برګ شو، «خير



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

دی، د برې لارې، لږ ولاړې، د بریالي هوښیارۍ به څو کاله پس در په یاد شي، چې د هغې پسې ستاسو غوندې، په زړهاوو نورو سپېرو د جرګو بهیر وي او پلار به یې نه درکوي. تاسو غوښایه وینئ، خو د ملوارې قابلي، په نازناز د څپیاکو د جوړولو، د څپیاکو د نقش و نګار ښکلا نه وینئ چې د خړ دېوال نه یې د ښاپیرو ارم جوړ کړی دی. »

داسې نه ده چې ګوندې زه او سالم جان نو پرښتې وو. نه په هوا کې مرغۍ رانه یې خوړېدو خلاصه وه او نه په مځکه خر، خو د بنیادم نه لرې ګرځېدو، ځکه په نورو کې که به وهل او قفپايي وه خو د لجونو د څورولو نه د وینې بوی راته. زموږ لویه بد اخلاقي د ختیکو او جوارو د وږو او د نورو له لومو نه د مرزانو غلاوه.

کلیوالو په موږ کې فرق نه کاوه، د درو شیطانانو نوم یې را باندې اینبی و. خو ملا بیا موږ سل (۱۰۰) شیطانان بللو. ویل یې، کمال د یو عدد دی او دا دوه نور یې صفرونه. یو څه رښتیا یې هم ویل. زه په ونه تر دواړو دنګ وم خو په عمر شپږ اوه کاله کشر. تر نورو شرمیندوکی وم او د کلو نجونو د ډانګ نوم را باندې اینبی و. چې موږ درې یاران به وریېښ شوو نو یوې به غږ کړ «هلئ خوارې شئ، یوې خواته شئ، د ډانګ ډله راغله.» بلې به په لوړ آواز چې موږ یې واورو، ویل، «ډانګ نه دی ډینګ دی.» او بیا به یې په پلوونو کې کټ کټ خندل. غلاوې مو ګډې وې، خو که نه وې هم چې یو به په بلا کې ګیر شو، دوو نورو ته به هم سزا ورکوله کېده او ځیني وختونه درې واړه په یوه ځای قفپايي وو، بوه لښته را باندې



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ماتېده. خو که به د کور مامله وه نو د هر هلک سزا خپله وه. په ما ، يوه لويه بده پېښه پېښه يو مازيگر دا وشوه چې د جومات نه د راوتلو سره چې ما پښې په پښو کړې، او بيره مې وه چې تر ماښام د مخه يو څل بيا د مېزانو په لومو وگرځم، چې ما د برنډې نه توپ واهه، ملا لنډه کي په هوا کې د لاسه نيولی راستون کړم او هماغلته يې د مشرانو په مخ کې تکفير کړم، « ژر توبه وباسه که نه کافر شوې » چا ورنه پوښتنه وکړه چې هلک څه گناه کړې؟ ملا لنډه کي وويل ، « ما په خپلو سترگو وليدل چې اوله بې چپه موچنه په پښو کړه ، په اسلام کې به اول ښي موچنه ، ښي لستوني ، ښي پا يڅه ، اغوندي او چې کارې يې نو اوله چپه بياسي ». پلار مې چې زما حال وليد نو راغی ، تنگ څپېړه يې را نه تېره کړه او په لته يې د برنډې نه کوز وغورځولم، « څه ورک شه ». ما په خوشالی تر پلل ، مقصد چې د تکفير د سنگسار نه خلاص شوم. ډېر کالونه پس پوه شوم چې د ملا تکفير او د پلار ډبول هسې د کليوالو تو کېږو د چې په موږ ماشومانو يې کوله. ايله مو هغه وخت د غه زاره چاودون ختم شو چې پوهنتون مو د کمکيتوب ورگاړې توبې کړې.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

«۲»

مور بدل شوي وو خو کلي او کليوال لا په خپل حال وو. په څلورم کال هم چې د رخصتي په مياشت کې کلي ته ستون شوم پلار مې هماغه پخوانی پوښتنه کوله،« هلکه، څومره وخت دي د ډاکټرۍ پاتې دی؟ ». د ابا وارخطايي اوس ځکه زياته وه چې ويل به يې، هلک په پنځم کال سپور دی خو لا هسې بې شمره پاتې دی. اوس سالم جان زياتې چنغېږ ک نه و، د ساعي تخلص يې کاوه چې همصنفانو به ملامتاوه چې د سعايت نه اخيستل شوی او جاسوس ته وايه شي. په برياليو باندې هلکانو د برمانو نوم ايښی و، ځکه چې په ونه ټيټ او په جوسه تر اندازې زيات پنډ و او چې منډه به يې کوله سر به يې ټيټ ونيو، د غويي په شان چې د سپي سره مقابلې ته ښکر ور اړ موي. دوی دواړه د ادبياتو د پوهنځي نه فارغ شوي وو او دا مهال د کابل نه د مقررۍ د امرونو سره کلي ته ستانه شوي وو. هرې خواته به



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

آوازه وه. سالم جان چېرته په وازه خوا نومي ځای کې چې مور يې په اول ځل نوم اوريده، ولسوال مقرر شوی و او بر مانو په کندوز کې د لېسې مدير و. ابا لکه چې همزولو ته شرمېدلی وي، ويل چې دا نو فاکولته نه شوه، د بسوګی واده شو. مور ته مې يې ويلي وو، زړه مې وايي چې هلک ناکامه شوی او که نه نو اوس ولې نه ډاکټر کېږي؟ مور به مې ويل چې يو کال نور هم ورته وګوره خو پلار مې تل په بېړه کې و. ويل يې، زما په قبر چې بروزي شنې وي، بيا چې ډاکټر نه چې لانېکره ورشي ماته يې څه ګټه. کليوال اوس هم پېغورونه راکوي.

په ما کې چې کومه د پلار د ناړامی تومنه پرته وه، د سالم جان او برمانو د فارغ تحصيلی سره، چې زه يې بوازې کابل کې پرېښودم، بهر ته راووتله. د پوهنتون درس پاتې وو، درسته ورځ به مې د ادبياتو د پوهنځي د يوه محصل نه انګريزي ويله او يا مې شعرونه او داستانونه لوستل. استادان را باندې په غوسه وو خو ما بېغمه خپلې وشتې کولې. پوهېدم چې په پوهنتون کې وهل ډبول نشته، نوا يله به مې د صنف نه وباسي او ما هم همدا غوښتل چې بيا مې ابا ته بانه برابره شي او د يارانو په شان ادبياتو ته لاړ شم. په رښتيا چې ټول پوهنځی هسې ملنډې وې. چې به د مړو تحويلدار د اناټومي په ورځ سکلېټ راووړ، ما به د خندا نه خوله نه شوه ټولولی. سلامت مړی، خو يې غوښې يې پلې. په سر يې يو کنجک مېخ ټک وهلی و. تحويلدار زوی مړی، چې يې هغې هم سخوټ، لوېشتوکی و، سکلېټ به يې د کنجک نه نيولی دخان پسې صنف ته


کتابتون پوهنه (WWW.KITABTOON.COM)

راځکاوه. د هېوکو شرنګا به یې چې په دهلیز کې واورېدل شوه د صنفونو نه به شاګردانو سرونه ایستل او زما په مشرۍ به یې په ګډه بدله وریسې وپله چې: شرنګ د پایزیب دي عالمونه خبروینه، مارشال، ورو وورو، کېږده قدمونه مارشال. ویل به یې چې هغه دی مارشال صیب یې راوړی. ددوی مطلب د باچا تره مارشال شاولیخان و چې کابلیانو د مارشال چملک، مارشال ناشکن، مارشال پلاستیک او داسې نورو نومونه ورکړي وو. چې سکلیټ به یې په صنف کې ځوړند کړ لا بله تماشه وه. هېوکي، په نایلوني تار سره تړلي، په سر مېخ تک وهلی، کېږی یې هرې خوا ته الې وهلې، کوزنی ژامې یې کړپ کړوپ جوړ کړی و. ځو ځلې د اناټومۍ استاد د صنف نه وابستلم. د کیمیا په صنف کې هم رټلی وم. په عضوي کیمیا کې بس شپږ ضلعیز انځورونه دي چې په کاربن سره نښلي. یوه ورځ معلم یوه معادله رانه وپوښتله. ما ورته ولیکله، خو ده په تعجب پوښتنه وکړه، هلکه دا د مجبو ځاله دي دکومه یاده کړې ده، ځومره ښکلې ده. ماته غوسه راغله ومې ویل چې ډاکټر صیب، لکه تاسو چې وفرمایل،، دا د شاتو د مچې ځاله ده، خو چا د شاتو په ځای متیازې پکې کړې دي. بخ وا تر دې چې د وتلو امر وکړي، په حیا کې دصنف نه ووتلم او د دروازې نه د وتلو په وخت کې مې شاته ورغبرګ کړ، صیبه، د متیازو تجزیه خو داسې ښه بي چې داناټومې د استاد دي.

په امتحانو کې بس پخکوغ، مانا یادي کول او زوتول وو. د خوش مالخان د لیسې هغه شاګرد رانه جوړ شوی و چې کالني امتحان ته یې تر باري


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

نیوله، د گذرګاه په جبه زارو مخکو ګرځېده او همدا خبره یې تکراروله چې، بسم الله الرحمن الرحیم آس: آس یو څلور بول دی چې څلور پښې او یوه لکۍ لري. بسم الله الرحمن الرحیم، آس: آس یو څلور... بس ټول درسونه مې پخکوغ یاد کړل. چنداني غمرې مې نه ګټلې، په متیه، تر کامیابۍ رسېدم. داسې نه وه چې مانو مطالعه نه کوله، حتی د امتحان په شپه به د پښتو اشعارو په ګردان لګیا وم. اوس مې د رحمان اوخوشال نه د کابل او پېښور نوو شاعرانو ته ترقي کړې وه. یونیم بیت مې په خپله هم لیکه خو غیر له خپلو ملګرو مې بل چا ته نه ښوده چې راپورې ونه خاندي.

خو د پوهنتون په پنځم کال په داسې استاد واوښتم چې هر څه یې راباندې بدل کړل. دا سړی، عبیدالله نومېده او روغ یې تخلص کاوه. د ترکیې نه یې ډاکټرې راوړې وه. دده عادت و چې اول به یې یو متل تېراوه، بیا به یې دهمدې متل د تشریح لاندې مور ته لکچر اونوټونه راکول، داسې چې د ساعت په آخر کې به هېڅ د سوال ځای پاتې نه شو. پنځم صنف کې مور معتبر خلک وو. هر چا، حتی استادانو مور ته ډاکټر ویلې. ډاکټر روغ یوه ورځ په صنف کې وویل،( ډاکټر صاحبانو، نن به د پښتو په یوه ښکلي متل درس شروع کړو چې وایې« هندو یې په سر واهه،...... یې وچاودې». په پارسي کې به هم ضرور همداسې کوم متل وي، که چاته یاد وي ودې وایې). یوه محصل غږ کړ،« مور وایو، درد.... به شقیقه چې؟» ډاکټر روغ له جبه کتابچه وابسته او هغه یې ولیکه،« شابس. په



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پښتو کې يوه لنډۍ هم شته چې وايي:

**په ناقابل طبيب مې سر شو          رنځ مې د زړه دارو د سترګو راکوينه**

اکثر چې زموږ ډاکټر صاحبانو ته مريض راشي او مثلاً د پښو د درد شکايت کوي نو ډاکټر صاحب څه مالش، واسلين ورکړي او ددې د پاره چې د مريض اتبار راشي نو وايي، پلانکې خواړه به نه خوري. « ما پوښتنه وکړه چې په دې کې نو عيب څه دی؟ ډاکټر روغ وخندل،« درد په پښه کې نه، بلکه په ماغزو کې وي. نو چې ماغزه علاج نه شي، په مالش او ملهم به څه وشي؟ » همدلته وچې ما ته شک پيدا شو،« نو صيب، دا چې موږ وايو، د پلانکي لاس غوڅ شوی، و ينې ترې بهيږي او خوږيږي،نو دا يې په حقيقت کې ماغزه غوڅ شوي دي که څنګه؟ » ډاکټر روغ موسک شو.« نه لاس يې هغه دی غوڅ شوی، ټول يې وينې، مګر چې د خوږ او درد خبره راځي، نو ګويا رګ او کومه پله يې چې غوڅه شوې، هغه په ماغزو او يا شمزۍ کې يو مرکز لري، چې د لاس سره يې په مخابره کې ګرېږ راشي نو هماغه مرکز خوږيږي. که د ماغزو هماغه برخه يې بې سده شي، نو بيا درد نشته ». زما سر خلاص نه شو.

په هغه شپه مې تر خړه کې سهاره د عقلي عصبي درسي کتاب لوست، خو لا مې هم سر نه خلاصېده. پس له لمانځه چې مې سترګه پټه کړه، بس همدا د ماغزو دشود ياري بيابان و چې زه په کې لالهاندوم او د پلو سيمو-نه او پري وو، سوټ بوټ يې ترلي وم. په هماغه ورځ بوه شوم چې زياتې په کې کېوتی يم. ډاکټر روغ ته مې د تفريح په ساعت کې حال ووايه، هغه


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

وموسل،» لکه چې د مچی ځالې ته دې لاس ور وړو ! زما هېر شو چې در ته ووایم چې دخدای دشاهکار سپېرل» زاره چاودون خو دی، مګر په طبابت کې چې علم دی او که نه،همدا عقلي عصبي طب دی. زه به تا ته دکتابونو بولبست جوړ کړم. په کور کې يې لوله او که بندېدې ما ته کور کې تلفون وکړه». چې روانېدم نوغږ يې کړ، « بل سبا جمعه دد، ولې زموږ کور ته نه راځې. هم به لمانځه ته لاړ شو او هم به مرکه سره وکړو ».

زما وېره د ډاکټر عبيدالله روغ نه هغه وخت لا زياته شوه چې دده کور ته لاړم. ګوټ کې يو بېرسری ناست و، الاهو يې کوله او ډاکټر صيب هم ورسره څنې ارتولې. نور څه نه و، بس الاهو او څنې ارتول. دوی ته نژدې مې واړه واړه مات شوي امپولونه ولېدل. چې بنه ورته ځير شوم نو د مورفيمو بوتلونه وو. څه مې و نه ويل. ډېره شيبه دوی سره بوخت وو خو بېر سری ناڅاپه پاڅېد، څنې يې رمنځ کړې، سپين پټکی چې تيار يې دخولې پورې ګنډلی و په سر کړ، لکړه يې د کوټې د ګوټ نه واخيسته.
ډاکټر روغ هم ورپسې روان شو، زه چې بې هغې هم ددې کوټې او مجلس نه وېرېدم، ورپسې ووتلم. څو کوڅې اېلو جامع جومات و چې د شا بوبو جانې جومات يې باله. له لمانځه پس، بېر سری چې معلومه شوه دده پير دی، بې له خدای پامانی لاړ او زه د روغ صيب سره دده کور ته ستون شوم. ساده بنوروا وه، د ګنډنې سره. وروسته يې راته وويل،» څنګه، کمالخانه، زما پير خو به نه وې سر بداله کړی ؟ »ما هيڅ ونه ويل، خو ګنګس وم چې دا مريدي او پيري يې لا بله پکې راوو تله. د مورفيمو بوتل ته هم چرت



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

وړی و ، دا خو تیار داپیمو په شان مخدره مواد دي، هسې نه چې په نشه یانو اوښتي وم. ډاکټر روغ په خبرو راغی، « هلکه کماله، اوس هم سر وخت دی، د طبابت کومه بله څانګه ونیسه، تېر شه ددې لېم ګریې نه، او که نه ته به هم زما په شان لیوني شې ». ما وویل، « صیبه، نیورالوجي (عقلي عصبي طب) خو دلیونیانو درغولو د پاره ده، نه د لیوني کېدو دپاره ». ده وخندل، « ښه نو، چې نه تم کېږې، د جلال آباد د ملنګ خره، رو به شي خبر به شې ». بیایې بې مقدمې شروع کړه، « هغه ورځ مې د هندو متل تېر کړ، دا هسې متل و، چې بګوان داس، چې زما د ښو شاګردانو په شمار کې دی، رانه خپه نشي. خو مطلب مې دا و چې زیاتره ناروغان چې مونږ ډاکټرانو ته راځي، په اصل کې د وجود یو ځای یې هم خراب نه وي، خو هلته په ماغزو یا شمزۍ، ملا تیر کې څه ګړبړ راغلی وي. دا ګړبړ هسې اتکلی ځای نه راځي. د وجود د انچ انچ د کنټرول تنی د ماغزو په یوي یا بلې برخې کې پرته ده. کالبوت هسې لکه ګوډاګی لرا و برکېږي، بیایې ماته داسرار، ډک وکتل، دځانه سره یې وموسل، « مزی دماغزو په لاس کې دی. عجیبه ده. هغه د خوګیانو ملا، خالص خو به پېژني چې په رادیو کې هم وعظونه کوي. هغه یوه ورځ ماته وویل چې ډاکټره، بنده چې د خدای د پېژندلو تکل کوي داسې بې نتیجې تکل دی. لکه چې زما دکمیسه تنی زما د پېژندلو تکل وکړي. زمونږ عقل دومره لنډ پاری او بې جوړي دی چې دخدای د پېژندلو توان پکې نشته، دومره حق راته حاصل دی چې په دې پوه شو چې خدای شته، او چه شته نو، زمونږ باقي


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

وظیفه داده چې اوامر یې‌ومنو... » بیا یې کټ کټ وخندل، « البته په طبابت کې خومورږ تنې نه یو، خو د هرشي کچ میچ او پېژندل په ماغزو کولی شو. ماغزه دي چې موږ له نورو ژوندی ګړو بیلوي ». ما وویل « خر او سپي هم ماغزه لري ». خو ډاکټر روغ، لکه چې زما خبرې هڅو نه وي اوریدلې خپل لکچر ته دوام ورکړ، « لاس او پښې خو به د فکر او ماغزو په برکت وپېژني، خو »، یوه اوږده شیبه غلی وو، « په ماغزو به هر بل شی کشف کړي، سپوږمۍ ته به ورخېژي، سره اوسپنه به په هوا کړي، خو په خپله ماغزه به څنګه وپېژني؟ تاسره خو بله وسیله نشته، ګویا د خپلو ماغزو په زور به خپل ماغزه پېژني، او دا کار تر اوسه ناشونی دی د ماغزو زور په خپل ځان نه رسیږي ». ما وویل ، « نو ستاسو په نظر عقلي عصبي طبابت هسې ګپ دی ». هغه وویل، « نه، زه داسې نه وایم، که علمي دی نو همدا طب دی خو بنیادم تر اوسه پکې ډېر ببرته پاتې دی » بیا یې، لکه چې هوښیار د ساده سره غږیږي، په موسکا وویل ،« ستا پوښتنه مې هېره نه ده. خر او سپي هم ماغزه لري، خو یو فرق شته چې ډېر لوی فرق دی. د بنیادم ماغزه د هر بل ژوي نه زیات دي. ته به وایې د پیل ماغزه به زیات وي. دا هم صحیح خبره ده خو زما مطلب د ماغزو او جوسې تناسب دی. پیل که زرمنه وي نو ماغزه یې دري پاوه دي، بنیادم چې ډېره توره وکړي شل و منو ته دې ایله ورسیږي، خو دده ماغزه هم دري پاوه دي، نو دده ماغزه شل منۍ جوسه اداره کوي او د پیل زرمنې، نو خامخا د بنیادم ماغزه پر پیل غاوره دي، د جولان زیاته سیمه او بهتر کنترول لري. یوازې


کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د ماغزو لوېوالی هم نه دی، بس یوه به یې درته اوس ووایم چې هغه حافظه ده چې په بنیادم کې ډېره قوي ده او همدا ورته د تدبیر او پلان او سنجش وسله ورکوي. نور به یې په صنف کې وښيو. دلته عجیبه حکمت پروت دی. پیل او نور ژوي چې په عقل کې کمزوري دي نو الله تعالی د هغوی په ختیه کې یو څه مهارتونه اغېزلي دي، لکه د هیلی بچي یې د زده کړې لامبو کولی شي.

نو خدای خپلو مخلوقاتو ته که په یوه شي کې زیاته برخه ورکړې په بل شي کې یې ترې شوکه کړې ده. نور ژوي په غریزي او ارثي، طاقتونو ولاړ دي. داروین هسې حیات ویل چې بنیادم ته لکۍ په کار نه وه نو یې لکه لمې نه ولوېده. لکۍ د څناور د پاره لوی نعمت دی. هم مچان پرې شړي، هم یې تر کوناتې لاندې بالښت کوي، خپلې سترګې پرې پټوي او د تولې د ساتلو د پاره هغه ډانګ ته ورته ده چې د سرکس لوبغاړی یې په مزي باندې د ګرځېدو په وخت کې په لاس کې نیسي. خو بنیادم ته، چې نه د مرغي په شان الوتلی شي، نه د آس په شان منډه کولی شي، نه د زمري په شان زور لري، خالق تعالی یوه نادره تحفه ورلورولې ده چې د هرشي څواب وایي، هغه ماغزه او عقل دي». نور نو ډاکټر روغ غلی شو او خپل ساعت ته یې وکتل، ګویا «روانېږه» په مایوسی راوو تلم. ظالم ډاکټر روغ لاره را وښووده خو د لارې څوری یې رانه کړ. د ورو ستې کال پای و او ما ایله الف بې شروع کوله. یو نصیحت چې وروسته یې په ګټه پوه شوم دا وچې د طب د دې رشتې د پاره خارجي ژبه ضرور ده. یو ما نو ته مې چې د


(www.kitabtoon.com) کتابتون تولنه

طب ددي نوي لېوالتيا خبره ليکلې وه نو هغه په خواب کې رانه دا متل ليکلی و چې جنګ سوړ شو ميری تود شو. څلور کاله دي په ناغېږۍ، په مشروطی ختم کړل او ايله دي اوس شوق راغی. زما ليوالتيا يې لېونتيا لوستې وه.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

«۳»

د چونګانۍ په دبرشمه، په اول ځل موږ تلویزیون چالان کړ. دا مې ځکه یاد شي چې ابه‌جي یې د تداوی د پاره کابل ته راوستې وه، د خپل زوی امیر سره ورته ناست وو. ابه‌جي زموږ د کلي هوښیاره بوډۍ، زما دایي وه‌چې کابلیان یې همشیره بولي. وروسته معلومه شوه چې په اصل کې امیر ناروغ دی او ابه‌جي ورته ویلي وو چې کمال‌جان چې کابل کې وي بل ډاکټر څه په تندر وهم. نن سهار دوخته دا یشان نښنل د مغازي نه بهر په لیکه کې ولاړوم او ایله غرمه نوبت راورسېد. ښه نونس انچه سوني تلوېژیون را په برخه شو. تر مازیګره مې آنټن او سیمونه ورته سمول، مقصد تره غوني ماښام چې پروګرام شروع شو دا هم را ژوندي شوه اناسر چې راښکاره شو، ابه‌جي د لستوني پیڅه مخ ته پرده کړه. هسې



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

خو څه نا څه يو کال نور هم، د ترپللو تر ورځي، همدا تلويزيوني پروګرامونه زموږ د ماښام شومه وه خو دغه اوله شپه مې د څو لحاظو په ياد پاتې ده. يو خو، د ابه جي عجيبه عکس العمل و، چې کله به يې مخ پټ کړ او کله به په داسي ادب ناسته وه، لکه چې نطاق ژوندی سړی دی، زموږ کورته، يلمه راغلی، په دغو شپو کې نو عربي نڅاوې هم د هر ماښام د تلويزيوني پروګرام نه بېلېدونکې برخې وې. چې به د کور ښځګلو، د ډمې ګډېې پاچ کميس، چې د تې سرونه او دنامه غوټي يې تر لاندې ربړېدې، وليدل، نو لاړې به يې ور تو کولي. په همدغه اوله شپه نو تره کي هم وينا کوله. دا شپه مې ځکه هم په ياد ده چې ابه جي دده خبرو ته جذبې وړي وه، لکه ذکر چې کوي سر يې ور سره ښوراوه. چې دده وينا خلاصه شوه نو ابه جي وويل،« دا سړی خو داسې غرېږي، لکه په کلي کې چې جرګه ماران غرېږي، درونډ ښتون دی، حق وايي». خور به مې څونډې، په موسکا زما په غوږ کې وويل،« لکه چې ابه جي هم کمو-نسته شوه! بايد چې په کدر کې شامله شي!» مور مې ابه جي ته وويل،« د کاپر صيبت کوې؟» هغې وويل،« خبرې خو يې د سم بسلمان وې!» ما پوښتنه وکړه،« ابه جي پوه شوې چې څه يې وويل،» هغې په کلانکارۍ، په ريشخند وويل،« ابه جي خو څه خرد نه دد. په هر څه پوهېږي. تره کي ويل چې د مظلومانو مالونه مه خورئ، د خدای نه وېدار شئ، په دهقان ظلم مه کوئ». مور مې وويل،« خدا که يې د خدای نوم په ژبه هم اخيستی وي، هسې د روسانو سړی دی». ابه جي نه قانع کېده،« دده خو سمه،



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

کلیواله پښتو ویله! اوس خو کاپر دی، د بد څناور غوښه خوري، ده خو زموږ ژبه کوله! » ورپسې ګل زمان د څو نورو سره راغی، د ټولو، لکه د یوه ماشین نه چې وتلي وي، زري واسکټونه، توري څپلي، سپین کمیسونه، شملیوري لونګی، جګې زري خولی، د سره پاچ ملا وستني، « منګه دې ملګري یو، منګه دې ملګري یو » ترانه یې وویله. ایه جي داسې جذبې اخیستې وه چې د کپچه مار تالی یې دوه چنده شوي. څوندي، ورته کتل او موسل یې، « په سپین سر رانه کمونسته شوه! » تر دې وروسته بیا د سولې او ډموکراسی د غیر حکومتي موسسې مشر، رامش چندرا را پیدا شو چې د تلویزیون د خبریال سره یې مرکه کوله. ایه جي وویل، « دا چوارې دلته څه بلا غواړي؟ » څوندي په خندا وویل، « ایه جي، دا لا د پتي سر دی ». رامش چندرا په ډېره غوره دا نقلاب دفاع کوله، خو د ترجمان خوند یې نه و، د هندو مروړلي فلسفه یې چې بودایي دلیل سره اغږد، نه شوه ترجمه کولی. رامش چندرا هم د ترجمان نه مایوسه ښکاریده نو بیا یې د خپل جیب نه د ونې بوه پانه چې ژېړه او کوټ کوټ وه راوایستله. ایه جي وویل، « هغه دی، د چرسو تلی بې راوښکه، رنګ دې ورک شه، په دې مخ، لکه زما د سو تبی » رامش جندرا پانه تلویزیون ته ونیوله او ویې ویل، « زه نې اقرار کوم چې: افغانستان نه مې یو شی غلا کړی دی »، ایه جي وویل، « ور کوبیه، زموږ په ملک کې د چرسو غلا غلا نه دد... » خو څوندي غلې کړ د، « ایه جي و چه دې شه، پرېږده چې وا ورو ». د هندو کیسه روانه وه او ترجمان اوس یو څه زړه ور شوی



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

و ،» هغه ورغ د ستر لار ښود ، تره کي انګړ ته لاړم، چې راو تلم نو دوني يو پاڼه مې يادګاري وشکوله. دا ، چې ډيلي ته ستون شم، په يوه بوتل کې پردم، چې تر نسله نسله پورې زموږ په کورنۍ کې دا افتخار پاتې شي چې زموږ په نيکه ګانو کې داسې يو سړی هم و چې ان د تره کي کور ته تللی و او د هغه د کور د وني نه يې دا پاڼه راشکولې وه. « هندو د خپلې جذبې د تاثير لاندې راغی او اوښکې يې په يوه خيرن دسمال پاکولې. اپه جي له خندا شنه وه،» دا شوروي سترګې دي وخورې په دې دومره ښکره ور دروغ، هم ماري هم کوکارې، هم غلا کوې هم ژاړې.... « چندرا اوښکې وچې کړې او بيا يې په همدې دسمال کې پوزه وسوغوله،» موږ د ډموکراسۍ او سولې خلک يو، موږ بېطرفه يو، مګر د هېوادونو په تاريخ کې کله کله داسې يو ببساوی لمر وخلېږي لکه اوس يې چې په افغانستان کې وينو. نو دې ملګري ما وبښي چې يو څه جذبه را باندې راغې « بيرته يې د سترګو او پوزې پاکول شروع کړل ،» علامه اقبال په رښتيا ويلي دي چې آسيا يک پيکر آب و ګلست.... دې ستر ولس او ددوی لوی مشر ته دې سلام وي چې په هر کار کې يې لمبر وړی دی. اسلام تاسو هند ته راووړ، د هند نيمه وچه ستاسو په همت د راج نه آزاده شوه، او اوس مو دنړۍ په سر بل خول، بله جوغه وتومبله. په يوه ملک کې چې حتی مارکس اجازه نه ورکوله. بې له دې چې د بورژوازۍ پړاو تېر کړي. ايسته مو دفيوډاليزم نه سوشاليزم ته ودانګل.... « رامش چندرا په زړا زړا د تلويزيون له مخه ويلي شو. دا په جي په سترګو کې هم اوښکې ډند شوې،» خوار هندو د



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

بوې پانې په غلا هسې ترور شو. څومره به یې وهلی وي، د سرې زړه پرې سوزې. که هندو دی د خدای رضا ده، په بوې پانې خوبنده څوک داسې نه شرموي! » خوربې مې اپه‌جي د لاسا کوله. « غم یې مه کوه، وژني یې نه، په اصل کې د روسانو سرې دی، د همدې لوبې د پاره یې راوستی، چې هغه یې پرې وکړه. نور یې نو په کونه ختې ورتېي او رخصتوي یې. »



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## « ٤ »

سخت وختونه وو ، او لا را روان وو . عجیبه حالات وو . زموږ د یارانو او حتی د خپلوانو بندیار چې د جمعي په شپه به زموږ کره جوړ و ، اوس بې خونده و . زموږ په بلاک کې او د مایکروریانو په نورو بلاکونو کې بل قسم ، خلکو ځاله جوړه کړې وه . د ګبدړ دلکي په شان ، پریړ ، ببر بریتونه ، تر مازیګره ملکي دریشي او بیا شنه ، عسکري یونیفارمونه ، سرې پتې ترمټ تړلې ، تنکي زیړ حریلي ، سکاڼ ، زنکي چې زموږ سره یې په پښتو ، خپلو کې یې په بل لوز خبرې کولې ، تول سره ورته لکه پارامي ، د ماشین چوړ ګوړی ، چابک چابک قدمونه ، سترګې لکه د هوسی ، هرې خواته شکمنې ، ترورې ، پخوا به چې تر نیمو شپو د بلاکونو مخې ته په چمنونو کې بندیار او مسته خندا جوړه وه او غبرګې به نیول کېدې ، اوس



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

بې ځای خالي و. هرڅه تلاش در لود چې دشپې د ګرځېدو بندیز نه دمخه ځان سبب ته کړي. نارینه له وېرې په آسانه د کور نه نه وتل لوړ مازیګر به دمابکرو ریان په بازار د بنځینه وو ګڼه ګوڼه حوړه وه چې شومه واخلي. یو مابنام ما سودا اخیستـه، کـه ګورم تر شامې یو ټیټه کې پولیس د کلاشنیکوف سره ولاړ دی او په کونداغ مې پورې وهي، خو چې ما پوښتنه ترې وکړه چې بندیز ته خو لا ساعت نیم شته، هغه په څوپه خوله خپل روسي ساعت راوښود، او بیا یې پورې وهلم. زه روان وم، خو ده لا پورې وهلم، ما چې شاته کتل نو سرې راته پردی ښکاره شو. په سبا یې خبر شوم چې روسانو تاجکان را استولي چې هم یې رنګ زموږ په شان وي او هم یې پاړسو زده وي.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

« ۵ »

نه پوهېږم، کوم هوښيار سړي دا خبره کړې چې د زړو سوچه والی په ويلې کېدو او دبنيادم اصليت په تنګسه کې معلومېږي. په يارانو او خپلوانو کې فرق راغلی و. ځينو بيخي ځانونه رانه لرې ساتل، او که په لار کې به سره دو څار شوو، په ناغېږې يې روغبړ راسره کاوه، د غلو په شان يې هره خوا ترور کتل او بېړه به يې وه. زما د ورکوتوالي يار، مستاخان، خو کله کله راتلو، خو خبرې يې بدلې شوې وې. هيڅ بې همځه به يې امپرياليزم ته ښکنځلې کولې. مستاخان په مطبوعاتو کې کار کاوه او دکودتا نه پس، لکه چې په نازکو حالاتو کې را ګېر و. دخدای بلا زېږ يې زده وې او په روسيه کې يې تحصيل کړی و. نور خو دموقع شناسي پرانګ و، ليکن دده نيمګړتيا دا وه چې داده نه وچې خلقيان به سر کار شي که


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

پرچمیان، نو واري ته یې کتل، ګوند کې داخل شوی نه و. اوس خبر شوی

وچې د تلویزیون رئیس یې د څرخي پله زندان ته بیولی دی، نو دده نیم

زړه ورته نه و. پوهېده چې همدا یې وخت و چې یا تخت یا تابوت، ګوند ته

ور ګډ شو.

یوه ورځ چې راغی امپریالستانو ته، په ښکنځلو نه سترې کېده. ما

ویل مستاخانه یاره، امپریالیزم خو په رښتیا د ښکنځلو دی، خو دا پېر ته

ډېر په غوسه یې، خبره څه ده؟ مستا خان وویل، «تېر ماښام په یوې

پارټۍ کې، دامریکا سفیر راته یوه ډېره ترخه خبره وکړه چې تر اوسه ورته

اوبو کې خولې کېږم چې دا امپریالستان ولې موږ په کرار نه پرېږدي.

پارټۍ هم ددوی په خپل سفارت کې وه. د هر چا په لاس کې، لرې دې له

مخې، د متیازو په رنګ د مردارو شرابو ګیلاسونه چې دوی یې ویسکي

بولي، حتی دومره کنجوس خلک دي چې ګیلاسونه یې هم پلاستیکي وو.

خو زه چې په غوسه یم، د سفیر خبرو ته یم. په ډېره صمیمي، د شیطاني نه

ډکه لهجه یې راته وویل، داستاسو، تې وي خپرونه چې اوس شروع شوي

ده، دهغې تصویرونه ډېر شارپ دي. «ما د مستا خان نه پوښتنه وکړه،» دا

خو یې ښه خبره کړې، نو خوله دې ولې څګ کوې؟ » مستا خان

وویل، «دشارپ په معنا پوهېږې؟ شارپ مانا دچړې په شان تېره په زړونو

ننوزي یو قسم سړې خور کب هم دی چې شارپ یې بولي، دا یې بل

سپکاوی» ما په خندا وویل، «نو تا څه ځواب ورکړ؟» مستاخان

وویل، «غابښ ماتوونکی! ورته ومې ویل چې زما دمعلوماتو د قراره د



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

امپریالستانو ټول تې وي تصویرونه تر موږ لا شارپ دي». بس نو ما خپله خندا نه شوه درولی، تر هغې مې خندل او بدودي مې نیولي وو. چې مستاخان د قاره پاڅېد، یو څو ښکنځلې یې راته وکړې او د روانېدو تابیه یې نیوله. ما را تینګ کړ، « یره آشنا ستا نه په یوه وار دواړه خطا شول، د شارپ معنا دا نه ده، لکه ته چې وایې. هغه خو ستاسو د تې وي خپرونې صیبت کړی. شارپ مانا واضح، روڼ او بې خلله، او خانه، هغه ماهی چې ته یې یادوې چې بنیادمان څېري، هغه شارپ نه دی شارک دی».
مستاخان راته دیوې دقیقې نه زیات رنې زنې وکتل او بیا نو دواړو ښه ډېر وخندل او چې روانېده نو په شرمیندوکي موسکا یې ووې،« ما هم لکه چې دهغه پښتانه کانه ورسره کړې وې چې کوم کابلي دوکاندار ورته ویلي« که خریده نمې تاني، برو »نو دورته خواب ورکړی و،« په نور دې پوډ نه شوم خو که، برو، دې ښکنځل وي، نو زما دې هم دربرو وي».
د خدای کړه وو، مستاخان چې اوس خپل مقصد ته رسېدلی و، یو سهار په رسمي موټر کې راغی. د چای ست مې ورته وکړ، خو سړی وار خطا معلومېده. نو یوې ګوښې کوټې ته لاړو او پوښتنه مې ترې وکړه چې خیریت خو به وي، دا څنګه ترور یې؟ د دهره خوا، د بوالونو ته وکتل او بیا یې په پسپسي وویل،« د موټر په ټول بکس کې مې دوسلو نه ډک یو بکس دی، راته وبې ساته». ما وویل،« وسله د چا ده؟» هغه وویل،« زموږ خپله ده، د پلار د وختونو پاتې وه، په تا خانه کې ایښې وه، خو ته خو پوهېږې چې زه اوس د حکومت لوی مامور یم، که زما د کور نه یې وسله


کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

وابستله، نو خدا که مې بې مرګه پرېږدي». زه حیران شوم. چې اوس به څه کوم؟ ورته ومې ویل،« مستاخانه، تاسو خو تا خانه لرئ. چې هلته د قرنونو قرنونو زاړه زرګوري په سورو سمبورو کې. دلی پراته دي. دا بکس دې هماغلته پټولی شو.

مایکروریان همدا دوه کوټې دي، کوم پټ ځای نه لري. شیطانان هم دغه دې وینې چې ځاله یې په مایکروریان کې ده. دوه بلاکه آپلو د کارمل کور دی. ولې دې دخپل کور څنګ ته د کابل په سیند کې نه اړ تاووله، چې ایسته ترې خلاص شوی وای»؟ مستاخان یوه داسې خبره وکړه چې لوری لودن یې رانه ورک کړ. ویې ویل،« ما په تا حساب کړی و. بس نو چې ججوره یې نه لري، بهانې مه کوه، سم ځواب راکړه! » ګویا چلینج یې راکړ.

ماته بلاربانه وه پاتې، د کا پر زوی، پښتنولي، ننواتې، او ټول نور دغسې بلابتر راته نېغ درولي وو، نو په ډار ورسره ووتلم. د بلاک نه اته نه ځلي تاو راتاو شوو، لر بر، کړکیو ته موږ کتل چې کومه ګاونډي بنځه خو به مونه څاري، بیا مو په دواړو، دا قدیمي، دځرمنې او لرګي نه جوړ شوی، بکس چې کابلیان یې بخدان بولي، په ډېر تکلیف او څکولو کوټې ته دننه کړ. په دې وسلو مې څه وکړل، دا به وروسته بیان کړم. یو غم خونه و، ددې ددغو دوو کالونو د آفتونو جریده بري وې او هره ورځ لا زیاتیدې. هر فرمان به چې را نازل شو تر بخوانې ظالم و او دخلکو چې څه دمې مراندې لا پاتې وې، هغه یوه په بلې پسې شلېدې.


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

« ٦ »

بوه شپه سفیر صیب راغی، ویل یې چې حفیظ الله امین غوښتی دی. صفي الله سفیر د حفیظ الله امین د ساینس د پوهنځی او امریکا د تحصیل د وختونو همصنفي و. سفیر هسې معمولي سړی نه و چې د سړي دې هېر شي. ږیره هر سهار صفا خریېلې، او حتی په سره رود کې یې چې دهقاني هم کوله، دریشي او نکټایي یې په غاړه. دا نو بله خبره ده چې یکې یوه جوړه دریشي، یوه نکټایي او دوه کمیسونه یې لرل. شلېدلي خو پاک چې تر اوسه نه پوهېږم، چېرته او څنګه یې پرېوللل او اوتو کول. سفیر صیب په جلال آباد کې د ساینس او کانکور، د پوهنتون د داخلې، دامتحان کورس درلود. هلته یې هم د باولي د ترکاڼ په لاس جوړې شوې چوکۍ قطار ایښې وې چې د څېنو د ماتو ګوډو پښو لاندې په بېلو بېلو ځایونو کې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

خښتې اېښودل شوې وې. د ننګرهار د دوولسم ټولګي فارغان نظر نورو ولایاتو ته د پوهنتون ډېر لېوالهوو نو، ده د کانکور یا د پوهنتون د امتحان د پاره آماده کول. د جمعې شپه وه چې کور ته راغی. ویل یې حفیظ الله امین ان ننګرهار ته وربسې احوال استولی و چې ملاقات ته ورسي. زه یو څه په ځان وویرېدم نو په ډېر احتیاط او د بېغرضی په لهجه مې پوښتنه ترې وکړه، «ښه نو، امین صیب څه مهرباني وکړه؟ کوم کار در کوي که څنګه»؟ سفیر صیب نکتایي له غاړې خلاصه کړه او د عادت له مخې یې ورمېږ و سولاوه. بیا یې خپله همېشه ګي خوږه موسکا وکړه،«هو دهمکارۍ تجویز یې وکړ خو ما رد کړ ما ورته وویل، ستاسو پاچایي په افغانستان کې آینده نه لري، خلک درنه په عذاب دي او لکه په امریکا کې مې چې درته ویلي وو، په افغانستان کې غیر د اسلام او ملیت نه بل شی چلند نه لري». زه و بوږنېدم،« آخر کې څنګه شو؟،» سفیر صیب دشونډو لاندې وویل، «ملامته مې کړ، سر کوزی مې ترې جوړ کړ، ایسته ترې راووتلم. دا خلک نعوذ بالله د خدایې خوبونه ویني». د ډوډۍ نه پس مې کالي ورته وغوړاوه، تر سهاره مې بد خوبونه لیدل. پس د چای نه چې سفیر صیب رخصتېده ما ورته وویل،« ته پوهیږې چې ما له همدې وېرې ډاکټری پرېښې ده، دملګرو ملتونو د اطلاعاتو په دفتر کې کار کوم. راځه، هغه یو بېطرفه، بېضرره ځای دی، چې کار درته پکې وګورم». هغه وویل، « زه خپل کورسونه نه شم پرېښودلی، یوه دلې شاګردان د خدای په هیله، زما په هیله ناست دي، خو که د یوې یا دوو هفتو قرار دادي کار لرې، درته کولی



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

بې شم، هسې هم پیسو ته اړ یم ». قضا داسې پېښه کړه چې مورږ د ملګرو ملتونو د کتابخانې د یوه سیستم د پاره په ګرده نړۍ کې مسابقه اعلان کړې وه نو ما ویل راځه دی هم ورکې ګډ کړم. موضوع مې ورته بیان کړه. دی ډېره شیبه غلی و او بیا یې وویل، « توکل په ښه‌وي، دغه چلنج خو قبلوم، خو ګورې چې حقه روژه ده او هلته مې واړه بچیان خدای شته چې نهر پاتې دي، نو یو څه پېسې که پښکې راکړئ، چې بیا مسابقه وګټم، نوترې و به یې ګرځوئ او که ومې نه ګټله، ته به یې دوی ته او زه به یې تاته درسوم». نو بیا رخصت شو. پس له هغې به هره ورځ کتابخانې ته راته، یوه هفته خو یې د موجوده سیستم مطالعه وکړه او کتابونه به یې اړول را اړول. یو شی چې تر اوسه مې یاد دي، دا و چې د روژې زوتې به ورباندې راغله او اکثر به یې مرۍ دومره وچه وه چې تقهار به یې کاوه. ما ورته د روژه ماتې ستونه ډېر کول خو هغه ویل د نورو دوستانو نه مې بیا نه اخستې، خو وروسته معلومه شوه، چې نه دوست و، نه موست، د یوه سرای په یوه کوټه کې یوازې اوسېده. په دویمه هفته یې د سیستم په لیکلو پیل وکړ. یاد دې په خیر وي، شفیقي بابکر خېلې، چې د دفتر سکرتره وه دده لیکل ورته ټایپول. ددویمې هفتې په پای کې روژه هم ختمه وه او د سفیر صیب کتاب هم. یو څه نورې روپۍ مې هم د دفتر نه ورته وشکولې او سړی لاړ چې د اختر شپه په کور کړي. کاغذونه مې نیویارک کې د مسابقو کمیټې ته واستول. په دې کې دوه میاشتې تېرې شوې. یوه ورځ یو تلګرام راغی. بس دغومره یې لیکلي وو، « مبارکي درکوو چې ستاسو قرار



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دادي چې کوم سیستم جوړ کړی، هغه اول لمبر راغی. جایزه در روانه ده».
زه په هماغه ورځ د ملګرو ملتو په موټر کې جلال آباد ته ورغلم. سفیر صیب د صفې په سرناست و. پاکه صفه، جارو کړې او په اوبو پرخبدلې. تغر پاک خو څو ځایه سوري چې پنځیر ک رفو شوی و، سفیر صیب لکه همېش په خپلې دریشی کې و. چې زیری مې ورکړ نو ویې خندل، «زه پوهېدم چې زما سیستم علمي او دملګرو ملتو د ټولو دفترونو د خپرونو سره برابر دی. ایله به د سرګردانی نه خلاص شي.»
بله هفته چې راغی نو پیسې یې تیارې وې، پوره شپېته زره افغانی چې هغه وخت ډېر شی و، او بله توره چې د کابل دفتر وکړه دا وه چې پېشکي پیسې یې چې ورکړې وې ترې ونه ګرځولې. چې چک مې ورکاوه هغه وویل، «بانک زما دستخط نه پیژني، چې بله بلا راته ونه کټوي. نو هماغلته مې پرې امضا کړ او د محاسبې دفتر نغدې پیسې ورکړې. د چای نه پس یې د شفیقې نه مننه وکړه. چې اودی ګوښې شونو ومې ویل» سوال درته کوم، سفیرصیب، نور دا کورس پرېږده، یا همدلته زمونږ کتابدار شه، او اوس چې دې ان د ملګرو ملتو دنیوبارک دفتر لا پېژني ستا مقررېدل، په هر ملک کې چې وغواړې، آسانه دي، ددې ځای بوه بله ښېګڼه داده چې یو څه مصئونیت به لرې ما پخپله د سردار داود د راتګ سره سم، ډاکټرې پرېښوده، دملګرو ملتو په دفتر کې مې پښې ټینګې کړې دي. دخصوصي کاربار نه تېر شه، د امینیانو غومبسې دې کټولې دي چې رانه داملوکو په ټول کې لاړ نشې.» هغه په موسکا او د ټوکو په



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

شکل کې وويل ،« پرېږده زوروره ، کـه ملګرو ملتـونو خـــپل مـامـورين ساتلی شـوای ، نو بسم الله کـمکی يې درنه تېره مـياشت بونه ته؟ ، ويې نه واژه؟ ، حال داچې ستا په وينا د ملګرو ملتونو رئيس په خپله حفيظ الله امين ته ريبار شوی و چې زمونږ ترجمان را پرېږدئ. کمکی خواره کې خو په هيڅ کې نه و ، هسې به يې کله کله راديو ته ډرامې ليکلې ، اونه يې دامين سره سختې خبرې کړې وې ، نو ملګري ملتونه به ما څنګه وساتلی شي؟ خو بيا هم مننه ، د ننګرهار شاګردان نشم پرېښودلی . زه خو هلته هم بې ضرره کار کوم ، خلقيان په ما څه غرض لري ، بې هغې هم د ننګرهار اکثر خلقيان زما شاګردان پاتې شوي دي . .» تر ماښامه سره اخته وو خو مه دې شه.

د سفير دخدای پامانی وينا به مې هيڅ هېره نشي . يوه شپه مستاخان مېلمانه کړو . يو څو نور د شوروي نه راغلي ، خلقي زلميان هم حاضر وو . چې ورغلو نو د خلقيانو هم سرو نه تاوده وو او هم يې بحثونه . ټول دننګرهار وو ، سفير صيب يې پېژانده . دنشه يانو دعادت سره سم يې چسپه بر ګرندي ورسره وکړه . يوه يې ، چې ګلابشاه نومېده او په ځان يې د کرکټه تخلص ايښی وو ، خپل او دنورو ګيلاسونه ډک کړل . ټول ولاړ وو . کرکټه صيب ګيلاس جګ ونيو او نورو ته يې کړه ،« د سفير صيب په سر سلامتی چې د داود جبار ناخوالې او دظاهر غدار بې پرداختی يې د يوه اصولی کار ګر په شان په هسکه غاړه وګاللې . ګيلاسونه په سر را واړوئ ». ما او سفير صيب د کوکاکو لا په بوتلو ورسره بدرګه وکړه . چې کښېناستو نو بيا د خبرو توپ د همدغو شوروی جوړ کړو په مېدان کې و .



(WWW.KITABTOON.COM) کـتـابـتـون ټـولـنـه

مستاخان هم کله کله تبي ورکې کاوه. سفیر صیب، لکه عادت یې چې وه، په دقت ور ته غوږ نیولی و. یو ځلي کرکنه صیب، سفیر ته هم ست وکړ، «استاذه، ته هم یو څه پکې ووایه، ته خو د ملګري امین همصنفي وې، ته چې د سره رود نه د شورا وکالت ته کاندید شوې، زه په څلورم صنف کې وم، موږ ټولو درته منډې تړې کولې». بیا یې مخ نورو ته کړ، «دا څومره نېکبختي ده چې نن د داسې یوه مردمې شخصیت سره ګیلاسونه کړنګوو چې د امین صیب د همصنفي تا په افتخار ور په برخه دی.» سفیر صیب چې ډېر ادبناکه او عاجز سړی و، همداسې موسک ناست و، خولې وربانديې ماتې وې. له هرې خوا په دد غربو شو چې یو څه ووایه! ده یو زوړ، خو په دقت قات شوې دسمال له جیبه وایست، خولې یې له تندې پاکې کړې، بیرته یې په دقت څلور کونجه قات کړ، په جیب کې یې کېښود او ویې ویل، « ستاسو ییرزو بنه زباته وه، خو خدای خبر چې زما خبرې به مو خوښې شي.» مستاخان چې د سفیر صیب او امین د ملاقات نه خبر و، وویل، « سفیر صیب به ستړی وي، پرېږدئ چې نن شپه زموږ بابولالې واوري. بل وخت به بیا دده د پاره خاص مجلس جوړ کړو.» خو خلقي زلمیان نه ایساریدل. نو سفیر صیب په ډېرې عاجزۍ وینا شروع کړه:

« دا تاسو چې تور غر په سپینې غرې ولی، د مارکس نه نیولې کې به کوپ اچوئ، کله شوروي او کله امپریالست امریکا یادوئ. دا ټول ما مطالعه کړي او حتی مقالې مې پرې لیکلې دي. نو که زما نه ضرور خبرې کول غواړئ، یو شرط به دا وي چې له ستوني به مې نه نیسئ.» خلقیانو



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

بيا گيلاسونه وکړ نګول. کرکنه صيب غږ کړ، «جان جان چوپ، علي دروازه کلوپ» او لاس يې په شونډو تېر کړ، مانا زنځير يې ور واچاوه.

سفير صيب وويل، «اول خو، د مارکس دا خبره غلطه ده چې د هيګل فلسفه نسکوره وه، ده په پښو ودرواه. بالعکس، ده سمه فلسفه سر په ځمکه ودروله. د هغې نه يې د خپل خيالي انقلاب آله جوړه کړه.» بيا يې توولو ته په موسکا وکتل،« بې ادبي دې معاف وي، يو د ټوکه به وکړم. نظر مارکس ته زموږ خپل مشر، قيام الدين خادم هوښيار دی چې ويل يې، بنيادم په دروشيانو سرړدي، يا خېټه، يا خوټه او يا خټه»، د چېرپار بوه خلقي د مداخلې غږ اوچتاوه خو نورو منع کړ. سفير صيب دوام ورکړ« د مارکس د فلسفې رښتيا دروغ په عمل کې ولېدل شول. اول به د خېټې برخه درته ووايم. موږ چې د امريکا نه راستنېدو نو بوه ملګري مې په جرمني کې يو بينز موټر واخيست او تر کابله مو د هغې چلول او د تېلو پيسې په شريکه په غاړه واخيستې. په يوګوسلاويې کې د يوې غونډۍ د پاسه مو موټر ودراوه چې سارا ګشت او دمې ته وخت ورکړو. که ګورې چې بوه ډله کالبوتونه له شکيه په خاپوړو را خېژي. چې نژدې شول ګورو چې بنيادمان دي، زياتره يې هلکان. د مخونو او وچو لينګيو پوستکي يې په هډو کو پورې نښتي، سترګې کړاغې راختلې، د سرونو وېښتان توی شوي. دانودمني مازيګر و، يخني وه. په ژبه سره نه پوهېدو خو دغښېدلو، وچو کړکو لاسونو، نريو هډوکنو ګوتو او اوږدو شنو نوکانو نه يې پوه شوو چې سوالګر دي. څه دوډۍ، سګريټ، فالتو کالي چې راسره وو، هغه مو



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ورکړل او چې مو موټر چالان کړ، شاته ګورو چې سکلیټمونه په ډله، په کونړي، دغونډۍ نه ښوییږي». سفیر صیب تولو ته وکتل،« دا هغه یتیمان وو چې پلرونه یې په اجباري کمپونو کې ایسار وو، دوی لکه بې خاونده، کوڅه ډب سپي د یوې ګولۍ ډوډۍ پسې په غر او سمه سر وو. دادې شورد د خپتې برخه. په شوروی کې منم چې توره ډوډۍ هر چاته رسیږي. دا مازې د خره ورښې دي، چې که ور یې نه کړې بیا دې اوره ژرندې ته نه رسیږي. هماغو مره ډوډۍ ورکوي چې کانالو نه وکني، د اور ګاډي پټلۍ تر سایبریا وغځوي. دوسلو فابریکې چالانه وساتي، خو دومره او داسې یې نه مړوي چې بیا نور ناکاره، سیاسي فکرونو ته وزګار شي او یا په روانو ناخوالو د فکر مجال پیدا کاندې. دوی هسې چتې لاپې کوي چې دا سوشلیزم دی، د ګوزار مرحله ده، باید هر چاته د کار په اندازه مزد ورکړای شي، کمونیزم به وروسته راشي چې هر چاته به د اړتیا په اندازه پیسې ورکول کیږي. او نور تېرت و لغت خبره داده چې د کار اندازه سړی په کومه تله وتلي؟ دوی د ځانه نعوذ بالله خدای جوړ کړی چې د کار اندازه هم دوی ټاکي، د مزد اندازه هم دوی ټاکي، د کار مفیدیت هم دوی ټاکي، نتیجه دا راځېږي چې که تاسو د مسکو او ځو نورو فهشني ښارونو نه بهر ووزئ، یا په خپله په مسکو او نورو ښارونو کې فابریکو ته لاړ شئ، نو د الفت صیب خبره، « نه دې د ویلو هغه څه چې مالبدلي دي». تاسو د کابل په بازارونو کې بوه روسي چاینکه وینئ چې قیمت یې پنځوس کوبیکه دی، خو دهغه کارګر د معاش نه خبر نه یئ چې د غه چاینکه یې



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

جوړه کړي ده چې په مياشت کې به ايله شلو روبلو ته رسيږي بيا نو دا ، د
تاسو په وېنا ، امپرياليستي امريکا د کار ګرو سره وتله. د پوهنتون د استاد
مير امان الدين انصاري هغه خوږه کيسه خو تولو کابليانو اورېدلې چې دی
په واشنګټن کې کلتوري آتا شه و ، وايي د سفارت يو زوړ شورليټ ګاډی و
چې د مقرراتو په اساس يې بايد ډرايور امريکا يې وای. نو يو تور کوټی
امريکا يې به سهار په خپل لوکس ، نوي نوزي ، تخت روان ، کاډيلاک
موټر کې راغی ، هغه به يې پارک کړ او بيا به يې ترمازيګره زموږ د
سفارت په زاړه شورليټ کې چلولو. اته ساعته به چې پوره شول ، نو به
بېرته په خپل کاډيلاک کې سپور شو ، کور ته به لاړ ». سفير صيب د کوکا
کولا نه غوړپ تېر کړ ، بيا يې خوله پاکه کړه ،« دا دې شوه د خبتي خبره .
چې راشو ، بيا دې بې ادبي معاف ، خو تې ته ، نو زه پوهېږم چې تاسو په
شوروي کې په نجونو ښه عيشونه کړي دي . ما هم په امريکا کې ډېره
خواري کړې خو چا راته کټل قدري هم نه. دا ځکه چې تاسو په بوره
ورېښمين ، بلکې نايلوني دسمال ، يوې جوړې جورابې ، يوې پوستينچې يا
قره قولي خولۍ باندې د خپلې خوښې روسۍ اخيستلې شوه. دا ټول د
سوال باري ، د جنس په جنس ، بار ټري معامله وه ، مينه نه وه. بله دا چې
شوروي مشران په دې تبليغ کې استادان دي چې اخلاق ، ناموس او د انور
معنوي اصول په ټولنه کې له مينځه يوسي. دوی د اخلاقو ، دين او د خلکو
د عنعنې نه وېره لري ، يو وار چې دغه ارزښتونه په خلکو باندې ګډوډ شي ،
نو د دوی يوازيني اسره دولت ته وي . ستالين ته يلار وايي ، لېنن ته نيکه .



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

یا نو که حتی د دوی خپل خدایي پلار ، د لینن یا ستالین یا د نظام ضد ، سر
قدرې هم وکړي ، دوی یې خپل رښتوني پلار ، ستالین یا برژنیف یا هر بل
سړي ته چې په قدرت کې وي د کې جي بي له لارې ور رسوي. ټول یو د بل
جاسوسان دي » سفیر ، بیا غلی شو . کرکنه صیب وریاندې غږ کړ ، « تا
اوسه پورې خو ټولې غلطې او دامپریالستانو تبلیغات دي . » یوه بل خلقي
مداخله وکړه ، « پربږده چې دی خپله وینا بشپړه کړي . اوس به نو سفیر
صیب د ختې برخه را واخلي . » سفیر موسک شو ، « په تکو تورو ستر گو
دې تېر جهاني جنګ ته چې روسان جنګ میهني یاد مور وطن جګړه وايي
په خپله دا د مور وطني اصطلاح ، دا ښیي چې ، کله چې جرمنانو مسکو
محاصره کړ ، ستالین یې په مقابله کې خلک د ایډیالوژۍ چارچاپېره را
ټول نه کړای شول . خلکو د کمونیزم یا سوشلزم پروا نه لرله خو د وطن په
نامه را غونډېدلی شو . نو شعار وطن شو . د ختې نه د خادم صیب مطلب
وطن دی . » سفیر صیب خپل ساعت ته وکتل او پاڅېد ، « اوس خو دا
ویروس لګېدلی ، نو په تاسو پورې ده چې څنګه یې چاره کوئ ، زه درنه
لاړم چې د شپې د ګرځېدو بندیز ته لږې شېبې پاتې دي . » خلقیانو د
انقلابي خبرو او دیالکتیکي ځواب تابیه نیوله خو سفیر صیب ټولو ته
خوږه موسکا وکړه او روان شو . زه هم نا چاره ورسره بدرګه شوم . په لار کې
نه ده څه ویل او نه ما ، خو په زړه باندې مې سل خرواره پېټی بار پروت و .
په سبا یې سفیر ننګرهار ته لاړ . یوه هفته پس خبر شوم چې د سید داود
ترون په امر یې کابل ته روان کړی خو د جلال آباد په دوسرکه کې یې اعدام
کړیدی .



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

«۷»

دسفر موزې مې لا د وخته په پښو وې. پوهېدم چې نور نو، د هزاره ګانو په وينا، آو کابل ګنده شده. او به له ورخه اوښتې دي، خو بيو ځو کارونه وو چې بې د هغو د کولو د وطن پرېښوول راته ناشونې ښکارېده. يو د دوستانو وروستی ځل لېدل وو چې هغه مې په مدار مدار کول. غرمه د يوه سره، سبناري د بل سره. خو تر اوسه، چې دا خپل حال ليکم، دهغه ماښام بد خوب وينم چې د دوست په کور کې راباندې ناوخته شو. د ګرځېدو بنديز لګېدلی و او زه لېوني کور ته روان وم. تر اوسه، د هماغې شپې د ډار او سرګردانۍ خوبونه وينم. د شور بازار، کوڅه په کوڅه، د ديوال تياري ته تېرېږم، مقصد خان کور ته نژدې کوم، خو بيا ګورم چې کوڅه بنده ده، يا بې په بل سر کې د ګزمې والا د کلاشنيکوف سره ولاړ



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دی. په موټر کې هم شاته کلاشنیکوف والا را روان دی خو موټر نه چالانیږي. د مرنجان د غونډۍ له سر نه ځان مایکرو ریون ته نژدې کوم، په تیاره کې په خاپوړو لار کوم، خو نا ځاپه چار چاپېره روښنايي شي، چې پاس ګورم، هماغه تاجکي عسکر برچه په ټوپک را ته ولاړ دی.

دا بوړنوونکي خوبونه د هماغو ورځو سوغات دی، چې تر اوسه کابل ته د سفر کولو نه وېره راځي. دوستان زما په لـ!و خوشالېدل، خو په هغوی هم د وېرې رېږد لګېدلی و، اکثر به حیران شول. یوه خورا ته وویل، « ته خو په عمرونو زموږ کنډر ته نه راتلې، دا لر د کومې لورې وخوت؟ » ما به هیڅ هم نه ویل او ـ وی چې د هر لوري کیسې کولې ما ورسره غبرګولې خو چې به دورځې په حالاتو غږېدل نو ما به په خاموشۍ ور ته کتل او چې به دوی زړه تش کړ، زه به ترې روان شوم.

زما یو بل ارمان دا و چې یو ځلې مې د ډاکټر روغ سره بیا لیدل کړي وای. یوه جمعه ورغلم. دده او د بیر سري بنډار روان و، بیا هماغه جومات ته تګ، بیا بنورروا.

د ډاکټر روغ وروستي لکچر:

میا علیصیب رسنده زیارت دی. ده مبارک به په ژوندوني لیونیان پالل، کور یې د لیونیانو حجره وه او د هر یوه سره یې ګوښې راز درلود. هغه وخت د مبارک په دلبار کې چا لیوني په زنځیرونو نه تړل. چې بېخي به یې په ځان خوله هم لګوله خو چې میا علي صیب به ورسره راز و نیاز شروع کړ نو سري به رک روغ شو. مبارک به ویل چې لیونیان د خدای



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

نازولي دي، دخداى بللي ميلمانه دي. ددوى په زړونو کې هغه اسرار پراته دي چې د نورو ورته لار نشته. او که رښتيا پوښتې، ليوني کړي هم همدې دي. ليونی مانا د ټولنې د معيار نه يې چې خبرې او کړنې فرق ولري. نو د پاړسو دا متل رښتيا دی، چې دېوانه به ده خندد و ده به ديوانه. خبره داده چې دوی د خپل زوره زيات بوج اوچت کړی او همدې يې ملا ماته کړې ده. قصيده ترې خرابه شوې ده، چېرته يې په ماغزو کې واېرونه او سيمو نه بل قسم سره انجړ شوي او د همدې شارټې د لاسه په دنيا کې رنگونه، خوندونه او ارزښتونه هغسې وينې چې نور ورسره روږدي نه دي. په ټول ننگرهار کې يوازې ميا علي صيب د لېونو دنيا لېدلې شوه، نو اول به يې هغه را وسپېړله او بيا به يې په تدبير ناروغ بېرته ورسره پخلا کړ. موږ ته معلومات نشته چې دا تدبير څه و ؟ دومره معلومات لرو، هغه مې هم د مشرانو نه اورېدلي دي، چې د لېوني او مبارک ترمينځ دوه په دوه مرکې کېدې او د مرکې په نيمايي کې به لېونی خوب وړی و، خو خبرې به يې هم کولې. ودې شي چې همدا مقناطيسي خوب، يا هپنوټزم وي چې اوس د روحياتو ډاکټران ترې کار اخلي».

ډاکټر روغ بيا خپل ساعت ته وکتل خو چې ما د تلو تابيه ونېوله هغه بيا په خبرو راغی.« پخوا هم ډاکټران پوهېدل چې دوجود بنې خوا د ماغزو له کينې برخې او کينه خوا د بنې نه اداره کېږي. بيا نو ډاکټران په دې پسې شول چې دا پيدا کړي چې دوجود کوم غړی، کوم حرکت او کومه وظيفه د



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ماغزو په کوم ځای کې مرکز نري. د ډېرو يې ځايونه پيدا شول، خو د ځينو نورو په مرکز لا گوته نشي کېښودلی او څېړنه روانه ده. يو بل شی، بلکې دوه شيان چې اوس باب شوي دي، يو د سايکوسوماتيک نظريه ده چې وايي د بنيادم زياتره ناروغۍ، دده په ماغزو کې وي، خومونږ يې ببلگې د بنيادم په نورو غړو کې وينو، لکه لاس يې چې فلج شي، يا يې ژبه تتري شي، دا يو بد شی د يوه يهود، زيگموند فروېد سوغات دی چې دي احمق د بنيادم ټول مرضونه او حتی سلوک د پرتوگابڼ لاندې، مانا شهوت پورې تړلي دي. نو کمال خانه، که ته د نيورالوجی ډاکټر کېدل غواړې په دغو دوو خطرناکو لارو کې به اثبات کوې. زه نه وايم چې مه يې څيړه. له دغو د عصبي طبابت رغېدن نشته، خو وايم اثبات به کوې. په دې يوه شه چې ماغزه د خلقت شاهکار دی، بې خرته مه وربانديې ورځه. پوهنځي خو دي ختم بويه، که سږ کال ددې کمونستي دړه کې نه بچ پاتې شوې نو انگليسي يا ده کړه او ددې ځانگې ټول کتابونه چې زه به يې اوس لست درکړم، ولوله، يا په کوم هنر، ځان د کوم بل ملک پوهنتون ته کړه». نو بيا ډاکټر روغ په تقريباً نيم ساعت کې بوا ورد لست راته داسې په زغرده وليکه لکه چې ټول ده ليکلي وي. چې رخصتېدم، ومې ويل، «ډېره مننه، خو يوه پوښتنه راسره ده، چې دا ستا ببر سری څوک دی چې دومره يې نازوې؟» هغه په خوش طبعي وخندل، «داسې يې وگڼه چې دی زما مياعلي صيب دی.» ما د خدای پامانۍ په وخت کې وويل «ميا علی صيب خو مورفين نه کول!» ده بيا وخندل، «څوک څه خبر، ننگرهار خو دقديمه تر اديمه د



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

اپیمو چینه ده . » ما وویل خو تراوسه یې په یادولو په خولو کې ډوبیږم،
«مورفین د اپیمو نه جوړیږي» ؟ ډاکټر عبیدالله روغ، لکه زما خبرې یې
چې هېڅ هم نه وي اورېدلي، د خدای پامانی لاس راکړ.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

«۸»

اوس نو د مستاخان د وسلو وار راغی چې څنګه خان ترې خلاص کړم. هغه اوس ګوند ته ورغلی و او په مظاهرو کې یې بیرغونه ګرځول. خو دې ورته ګټه نه درلوده. نه پوهېده چې تر اوسه دده برې په دې کې و چې په خلقیانو باندې خدای د ماهرانو تنګسه راوستې وه. دوی په خپله د خره د مرګ زیات ډاکټران، ناووک، اکاډمیشان او دیپلوم انجنیران لرل او تل به یې لافې وهلې چې دوی د غربي تعلیمیافته وو نه بهتر دي، مګر په عمل کې نیمایي سوډ روو، خپله ناپوهي یې د شعارونو تر شا پټوله، دلته یې نو د مستاخان په شان تېکنوکراتانو نه د پیه وري غوا کار اخیست. دا د تېکنوکراتانو ډله لا بله بلا وه. په دوی یې فرق نه و چې روسشا هي ده که



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

امریکا شاهي، که ظاهر شاهي. چې هر بو به په قدرت کې و، نو د دوی نه يې رغبېدن نه و. ژبې ددوی زده وې، ماشينونه دوی چالانولی شول، د بربېښنا تور بينونه دوی درولی شول، تلويزيون دوی چلولی شو، فلمونه او دراډيو او ټيلفون سويچبورډونه دوی فعالولی شول. لکه د داود په وخت کې چې په ميوندوال وشول، د رژيم د مخالفينو ټيپ شوي غږونه دوی داسې اړولی شول چې دهغوی انکار اقرار شي. مستا خان دهمدې دلې سری و. زه يې چې دفتر ته لاړم او ودلړه پوليسان يې دواړو خواوو ته ولاړ وو. دفتر په دويم پوړ کې و.

د مرمر و دمرياتبخه (زينه) ورختلي وه. زما پرزه يې وروړه، زه يې د لويې دروازې څنګ ته دانتظار په لرګينه کوټه کې چې سرې، سپينې لبکي يې لرلې، کښېنولم، څه د پاسه يو ساعت ناست وم. د کړکۍ نه مې د بريتورو دلي لبدلې چې د آلمان د ايس ايس د افسرانو په شان چست ګامونه ارتوی او په هر توپ د زينې دوه پاتکي وهي. لوړ مازيګر دوو سپاهيانو، لکه بندي، تر متو نيولی، پاس وخېژولم خو چې زه ورننه وتلم، دوی بېرته راکش کړم. يو افسر خپله کرتی سمه کړه، ورننووت، وروسته را ووت، ماته يې په لاس د ننوتلو اشاره وکړه. زه يو څه ترور شوم. زوی يې مړ کړې په دې معتبری! دننه چې لاړم، نو رئيس مستاخان خپل کاغذونه چې ورباندې بوخت و، يوې خواته کړل، را پاڅېده او څسپه برګرندي يې را سره وکړه. بيا يې زنګ وواهه، خانه ساما ن ته يې د چا يو فرمايش ورکړ. ما ذ وارد وويل، « ته خو د شپې د ګرځېدو د بنديز نه خلاص يې، خو زه وخت نه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

لرم، هغه ستا د امانت خبره مې کوله چې زياتي يې نودر خوندي کړه ».
مستاخان په مسته خندا وويل، « زوروره ،کښېنه، يوه پنجه غوري سره وکړو، تا خو ولېدل چې زه څومره بوخت يم، خو په دې به نه پوهېږې چې د کار د لاسه نه، بلکې دهمدغو ملګرو د لاسه چې تا به يې تګ راتګ ضرور لېدلی وي. سبا شپه تره کی صيب » بيا يې خبره بدله کړه، او ګويا په ګوند کې يې په خپل غريتوب خبر کړم، « ملګري تره کی يوه مهمه وينا لري » دلته يې خپلې سهوې ته پام شو، « ټولې يې مهمې دي خو دا هم مهمه ده. نو د فلم اخيستلو بندوبست يې په ما دی او دملګري وينا بايد زه په انګليسي ترجمه هم کړم. نو خپل ګوندي ملګرو سره مې په دې باب مشوره کوله او هدايت مې غوښت ». ما وويل، « په خپله رئيس يې، دنورو نه ولې مشورې غواړې او انګليسي دې هم نام خدا ډېره شارپ ده ».
د ملنډو په اشاره مې پوه شو. بيا ورته جدي شوم، « دا ما شيني اکادميشنان خو خدا که په دې هم پوهېږي چې د کامرې سر کوم دی ښخ يې کوم دی ». مستاخان مې خبر را پرې کړه، « نه، صيبه داسې نه ده، دوی ټول ډپلوم انجنيران دي ». بيا يې را ته نرې غوندې ستر ګک وواهه، « دوی ټول اصلي غرېږ دي، زه خو مازې په ازمېښتي پراو کې يم » بيا نو، لکه چې په ډېوال کې د اګسا کوم پټ مايکرو فون ته وينا کوي، « زموږ ګوند د امپرياليستانو په شان نه دی چې ګډوډي او انارشي پکې خپره وي، ډسپلين زموږ د ګوند اول شرط دی. » مستاخان زما د ورکوټي ملګري و، نو دده سره مې چندياني احتياط نه کاوه، ومې ويل،« د سپي زويه، دا خبرې دي



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

بادارانو ته وکړه، ما ته به لکچر نه را کوې. » مستاخان له څوکۍ پاڅېد،
مېز ته یې سوک ورکړ او په قهر جن، اوچت غږ یې وویل، « ته ګرم نه یې،
لا تنظیم شوی نه یې . . . » په وینا وینا د کوټې هر ګوټ ته لاړ، پردې یې
جګولې او بیا یې د دفتر دروازه خلاصه کړه، لر بر یې وکتل، بېرته راغی،
په څوکۍ کښېناست، خوله یې غوږ ته را نږدې کړه، « دفتر له غوږونو ډک
دی، چتیات مه وایه! » زه یو څه وبوږنېدم چې نږدې مې ځان په لوی لاس
مرګ ته ورکړی و. ومې ویل، « هغه ستا امانتي کتابونه مې ولوستل، چې
اوس یې بېرته درو سپارم ». مستا خان په لوړ غږ وویل « داس کاپیتال
بنیې ؟ » ما وویل هو. مستاخان بیا په لکچر شروع وکړه، « ښه شو. دا د
مارکسیزم بنیادي او د کمیونست مانی فیستو د پوهېدو د پاره دا او ډایه-
لکتیک ماتریالیزم مهم کتابونه دي. هسې خو ټول مهم او ضروري دي خو
دداس کاپیتال ژبه یو څه ګرانه ده. نه، ګرانه هم نه بلکې د اقتصادي
اصطلاحاتو ډکه ده او تا په عمر او د منه جوار لا نه دي تللي. ډاکتري دي هم
د استبداد د وختونو طبقاتي ده. پوهېدل به یې درته مشکل وي. بل ځلې
به د انګلز انتي ډیورنګ درکړم او که یکې بندېدې زه به کومک درسره
وکړم. رښتیا دماکسیم ګورکی« مور » دې لوستی دی ؟ » ما په داسې قسم
چې هم جدي وي او هم ملنډې، وویل، « هو، ستا مور مې درله ختمه کړه، نو
دا خپل نور کتابونه کله وړې ؟ » هغه وویل، « اوس خو ډېر بوخت یم، بل
وخت، هغه نه پوهېده چې اوس څه خواب راکړي. وسله یې وړی نه شوه او
ماسره یې هم نه شوه پرېښوده. ما وویل، « ډېر خلک یې شوقیان دي، که



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

تر بلې هفتې پورې وريسې رانغلې نو بيا سرمه پسې خوروه ».

بوه لسيزه پس، چې خلقيانو په جبل کې مات گوډ کړی و، په پېښور کې يې اصلي خبره رانه وکړه، « ما ډېرې شش کليمې در پسې ويلې چې خدای يې زر د وطن نه بوتلل کړي. زما وېره دا وه چې تا به ضرور خلقيان د وسلو سره نيسي او بيا به ته ورته زما نوم ورکړې. چې خدای په ما راوستله نوستا اقرار ته حاجت پاتې نه شو ». دهغې شپې په سبا مې د خالص د مجاهدينو د کابل د استازي سره خبره پخه کړه، هغوی راغلل او په رڼا ورځ يې په دولتي موټر کې وسله رانه يو وړه. څو ورځې پس د خالص څواب چې تل به خوش طبعي ورسره مله وه، راغی، « شی شی نه و، نوم يې پتې خان، خو بيا هم مننه، موږ په يوه موشکش جهاد شروع کړی دی او هر شی چې ډز وکړي موږ ته کيميا دد ».

نور نو نه په کابل کې څه پاتې وو او نه په ما کې د کور سامان مې په کباړي والا هزاره، په نيمه بيه خرڅ کړی و. پيسې يې هم پېښه کي را کړې وې، دومره شوې چې تر پېښوره يې ورسولم.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

«۹»

آیواهـــې په نامــه ایالت یادیږي، په اصل کــې، په امــریکا کــې، د افغانــستان په لویوالي یوه جوارگرده ده. چې سترگې کار کوي، د خدای په قدرت، بنیادم نه ښکاري بس د جوارو پټي دي. د خرو سچف کیسه کوي چې یوځل آیواته راغلی و خو بیـا یې گـیله کوله چې دامـریکا حکومت یوازې یو څو بزگران پرېښـې وو چې د ده هر کلي ته راوروزي. خروسچف چې په خپـل ملک کې بـه ورتـه په هره لویشت لار کې گنـه گـونه ولاړ دوو، نه پوهېده چې په آیوا کې هر بزگر په زرهاوو جريبه مځکه په یوازې سرکړي او تول تال هـمدا وو چې دلتـه هلتـه د لارې په سر په تراکتـورونو ولاړ وو او لاسونه یې ورته پورته کول.

خو بیا هم د آیوا جوارگرد د ډېـبـور د سوالگرې نه ماتـه بـه شوه هم خرما هم ثواب، معـاش به هم اخلم او په پوهنتـون کـې به یې وږیا داخله هم



(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

راکړې وه. خو کله به هغه مار شوم چې د سوړې په خوله کې یې ویلنې زرغون شوی و. زړه مې داسې تنګ و چې کله مې ویل امریکا یې ورکه شه، ډاکټري یې د ډالرو سره ورکه شه، راځه چې وطن ته هی کړم. خو د همزولو، په تېره د برمانیو د وېرې مې ځان تینګ کړ چې بیا به راته ګډ وي چې، لالي مې مساپر دی ... وړي ... راوړي تبتبدلی نه وم، بلکې د آیوا پوهنتون په بوله را بللی وم، هم یې سکالرشپ را کړی و چې هم ډاکټري پوره کړم او هم د طب د ډیپارټمنټ په هغې څانګې کې چې دوی یې Posttraumaric stree disorder یا په مخفف ډول پي تي ایس ډي (د ټکان او جرق نه پس عصبي ګډ بډ) کې هم څېړنه او هم تداوي وکړم. د هغه ځاځي کیسه را یادېدله چې د خپل تره د مرګه پس یې دهغه کوټ اغوستی و او دعا یې کوله: مرګ دې خدای قبول کړه کوباړی (کوټ) دې په ما جړړه دی ( دد) . د خپل ملګري قوماندان خبره هم ستر ګو ته راته درېده چې په پجیرو کې یې د پېښور په رستورانونو ګرځولم او په یوه ورځ یې دوه زره روپۍ راباندې ولګولې. چې ما پوښتنه وکړه چې دا پیسې ، دا آرګابار ګادي له کومه کړل ،نو هغه وویل ،

« د جهاد برکت دی ».

اوس نو زما راتګ او مقرري هم د جهاد برکت و . په پېښور کې ما څو کاله د بوې انجیو سره د جنګي آفت ځپلو ناروغانو د تداوی په یوه کلینیک کې کار کاوه او هماغلته و چې د آیوا پوهنتون راباندې خبر شو او ورو یې بللم چې ګوندې زما د تجربې نه څه بود کړي. په آیوا کې زما سره



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

نور ډاکټران، څه د ویتنام د جنګونو د پي ټي ایس ډي متخصصانو، او په را نژدې و ختونو کې خو د خلیج د جنګونو ډاکټران هم وو چې هغوی زیاتره په هغه زهر باندې څېړنې کولې چې دوی بې Agent orange یا نارنجي زهر بولي او وایي د بغداد رژیم په امریکایانو استعمال کړي وو. په حقیقت کې دا هماغه ډي ډي ټي په شان د میاشو چینجو د وژلو دارو دي چې صدام په امریکایانو وداړول.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

## «۱۰»

په آیوا باندې نومونه هم دربدلي دي، او دا ښار چې‌ډېره ورکې وم، آیوا سیټي، مانا د آیوا ښار نومېږي. بس د جوارو په پټي کې یوه باغچه د چې یو خېر او مړژواندی سیند یې په مینځ کې بهېږي. خو چې سړی وېني، د ځېربو ګرګې، او بسته‌وني د ریښو سره پکې اوړي‌را اوړي. ابله‌یې په هیبت خبر شي. خو دغې نوم هم نه لنډی دی، نه آمو نه اباسیند. نه کوکچه، نه هلمند، ډېر غېر شاعرانه، مازې د آیوا سیند ورته وایي. دا ډېر غارو ته د پوهنتون انګړ دی. په پوهنتون کې متل دی چې هېڅوک آیوا سیټي کې نه دي زېږېدلي. مانا هسې ښار نه دی چې سړی دې په کې مېنه جوړه کړي. بس د امریکا د هر ځای نه د آیوا پوهنتون ته شاګردان راځي



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

او چې د ژمي رخصتي شي، نور نو، ياد دې په خير وي، د ملا عبدالرحمن خبره، ښار، سپيره سماوات و الارض پاتې وي. مگر د آيوا پوهنتون په گرده امريکا کې په دوو ډېرو ښه پېژندل شويو ستونو کې نامتو دی، يو طب او بل ادبيات، د طب بې اې خود کابله را سره وه، اوس مې ماسټري کوله.

د طب د وروستي امتحان د تيارۍ په هفتو کې، يوه ورځ د سيند په غاړه، په ښنو کيلو باندې پر مخې په کتاب پروت وم چې چا راته غږ وکړ، چې کتل مې، يوه نجلۍ، د يوه لنډه کي کونه سترکي او نښتو کي غولانغ بند سره يو څه لږ لمر ته غځېدلې وه، په ځان پورې يې يو قسم واسلين موښل چې هم يې لږ ونه سبزي او هم د انارو د پوټکي رنگ ور کړي. ما ويل هسې په بل چا ته غږ کوي، بېرته په کتاب بوخت شوم خو کتل مې چې هغه راغله او ويې ويل، «که تکليف نه وي، زما شا به لږ غوړه کړې!» ما ډاکټري ويله او هسې خو مې د ډېرو مريضانو جراحي د خپل معلم سره کتلې وې او په ځينو مړو او ژوندو مې په خپله هم کار کړی و، وندي کړي مې وو. خو علم او زده کړه بله دنيا وي. مونږ هلکانو به په پوهنتون کې ويل چې ډاکټر چې دومره مرضي او زخمي اندامونه او د ښځو لږې کولي ويني نو بايده دي چې د ښځې په لېدو يې دمينې په ځای ګانګې را وکېږي. خو البته زما گناګاري به افغاني وه چې اوس مې هم د ښځو په لېدو په مخ د شرم خولې را ماتېدې. هغې د واسلينو بوتل راته نيولی و، خو زه ددې کارونو نه وم، نو مې بهانه ورته وکړه چې ډېر بوخت يم. هغې ډېره شيبه په ترڅ کې راته وکتل، بيا يې په موسکا



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

راته شا کړه، او خرامانه خرامانه د خپل واسلين او رومال سره چې د کبلو په سر ورپسې څکېده خپل ځای ته روانه شوه زما په خيال مانېجنه شوه چې شرقيان نه په نيمه پوهېږي، نه په تهذيب، هغه وخت ما داسې نر يو بخښو ته وخت هم نه درلود، په خپلې کرايې کې ورتېدم، بله هفته فاينل امتحانونه وو. دا نورې بلاوې خو مې زده وې خو د روحي مرضونو، پلو او ماغزو په مضمون مې چې مړو ورته نيورا لوجي وايو او ډاکټر روغ لا دوخته خبر داری راکړی و، سم سر نه خلاصېده، دا هسې بهانه وه چې ما نجلی ته جوړه کړه. رښتيا دا ده چې زه د زنانه وو په برخه کې چنداني توريالی نه وم. همصنفانو به را پورې خندل چې کمال په رښتيا د اپيکور شاگرد دی، لوړه يې اخيستې چې بوازې تداوي به کوي، د ده ته مريض صرف دوه بول ښکاري، په نر ښځه، کړو وړو ښکلي تا ښکلي يې کار نه لري. د اپيکور لوړه خو به درې هفتې وروسته چې په خپله شهادتنامه نه، بلکې د هغې تصديق راکوي. اخلو، خو هغه بله، افغاني لوړه مې په ختيه کې اغېزل شوې وه او د زنانه وو په لېدو مې ليمه نه جگېده. يوه همصنفي په ملنډو د نجونو په مخ کې راته وويل، «هلکه، ځان تکره کړه. زمونږ بلانډانې (ژېړې وېښتانې) په تاسو غنم رنگو ښې درماتېږي» خو يوې نجلي ورته ځواب ورکړ، «ستاسو بېزو گانو نه خو هېڅ بود نه شول، گونډي په وحشي افغان کې يو څه نر توب لا پاتې وي». په بله ورځ هم زه د: پرونې ونې لاندې ناست وم او د نيورالوجي سره مې پهلوانې لرله چې ى ى حسمه بيا راغله، په لاس يې هاى راته وويل او په خپل پخوانې ځاى لمر ته وغځېده. نوريې د



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ځت غوږولو څه ونه ویل. لږ ماز یګر چې زه خپل اپارتمان ته روانېدم دا لا پرته وه.

دغه حال یوه هفته روان و. یوه ورځ زه د ډېرې مطالعې نه ستړې په کتاب پرېښانی ورې وم. ښکالو مې تر غوږ شوه. دا مې سرته ولاړه وه او په موسکا یې کوز راته کتل. بیا کښېناسته، ځان یې معرفي کړ «زما نوم آتینا دی، آتینا ګولامېس، د ادبیاتو ماسټرۍ ته کار کوم». ما لاس ورکړ، « وبخښې، زما نوم کمال دی، که دا میرات مړی امتحان مې تېر کړ نو بیا به د اپیکور مرید شم. » هغې ویل، « ډاکټر کېږې؟ » ما ویل، «همداسې یې وګڼه». آتینا، لکه افسوس چې کوي، سر وښوراوه، « دا تاسو شرقیان ولې دومره ډاکټرۍ او انجنیرۍ ته اړم یئ، . لې ادبیات یا فلسفه نه لولئ؟ » ما ویل « دا ګوندې څه لویه ګناه ده؟ » هغې وخندل «نه، خو ما فکر کاوه چې شرق د ادبیاتو او فلسفې زانګو ده، نو تاسو به په دې رشتو کې غزونې وکړئ» ما ویل، « خبره خو دې ښه وکړه خوشپېږ کاله ناوخته ». هغې په خندا ویل، « قیامت خو لا لرې دی، بلکه میاشت چې دې د طب شهادتنامه واخیسته، بیا د ادبیاتو ډیپارټمنټ کې داخله واخله». ما وخندل، خو آتینا جدي ښکارېده، بې خدای پامانی روانه شوه، خو ما چې وروسته کتل، فکر مې وکړ چې زما د کسته یې سپوخسه. هر قدم سره، د پسه دلم په شان، کله دې خوا کله هغې خوا کړوله.

په امریکا کې وروستي امتحانونه دومره سخت نه وي، دا ځکه چې درست کال د رباندي د ربسرج پېپر، خېړنې رسالې لیکي چې د هرې بوې د



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پاره باید په سلهاوو مخه کتابونه او ماخذونه پاڼې پاڼې کړي. عملي کارونه دربانديکوي، د جراحي خونې ته دي بیا یې او باید د عملیاتو په وخت کې د جراح لکچر واورې او پوښتنو ته یې هماغلته ځواب ووایي. په میاشت کې یو ځل خو په هر محصل باندې د لکچر نوبت و، معلم به د محصلینو سره په چوکۍ کښیناست، محصل به صنف ته درس ورکاوه. خو بیا هم د ناپلیون کیسه چې په وطن کې ښوونکو زموږ د وېرولو د پاره تکراروله، ریښتیا ده چې ویل یې، دده په زړه کې تل وېره وي چې سبا به امتحان وي. د امتحانونو نه پس د محصلانو د مېلو، پارتیو اوورسره خپلو کورونو ته د ستنېدو هفته وه. په بارونو، نڅا ځایونو او رستورانونو وارنه و. ځوانان بې هغې هم هر چېرته دم دمه کي او روغ لیوني وي، خو چې امتحانونه خلاص شي نو تر سېرې او ملونې و شلوي، غړونه چیغې شي، تیوکې تکالي په جنګونو او سوک لوبې واوړي، تر غاړې وتل، په یو بل ځان سولول او مچې چې بې هغې هم په امریکا او په تېره ځوان کول کې ارزانه دي، اوس وریا شي. ته به ناخبره په لار کې روان یې، ناڅاپه یوه نا آشنا نجلۍ له شا درشي، شرپ مچه درنه واخلي او بې له دې چې سم یې مخ ته وګورې، وتښتي، په دې مې چندان چرت نه و خراب، پوهېدم چې دا د ځوانۍ ببضرره او بې پروا لیونتوب دی، وېره مې چې وه، د امریکایانو د «ډبټ» نه وه.

یو وړوکی خپلو درو همصنفانو چې دوه نجونې او یو هلک و، په زوره تر متیو ونیولم، د پوهنتون په چمن کې یې کښېنولم او لکه زه چې د نخښې



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

وېشتلو ډېره يم، له درو خواوېي را باندې د لکچرونو باران نه چلول. په آخر کې مې وويل، « دا ډېر چټې دود دی. زه په کې هېڅ ګټه نه وينم. هلک نجلۍ ته وايي چې راځه « ډېټ» لاړ شو. دا چې په صنف کې سره وېنه ، توکې ټکالې کوو او ډېر کله د ادب او حيا نه وتلې نا پرېتې شتې کوو، د به زه وزغمم، که څه هم چې زمونږ په کلچر کې ناروا دي. خو زمونږ يو متل وايي، چېرته چې اوسې په خوې به د هغو سې، خو بيا هم څه کوو څه پرېږده. ډېټ يعني څه؟ دا خو ګويا په لوی لاس تاسو اور او لګه وونې سره يو ځای کوئ. نو بيا د هغې نه څه جوړ شول؟ هسې چې وي ولې سړی نېغ په نېغه د کنجنيو بازار ته لاړ نشي». هغوی زما خبرو ته له خندا بډوډې نيولي وو. يوه نجلۍ جدي وه، « کماله، ته سم پوه شوی نه يې؟ ډېټ د شهوت د پاره نه دی. د انډيوالې او مرکې د پاره دی» ما بې خبر رد کړه،« نو که د انډيوالي خبره وي، زما انډيوالان ټول، زما هم صنفه هلکان دي، ولې دهغوی سره ډېټ ونه کړم؟ » نجلۍ په مخ کې يو څه سره شوه، « ما اوريدلي چې په تاسو شرقيانو کې په رڼا ورځ هلکان يو بل تر لاسو نيولي ګرځي. نو ودې شي چې تاسو د نجلۍ نه هلک ته ډېر ورماتېږئ» ما په خندا او يو څه د لاسا وويل،« که مطلب دې شهوت وي، نو نارينه، که شرقي وي که غربي، د ښځې خواته رغبت لري او ښځه د نارينه خوا ته». هغې وويل، « نو بيا د نجلۍ سره د ډېټ نه ولې وېرېږئ؟ » ما وويل، « خپله دې ځان ملامت کړ، ګويا ته دا منې چې د ښځې سره د نارينه نژديکت، په يو ډول نه په بل ډول، نن نه سبا، شهوت ته رسيږي». هغې وويل،« نو مشکل



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

چبرته دی » ؟ ما وویل ، « مشکل همدلته دی. زموږ په دین او کلچر کې ، پخوا ترواده شهواني عمل ناروا دی ». هغې وویل، « نو ستاسې ناوې تولې بکرې دې » ؟ ما وویل، « هو ». هغې د شک په علامه سر وښوراوه. ما بې دفعه وکړه، « زموږ ځوانې هم ملا بکې نه دي، که پخوا ترواده چېرته په گودر کې یاد ونو غنو لاندې ښویېدلې وي مېړه او کلی کور وریاندې نه خبرېږي ». هغې وویل، « که خبر شي ؟ »ما وویل، « بیا نو موږ غبرگ قوانین پرې عملي کوو، یو موشرعي قانون دی او بل پښتنواله ». هغې وویل، « دا قوانین څه وایي ؟ » ما وویل، « د خدای روی ته وگوره، همدا وږمه ورځ د امتحان نه خلاص شوم، نور مې د لکچر ورکولو او لکچر اورېدلو نه زړه شین دی ». نورو دوو ملگرو هم غبرگون را سره وکړ، « کمال ربښتیا وایي، دا نن ورځ بې پرېږده، سبا ته یې محاکمه کړه، چې موږ نه یو، بیا زندی هم ور واچوه، خونن دا بحث پرېږده ». ځلې د خوش طبعی خندا وکړه، او بیا په گډه لاړو د یوه یوناني همصنفی کور ته چې سبا ته خپل ښار آتن ته روانېدونکی و، نن شپه یې لوی باندار جوړ کړی و. هلته په بلا واوښتم.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## «۱۱»

څوک له‌شا راغی، سترګې یې په لاسونو را باندې چجه کړې. له پښتو ګوتو او عطرونه یې پوه شوم چې تجلی ده. دخپلو همصنفانو نومونه مې یاد کړل، خو هغې لاس وچت نه کړ. د بنګړي شرنګا یې یو څه آشنا لګېده خو تجلی مې صحیح نه کړای شوه. چې ما بوسه شوه نو یې خوشې کړم. چې مخ مې واړاوه، آتیناوه، هماغه تجلی چې په پارک کې مې نیمه بربنډه لیدلې وه. ما په خندا پوښتنه وکړه، دا خو د ډاکټرانو ښځه‌دار دی، ته په کې څه کوې؟ هغې خواږه راته وکتل او بیا یې. لکه چې د عمرونو یاران یو، غبرګ رانه چاپېره کړه،، ته زما د نامه نه پوه نه شوې چې زه هم یو نانی یم؟ «یو څه وشرمېدم، ډېر کله، په ډېرو نازکو وختونو کې، همدا د خارجي توب احساس را باندې راته، نه مې غوښتل چې خپله ناپوهي وښیم، خو



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

هغې وویل، « اول نوم مې د یونان د مرکز آتن نه اخیستل شوی. بل د نامه
په آخر کې چې (س) راشي، لکه زما چې ګولامیس دی، نو د یوناني توب
شرط پرې تړلی شي. ستاسو پیر چې لوړه پرې اخلئ، اپیکورس، بل د
ریاضۍ پلار، پیتا ګورس، د فلسفې پلار، ساکره تیس، دا ټول ګریک
دي. ته دغه کسان پېژنې؟ » ما وویل، « هو خو موږ ابیقور، فیثاغورث،
افلاتون ورته وایو. ته نو چې یونانۍ یې دلته د انګلیسي ادبیات وایې که
څنګه؟ » هغې وویل، « نه، دلته د شاعرانو او لیکوالو یو ورکشاپ دی
چې په دنیا کې ساری نه لري. له هر ملکه ورته لیکوالان او شاعران راځي
او دلته یې سره اتکلوي ». ما پوښتنه وکړه، « تا ویل د ماسټرۍ د پاره کار
کوې، دا دې څو که کوله؟ » آتینا بیا خواږه راته وکتل، « نه، د ادبیاتو
تیوري، ډرامې، ادبي تاریخ او نقدلولو، ورسره د نورو ملکونو د لیکوالو
سره د شعري فن او ښکلا د ارزښتونو په باب خبرې کوو، یو له بله خبرېږو
چې د چا په ملک کې مثلاً شعر څه ته وایې. څنګه یې لیکي، تشبیهات
استعارې او دا نورې وسیلې څنګه کاروي، د دنیا مشهور شاعران او ناول
لیکونکي راځي او یو دوه سمستره درس راکوي، خپل آثار لولي، استادان
په موږ نظم او نثر لیکي او بیا صنف کې بحث پرې کوي ». زما یې هغې هم
د تنګ تکور، شعر شاعرۍ سره جوړه وه، نو دلچسپي مې پیدا شوه.. اوس
هغه، د کونه ستر کې، لنډه بوچه، نرګتې نه وه. اوږده، کمر تنګه آبي کمیس
یې د پانوس رنګه کوله، شونډې یې هم روې سرې نه، بلکې د اصیلو ګلابو
په رنګ وې، رنګ هم نه، هسې یې د ګلابو تکور ورکړی و. د اوږده



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کمیسه سره سنګینه ښکاریده او په اول ځل مې د خریداری سترګې پرې خوږې شوې. ګنه ګونه، شیبه په شیبه زیاتیده. دمچیو په شان ښهاړو او آتینا په دسمال باندې هره شیبه دسګرټو لوګي له ځانه شړل. دچا لاس کې ګیلاس و. په نورو پورې هغه ښتو متل ښه لګیده چې ما دې خدای بیصبره نه کړې، په لمن کې یې راواچوه. د ګیلاس په ځای یې نبغ د بوتلو نه بیر څښل. دکوټې په مینځ کې دوو درو تنو نځل خو ځای دومره تنګ و چې له هرې خوا ټکرونه، په ښو ختل او ایکسکیوز مې روان وو. آتینا تر مټ نیولی، بهر برنډې ته راکاږلم، بیا یې چې هلته هم ګنه ګونه ولیده چې ان د کور تر مخې چمن یې هم پوښلی و، نو موسکه شوه، « تر مور هوښیاران هم شته ». زما د شعر سره ډېره مینه وه، په خپلې کمزورې انګلیسی مې ښایسته ډېر انګیسې ادبیات لوستي وو. نو اول لاړم، د دوارو د پاره مې په کاغذي قابونو کې کباب چې هماغلته بهر پخیده. دوی یې باربې کیو بولې، راوړ او بیا مې نو آتینا بحث ته راپاروله. دې ته هم لکه چې خوند ور کاوه چې یو وحشي افغان ته لکچر ورکوې او د خپل ملک په ادبیاتو یې خبروې. د شپې تر ناوخته په چمن کې ناست وو.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# «۱۲»

لکه اټکل چې کېده، دسامبر، یا جدي لا رادبره نه وه چې، د پوهنتون د پنځه دبرشو زرو محصلانو، په څلورو کې دري برخې تللې وې. چې پاتې وو، یا به ما غونډې بې کوره وو، یا به پلرونو لاد سفر پیسې نه وې وراستولې، او یا ودې شی چې دناکامی د شرمه نه پوهېدل چې کومې خوا مخه کړې. زما امتحانونه ختم وو، خو د ماسټرې تیسز یامونو ګراف لا پوره شوی نه و. نورو همصنفانو تا بیه نیولې وه چې هم به د کرسمس شپه په کور کوې او هم به تیسز هلته لیکي. یو څو ملګرو چې زما ببوطني لېده نو بې ستونه راته کول چې راځه کرسمس مونږ سره تېر کړه. زما پوخ ملګری، تام، خو دومره ټینګ و، چې ویل یې، زما خور هم راځي، د هغې سره به دې آشنا کړم. ما تېکان وخوړ. داڅنګه خلک دي، څنګه کلچر دی



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

چې د خور په دلالۍ نه شرمېږې. ومې ویل، « د مېلمه پالنې نه دې مننه، زما خوښېږي چې د ژمي درې میاشتې ځانله تېرې کړم ». ددې د پاره چې یار خپه نشي، زیاته مې کړه، « خور ته دې وایه، خوشاله کرسمس در ته غواړم ». ټام یو څه په مخ کې سور شو، خو ولاړ. په سبا یې چې د خدای پامانی د پاره راغی، نو راته ویې ویل، « یو څه ګوډیز (د خدای خواږه) مې راوړي، ما فکر کاوه چې یا به یې کتابونه وي یا ستېریو، تلویزیون، یا به څه چې امانت یې راسره پرېږدي. چې سر ک ته کوز شوو، د موټر دروازه یې خلاصه کړه، نو ګورم چې بوجی په کې پرتې دي. دواړو ځلور درنې بوجی پاس راوړې، هغه به راسره چغلې کوټې ته ونه خېژوې؟ » ما وویل« ولې نه؟ » د کوټې په مېنځ کې مو خرړه کړې. بیا نو ده دهرې بوجی سر خلاص کړ، ټول د خوږو د ډبلیو نه ډک وو. حیران پاتې شوم،« په دې څه کوې؟ » ټام وویل، بېره کوه، هغه پلاستیکي کڅوړه، ډېر ژر به فریزر کې کېږده چې غوښه ده، زر ورستېږي ». چې مو دا ټول خوندي کړل نو پوښتنه مې وکړه،« دا درته وساتم »؟ ټام وویل،« نه دا زما د کرسمس تحفه ده. غم مه کوه، دخنزیر غوښه په کې نشته » ما وویل، « زه په دې دومره خوږو څه وکړم »؟ هغه ومو سل، « په رښتیا چې وحشي یې. د آیوا د ژمي دې نه دي اوریدلي چې کانې چوي؟ ښار به په واورو کې درنه ورک شي، کنګل به داسې وروته در قلف کړي چې زیاتې د بهر دنیا سره خدای پاماني وکړې ». د ټام خبرو رښتیا په ترهه کې واچولم. بله ورځ، زما یو بل همصنفي چې ډبوډۍ په ډبوډۍ مو کوټې وې، د مخه ښې په وخت د خپلې



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

کوټې کلي راکړه چې هسې نه په خپله کوټه کې مې زړه تنګ شي. د آبوا بې پيره ژمي ته لا مياشت پاتې وه خو ما هره ورځ يو دوه ډبلي نور خواړه او د څښاک بوتلونه ورزياتول. زه بې دې بل اړخ ته سودا وړی وم، دا درې مياشتې به څنګه په تنهايي کې تېروم. مطالعه او د تيسز ليکل هم چاپيريال غواړي. څه ليکل، څه لوستل، څه تفريح، څه ګردش، څه د يارانو سره تو کې وشتې. ناڅاپه مې چيغې کړې، « برمانو! ولې دې تنها پرېښودم؟ » بيا وشرمېدم، برمانو خو په کلي کې و، دا زه وم چې ياران مې د روس ناتار ته پرېښي، ترې تر پللي مې وو.

په بله ورځ چې ما په دوکان کې په کڅوړه کې د يخ شوو کبانو ډبلې اچولې، بيا چا له شانه سترګې را پټې کړې، اوس پوهېدم چې آتينا ده. دهای های نه پس هغې وويل، « چېرته وې؟ زه درپسې ګرځېدم ». ما وويل، « خير خودی؟ » هغې وويل، « ستاسو امتحانونه ختم شوي دي، ما ويل بې خدای پاماني ورک نه شې ». ما پوښتنه وکړه، « ستاسو امتحانونه څنګه؟ » هغې وموسل، « نه بابا، يوه مياشت لا پاتې ده. » بيا يې په شرميدلي غږ وويل « اوس خو بهانه هم نه لرې، ولې زما سره، دمقايسوي ادبياتو صنف ته نه راځې، ته خو خپله وايې چې د طب نه دې ادبيات خوښېږي ». ما وويل، « کله؟ » هغې خپل ساعت ته وکتل، « همدا دوه ساعته پس صنف شروع کېږي. » وارخطا څه چې دوارخطا پلار وم، خو د تېښتې لار نه وه. ما وويل، « ښه ده، زه به دا کڅوړه، کوټې ته ورسوم، بيا ته د صنف لمبر را کړه، در به شم. » هغې وويل، « موټر لرې؟ » ما ووی«


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

تو کې کوې که څنګه؟ » هغې ووېل ،« راځه ، زه به دې ورسوم ، پياله قهوه به که لرې ، را به يې کړې هماغسې به ګډ لاړ شو . » زه يو څه وشرمېدم ، زما کوټه ګډه وډه وه . پتلونونه مې په هر ګوټ کې داسې پراته وو چې دوه پايڅې يې د عينکې په شان ګردې ګردې ، منجيلې وې . پيالې ، ګيلاسونه په لګن کې ناولې سره کوټه وو . خو خداى را پېښه کړې وه ، هېڅ مې ونه ويل . په کوټه کې ، لکه چې د آتينا زما ګډوډۍ ته پام شوى وي . ويې ويل ، « په رښتيا چې که ښځې نه وي ، د نارينه وو بند اوبو وړى دى . » ما ووېل ، موږ بيا داسې وايو چې نارينه غرونه دي ، ښځې يې اړمونه دي . آتينا خوږې خوږې راته وکتل او بيا يې له بستې نه کاغذ قلم رااخيستل ، زما متل يې وليکه ، تر څو ما د کبانو ډبلې په تحويلخانه کې په ځاى کولې ، آتينا متې نغښتې وې ، ټول لوښي يې پرېولل ، زما منجيلې پتلونو ته يې وخندل ، هغه يې په کوټ بند واچول . په خپله يې اوبه واچولې ، کافي يې پس د ډېر لټون نه را پيدا کړه . کاچوغه يکې نښتې وه ، کافي يې چې لا هم لمده او کنډوړې وه په کې واچوله ، د فريج نه يې شودې را وايستلې ، اول يې بوى کړې چې وراني نه وي ، بيا يې د ميز د سر نه زما کاغذونه او پاکټونه يوې خواته ټېل وهل ، د پيالې د اېښودلو ځاى يې خالي کړ او د داسې اسويلي سره چې سړى يې د درانه کار نه وروسته کوي ، کښېناسته ، د کافي په څښلو بوخته شوه ، ما د شرمه هېڅ نه ويلې ، هغې په خندا ووېل ، « ته نه ډاکټر يې نه ساينس پوه ، زما د طبعې شاعر يې . » ما ووېل ، « کافي دې څښه ، ما په عمر کې شعر نه دى ويلى » . هغې ووېل ، « په زړه کې شاعر



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

يې! » لاس يې د کوټې رنگ بنگ حال ته ونيو، « دا د ډاکټر کوټه نه ده، د شاعر ده ». ما کټ کټ وخندل، « دې ته زمونږ په ژبه کې خيالي پولاوونه وايي، تاسو يې لکه چې ويشفول تنکنگ بولئ » آتينا په غوسه نه شوه، د پخوا په شان يې په مينه راته وکتل، « د خپلې ژبې بدلې دې زده ؟ » ما وويل، « بيشکه، خو دا د نورو شعرو نه دي. » هغې وويل، « د چا ؟ » ما وويل، « شاعر يې معلوم نه دی، مونږ يې لنډۍ يا ټپې بولو او څه نه څه د جاپان هايکو ته ورته دي. دوه بيته لري. » هغې وويل « يوه بدله به راته همداسې په کرېکه ونه وايې ؟ » ما وويل، « چې په معنا يې پوهه نشې، نو د گونگيانو چغې ولې راباندې کوې؟ » هغې وويل« فلسفه مه وايه، بدله روايه. » ما هم يو څو لنډۍ په خپل ناشولته غږ ور وتوغولې. هغې په مينه راته کتل، کافي يې څښله. پياله يې پرېولله، په الماری کې يې کېښوده، خو هلته نورې بلاوې، گرندې، کتملان او چنياسې غونځېدې، ژر يې دهغې ور پورې کړې، او يې دخبرو يې ترمټ ونيولم،« بس کار وشو، روانېږه ».

صنف ته په ننوتلو وارخطا شوم. معلم ميز ته ناست و ږيره، لکه د ملنگانو، نيمايي تر ميز لاندې پټه. چوکۍ وې، خو زياتره محصلان په مځکه ناست وو. د يوې نجلۍ په غاړه خدای خبر لس وې که پنځلس لړه، د کونجکو غاړه کې پرتې وې. د يوې بلې اوږد کمرچين کميس تيار د کوچيانو و. هلته دېوال ته د بير (دوريشي شراب) ډک بوتلونه او تش شوي وو، څنگ ته يې بو لرگين بنانک د کنگل د ټوټو ډک و. خپنو د بوتلونه



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

غوړپونه کول،" او ددوو شاګردانو له شونډو پاپونه ځړېدل. استاد وویل،« تېره هفته، هېلې درج بورهانو، دوبکس اینډ ګولډ (موم او طلا) د شعر نمونې درکړې چې په ایتیوپیا کې مشهور قسم شعر دی. اوس به پوښتنه ورنه وکړو چې د موم او طلا د نامه معنا څه ده چې په شعر یې یادي». یوتور د نګ محصل چې اوږده چپنه او سپینه خولۍ یې په سر وه، د صنف له شا وویل،« د ایتیوپیا په تاریخ کې، د نجاشي نه تر دې دمه تل استبدادي حکومتونه او شاهنشاهي وې. کله به چې شاعرانو د چارواکو په ناروا او، شعر لیکه نو داسې توري به یې کارول چې آګاهان پرې پوه شي خو سر بېره نه معنا یې داسې بې ضرره وې چې چارواکي به یې نشي پرې را ایسارولی. په ظاهر کې موم او مینځ کې سره زر، د کار خبره ».

استاد وویل، « ددې په عکس، د جاپان هایکوبیا بل کمال لري. هلته د بنیادم احساس په بوې طبیعي پېښې تر سېمېږي. مثلاً سور بورا په شنو او بو سیوري اچوي. دلته نو شاعر ګویا یوه صحنه موږ ته راښیي او ښکلا بې په دې کې ده چې بو بنیادم هم شته چې هلته ولاړ دی او کوز په اوبو کې د سره بورا سیوري وینې، چې خدازده څه رنګ لري، پخپله دی یا دا ولې هلته ولاړ و، څه شي هلته را ښکلی او څه تجربې یې دځانه سره راوړې وې.

د کالیداس شکونتالا چې تېره میاشت، د یبک ماجومدار پرې خبرې وکړې، دهند د ژورې فلسفې او د تناسخ تشریح ده چې څنګه بو سړی چې نن شاهزاده دی، په پخوانۍ ژوند کې امکان لري چې سپی و. آمّا، با روح نه مري، بوازې کالبوت بدلېږي. » ماته دغو خبرو څوند را کاوه خو



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

چندیاني مې سر نه په خلاصېده. په همدې کې آتینا غږ کړ ،« نن به ډاکتر کمال دخپل وطن، افغانستان، د خپلو خلکو، پښتونز، یو قسم فوکلوریک شعر موږ ته معرفي کړي ». زه هېښ پېښ پاتې شوم. ټولوماته کتل او ما آتینا ته، چې په بلا یې واړولم. نه تیار وم او نه په شا کېدلی شوم، نو ومې ویل،« زه یو ډاکتر سړی یم، په ادبیاتو نه پوهېږم، هسې مې آتینا ته د لنډۍ په نامه شعرونو خبر یاده کړې وه ». استاد په خپلې ږیرې کې وخندل،« ته خبر نه وې چې آتینا زموږ څرې، جاسوسه ده؟ موږ در پسې اچولې وه؟ » . د مجبورۍ ورځې پاڅېدم او د پښتو د لنډیو په باب مې مات گوډ معلومات ورکړل. ومې ویل چې تر اوسه پنځه شپږ زره لنډۍ را ټولې شوې دي، دوه بندونه لري. په یوې کې یو حکم صادرېږي، په بلې کې یې ثبوت یا بېلگه راځي. استاد وویل،« ته خو یو څو لنډۍ په خپله ژبه راته ووایه، خیر دی مه یې ترجمه کوه، بس چې غږ او آهنگ سره یې لږ آشنا شو ». نو ما ورته څو لنډۍ وویلې. ما دخندا وېره لرله خو ټول صنف غلي ناست و. استاد وویل،« یو شی چې ما نوټ کړدا و چې په آخر کې (نه) یا (مه) لري. مانا په واول ختمېږي، او دا به ددې د پاره وي چې قافیه د (م) یا (ک) په شان د ویونکي سابنده نه کړي، همداسې شرنگولې اورېده لمن ورکړي ». بیا یې ماته وکتل،« د بره مهرباني که امکان لري، یو څه به ددې نوعې په باب موږ ته معلومات راکړې ». زه ورو ورو د صنف د چاپېریال سره نژدې کېدم، ځان مې د ومره پردی نه گاڼه. » د لنډۍ ژبه پښتو ده چې دافغانستان د اکثریت او د پاکستان د



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

دریم لوی قام ژبه ده. ما چې وبل ویونکي یې معلوم نه دي، همداسې ده.
لنډۍ په یوه حساب جوړه شوي نه ده، د پښتونخوا د ونو غنو سره،
راشنه شوې ده، بلکې تر څو کاله بخوا پورې، هېولیکل شوې هم نه وه ».
یوه شاګرد پوښتنه وکړه. « دا خو په عقل برابره نه خبږي. ضرور به چا
جوړه کړې وي ». ما وویل، « هو، همداسې لکه ژبه چې خلکو جوړه کړې
ده خو دا معلومه نه ده چې کوم توري چا جوړ کړی دی ». استاد، خپله ږیره
ګروله، مداخلې ته لېواله ښکاریده،« ددې بل مثال، متل دی، چې
معلومه نه ده چا او کله جوړه کړی. زه پوهېږم چې آتینا دلته په چل راوستی
یې او هر څه به درته نوې وي، خو که موږ ته یو څو لنډۍ صرف د نمونې
دپاره ترجمه کړې! » ماته چاره نه وه پاتې، نښتی وم. نو مې ورته هماغه
لنډۍ حلالې مرداري ترجمه کړې چې په اول کې مې ور اورولې وې.« په
یوې لنډۍ کې نجلۍ مور ته وايي: زلفې مې مه لنډوه موري + په سر
پربکړو ونو نه کښېنې بازونه. ما ناپیا ځوانان نه را باندې ماتېږي ».
پایب والامحصل، پایب له خولې وابست، ویې وبل،« په زړه پورې خبره
ده. په غرب کې د ځوانانو د راښکلو د پاره، نجونې ویښتان لنډوي، په
شرق کې ښځو بالعکس خبره ده ». اوږد کمیسې نجلۍ وویل،« عجبه ده
چې په اسلامي ملکونو کې په ښځو د ستر او پرهېز دومره سخت بندیز
لګېدلی، خو د لنډۍ نجلۍ داسې بربنډه غږېږي ». ما وویل« دا لا د پټې
سر دی، په سلهاوو نورې لنډۍ د باراني صحني داسې رسابیانوې چې
تخیل ته ځای نه پرېږدي ». مجلس را تودېده. ګودر مې ور ته تشریح کړ،



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

بيا مې غونې ورکړې: گودر ته ځم راپسې راشه + منگې مې دوه دي نرى ملا مې ماتوينه. که ديدن کړې گودر ته راشه + زه به منگى په لپو ورو ورو ډکومه. پوهېدم چې د يوې ژبې شعر بلې ته نه ترجمه کېږي، خو ما خپله خوارې کوله او تول راته غوړوو. استاد ، وتيوخل، خاموشى يې ماته کړه. « لنډۍ لکه چې د ښځينه وو ژانر دى ». ما وويل ، « همداسې خو ښکاري، خو سړى په يقين نه شي ويلى. د نارينه وو لنډۍ هم شته چې ميړانه، جنگونه او پښتونواله ستايي، خو عشقي لنډۍ زياتره د ښځو له لوري دي ». يوې غوښنې محصلې د صنف له شاغږ کړ. « او يا به نارينه وو يکې د ځانه ښځې جوړې کړې وي »، د کوچاني کميس والا نجلى، د لاس بنگړو ته شرنگ ورکړ او په کرشمې يې وويل ، « دغبر گو منگيو په خبره کې ښکلى تخيل پروت دى. نجلى وبريږي چې د يارانې په وخت کې به ځوک ورباندې راشي، نو چې دا بانه جوړه وي، چې هلک مازې د کليوالي خواخوږۍ له رويه د ابل منگى ورسره چلاوه ، استاد وويل « ډېره په ځاى تبصره ». بيا يې ماته وکتل ،« کماله ، دا خو دې په خزانې واړولو! داسې نشي کېداى چې يو شمېر لنډۍ موږ ته ترجمه کړې ، چې همدلته يې په يوې رسالې کې چاپ کړو ؟ » ما وويل ، « ښه خبره دد، خو زه په تيسز کار کوم ». استاد وويل ،« چې د تيسز نه خلاص شې بيا يې را ترجمه کړه ». ما وويل ،« بيا مې نو بېړه دد ، افغانستان ته ستنېږم ». هغه وويل ،« خبر شوى يم چې د ايوا ژمى په خپلې کوټې کې تېروې، په ډېر ســـز ليکلو به ستړى شې. دا درې مياشتې خو تيولې په تيسز نه



كـتـابـتـون تـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

لګوي، تفريح به هم شي، د وطن ياد به هم تازه کړي او زه به د پوهنتون نه ښه حق الزحمه درته واخلم او چې کتاب دې خرڅېده، دهغې شل فيصده به هم په هر آدرس چې راوښيې دراستوو ». آتينا يکې خبره غبرګه کړه، «په ترجمه کې به زه هم در سره يم. ستا انګريزي ښه ده خو مورنۍ ژبه دې نه ده. ته يې مانا او روح راته وايه او زه به يې د انګرېزۍ سبنګار برابر کړم ». پايپ والا په تعجب سرو ښوراوه، « حيراني ده حيراني دغبرګو منګيو د لنډۍ ښکلا دمنلو نه ده. چې دخپلې ملا د ماتېدو اندېښنه ښيي، په دې کې بل چل دی. ګويا خپل يار ته د هغې نريوالی او ښکلا ور په زړه کوي. په عين وخت کې خپله ښځه نو کې کمزورتيا چې دوه منګي نشي چلولی هم ښيي، چې ګويا د نارينه د متو مرستې ته اړه ده. دا نو سمه دمه بلنه ده. طوفان کوي طوفان ». استاد، ساعت ته وکتل. « نور نو رخصت يې آتينا ، ستا کتابونه به ډېر درانه وي، چې نرۍ ملا دې ماته نه کړي، ډاکټر کمال به يې درسره بوسي ». ټولو وخندل.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# «۱۳»

هوښياري مې کړې وه، د پوهنتون د کتابخانې تقريباً ټول طبي کتابونه مې راچلولي وو. دا يوه هفته پر له پسې واوره. له کړکۍ نه مې کتل چې په کوز سړک ولاړ موټرونه له يوه ساعت نه بل ته په واورو کې زيات ډوبېږي. يوازې وم، يوازې. او يو څه خوشاله هم وم چې واوره عجيبه پرده پوښنه وه، نه سپي نه سړی. نه مې ساعت ته کتل چې څو بجې دي، نه مې پروا وه چې ډوډۍ کله وخورم. اول خو مې پوره هفته د کال ببخوبي، چې په شنه سهار به پاڅېدم او د شپې تر يوې بجې په کتاب پروت وم. لږ کړه. خوب، د سهار سپورت، خواړه، خوب، سپورت، خواړه، حتی چې راديو مې نه اورېده او نه مې تلويزيون کوت. د موسم د حالاتو غم هم راسره نه و. دخدای لټ رانه جوړ شوی و. ږيره مې نه خرييله، او شاور هم چې په



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

امریکا کې که په ورځ کې دوه درې غلې نه وي، بو غل خو ضروري دی، نه کاوه. خپل مکروب مې و، خپل بوی مې و، د چا یې څه کار ؟ تا دې نه وه په کار، د ځنځې په رفتار مې خپل کاغذونه سره سمبال کړل. پخوانی څېړنې مې سره واونلې، کتابونه مې د ضرورت په بنا په الماری کې وړاندې وروسته کړل، درځن پنسلونه مې سر کړل. ټول مې سبا ته پرېښودل چې کار شروع کړم. ځکه مې وو چې د لرغوني عرب د طبابت نه یې پیل کړم چې د لېونو د علاج اول دوه مرکزونه په بغداد او قاهره کې جوړ شوي وو. خو غم دا و چې د ډاکټر روغ په وینا د لیوني او روغ، نابغه او مجنون، تر مینځ پوله د صراط تر پله هم نرۍ ده. بو بې خونده، خو را هسکوونکی حالت په بنیادم مسلط دی چې په غلطه ورته نارمل یا په سد وایي. چې څلور جمعه څلور اته کړای شي، نو په سد دی، ځکه چې نور په سدان هم څلور جمعه څلور اته گڼي. چې د ټولنې مسلط ارزښتونه ومني نو په سد دی، نارمل دی، خو که لږ کوټي تري تېرې وکړي په هماغه اندازه بې سده، مجنون یا اب نارمل دی. کچمیچ د ټولنې رواجي کړه، رواجي وینا او رواجي انگېرنه ده، زما پلار به د بازار ملنگانو ته ډوډۍ ور وړله، حتی کورته به یې راوستل ساعتونه ساعتونه به یې ورسره مرکه کوله. دا دکوم زړه سوي او خواخوږي د پاره نه بلکې په دې ځمه او گروهه و، چې په دوی کې د مرتبې خاوندان پیداکېږي. ډېر کله به یې په جذبې سره جومات کې کېسه کوله چې پلانکي ملنگ راته داسې او داسې وویل، د جنید کیسه یې راته وکړه، یا مجدود مجدود یې لرل، چې پوهېدم، حکیم سنایي



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ښيي. پلار مې ويل چې پيران مرتبې لري او هر يو يوه خاصه مځکه اداره کوي، او تا د دي، اوليأ دي، اطناب دي، اقطاب دي، بيا د غوث مرتبې ته رسيږي چې په يوه وخت کې په دنيا يوازې يو غوث حکومت کوي. نو د په سه او انسان تر مينځ توپير نه کېده.

کړکۍ مې نيمګښه کړه، دواورې شرنګهار و. جنترۍ ته مې وکتل، د جدي شپږمه وه. هسې مې ګوتو د عادت له مخې تلويزيون ولګاوه. په هر چينل کې بس د کرسمس فلمونه او ستاينې وې. نه پوهيږم ولې د کابل د يهودانو ملا، اسحاق ليوي، را په ياد شو. د پوهنتون د ملګرو سره د توره بازخان په څلور لارې کې، د همدې يهود کورته تللي وو. يوه ښايسته لښته لور يې لرله چې د قينج او مکيز تو ته وه. ياران هم د دودۍ وږي وو او هم د ښکلي مخ، او د اسحاق ليوي لور، ښه پيره کي جوړول خو قيمته يې خرخول او ودې شي چې د تجلي د ښکلا ننداره يې سرباري و. په خپله ليوي، هلته د کوټې په ګوټ کې په لوړ آواز د تورات په قرائت لګيا و، کله يې په ترخ کې مورړ ته کتل چې لور ته خو به يې خطر نه پېښيوو! په سر يې د مرغۍ د ځالې په شان يوه توره خولۍ وه او د هغې د لاندې يې نور سر پاک خرييلي وخو يوه اوږده چوټې شوې څو نکه، ترې په اوږو راځړېده. دی په يهوديت کې بيا د حسيدک په نامه د کومې طايفې ملاو، چې داسې متعصب دي، لکه په هزاره وو کې غلاط. ښايي ددې د پاره مې هم ليوي په زړه کې پاتې وي چې په سبايې روسان راغلل، د جدي شپږمه.



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## « ١٤ »

پوازېتوب یو نادره حالت دی. د سنايي هم عصره، علي هجويري، خبره د تنهايي په باب عجيبه خبره کړې چې «روح راتبلور مبېخشد» مانا روح داسې رڼوي لکه بېښېه. هیڅ بې هېڅه مې پام شو چې زړې خاطرې. لکه شیطانان له هر چاوده او ګوټ نه سترګک راته وهي او د تېسرېيل کولو ته مې نه پرېږدي.

ما ورسره د مدارې چل کاوه چې د تورکړۍ برغولي لږ را اوچت کړي او چې مار غاړه چجه کوي، چې د تېک ور کولو غوټې ته ځان تيار کړي، مداري بېرته برغولي پرې راټينګ کړي. هره خاطره چې راتله بېرته مې تېل وهله خو بل بچګي، بله ځانګه، بل نغوړګي به راوتوکېده. پوهېدم چې د فرويډ په حکم که يې هر څو مره په شا تمبوم، د فنر په شان چې يې کنبکاږې، زور يې لا زياتېږي. که په ويښه ځان ترې خلاص کړم، دا تولې

سر تېکولې بلاوې په خوب کې بیرته را حضوریږي. خو یو شیطان را باندې په ویښه غاوره شو. د تیسز په لیکلو مې پیل کړی و، تر نیمایي سر یزې مخکې لا نه وم رسېدلی چې لاس رانه بل سپین کاغذ نه لاړ، ایسته مې د لنډیو رساله شروع کړه.

په وطن کې زموږ انډیوالانو خدای بلالنډۍ یادې وې او برمانو به ویل، ددې ښا بستوکو یوه خوبایي داده چې هر قسم بدلو او هر قسم سور او تال ته یې اړولی شې. کابلیانو به موږ پورې خندل. موږ به چې، یکه‌زار، یا قربان، او دغسې نورې غږانګې، کولې نو دوی به لاسونه غوږو ته کړل، «یک کپه زاااار!» کریغې به یې وهلې. کله به ددوی سندر غاړو هم، نیخه دظاهر شاه د خوشالو لویا د پښتنو له ویرې لنډۍ بللې خو ددوی لنډۍ دګوتو په شمار او تکراري وې. دبوال سورۍ که ګوته راکه، یار مې وو ندو زه مسلمان یوم، او یو دوه نورې همداسې د انګریزانو په وینا، اره مونې لنډۍ بې یادې وې. د قمرګلې او فرزانې، او پکتیا والې کیستې مې یوه په بلې پسې کېښودلې او تر نیمې شپې مې د راز راز لنډیو غونې لیکلې. سهار چې راکښېناستم، لمونځ نژدې را باندې قضا و. د کړکۍ نه مې بهر وکتل، واوره تر درشايي پورې راجګه شوې وه.

اوس نو د مونوګراف وار و. پس له چایه مې یادښتونه راټول کړل، په کاغذ مې په لوی خط ولیکل، «دجنګ روحي قربانیان» بیا مې نو اول د جنګ ځپلو روحي ناروغې بیان کړې، یعنې ظاهري اعراض. بل فصل به د روحي او عصبي ناروغانو تداوي وي. موضوع په زړه پورې وه، په تېره



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

چې ما په پېښور کې د دغسې بېوزلو سره ډېر کار کړی و، د هغوی کړاو، او خپله بېوسي راته ستر ګو ته دربده. څه روپه کی يې چې وي هغه به ګڼکپو ورنه د تداوی په نامه وشکولې او په آخر کې به يې ورته څو لاتيني تکي لکه ټراما، سينډروم، او داسې نور تکرار کړل او مريض والا ته به يې په رډو ستر ګو وويل چې سړی در خپل کړئ، درغېدو نه دی د پېښور يوه ورځ به مې هېره نشي چې يوه کټه وازي خپل وراره دا نجيو معاينه خانې ته راوستی و. نه پوهېږم چې بوازې دی و، که ټول سليمانخيل د هرې خبرې په مېنځ کې سا وباسي، ستمبرې او په هر توري داسې زورونه وهي، ته وا، ونه د بېخه را وباسي. زما يې خبرې او منطق ډېر خوښ شو. لکه وراره چې ډېر پرې ګران و، د ډ ک جيب سره راغلی و، په پېښور يې تا تول نه و شوی، لاهور ته يې بېولی و. هلته لکه چې ګڼکپو ډاکټرانو جيب ورتش کړی و. کټه وازی په دې ډېر په غوسه و چې ويل يې « پيسې خو د بنيادم خيره ده. بلاوريسې، خو چې زياتي مې په جيب کې پوچکه رويې هم پاته نه سوه نو راته وې ويل، دا ناروغي علاج نه لري. وا د ګوره الواده! د اوله به دې راته ويلي وو! » د جنګ عصبي ناروغان ټول همداسې وو، چا به چې د ببر ته تګ پيسې لرلې نو لا به يې چې خپل عزيز د وطن په زيارتونو وګرځوي او که به د تګ وسه نه وه نو به يې تر لاس نيولی، په بازارونو ګرځول او خير به يې تولاوه. کټه وازي ماته ويل،« بس ته مې وروستی اسره يې يا هلک را روغ کړه او يا څواب راکړه. پوچکه پيسه دې د خنزير غوښه شي که يې لا لرم ». د هلک اعراض او علامې هماغه د


کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

جنګي عصبيانو وې. د سردرد، بېخوبي، له هر شي زړه تورن. ددې هلک لا بل عرض دا و چې کله چې دده په کلي د روسانو قوه راغله، پس له هغې نو دی ګونګی هم شو. زه پوهېدم چې داسې نه ده چې عصبي مرض علاج نه لري خو دا علاج مياشتې مياشتې بستري کېدل غواړي، وخت او پو داسې زړه سواندې ډاکټر غواړي چې خپل وخت پوازې همدې يوه مريض ته ځانګړی کړي. حال دا چې په موږ باندې داسې ګنه ګونه وه چې ايله به مو په هفته کې يو ساعت هر مريض ته ور کولی شو. بله دا چې د انجيو فرانسوي ډاکټر، په رخصتۍ تللی و او زه لا د تجربې په پړاو کې وم. يو څو پوړی دوا او شربت مې د کټه وازي د خوشالولو د پاره ور ته ونيولې، خو وايې نه خيستې، اوږده شيبه راته خير و. بيا يې سوړ اسويلی و کيښ، «زه در پوه شوم باک مه کوه، غزني د وليانو ځاله ده. ګوندې کوم ګرندي په کې را ونښلوم. زموږ د کلي خپل پير خو زين دين اغا ده. بس چې دلبار ته ورشم نو وربانده ژاړم به چې: ولوېدم کومي ته اوس مې کاره له زندانه + سپين زينه دين جانه. د مبارک عادت ده چې په خپله يا يې کوم متولي په قسم قسم جامو کې، که د مرغه په شکل، حاجتمن ته را حضور شي، په سبا يې مريض رګ روغ وي خو که د بل زنده سر په جامه کې راغی نو ګويا سوال، خدای مه کړه، نه شو قبول، د رغېدو نه يې لاسونه پرې مينځه. او موږ خو سليمان خېلو کې ور ګډېږو نو د سليمان خېلو اصلي پير نو نظامه دين اوليا ده، چې د ډېلي په تونسه کې يې مبارک مرقب ده.

هر کال د عزيزانو په لاس شکرانه ورلېږو». کټه وازي لکه چې په وجد



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

راغلی وي. بولاس غوږ ته بو ووړ او په شرنګېدلي آواز يې وويل،

«تورمار يې تا زينه‌وه په زمري يې ابنبی زين و + خواجه نظامه دين...

نو ته يې غم مه کوه. نن ورځ اوغانستان نيمی لمبونی ده او هغه بل نيمی

بيا لکه لبونی سپي په ځان او په بل خوله لګوي. تا خپله خواري وبنکله،

نور بي د خدای نازولو ته پربږده چې فرياد مې اوري کـه نه». د بدلې د

ختمولو سرد کته‌وازی پاڅېد، هلک يې چې تل به موسک و، له لاسه ونيو،

دروند دروند روان شو. چې ووت، زه ورپسې ووتلم، بو ځو کلداري لوټونه

مې چې د شپيلی په شان لوله کړي وو، دواسکټه په جيب کې ور ننه

ايستل، کته‌وازي يې له خير يوسې يامننې روان شو او ما ورپسې تر هغې

کتل چې کوز د جرود په سړک د نورو مهاجرو په سر ګردانه تا لاو کې

ډوب شو. په هغه شپه مې چرت خراب و.

د ډاکټر روغ دمياعلي صيب خبره راته ودرېده. چې ډاکټر نه‌وي،

دارو او پرسان نه‌وي، نو خامخا بنيادم بله اسره لټوي، تاويز، ټوټکه،

کوډي، شويست‌خور دي، دا ټول د بېوزلی علامې دي، خوارانو ته بله لار

نه‌وي پاتې.

پوره هفته مې شپه ورځ خپل تيسز ليکه، چې ايله دويم، د تداوی فصل

ته ورسيدم ځان ته مې تفريح ورکړه. واورد، ورو ورو راجګېدد. اوس يې د



(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

کړکی کوزنی ښیښه بنده کړې وه خو دوه نورې لا رڼې وې. تلویزیون مې بل کړ خو ژر مې بیرته مړ کړ. زما ژوند، زه چې ورته ګورم، دروشیانو خاورې کړی و، یوه د شطرنج بلا وه چې په کابل کې به په شپو شپو، تر سهاره ورکې ډوب وم. بله بلا د سګرټو وه. عجیبه ده، سګرټ مې چې څکاوه نو ما داسې ګڼله چې ګویا کوم کار کوم، بوخت یم، حال دا چې د عمر او پیسو او وخت دودول وو. په هر سګرټ درې دقیقې، نو په یوه ډبلې پوره یو ساعت، ګویا په څلرویشتو ساعتو کې یو مازې د شیطان په اروا. څلور کاله مې پرې خاورې کړل او بیا مې پرېښودل.

د تلویزیون پم را باندې په پېښور کې ولګېد. ویډیو مې اخیستې وه، بس ساعتونه ساعتونه، یو فلم د بل پسې، بیا خبرونه، بیا فلمونه، اوس مې تلویزیون مړ کړ، د منګل او نغمې کېسټ مې کېښود.

زما په نزد د منګل غږ یوه ښځه نوکی خونور په سور تال برابر دی، د نغمې غږ خو هسې ښخونده شی دی، په آخر کې د ماشومانو د کریغو په شان سوالیه شي. چې د چا خوښېږي نو په اصل کې د غږ شاته د نغمې ښایستویني. نغمه یو بل چل هم لري او هغه دا چې مستي او شهواني بدلې وایي، داسې چې د ښځې سره یې ویل نه جوړېږي، خو ځان ډېر سنګین ښیي، او له همدې کبله به هم ځینې ښځانه خپله پته ګناګاري


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پولنه

ورکې خړوبوي.

په همدې چورتونو کې وم چې د تلفون شرنګې شو. ما وېل، چا به غلط لمبر وهلی وي، په امریکا کې دا ډېر پېښېږي، په تېره د آیوا تلفونونه چندیانې په پوست کې پاک نه دي. هلکانو ورېسې جوړه کړي وه چې دا د جوارو تاثیر دی. چا به وېل نه د جوارو د بمبل تاثیر دی. د ربنګیونه یې د تلفون مزی جوړوي. چې را اوچت مې کړ، تام و. د کرسمس نجل، ګرل فرینډې، کیسه یې راته وکړه چې د کرسمس په شپه یې په واورو کې سره شوبندي کول. بیا یې بوتاڅاپه وویل، « ته د رومېلمنو ته تېنګبدلی شې ؟ » زه حیران شوم خو د مېلمه نوم همېشه په افغان د غرور سره لرې راولي، ومې وېل، « درې مېلمانه څه سبې دی، لس خو راوله، خو څنګه به راځي ؟ دا د سپینو زرو دلی نه وینې ؟ » هغه وویل، « په پنځو ساعتو کې در رسېږو. د شپې نا وخته به وي خو ته بې هغې په خپل شاهکار لګیا یې، خوب نه درځي ».

پورد د شپې په بودیجه ورو تکول شو او د بهر نه د پښو در بهار راغی چې واوري یې لکه چې د بوټانو نه څنډلې. د تلفون د وخته تر همدا یو ساعت د مخه پورې مې کور یو څه صفا کړی و. چې د وطن نه راتلم نو د پخلي چل مې هم زده کړی و، ما وېل په کار به شي. بس قورمه، چېلي



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کباب، دا مې زده وو. د پخلي يو کتاب چې په کابل کې يو وختې د پېس کور له خوا جوړ شوی و، او نوم يې و، ښوروا په چاينکه کې. مانا چاينکي ښوروا، آشک ماشک او د کابل د نورو بلابترو نسخې يې لرلې، خو داصلي او معتبر افغاني خوراک، پولاو په تشريح کې يې ناېرېتې ويلې وې. په ډېرو تجربو او د ډېرو وريژو په خاورې کولو مې ايله اوس يو شی پوخ کړ چې په امريکايانو به مې د پولاو په نامه تېرولی شو، خو خدای خبر په وطن کې به په دې سوغات په ما څومره خنداګانې شوې وای بس خپل زده کړې مې کارولې وو او پوهېدم چې امريکايان، که هر څومره درويشته اوخراب خواړه ورکړې، صيپت يې کوې. ناوللي لوبني مې څه پرېوللي او څه د لوښو مينځلو په ماشين کې پټ کړې وو. کوټه مې جارو کړې وه. حيران وم، چې تام خو تام، دا نور يې لا څوک دي. چې ور مې پرانيست، سړه هوا د درو کسانو سره را ننوتله. بوتان يې نور هم ودربول او د غاړې دسمالونه يې لرې کړل. د ټولو د خولو نه براس خوت. تام په کاغذي کڅوړه کې څه شی راوړي وو، هغه يې په مېز کېښودل، دستکشې يې واېستې، د لاسونو نه يې ټوقونه واېستل او په يخ لاس يې را سره روغبړ وکړ، «لېونيه، ولې را سره کرسمس کې لا نه رې، منزې به دې کړې وې. » بوې بلې نجلی،



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

لکه دالماري د ګیلاسونو شمېرل یې چې عادت وي، شا را اړولې وه. تام وویل، « زما خور، وبښې. » هغې د سر په اشاره زما هر کلي ته ځواب وړ وایه. تېول دربدلي وو. تام وویل، « د وحشي افګان مېلمه پالنه به همدا وي چې د ناستي ست هم نه کوې؟ » زه و شرمېدم خو تام پوه شو چې د نا آشنا، په تېره ځوانو سره زما ژبون تل وهلی وي. د تام تجلی، لکه چې زما د کمزورۍ نه یې ورته ویلي وو، خپل کوټ یې باکه په چوکۍ واچاوه، د الماري نه یې درې ګیلاسونه را واخیستل، د فریج نه یې کنګل پکې توی کړل، د مېز د سر کڅوړې نه یې چې تام هلته ایښې وه، یو بوتل را واخیست، « غم مه کوه، موږ پوهېږو چې ته شراب نه څښې، اول ګیلاس به ستا په سلامتۍ و څښو. یا تام اپ، (ګیلاسونه سر په څېرې) په یوه غوړپ یې وڅښل او لکه اور یې تر ستوني تېر کړی وي. د ساده سره یې دخولې نه، د آه آه سره برا سونه ایستل.

زما په تیسز کې دالکولو اغېزې پوره ځېړل شوي دي. دا بې پیره شي، رسا، دماغ، زو هغه ځای ولي چې اراده پکې خوندي ده. له همدې کبله بنیادم کاوا که قدم اوچتوي، تالی خوري او دخولې بریک یې خطا شي. دا هسې خبره ده چې ګوندي بیا موږ خوږ نه پېژني، سمه خبر داده چې په زړه کې یې چې هر څه ګرځي، رابرسېره کوي یې. د پارسي دا خبره په شرابو سمه لګېږي. چې آنچنان را آنچنان تر میکند. هر څومره چې نشه زیاته شي، هماغومره کنټرول کمېږي او د زړه د تل نه خبرې او حرکات چې په هوښیارۍ کې یې ګویا د پوزې لاندې تېل وهلي وو، بهر را ووزي. د



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

يو گيلاس پسې بل گيلاس، ورسره د سگرټونو دودول. زما کار مشکل و. د کور به په حيث مې بايد هر ميلمه ته گوښې گوښې خوله جينگه کړې واى، داسې مې ښودلې چې گويا دا خبره چې تا وکړه، عجيبه په زړه پورې او پخه وه، که ټوکه به وه نو ما بايد غبرگ ورسره خندلي واى خو وېره دا وه چې دوى داسې نه واى گڼلي چې زه د دوى د پاره جينگداړى يم. داسې نه ده چې په لېدو يې خوشاله نه وم، د يوې مياشتې بوازيتوب نه پس دا يوه تازه ورمه وه چې د واورې د گردلې او براس سره کوټې ته را ننوتله. ټام خپله د واورې د ښويندې کيسه کله چې ځنگه يو بل، د پاخه عمر سړى د خپلې ميرمنې سره داسې سر په ځيرى را پرېوتل چې لرې کولې يې تولې ښکاره کېدې. سړي د خپلې اوښتې پښې په درد زگيروي کول، نندارچيانو د دوى برېنډتيا ته خندل.

دوه ی تياره شوه، د ټام نجل را سره په مېز واوښله او له هرې خوا د دروغو او رښتيا صيېتونه راوربدل. دخوراک په وخت کې د ټام خور، وينډي راته ځير وکتل او ويې ويل، «د افگانستان خلک ټول ستا په شان په ونه لوړ دي؟» ټام د ځواب ورکولو د خجالت نه وژغو.لم.« که داسې نه واى، نو روسانو ته يې ماته ورکولى شوه؟» زه هم زړه ور شوم. ومې ويل، «زما وطن هم د امريکا په شان ځنگل دى، لويې او وړې ونې دواړه لرى». د ټام نجل وويل، «خبره د قد د اوږدوالى ده، معلم، د افريقې د تاريخ په صنف کې د توتسي په نامه دروانډا يوه قبيله ياده کړه چې ټول په ونه جگ دي، او حيراني دا ده چې درسته ورځ چې وزگار وي يا بزي



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ځروي نو په يوه پښه دربېږي، په لګېده زنه ولګوي او په همدې ولاړې بيا خوب هم کوي ». تام وخندل، « ځيني مارغان، لکه بتې باقو، هم په يوه پښه دربېږي او خوب کوي ». تر څو دوه دې خوړل کېده دوی دوه بوتلې تشې کړې وې. دنجونو په باړ خوګانو کې سرخي زياته شوې وه. ناڅاپه تام باڅېبد، ساعت ته يې وکتل، اوږد اړومي يې واېست،« خوب راځي، د پنځو ساعتو دډرايو ستړی کړم. » ما وويل، « رښتيا په دې واوره کې مو څنګه لار پيدا کړه. څومره به خدای خبر، ښويېدلي وئ! » وينډي وويل، « اوس نو هغه ستاپمن تام نه دی، دا کرسمس دده پوري ښه شو. پلار مې نوی نوزی جيب ورکړ ». ايله مې ياد شو چې امريکايان، چې بچيان يې له پوهنتونه، او کله لا هم دکالج نه فارغ شي، نو پلار په پټه، د اپارتمان مخې ته نوی موټر ورته دروي. کلي يې په پوست باکس کې وراچوي، خپله ترې ځي، چې هلک حيران شي. دغه د حيرانولو يا ددوی په ژبه سرپرايز او ناڅاپي تحفې بازيري خبره په غرب کې ډېره دود او مهمه ده. پټه تحفه چې په رنګ رنګ کاغذونو کې تاو وي، په لاس کې درکړي بده لا دا چې ته يې بايد دم در حال د تحفه ورکوونکي په مخ کې خلاصه کړې، او بيا که دي خوښه هم نشي، نو مجبور يې چې دخوشالي چيغې وکړي،« څنګه پوه شوې چې همدا غواړم؟ » په افغانستان کې خو به چې چا کوم سوغات بووړ، نو کوربنې به ورته کتل قدري هم نه. همداسې به يې لکه ناولې شي دکوټې کونج ته ګوزار کړ او تاته به يې غېر د اندازې نه زيات نری کړ،« وا خدايه، دادې څه کاوه؟ څه حاجت، چې ځان دې دومره په تکليف کړ؟ »



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

تحفه راوړونکی به مجبور و چې په خجالت ځواب ورکړي،« چندیانی شی خو نه دی، د تاسو لایق خو نه دی، خو داخلاص خبره ده ». د مجبوری دوخت د کموالي او د بازار د لرې والي پانې به یې ورسره تبې کولې. د هر کله به داسې نا پریته ورنه وختله چې « یاد به دې زه کړم، مور به دې خدای کړي ». سوغات ور وړل او اخیستل تل د خجالت سره مله وو. تا به د هفتو هفتو فکر او د میاشتو میاشتو، پیسو سپمولو نه پس یو د قیمتي تحفه اخیستې وه خو کورنۍ به هغې غوتې ته چې تحفه پکې وه، داسې شا اړوله، ته وا، د زهرو کڅوړه ده. البته کله چې ته کور ته روان شوې، دروازې نه به لانه وې وتلې چې کورنۍ به لر بر وکتل چې څوک یې منډه و نه ویني او د تحفې په غوټې به ور خلاصه شوه.

تام د وطن د خاطرو د چرت نه راښکلم.« هلکه کماله، ستا خو بکی بوه بسترې ده، دا مور به چېرته سر لګوو؟ » ما د وختې ورته د هېوادی شریک اندیوال کوټه، چې کلي یې ماته را کړې وه، تیاره کړې وه، دوه په کټ باندې، د یوې د پاره مې نیالیچه غوړولې وه، کمبلې مې د بالښت سره ورته ایښې وې، چې خپله یې ویش وکړي. تول لاړو . تام بې پوښتنې په کټ پربووت، شا یې را واړوله. د تام تجل، او وینډي تشناب ته لاړې او زه یې سر نوشته ولاړ وم. تام د کسته په لوړ آواز خربدا پیل کړه، او بیا یې مخ را واړاوه، په پسپسي یې وویل،« هلکه، وحشي افګانه، لکه چې د خور مې خوښ شوی یې، پام، چې ژوندی ژاړنده دې و نه خوري! » د دې سره یې بیرته شا راوړوله او خربدا یې شروع کړه. جینکی چې راووتلې، زه



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

بې په اوتر حال ولېدلم نو دواړو، چې لا هم نيمه نيشه وې، د خندا نه خپل تشي ونيول. د ټام خرهار چې اوس ډېر لوړ و، لاسر بداله کړم. د ځانه سره مې وويل، چې مېلمه پالنه همدومره بس ده، ايسته خپلې کوټې ته روان شوم. تر ډېره وخته مې د نجونو خندا اورېده. د کلي دا خبره را ياد شوه چې پېغلې داسې خنداناکې دي چې د چرګې لګې شوري، هم دوی ورته په خندا وي. اودس مې وکړ، ماسختن سم دم تېر وو خو ما لمونځ وکړ. په کټ پرېوتم، سترګې مې د خوب په تکل پټې کړې. د ډېرې نه د جينکو دخندا غږ راته، اوس يو څه کراري وي. د ټام خرهار هم نه اورېدل کېده.

زه هم يو څه سوکه شوم او دخپلو چرتونو سره پرېښاني وه که خوب، يوړم. يو وخت څه ښکالو راويښ کړم. تور شي مې سرته ولاړ دی. پوه شوم چې ويندي ده. هغې په کرار وويل، «مه را جګېږه، ټام دغوی څه پساتو نه کول، ما ويل يوازې بې پرېږدم، ستا سره به سر ولګوم.» ما چې هر څو مره خبر جوړوله له خولې مې غږ نه خوت، څنګه يې وو ايم چې هم د ټام خور، زما ميلمنه، خپه نشي او هم زه ترې خلاص شم. تر څو مې ځواب پيدا کاوه، هغه ښويه په بستر را ننوتله. ما هم د ټام په دود شا ور واړوله او ددې د پاره چې خپه نه شي نو خرهار مې هم شروع کړ. هغې خندل، ځان يې را پورې نښلاوه او زه ترې لرې ښويېدم. تر ډېره وخته دنښله، ښويېږه په لوبې لګيا وو. زه څه ملايک نه وم، مګر ورمېږ مې دداسې ارزښتونو په لومو کې نښتې و چې په لږ خوزېدا د زندې کېدو وېره وه. د ځان سره مې ويل، کماله، تيره شه. د ويندي بې تابۍ د رحمان بابا دا بيت



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

را په زړه کاوه. زه په سل رنګه راغب+ ته په سل رنګه غايب. دا به څنګه شي د لبره. چې زمست یم ته تایب؟ دا هسې ګپ دی چې ښځې نور قینچ او کاسیر توب کوي، په اشارو دې پوهوي، خو په خولې هېڅکله ست نه کوي. په بې شرمی بې راته وويل، « ډېر مې زړه درته کېږي ». ما په خندا تېره کړه، « زما هم زړه کېږي خو ماغزه مې نه کېږي ». هغې وويل، « لا را به راته څه وايې، تام به څه وايي؟ چې تا خپل ځان د تحفې په شان ورکړ خو قبوله نه شوې ». ما وويل « اول خو ته تحفه نه يې، زما خوره مبلمنه يې، او زه په ځان کې ستا لياقت نه وينم. بل که مور په لوی لاس خپله لمن په سر را وانه ړوو، نو دو څه پوهېږي چې څه وشول څه ونه شول »؟ بیا مې ورته د سعدي صيب د ګلستان کيسه تېره کړه چې چا ديوه « صاحب دل » نه پوښتنه وکړه، چې که شپه وي، شمعه مړه وي، شهی درته پرته وي، ته څه وايې، چې آيا د خدای وېره به دې د ګناه نه وساتي؟ صاحب دل ځواب ورکړ، په دې نه پوهېږم خو دومره پوهېږم چې سبا چې کومه آوازه خپرېږي، هغه به هغې هم خپرېږي، که سړی ځان وساتي او که نه. وينډي سوړ اوسيلی وکېښ، نوره غلې شوه. خو د شپې يې چې ګرمه سا زما په څټ لګېده چندياني بد رابانديې نه لګېده. ځان ته مې تسل ورکړ چې دا د ژمي تاثيردی.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

## « ۱۵ »

د بوې نه خو خداى خلاص کړم خو دا بله لا ، لاس اخيستونې نه وه. دتيسز اوله مسوده مې په يوه مياشت کې ختمه کړه، خو زما يې هم شيره وابستله. په همدې کې آتينا چې درخصتی نه دوخته ببرته راغلې وه کوتې ته راغله. ما خپله تحقيقي رساله، تيسز ور کړ. هغه ډېر ساعت پرې بوخته وه او وروسته يې وويل، « انګريزي دې بنه ده، خو مورنۍ ژبه دې نه ده. زه به يې درته وګورم، ستا په مشوره به څه ګوتې پکې ووهم، او بيا به يې درته تهايپ هم کړم. او ته به دوعدې سره سم د لنډيو رساله راته وليکې ». بيا نو آتينا زما دکور نه خپل کور جوړ کړ، شپه او ورځ را سره وه. يوه ورځ يې چې ځان ډېر را پورې سولاوه د ځانه سره مې وويل، زياتې يې تمه لنډه کړه او که نه خداى خبر که ددې بلا نه بچ شې. زما وبره دځانه هم وه، ځکه ميراث مې آتينا هم په مخ کې بنکلې وه او هم لکه د سيند په غاړې مې چې له نژدې لېدلې وه په وجود لکه لښته. يو څه ملوارې ته ورته وه چې برمانيو وريسي کباب وخو برخه يې د احمد سره شوه. ګناه همداسې پيل کېږي. شيطان په اول کې ځان درته خوږ کړي،


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پوټنه

که په بوې لارې نه وې په بلې لارې. د ملوارې سره ورته والی به هم خدای خبر چې ربنتیا و او که د شیطان وسوسه. شیطان لوی ډاکتر دی، ترخه دارو په شکره کې داسې اغږي چې اروا دې هم پرې باندې خبره نه شي. نو مې آتینا ته وویل،« راځه ملګرې وکړو »، هغې په هیلې راته وکتل، ما وویل،« د خور او ورور په شان ملګرې او مینه ». هغه دوه ورځې غلې وه. په دریمه یې وویل،« بس ته مې ورور یې زه دې خور، اوس راځه غاړه راکړه چې قرار داد به پوخ شي ». زه ترور شوم خو دې را تیوپ کړ، غیږ یې را چاپېره کړه او په مخ او سر یې ځو ځو ځلې ښکل کړم، خو دربدن یې نه و. چې ما ځان شاته کاوه، هغې وویل، ستا وار دی. خو چې هغې به خوله را اچتوله، زه بنوی تري تېرېدم. وروسته پوه شوم، چې آتینا په خپلې وعدې ولاړه ده. کله نا کله به یې د کسته دبر ځان راپسې سولاوه او چې ما به ورته سترګې برګې کړې، په خندا به یې مخ ته لاسونه ونیول، ما نا څېړه مه راکوه. د پښتو لنډیو د رسالې او له مسوده مو ولیکله. د شعر ترجمه کول هسې ګپ دی. دا خبره چې فتزجرالډ، د خیام څلوریزې په انګریزی اړولې، غلطه ده. دفترجرا لډ دا څلوریزې به ښې وي، خوږې به وي خو دخیام نه دي. بس دغوایه نه یې غدود د خیام را اخیستې دی. خیال، انداز، استعاره، دا ټول دانګریزی دي. د لنډیو ترجمه همداسې بویه. انګریزې څه چې په فارسي یې هم ترجمه سمه نه راځي. آتینا، کانګرس پوهنتون نه د لنډیو یوه مجموعه پیدا کړې وه. چې مو ولوسته پوه شوو چې د ښوا صیب د لنډیو دغه مجموعه چې د فارسي او د



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

انګلیسي سره یې څنګ په څنګ خپه کړې وه د ناکام کوشش یوو تلی مثال و. پښتو لنډۍ یې ښکلې، خوږې، او لکه د بهنوا په شان لیکوال سره چې ښايي، معیاري غوره کړې وې، خو فارسي انډول یې زما په اند، او انګلیسي ترجمه یې د آتینا په حکم بې خونده بوس وو. آتینا په غوسې وویل، «تاسو نالایقان داسې خزانې لرئ خو دنیا پرې خبرولې نشئ».



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

«۱٦»

د پاکستان نه مې زاره چاودهوه، لوړه مې وکړه چې وطن ته د تګ بله لار ولټوم. د یوې افغانې محرمنې نه خبر شوم چې په واشنګټن کې د مسافرت یوه ایجنسي لري. په تلفون کې مې ورته حال ووایه. هغې د کویټ لاره تجویز کړه چې بیا به مې د آریانا الوتکه، کابل ته رسوي، خو د کابل د آخري میاشتو خپسې لا هم زما د شپو ملګري وه. په آخر کې سلا د ازبکستان په لارې شوه چې بیا مې څوک په قاچاق مزار شریف ته ورسوي. خو دلته بل غم و. د آیوا پوهنتون یو بسته کلینیک وړیا راکړی و چې دا به څنګه مزار ته تیروم. په همدې کې خپل د کابل د پوهنتون دوختونو یار، ډاکټر برناعاطفی را یاد شو چې کله کله به موخط کتابت سره کاوه. هغه ته مې ولیکل چې لاره را وښیه. هغه په ځواب کې ولیکل


کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

چې تر تاشکنده یې رسول په تا ، او مزار ته تېرول یې په ما داوړي او له

مياشت را د برشوه، او زه هم د نورو په شان دې ته لېواله وم چې تيسز به

مې ومنل شي او که نه. بېرته تګ ته مې تلوسه زياتېده خو بې

شهادتنامې هم نه شوم تللې. هسې مې وخت تېراوه. تېره هفته ما او آتينا

د لنډيو رساله چاپ ته واستوله. ګوښا د کوچ وخت و . اوس چې آس زين و

نو که هر څه مې ځان ته تسلي ورکوله چې پر دې ملک دی، بيا هم د

خپګان څپه را باندې راتله. آبوا دوه کاله، دچا خبره د ګل په شان

وساتلم، سکالرشپ يې را کړ ،طبابت يې راوښود ، په همصنفانو او

استادانو منلی وم. د آتينا خوږوالي او دپښتو لنډيو معاملې هم د

راښکون زنځير را اچولی و. زه خبر نه وم چې آتينا ، راته وروستی چل

جوړ کړی و. دا يې ګويا هماغه امريکايي سر پرايز و .

يو مازيګر يې په خبرو خبرو د سينند د غاړې هماغه چمن ته چې ما

ورکې نيم برينډه لېدلې وه بوتلم. د کبابو بوی او لوګی راته. چې ګورم،

يوه ډله همصنفيان د شرابو او بيرو بوتلو نه په لاس دونو غنو د شانه را

زرغون شول، ټول د سيند په غاړه ودرېدل خو چې زه ورغلم، دوی راته شا

کړه، لکه زه چې هډو موجود نه يم. له هرې خوا چې ورتلم او په هر چا مې

چې غږ کاوه، بس ټولو سيند ته کتل او په خپلو کې په خبرو او خندا لګيا

وو. زه يو څه مانيجن غوندې شوم او دروانېدو تابيه مې نيوله چې

ناڅاپه راغلل، رانه چاپيره ودرېدل او کړې يې راباندې شپيه په شپيه

تنګوله. چې ښه رانژدې شول نو بې په ګېډه راځملولم. ټام او درې نور



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

هلکان مې په لاس او پښو کښېناستل، دوه نجوني راغلې، په ډېرناز نخرو يې ملاوستې راله خلاص کړ، بیا یې د پتلانه د بدې زنځير کوز را ښکه، دریمې نجلۍ مې پايڅې کش کړې، پتلون يې را نه وښکه بس په جانګي. لنډه کي کې پاتې شوم. بیا نو نجوني همصنفانې په نوبت را باندې پرېوتې او چې هر ځای ددوی خوښه وه هغه يې مچاوه، تخناوه او سرويه. ما په نیمه خندا او نیمه غوسه وويل،« بس دی، نور به ماره شوی يئ ، پرې مې ږدئ. د سبې بچيانو! » چې پاڅېدم، ومې ويل،« په تاسو دې لعنت شي، ستاسو په سر پرايز دې لعنت شي، خوشاله يم چې ستاسو سپو نه خلاصېږم ». هغوی مې ګرد چاپېر اتېونه کول او شرابونه يې بادول. چې مې ځان ته پام شو چې د لنډه کي ( جانګی) سره ولاړ يم نو ما ته هم خندا راغله. تر مابنامه کبابونه شرابونه او نڅاوې وې. په آخر کې تام تهولو ته خپل لکچر شروع کړ ،« دا څناور، سبا ، وطن خو نه شو ورته ويلی، خپل ځنګل ته روان دی. يو څو ورځې د بنيادمانو په شان په دوو پښو ګرځېده. اوس يې بېرته د ځلور بولو ژوند ته شوق شوی. خو زه دومره ورسره روږدی شوی وم چې ان کرسمس بې له ده خوند نه را کاوه ». بوې نجلۍ ورباندې غبرګ کړ ،« لکه چې ته هم د کمال په شان د هلکانو شوقي وختلې ». تهولو وخندل، تام دوام ورکړ ، « ډېر لږ داسې پېښېږي چې يو خارجي دې موږ ته دومره را ښکون ولري. زه د خپله اړخه ، د ويندي له اړخه ، د لارا د اړخه ، کمال ته ښه سفر غواړم. زه نه وايم چې کمال ښه سړی دی، یا بد سړی دی »، خو بل همصنفي خبره ورغوڅه کړه،« نو هسې


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

جواري دی کـه ځنګه »؟ تهام وویل« نه ترجـوارو دې جار شي، خـو مـا دا خبره کـوله چې دکـمال په شـان خلکو باندې نادره پېښ شـوی يم. »مـا پوښـتنه وکـړه، »چې نه پښـه يم، نه بد نو هسـې کـدو يم؟ « آتینا وویل، »کاشکي کدو وای، پاس په تاخچه به مې ایښې وای چې هماغلته وچ شوی وای او بیا مې هره شپه دخانه سره څملولی«. چې پارټي ختمه شوه نو ټولو په ګډه، په بکس کې یوه تحفه راکړه، خو آتینا وویل،« زه خو بله تحفه نه لرم، خو دده خپل پتلون به بېرته ورکړم«. د چسپو خدا پامانیو اومچولو نه پس زه او آتینا زما کوټې ته لاړو. هغې وویل،« قرار داد خو مې وساته، خو په دې وروستی شپه یې ماته نه کړو؟ « ما وویل، « نه خور جانې«.


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

## «۱۷»

ترهغې مې دروسي واز موټر پسې کتل چې په دوړو کې ورک شو. دنورې نړۍ سره زموږ دکلي دتړاو مزې همدا د مړې خاورې سړک وچې زه پرولاړ وم. په همدې ، بازار ته تلو ، غواوې مو په همدې سړک له پادې بېلولې او د ځنازې کټ مو په همدې سړک پاس غونډیو ته خېژاوه ، او دا میرات مړې مړه خاوره دوه لسیزې پخوا هم دغسې بادېده. یوه شېبه خوځېښ ولاړ وم. چې یوه بابنه مې په شغهار ، تېته له سره تېره شوه ، ایله مې ځان ته پام شو. چاتنه مې شاته واچوله ، بیګ مې په اوږو کړ ، دوه بکسونه مې چې له موټر نه ښکته کړي وو را اوچت کړل. دکلي خواته روان شوم. د وړکتوب د وخت په شان مې چې سل قدمه پوره کړل ، دمه مې وکړه. څنګ ته د برې شولګرې رنې ، چاڼ شوې ، تودې اوبه کوزېتې ته



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

تویېدې، کالي مې وشنډل، مخ او لاس مې په همدغو سرو اوبو پرېمنځل ، په سر مې اوبه تېرې کړې چې دوړې لرې شي.

د حال او ماضي په جنګ کې راګیر وم. تېر وختونه داسې تازه شول لکه همدا اوس چې وي، او ګویا په چل یې شاته راښکلم، دا د ثناالله پټې ولې شړ پروت دی؟ دا د شګونهر ولې خلکو نه دی کېنډلی؟ هغه پورې جوار ګره کې مو مرزان نیول.... خوسړ ک ته نژدې، د پاینده خان ژرنده دې خیر بوسې چې له پرېشانی یې را ویښ کړم. دې بې پیره شي لا هم بهېدو، د دوو لسېزو پخوا په شان ګړبهار جوړ کړی و. په ګرمی کې د درنو بکسونو لاندې ستمېدم. بېګ مې هم توله خرابه کړې وه او هم یې اوږه را سولوله.

ساعت ته مې کتل، زما په اټکل په یو ساعت کې ، ما زیګر مهال کورته رسېدم. ځان مې راټول کړ ، د پخوانو یادونو د ګوډې خوله مې وتړله، روان شوم، لر او بر نقشه د پخوا په شان وه. د پولو بریدونه یو څه بدل او ر ژېدلي ښکارېدل، خو پاس دغونډیو کنډوو نه د پخوا په شان وو. یو کنډو د سیلاب خوړ، بل ښار ته د للمي د هزاره ګانو د تګ راتګ چې مورږ ورته د ختېکو لار ویله. د دریم کنډو د پاسه چې دکلي د غواوو پاده پرې ښکته شوې وه، د دوړو لیکه لا ولاړه خو مخ په ویلې کېدو وه. د پولې غم مې نه درلود ، د کور لوری داسې رامعلوم و چې په پټو سترګو مې هم صحیح کولی شو. یو شي ته چې مې فکر خراب و، دا و چې هر څومره مې چې لاس د وروځو د پاسه چجه کړ، لر بر، د بنیادم درک نه


کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

لګیده. پخوا به لا موټر سم نه و دریدلی چې هلالا به شروع شوه ،دهقانانو به مې بکسونه رانه په زور اخیستل، په شا کول به یې. هلکانو به له کلی را منډې وهلې او ځینو به کورته تراټ کاوه چې د لالا د راتګ زیری مې ادې ته ورکړې او خوږه واخلي. که څه هم چې زه باید دې ته حیران شوی نه وای، ځکه څه دندو کار نه و چې زما په کلی نه و راغلی، خو بیا هم په مطبوعاتو او رادیو کې اوریدل دلیدلو هومره تړکان نه لري. بهرته مې دقدمونو شمیرل شروع کړل. کلي ته په رسیدو ودریدم، ملا مې سمه کړه، هرې خوا ته مې وکتل خو څوک نه وو، مګر یو نری ښځنه نوکی آواز له کوم ځای نه راته. خوشاله شوم چې لا کلی بړوو ته نه دی پاتې. البته په دې له پخوا نه خبر وم، دخویندو ورونو احوالونه د خلکو په لاس پاکستان ته او بیا په ټیلفون کې ماته په امریکا کې رسیدل. کله نا کله به یو مروړلی پاکټ هم راغی چې چا پېښور ته راوړی او هلته یې په نیمګړې املا او پته پوسته کړی و او لکه چې په رسیدو یې ډاډه نه وي، او یا به یې خپله پښتنواله رابسودله هسې خوتیک پولی ته نه دی ناست چې د پوستې پیسې ونه لري. نو راجستر، سپیشل ډیلیوري او خدای پنه پوسته به یې پرې لګولې وه چې بیا به زه مجبور شوم چې ډاګخانې ته وریسې لاړ شم. نو خبر وم چې ورور په کور او خویندې لر او بر کلو کې خوندي دي.

خو اوس غیر له دې نري آواز بل څه نه و. د کلاډیوالونه چې په منې کې به، چې پانې توبې شوې، د برو غونډیو نه اوچت ښکاره کېدل، اوس



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

هغسې دوولس پوره نه، بلکې د باغچې د دېواله کدر ته ایله دوو گزو ته رسېدل. هره خوا کنډوونه، د کلاپخوانۍ برجونه، درې کونجونو کې اوس دلې خاوره وه. دا ټول مې برسېره لېدل خو زړه مې د غږ د څښتن پوري و. هرڅومره چې کلا ته نژدې کېدم لوړېده. په دې بوڅه تسل شوم چې د کلامخې ته د شنډ توت لوېه، گوره ونه لا ولاړه وه. زما په وخت کې پنځو څوانانو غېږ ترې نه شوه چاپېرولی. دې ونې ته د مخکې او هوا کابناتو اسره ورکړه. دانگورو مېلوې او قسم قسم پروتې کوارې وارې ورختلې چې موږ پکې د بېزوگانو په شان تالونه خوړل. دول دول مارغانو پکې ځالې جوړې کړې وې چې په خپلو کې بې په ځانگه او ځاله باندې شور بگت او جنگونه جوړ کړي وو. په دغو کې هغه لرغونی، کجیر هم و چې د وزرونو سیوری بې د کلیوالو په وینا، اوبن کدر لوی و او هر مابنام په ډېر تکلیف اولتې سره له بوې ځانگې نه بلې ته را کوزېده. د وزرونو پېهار به بې ډېره شېبه روان و او ایله د تاریکې دخپرېدو سره خپلې ځالې ته رسېده. دا لرغونی کجیر بوازې و، جوړه بې نه لرله او کلیوالو به توکې کولې چې کجیر عیش کړی، آل آبل نه لري، ټوله شومه بې خپله دده او کور بې ټول خپل دی. دغو، یادونو درگرده زما په ماغزو ټونگې وهلې خو زه د غږ پسې گرځېدم چې اوس رسا او ربدل کېده. چې پاس مې وکتل، بوخط وبربت، شونده شنه، هلک دونې په ډډ ناست دی د کېچه مار په شان سر خوځوي او په شرنکېدلي آواز د «الکهف» قرائت کوي. ما ویل هلکه څوک یې، کوز شه! دی را ته موسک شو خو خپل تلاوت او د



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

سر ښورول یې پرې نه ښودل، بلکې لکه ماته چې ځان ښیي، لا یې زور ورکړ. ما ورغبرګ کړ، کور کې څوک شته؟ خو دی موسک و او سر یې د قرائت سره ښوراوه، د ځان سره مې ویل، دا هسې بانګساره دی خو چې کتل مې د موسکا په حال کې یې په مخ اوښکې هم روانې شوې. سم ناست و، لکه کور کې چې یې پلتنې وهلې وې. د دوو ځانګوتر مینځ یې ځانله دانګورو د مېلوې کټ او بدلی و. ما ور غبرګ کړ، بس دی کمالات دې نام خدای ډېر دي، راکوز شه، سپې خو به نه لرې؟ مګر ده هماغسې اوښکې تویولې او سر یې د الکهف سره ښوراوه.

په مایوسی مې بکسونه تر دروازې وچلول. اوس هغه لویه دروازه چې د کلیوالو خبر اوښ د باره سره پکې ځایېده، تل به جندره پرې لګېدلې وه، بس په یوه کنډو بدله شوې وه چې دستر د پاره د جانماز په اندازه یو غوړ، خیرن پوزی وریاندې ځړېده. چې کورته ننوتلم د صفې په سر دوه پوزې غوړېدلې وو، بکسونه مې یو په بل باندې کېښودل، بیګ مې بالنبت کړ او هماغلته د ماغزو او وجود د ستړیا نه اوږد وغځېدم.

هغه اته کوټې چې څلورو خواوو ته دوه دوه، د ډېوډۍ تر مینځ، د کور په دیواله پورې لګېدلې وې څه کنډوالې او څو تورې خولې د صفې لورته نیولې وې. ډېره شیبه پروت وم او همداسې لکه چې پرمنبې وړی وم. څه ښکالو را وېښ کړم، ګورم چې، مفتاح، ورور مې راودانګل، « لالا مې راغلی! » ددې سره یې خپل پنډ په صفه وغورځاوه او تر غاړې وتو. شاته یې میرمن، د رمبې سره، ولاړه وه، هغې مې لاسو نه ښکل کړل. هسې په



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

دلیل مو یو بل سره پېژندل ، ماته دوی خوار ، جل وهلي او مات ګوډ بښکاره کېدل او دوی ته خدای خبر زه څه بلا وم. ډېر ساعت مو مخونه په اوښکو لانده کړل. ایله مو دهای های ژړا په اېتکیو او سلګیو کراره شوه. بیا مې نو ورور ، لکه چې ځان را ټولوی په مهرمنې غږ کړ . « هله جلی ، چای را دم کړه چې لالا به مې مانده څېله وي » . خپل کالي یې وځندل او د عذر په لهجه یې وویل ، « لږ سار مې ، بښکه ، اغزه کي مو را ټول کړل ، ستا به ډېر خوښ شي » . وربندار په کنډواله کې ورکه شوه . ما وویل ، هغه ملا چرګک څوک دی چې په ونه سپور دی ؟ ورور مې په خندا وویل ، ملا چرګک سورګل دی چې نوم تا وربانديې ایښی و . زه حیران شوم . دده په لیک کې دنورو اولادونو خبره هم یاده شوې وه .

« خوره چیرته ده » ؟

« دشیرینجانې ترور کره »

« شیندیګل » ؟

« دقندي ترور په کار و ، دا یوه هفته کېږي چې هماغلته دی » . بیا نو دده پوښتنې شروع شوې . وربنداري مې ، لکه چې غوږ نیولی و ، د کومې کنډوالي نه غږ کړ ، « سړیه ، ته لاړ شه ، هغه پتیاکه خورا ونیسه چې لالا ته مې پخه کړم » ما وویل . وږی نه یم ، ډېر ستړی یم ، د مرګې نه یم . لنډ ګنډ به درته ووایم چې له ما پوښتنې مه کوئ چې پلانکی څنګه و ، پلانکی څنګه وه او بیا بیا به همدا یوه سرنده غږ وئ . یو سر دوه غوږه لاړم ، یو سر دوه غوږه راغلم » . چا یې چې راغلي مفتاح په تعجب د مهرمنې نه



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

پوښتنه وکړه ،« وچ چای دې درلود »؟ هغې په خندا وویل ، بوخه مې بدي ورځې تهساتلې و . مفتاح ماته کړه ، « مور خپله اوس د بهي چای څښي ». زه پوهېدم چې دا دبهي دونې پوټکي دي چې په اوبو کې یې ایشوي چې رنګ یې د تور چای شي. زاړه وختونه را یاد شول چې غریبانو به دچای وسه نه لرله ، همدا پوټکي به یې ایشول. چای د لوګي بوی کاوه خو زما د وجود هر رګ ته یې لار کوله ، د هر غوړپ سره سوکه کېدم. بیا مو د هرې خوا نه پوښتنې سره کولې. د ... رګل پوښتنه مې وکړه چې ولې نه راځي. مفتاح وویل ،« هماغلته په ونه کې ژوند کوي. دوه ورځې هماغلته ورووړ. بس دا اوداسه د پاره را کوزېږي او په بېړه بېرته خېژي ». ما وویل ، « دا هلک ولې داسې شو ؟ » وربنداري مې وویل ،« د کوم بوډه به اول درته ووایو لالا ! » ما . ره ونه څېړله ، بوقسم : تبې سره مل خوب راباندې راته ، دوی ته مې وویل ، زیاتې ما پرېږدئ . سرکه به سبا ته کوو . وربنداري یوه زړه ، نیالچه ، هغه زوړ د شنه دبخمل بالښت ، چې زما په یاد دي چې ددې د وادہ دوخته پاتې و . له کنډوالې راوړل ، پرېوتم او نه پوهېږم چې خوب وکه خپسه ، خو ترنیمو شپو په ځای کې لوغړېدم ، بیانو تبه وه ، که خوب ، په ځان خبر نه شوم. د چنار چنجنو او شاروګانو را پاڅولم ، خو سهار څو شیبې ګنګس پروت وم ، نه پوهېدم چې چېرته یم. هره خوا مې وکتل ، کنډوالو توري خولې وازې نیولې وې. ایله په سد شوم. د ګلانه بهر نهر ته لاړم چې بو وختې څو څو ځلې زه رکې نژدې ډوب شوی وم اوس له شګو ډک و ، ایله بې منځ ځای ګمجن



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

كاربده. په لاس مې په کې ژور غالې جوړ کړ. چې او به په کې په دمه
ه ډنډبدې يو اندام مې پر يوه، او بيا منتظر پاتې کېدم چې ژور غالى
رته ډک شي. چې بيرته راغلم، د توت ونې ته مې پاس وکتل، سورګل
په تلاوت بوخت و . ما ورغږ کړ « اې کم اکله، د سهار تلاوت خو په جهر
ږي، راکوز شه چې په جمعه لمونځ وکړو ». خو هغه همداسې تکه مچې
نګېده او تالى يې خوړلې. ما په مايوسى ګوښي نيت وکړ، خو د
کالو نه په شوم چې سورګل راکوزېږي او شاته مې ودرېد. ما هم پس له
مده د الکهف سوره په شرنګولي آواز شروع کړه. په دې کې مې غت
هم وچې سورګل ته وښيم چې دالکهف سوره يوازې دده تېکه نه ده.
ې برخې مې په اول رکعت کې او يوه په دويم رکعت کې د مصري
ريانو په ترتيل قرائت کړه. د دعا په وخت کې مې کتل چې سورګل مخ
لاسو نو پټ کړی، مړی اوښکي يې په زنې را څڅېږي. چې پاڅېدم دی
ناست و. د اوږو لاندې مې لاس ورکړ، را پاملې څاوه. زياتي نو ترکاله
ږي لکه د څرى اغزى را پورې نښتى و.

دصفي په سر ورېنداري سبناري تيار کړی و. په يوه، څو ځايه پترې
وي پياله کې چې نيمايي د شودوډکه وه يوه خړه پرده ولاړه وه. وړور
ې په وياړ ويل« پېروى دى ». ما وويل غوالړئ؟ هغه وويل،« همداسې
ي ډريوله لالا ، وزه ده. او لا هم د سورګل مور يو څه سم چاى چيرته په
وته کې ساتلى و ». ورېنداري مې شرمېندو کې موسکا وکړه. ما
ل« باچايې ده باچايي، بسم الله کړئ » حيراني وه چې سورګل مې



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

څنګ ته ناست و او رانژدې کېده که نور نه و نو لاس به یې زما په زنګانه ایښی و.

پس له چایه مې وربندار او مفتاح ته وویل چې تاسو کرار ناست اوسئ. سورګل ته مې امر وکړ چې هغه زما بکسونه راوړي. چې خلاصاوه مې، نو مفتاح او وربنداري مې ځانونه نانګاره اچولي وو، مانا مورږ د سوغات پروا نه لرو. د بکس نه مې یو ساعت راوښکه، د سورګل په لاس مې وتاړه، د خوشالی نه جینګ شو. ورته مې ویل، سورګله طالبه، دا د لمانځه د پاره دی. دهغې کمالات مې ور وښودل چې د لمنځونو په وخت یې برابر کړې نو بیا په هماغه وخت آذان کوي. یو بل ساعت مې مفتاح ته ورکړ. په همدې وخت کې شیندیګل او خوږه چې ما هر ګز نه وو لیدلي راورسېدل او په لاس اوښو راته پرېوتل. لکه چې دوی زما د راتګ نه خبر وو. ځوارلس کلنه خوږه تیاره کوچانی وه. ما وویل، «بچی، هسې خو شې مې په خپلې ګاونډۍ کوچۍ نوم ایښی دی. په اصل کې خو ته زما خوږه کوچۍ یې، بیا مې ښکل کړه. شیندیګل د سترګو لاندې راکتل. ما وویل، « لېونیه، خپل تره ته ککونه ورکوې؟ چې دی را نژدې شو نو مې په زور په زنګانه کېښناوه. د شیندیګل سترګې د سورګل په ساعت خښې وې. ده ته مې یو بل خپل ساعت ورکړ چې ستنې یې د شبطانانو په شان لړو برې کېدې. د خوشحالی نه وغورېد. د ښځګلو سوغات د یوه دوست میرمنې، په تاشکند کې راته خوښ کړی و. دوه شالونه، یوه سره بنارسی، بله د ګلدار کناوېز په شان شنه زرغونه، دا دیوه ساعت، څلور


کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دسرو بنګړيو او دوه جوړي د غوږوالی سره دخوري. په بل بکس کې پرېمانه قسم قسم ټوټې اوتکې وې، د وربنداري د پاره دوه داسې کړ ايې چې موږ يې هر کاره بولو او د امريکا د ټکنالوژۍ وروستی کمال و، غوږ او نور شيان وربوري نه نښلي، بس په اوبو کې يې غوپه کړه، بيرته صفا راوزي. يو داسې لا يتمر چې تر عمره نه بکره غواړي، نه بټرۍ، بس لمبه کوي، لرګی که وچ وي که لوند، او ر پرې پورې کوي. څلور د مختلفو سايزونو چړې چې پښېدن نه لري، خدا زده نور څومره د پخلنځي اوستن او سکوی بلا وبتر ي په افغانستان کې ښځې وربسې پرندېږي چې آتينا راکړې وې. مفتاح او هلکانو ته هر کاره چاقوان چې هم رنځ دی او هم پيچتاو، هم اره هم نوسی د ټولو خولې دخوشالی او حيرانی نه، نه راټولېدې وربسې مې دوه داسې شيان را وايستل چې دټولو خولې وازې پاتې شوې. يوه لمپه وه چې ښپښه يې نه ماتېده، بل يوه جاپاني راديو، دا دواړه په لمر چارجېدلې. بټرۍ يې نه غوښتې مفتاح وويل،« زياتی بس دی. لالا چې خويندې دې هېرې نشي ». ما وخندل،« نه دهغو شيشکو د پاره مې هم څه زهر ومرګ راوړي دي. بکسونه او بيګ لا شته دي. »

ورغ مو په کيسو، او دزړه په خواله تېره کړه، خويندې، خورزې، خوريونه هم غرمه مهال راورسېدل. بس لکه بېرته هماغه پخوانی کور چې وي. خو داسې نه وه. هيڅ داسې نه وه، زه او دوی دواړه پوهېدو چې دا خندا خوشالي، ټوکې، ټولې د پخوا وختونو پېښې وې چې دوی زما او ما ددوی په خاطر کولې . د ماښام نه پس وربنداري مې د ډېوې په ځای



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

سوغاتي لمبه ولګوله. سورګل سوغاتي راديو چالانه کړه. د لمبې رڼا ته تولهٔ خپلخانه د سکليتونو په شان ښکاره کېده. د خوېندو هغه پخواني غوبين غومبوري نه وو. اوږده هډوکن مخونه، کنداسي خولې. چې وېښتان سترګې په زور غالو کې ننه وتلې، نيمه پټې، اوږده سيوري يې په تغرتيار کالبو تونه، غړونه يې درانجو خوړلو په شان خوپ، خيرن، ګړنګن، کنداغوستي ماشومان ورپوري. تل ماته او زما خبروته څير وو چې ګواکې کوم داسې زيري به ورکړم چې د دوی پخواني ژوند بېرته خوندي کړي. زما سره د سرو سپينو سوغاتونه او ډالرې وې خو د دوی د مدعا زيری راسره نه و. تر نيمو شپو د راز و نياز او زړه خاطر و قافله روانه وه.

په بل سهار د سورګل سره بازار ته لاړم. ګنه ګونه د پخوا په شان وه خو پخواني رستې، دوکانونه او سړکونه نه وو. بس تول ښار يو لوی ميداني و چې دلته هلته د لرګو او درګو ځېرې ولاړې وې او په يوه بل ځای کې دغو اوو، پسونو منډيي وه. د ميداني په بل سر کې خلکو سرخلاصې جوالونه ځملولي، وريژې، اوړه، غنم يې د نمونې د پاره مخې ته کوټه کړي وو. خريدارانو موټې د کول او د بل لاس په ګوتو يې د کيفيت د پاره سره ويل او بوی کول. څو منه لونګي وريژې مې واخيستې، سورګل په خره بار کړې. بيا مونو دوه لوی څلور کلن پسونه، چې چاري يې بولي او لم ځان پسې راکاږي، هم د ځان پسې روان شو. هلته مې سورګل ته وويل چې پسونه حلال کړي خو هغه سر وښوراوه، مفتاح هم انکار و کړ، نو نا چاره مې



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

په خپله د جراح په شان چاړه پرې را ښکله. حيران وم چې سورګل او مفتاح ولې د حلالولو نه ترهه‌لري.

په هغه شپه لکه د څنګله ځناورانو ته چې پس د عمرونو، ښکار پيدا شي ورباندې سره وو. لاسونه د خيرو خيګ نيولي، وېښتان ځپلي د چم په شان سره نښتي وو. دا وېښتان يو وخت په شامپو که نه وه نو د ف صابون پريولل کېدل. لګيا وو په بې رحمۍ سره يې خوړل کول. سترګې پټې، چړپ چړوپ، د هډوکو خرسهار. دا هماغه خلک ووچې د خياله به يې ورمېږونه کاږه وړل، په خوراک کې يې چا غږ نه اورېده. ښځينه وو به د هرې مړۍ سره شونډې په دسمال پاکولې، خو اوس مې چې ورته کتل. د منګل هغه سندره را ياده شوه چې: دا څه چل شوی دی + زما د ښار په ماښامونو » خالقه زما د کورنی نه دې څه جوړ کړل!

په سهار مې خويندو رخصت واخيست او زاری يې وکړې چې هره شپه چې زما خه ښه وي د دوی مېلمه شم.


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

## «۱۸»

پس له سبناري، مفتاح وویل،« لالا اول به په خپلو شهیدانو وګرځو، د روس د لاس په شهیدانو، » کور ته مخامخ، د لوی سړک په بله خوا په یوه باغـچـه کـې زړې رنګ بایللې جنډې و لاړې وې. په شـمـار مـو درې ځلوینبت قبرونه وګڼل. مفتاح نورو هدیرو ته بیولم خو زه په ځای ولاړ وم، اوښکې مې چې دا دومره کالونه ایساري کړې وې، په مخ را رغښتلې اوما یې هم د وچولو کوښښ نه کاوه. مفتاح ویل، دا د حاجي سلطان کورنی ده، چې دروسانو قوه اول په همدې کور راغله، پخپله حاجي سلطان او ټوله کورنی یې اول غلبېل کړل، بیا یې وسېزل بس یو زوی یې پاتې دی، او دوه ماشومان چې په غوجل کې یې ځانونه د خره د کټې لاندې پټ کړي وو. خدای خبر څومره وخت مې د باغچې دیوال ته تکیه کړې، سر مې په



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

زنګانه ابنبې و، ژړل مې، مفتاح تړور و، او را باندې غږ یې کړ: «لالا نور شهیدان هم درته سترګې په لار دي، ټولې اوښکې دلته مه تویوه!» په همدې وخت کې د حاجي سلطان، زوی، دولت خان راغی او په حیرت یې راته کتل چې دا څوک دی او ولې ژاړي؟ دی ګرم نه و. ددې نا تار نه شل کاله تېر وو، دده به هم هېر شوي وي. ده چې هر څو مره پوښتنې کولې، سترې مشي را کوله خو زما میرات مړي اوښکې نه درېدې.

ناچاره پاڅېدلم، په لاس مې دعا وکړه او همداسې تر پېلې هدیرې ته روان شوم. زما کار په دې آسانه و چې اوس چا مړي للمې ته نه خېژول، د هر چا مړی دده په خپل جوس کې و. تره غوني ما بنام کور ته ستون شوم.

په بله ورځ مې ژوندو دوستانو ته مخه کړه. یو پخواني، زما استاد او زما د پلار دوست، چې دا دوه لسیزې مې په خوب کې لېده. حاجي احمد و. د باغچې تېټ او کنډو دیوالونه یې لا هم هماغسې تېټ او کنډوړو. د خانه سره مې ویل، زوی یې لوی کړې چې دا دیوالونه په دې شلو کالونو کې لا نه دي نړېدلي، خو د باغ نه بهر کلا او د هغې د مېنځ سراچه چې مور قوشخانه بلله اوس د خاورو تپه کې وه. د باغچې مېنځ ته چې ورسېدو مفتاح غږ کړ: «های احمد لالا!» خو چا ځواب نه وایه. بیا یې ور غږ کړ. د باغچې یوه بل ګوټ ته لاړو چې د آلو ونه یکې ولاړه وه. په مخکه کې یو سوری و چې ما فکر کاوه سورلنډیو، ګیدړانو به جوړ کړی وي. مور تل له دغسې سوړونه سور لنډیان را ایستل بس د بوسو لوګی به مو ور ته جوړ کړ او هغوی به د ناچارۍ ورځې را ووتل، نو سپي به مو ور وشکارل مفتاح


کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کوز په سوري کې ناره ورخوشې کړه ( احمد لالا هوی ) ناڅاپه بو لوځ سر راښکاره شو ، زما به لیدو بیرته ورک شو . څنګ وروسته حاجي احمد د خولې او پګړۍ سره راووت . کافي زهیر شوی و . تر غاړې وتو او ډېره شیبه مو سره په غیږ کې نیولي وو . بیا بې نو کوز غېږ کړ ( ملوارې زر شه را وزه چې لمر له مخ قبلې راختلی دی ، یار مې راغلی ) بیا بې په غیږ کې ونیولم . ملواره چې بو وخت په ربښتیا د کلي ملغلره وه ، او د بر مانو زړګی وریسې چاود و ، د تورو خیرنو جامو سره راووتله . زه بې و نه پیژندلم پارسي بې شروع کړه چې مور کلیوالو به د نابلده سړي سره همدا چم کاوه ، خو چې ما پرې غږ کړ ، ( ملوارې شیشکې ) ژبون وهلې په ځای کنګل شوه

هماغسې ولاړه وه خو احمد وریاندې برچ وهل ، ( هله ښځې کالی راوړه ) ملواره بیرته په غار کې ورکه شوه په یکې یوه شي کې چې فرق نه وراغلی ، ختیکې وو چې خوند بې زما هیر شوی و خو د حاجي احمد په باغچې مو چې خوړل هماغه عطر هماغه نیشه ناکه خوند ، هماغه خوږ شربت . احمد د امریکې پوښتنه کوله او ویل بې دوی بو ځلې په رادیو کې زما غږ واوریده چې د کوم مرض په باب د امریکا غږ د خبریال سره غږیږم او اوس هم ملوارې د همدې آشنا غږ نه وپیژندم ، زما پوښتنې لا شروع نه وې او په چل بې هم نه پوهیدم چې له کومه بې شروع کړم . پوښتنه مې وکړه چې په غار کې ولې اوسې ؟ دی موسک شو ، « دا چل مې ستا د ورور نه زده کړی ، اوس هم زیات خلک یا په سورو کې اوسي او یا په ځېرو کې . د چا د لاسه کیږې چې بیا د کور جوړولو تکلیف وګالي . څو ورځې ژوند دی څه په



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

مخکه څه په قالین ، مقصد تیر یږي » ما وویل ، ته له کومه صوفي شوی بې . ده مفتاح ته وکتل ، « نه رښتیا وایم ، اوس خو طالبان راغلي یو څه امنیت شته نو ولې بیرته وراني ویجاړي نه سمویږ ؟ » احمد وویل « سر مه وریسي خوږوه ، هماغه څو تنه دي چې د خلقیانو سره وو ، بیا د روسانو څري شول او د خپلو تربورانو کورونه یې د اشرارو په نامه ورښودل ، د بمباری ځایونه او د مجاهدینو د مرکزونو نقشه یې ان کندوز ته ور وړه بیا د مجاهدینو قوماندانان شول او اوس د طالبانو ځینې چارواکي هم دي ، مه وریسي گرځه . شکایت کول د سرې په خپل تاوان دي » ما موضوع نه پرېښودله ، او بیا مې پوښتنه وکړه چې ولې په سمځې کې اوسي ، ده وویل ، ( لکه چې په نیمه پوه نه شوې که دوربین در سره وای ما به د پورې غونډیو لمنې درښودلې وای چې ټولې سمځې سمځې دي بس چې یو ځلې خلکو کیندلې دي ، بیا یې کوزرا تگ ته زړه نه دی ښه کړی » زه نه قانع کیدم ، « آخر ولې ؟ اوس خو د مرگ ژوبلې قصه ختمه ده نو ولې خلک بیرته خپل پخواني ژوند ته نه راگرځي ؟ » احمد لوستی ،هوښیار ، یو څه فلسفي مزاجه سړی و . تل به یې کتاب په ترخ کې گرځاوه ، هره موضوع به چې وه ، ده به یې لوستلو نه پرېښوده او بیا به یې په جومات کې پرې بحثونه کول ، اوس یې همداسې فلسفه شروع کړې وه ، « تاریخونه وایي ، چې بنیادم ډیر وخت په ونو او سمځو کې اوسیده چې یو ځلې خالق د وسلې چل ور وښوده ، څه وسله وه ، یا به تیره تیږه وه ، یا ډانگ ، خو چې په ځناورو غاوره شو نو د سړو او ونو نه را میدان ته شو او کور یې جوړ کړ . نو بیا د


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

بنيادم او داړونکو ځناورانو مقابله وه ، چې ځناور به زور شو نو بنيادم به
ونې يا سمڅې ته پنا وروړه او که به بنيادم غاوره شونو د سوړو سمبوړونه به
ووت او کوربه بې جوړ کړ . نور دې هم ملا کړم او که همدا دې بس شوه ؟ »
ما په خندا وويل ، بس دې استاده ، بيا مې مفتاح ته اشاره وکړه . هغه له
جيب نه يو ساعت ، يو هر کاره چاقو او يو قطب نما را وايستل او احمد ته يې
ونيول احمد په ساعت ډير خوشاله شو « و به يې مني که نه چې هغه سيکو
فايف ، چې مې د حج نه راوړي و ، ظالمانو مې د لاس نه خلاص کړ . » بيا
يې نو چاقو او قطب نما لر او بر کول ، « دا چاقو که ځو کاله پخوا را سره واى
د ډيرو به مې برګې کولمې را ايستلې واى ، خو خپل تش لاس مې دښمن و »
بيا يې قطب نما دې خواها خوا کېږ کړه ، « کمال خانه ، د دې وخت هم
اوس تير دى ، تر للمې لا نشم ختلى چې بيا د کور رد ، روو د پيدا کړم . په
ځوانى کې چې مې په ښکار کې لار ورکوله ، هغه وخت دا د شيطان
تکتکى نه و . اوس لکه د غويل جاګه يې غويى ، ځاى په ځاى چورلم ، نو
قبله به چير ته ورکوم ؟ ) ما ملوارې ته ور غږ کړ هغې لکه چې چاى تياراوه ،
يا به يې همداسې ښودله چې را ووتله نو ما د مفتاح نه هماغه د سپينو اميل
واخيست او دې ته مې ونيو . ملوارې کله خپل خاوند ته کتل او کله
سوغات ته ، په آخر کې يې هماغه موسکا چې يو وخت يې له کليوالو زړه
ايسته را ولوروله او لاس يې را اوږد کړ . چې وتلو نو د باغيچې د مينځ
تويه کې خاورې ته مې وکتل . څنګه خاموشه يې پراته دې ديوالونه دا څه
چل شوى دى ، زما د ښار په ماښامونو .


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون

بل سهار للمې ته زما د پوهنتون د وخت انډيوال ، سالم جان چنغړک ،
ليدو ته لاړو چې مفتاح ويل ، تل دې يادوي د هغه سمڅه د غونډۍ په ډډه
وه کې د سمڅې نه بې چې خاورې را ايستې وې له هغو يې مخې ته د يوه
تغر کدر چوتره جوړه کړې وه . چاى و چلم هر څه تيار وو او غرمه مو د چرګ
پولاو وخوړ ما وويل ، ګوزاره خو دې نام خداى ښه ښکاري ! هغه ځان
ناګاره واچاوه او د امريکې د ژوند او نرخونو او عيشونو پوښتنې يې
کولې. ما يوسه شو چې ما ته د يو من وريژو نرخ معلوم نه و . ما وويل چې
هلته مو، ايله پونډۍ ، سر ترلې کڅوړه وريژې اخلو ، تله تر ازو نشته ډيره
شيبه سره خاموشه وو ، نه پوهيدو چې د کومه ځايه يې را شروع کړو . اوس
يې د پوهنتون د وختو د نکتايي په ځاى ډيره تر نامه را اوږده وه . د
خاموشي د ماتولو په کوشش مې خبره تهکو ته کش کړه ، « صوفي مې
اوس نسوار هم نه دي ، د تهجد لمنځو نه څه وايي ! ، ختمونه څه وايي ! که
خداى يې ومني ، سر په کونډۍ به مې د جنت د شاتو ډنډ ته ګوزار کړي . »
خو په لهجه کې يې هغه پخواني مست ، شيطاني خوند نه و ، پوه شوم چې
سړى نور د برمه لويدلى دى ، زما په خاطر له ضرور ورځې سر خوځوي چې
ما د سمڅو د ژوند پوښتنه وکړه نو حيراني وه چې ده هم د حاجي احمد په
شان ګونګ ځواب راکړ . » هغه ورځ د جمعې لمانځه ته روان وو په لارکې
چې مې ځان او نورو ، کليوال خو نشو ورته ويلى ، سمڅوالو ته پام شو ، نو
ټول لکه هغه کنګل وو چې په وچه ځيله کې له ناوو او چجو نه را ځړ پړي او
کوز مخکې ته زور کوي برېتونه ځوړند ، ږيره ځوړنده ، اوږې ځوړندي .



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ټول داسي ګروپ روان، لکه لرغوني بنیادمان چي کاني په لاسونو کي ، په ښکار وتلي وي » ما ورته د احمد داستان تیر کړ . سالم جان موسکی شو ، « همداسي بې ګنه بامیان دي په یاد دی ، چي د پوهنتون په سیر علمي ورغلي وو ؟ هلته د بودا د بوت نه لر بر څومره ډیري سمڅي وې، زه چي اوس فکر ورته کوم ، د تاریخ معلم هسي چټیات ویل چي هلته بودایي بامیرانو مراقبه کوله نه مراقبه وه نه هیڅ ، بلکه د چنګیز د تاړاک نه پس چي څلوېښت زره بې ځای په ځای پکي ښت کړل نور نو خلکو ته د کورونو د جوړولو سیک او حوصله پاتي نه شوه ژوندي پاتي کسانو ویل ، چي تر څو به بې مور جوړوو او ظالمان به بې نړوي . »چي رخصتیدو ما بلنه ورکړه چي د جمعي شپه زموږ کره راشي چي تر سهاره مرکه وکړو څو شپي د خپلو خپلوانو سره بوخت وم خوږه بې چاته په نامه کوله ، ما وویل هغه لا وړه ماشومه ده ، یو څو کاله ورته وګورئ چي تر شپږم ټولګي پوري خو زده کړه وکړي . مفتاح کټ کټ وخندل خو نور بې هیڅ و نه ویل . ډیر وروسته ، پوه شوم چي عجیبه نا پریته مي ویشتي وه . په ښار کي د نجونو یکي یو مکتب و او هغه طالبانو تړلی و .

د جمعي په شپه چي حاجي احمد او سالمجان چنغړک راغلل نو زما بل فاکولته یی آشنا ، برمانو ، هم ورسره و . د ده اصلي نوم بریالی و خو د تاریخ معلم ورباندي برمانو نوم اینبی و . معلم ویل چي دا د څنګلي بنیادمانو د پاره د ننګرهار د خلکو نوم دی. برمانو په میرو او بیابانو



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ګرځي او کله کله ، د شپې په کلو او بانډو هم غوتې وهي . معلم ویل ، د بریالي ببر سر ، تیتېدونه ، پلنې اوږې بس د برمانو دي. دا نوم د ده پسې داسې ونښتو چې د ناچارۍ ورځې یې خپل تخلص هم کړ . چا به چې برمانو یاد کړ نو بل به ویل ، صیب ورسره یادوه ، برمانو صیب به دې شپه نو احمد ویل ، « مور تول اوس برمانوان یو . یوازې دا زموږ ، د امریکا نه راغلی یار ، لر مانو دی . » ما چې هر څومره د جدي خبرو خواته هڅه کوله دوی به ، لکه چې د کومې خبرې د پټ ساتلو کوشش کوي ، په ټوکو واړو له چې شپه پخه شوه نو برمانو د جیب نه یو تلی چرس راوښکه ، مفتاح ورته چلم راوړ که ګورم تول ورنه را تول شول . د یو تلي پسې بل تلی او ایله په دریم چیلم تم شول . تولو ، حتی مفتاح چې زما په وړاندې به یې سترګې نه شوای او چتولی ، بیغمه پیر ، خوله پرې لګوله ، سپرغی او لوخړې یې یادولې او بیا یې د چلم نلی بل ته اړوله . برمانو ، خوله په نلکه لګولې ، سترګې نیمه پرانتې ، د سر خانې خوړلن د شهادت په ګوته سره اړاوه او لکه د ځان سره چې خبرې کوي ، وویل ،

« اوس زموږ ننداره کوه ، ته به ځانته خامتماهې چې په امریکې کې مې عیشونه وکړل او موږ به ویته خوله ناست یو ، ستا لاڅې به اورو او آفرین به دریاندې وایو » . ما هېڅ ونه ویل ، پرېږده چې د زړه برا س وباسي . دده دوام ورکړ ، « دا تلی چرس ، دا د فقیر بوتی ، به په تېوله امریکا ورنه کړم . امریکا د علم په برکت سپوږمۍ ته وختله . برمانو د چرسو د تلي په برکت په آسمانونو کې چکر وهي . ستا علم خو همدا کاني وې چې په موږ یې



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

وکړي. پوهان خو همدا خلقیان وو، همدا پرچمیان وو، همدا روسان وو».
بیا یې ما ته وموسل، «همدا تنظیمونه وو چې په دې ورغ یې راوستلو».
حاجي احمد ورسره غبرگه کړه، «چې طالبان دې هېر نشي چې ځانونه
دعلم جاګیر داران بولي» برمانو سر وښوراوه«نه بابا، دوی بنه دي، که
نور څه نه وي، هغه دې مکتبونه خو یې وتړل، زما د طبعې کار یې وکړ.
بردچې دغه متیان یې ځنګ ته نه وای پرېښي». ما وویل، «تاسو بیخي
بل قسم خبري کوئ، سپین غر په تور غرد ولئ. آخر دا څه څه وایئ؟» سالم
جان چې تر اوسه غلی و، په خبرو راغی، «ته خبر نه یې چې په موږ څه دندو
کار تېر شوی! » ما وویل، «بنه خبر یم»، سالم خان جدي شو، «نه، بس
دومره خبر یې چې روسانو په دې ځای او دې ځای عملیات وکړل، پلانکی
ځای یې ونیو، دومره ملکیان تلف شول. » ما وویل، «نور نو څه پکې
ځایېږي، په جنګ کې خو مرګ ژوبله خامخا راځي! » برمانو وویل،
«تا ته به مازې مرګ ژوبله ښکاري، لکه په چچنیا کې، په بوسنیا کې، په
کوېټ کې. ته ګرم نه یې. مخکه هغه سوځي چې اور پرې بل وي». ما
وویل «نو بیا ولې بټ پټونې کوئ، ولې حال نه وایئ؟ که مې امریکا یې
بولئ که ګبر و ترسا، لږ تر لږه ستاسو خپل وطندار خو یم. » حاجي احمد
وویل، خدای دې نه کړي، ولې به نه راته پردی ښکارې، د همدې کلي یې،
د همدې ښار یې، د همدې ملک یې، خو موږ وا بو چې سفر د رباندې تریخ نه
شي، څو ورځې په کراره تېرې کړې، په دیدن سره ماړه شو». ما وویل، «زه
به هله موږ شم چې تاسې راسره پردېتوب ونه کړئ». سالم جان وویل، «دا



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

شل کاله چې په مور دا د ډېدنګ تبر شوی ، دا څنګه په بوه شپه کې را ونغاړو ؟ درد ، مرګ ، لوږه ، نیستي او بربادي خو به درته بیان کړو خو کاشکي په همدو باندې خبره ختمېدای . » ما وویل ، « زما هم بیړه نه ده . بس بېدربغه پرې ورځئ » . حاجي احمد وویل « ما درته هغه ورځ د حسن باچا د زامنو او نورو خلقیانو د جفا وویل ، چې زمونږ د خپل کلي خلک دي . دا لا پرېږده چې زما خپل وراره ، فاروق ، په کندوز کې دامنیې قوماندان و . د ټولو کلو او حتی کورونو نقشه د حسن باچا زوی او د ماسل خان پرکښې ، کندوز ته وړې وه او هغه بیا روسي قواوو ته ورکوله چې د عملیاتو په پلان کې خطا نه وزي . د خپلو طرفدارو په کورونو بریدونه کړي . دا نور سبې مې چې درته یاد کړل ، هو رښتیا د نوروز دوه زامن چې مې هېر نشي ، دا به مخکې او روسان ور پسې ، » سالم جان وویل ، « نور یې مه شاربه ، په زخمونو مو مالګه مه شنه . » خو حاجي احمد پرېښودونې نه و ، « پرېږده چې ډاکټر پوه شي چې خپلو عزیزانو په مونږ څه ناخوالې وکړې . اول په اوریا خېلو ورغلل ، جنګ منګ نه و ، مونږ په دان پورو ، چره بیزو څه جنګ کړی وای ، د شولو وخت و ، ټول نارینه په للون او پټولو لګیا وو چې قوه د اوریا خېلو نه زمونږ په کلي راغله . اول د وکیل راز محمد په کور ورغلل ، هغه خو مړ و ، خدای دې وبخښي ، خو ورور یې ، حاجي بهرام ، په پټیو کې و ، چې قوه راغله . اول یې ټول ماشومان په لیکه ودرول او کلاشنیکوف یې پرې ورضربه کړ . بیا یې ښځینه چې د خپلو بچو په مرګ یې هې سوران ګډ کړی و او ښځې یې سده پرتې وې ، بوې کوټې ته کړې ، بیا



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

يې هماغلته په کوټ غلبيل کړي».

برمانو هم په خبرو راغی،« ډانګ لالا دا کيسه نو تا ته د ويلو وه؟ څنګه د سړي خوله ورته جوړيږي؟ د حاجي سلطان د کور دري څلوېښت قبرونه خو تا په خپله په اوښکو لامده کړل. د دې بل کلي کيسه دې هم واوريده، نورې هم همداسې در شميره. په دې به نو لا نه يې خبر چې همدغه زمورږ د خپل کلي حرامیان له يوه کلي نه بل ته ور سره په بدرګه روان وو».

حاجي احمد وويل، « بهرام چې دا واويلا واوريده نو يوم په اوره په منډه کلي ته راغی او د صحنې په ليدو يې د يوم سره د حسن باچا په زوی ورمنډه کړه خو د نوروز زوی په تېره وويشته. حاجي بهرام بيا هم خپل يوم د ځان پسې څکاوه. په ځلوري د حسن باچا د زوی خواته روان و. د نوروز زوی بيا کلاشنيکوف ور ړاوه، خو روسي په ... ک وواهه. تر هغې ولاړ وو چې حاجي بهرام د زنګ ... ه تر يکر شو» ... نو د ملک کريم کلي ته لاړل او هلته شرم تر دې حده، ... د چې ... روسانو په خپلو کې د ښځو په سر سوک ځاپېړو ته خبره ورسوله او د برچې را ښکلو ته سر حد ورسېد.»

سالم جان چې اوس يې سترګې په ژړاو که به نشه وه، سري وې، وويل، «او زمورږ د کلي حراميان بوې خواته ولاړ وو، ببغمه يې سګرټو نه څکول. د کاپر کونج په کلي کې چې قتلان ختم شو او روانېدل بوه بوډا ورته ويلي وو چې په ظالمانو! هغوی خو روسان دي، خور مور نه پېژني، نه پوهيږي، تاسو يې پوه کړئ چې دا تول د هقانان دي اشرار نه دي. پوهيږي چې هغوی د مړو انبار ته ګوته ونيوه او و يې ويل، « چې بد ګرځي، بد به پرځي»



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

مفتاح الدین چې تر اوسه غلی و، غاړه تازه کړه، « لالا، زیاتي نو د شرم او خجالت پرده څیرلې وه. زما ماشومان خو بر ما نو صیب دې خیر ویسي، د خپلو بچو سره پاس د للمې سمڅو ته رسولي وو خو چې ما وریسي د تر پللو تابیه نیوله، قوه د دروازې خولې ته رارسېدلې وه. زه د باغ مینځ غار کې دهمدې مردارې وزې سره پټ شوم. » مفتاح کټ کټ وخندل او ماته یې ماشومتوب یاد شو. « چې روسانو په کور کې څه بیا نه موندل، باغ ته راووتل نو زه غار ته چې د همدغسې بدې ورځې د پاره مې کندلی و ننوتلم. روسانو په څارو یو هم هیله نه کوله، په کلاشنیکوف یې ویشتل، په برچې یې د پوسته کول، د باغ په شنو ونو غنو یې پترول اچول، انګار یې بلاوه، هماغلته یې ورته شوې کباب، خام وختېل، په ولاړې د شرابو سره خوړل. زما په ژوند کې همدا یوه وزه وه، نو هغه مې هم غار ته کش کړه. په پګړۍ مې خوله ورته وتړله چې شور ګډ نه کړي. یو وختې چې بهر د پښو دربهار کم شو، نو ما هم د وزې وربوز یو څه سست کړ چې مړه نشي، او دې د کاپر مال په بغهارې رانه بهر ته توپ کړ. روسانو د برې منډې وریسې وهلې وې خو دا ورنه د باغ په کوم خوړ کې ورکه شوه. بیا وروسته خبر شوم چې د نوروز زوی روسانو ته اشاره رسولې وه چې وزه بې خاونده نه ده. لالا څه به دې سر خوږوم خو چې پاس مې کتل دوو سروبیزګانو برچه پک (برچه په توپک) کلاشنیکوفونه راته کوز لمبر کړي دي. ور ووتلم او خدای شته چې لکه پانه ریږدېدم، وار وپار مې خطا و. بوه روسی رابانديغږ کړ، مژادین؟ (مجاهدین) ما خپل شوټ لاس ورښکاره کړ، د نوروز زوی ته



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

مې وویل چې تا ته خو معلومه ده چې زه د ورځتابه نه په بې لاس ګوډ یم. روسي صیب ته وواېه چې دخدای په لحاظ ما مه وژنه. ما په عمر کې توپک ته لاس نه دی وروړی او د پرتاګه بګه لاسمه پرې نشم نیولی، توپک خو په ځای پریږده. خدازده چې هغه ورته څنګه ترجمه کوله، دواړو سره خندل، خو روسي راته څند وکتل او بیا یې په کونداغ داسې پورې وهلم چې بیرته غار ته پریوتم. نور نو بې سده وم. «ما وویل. «د نوروز زوی اوس چېرته دی؟ »برمانو وویل، «په طالقانو کې د مسعود قوماندان دی. »برمانو ویل، «مسعود مه ملامتوئ، هرې ډلې ځانله خپل حرامیان لرل، څه د بوه تنظیم سره، څه د بل مشر پسې. په همدې بنګې کې د حکمتیار کاپر دریانې د کاپر سره درې ورځې جګړه وکړه، دواړه پکې مردار شول. »د سهار خړه رنا را شروع کېده، په ونو کې مارغانو یو یو تېغ ایسته او د سوال او ځواب تابیه یې نیوله میلمانه څوړند سرونه سمڅو ته روان شول.

لس دوولس ورځې د خپلې کورنۍ سره بوخت وم. د خپلو پخوانو رخصتیو تجربې را ښودلې وه چې خدای تعالی وزګاره سړي ته داسې کار پیدا کوي چې په ځان پورې اریان شي. دخورې کوژدن خو اوس لا زیات سر خوږی و ځکه چې لالا دوالرو سره راغلی و او د سیالۍ تمه لا زیاته وه. د فاتحو نه، نه رغېدن و او نه یې خلاصېدن. د سمې او للمې تولې سوړې سمبوړې یې را باندې ګز کړې. نه پوهېدم چې پاتې شم که لاړ شم، کابل، امریکا یا کوم بل ګور ته. خو غټه سوالیه هماغسې بې ځوابه پاتې وه؟



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

خپل د ماشومتوب کلي خو مې داسې نه شو پرېښودلی، چې بس ورته شاګرد او تر پله. سوالیې، لکه د دهقان لرو نه؟، زما په زړه را کېږي وې. په آخر کې مې توکل وکړ، هماغه درې پخواني یاران مې بوه غرمه بیا را وبلل. دوی ته پس مې هغوی ته وویل چې زه درنه روانیدونکی یم، ما وویل چې دا پېرته به زه درنه څه پوښتنې وکړم. سالم جان وویل، « بس د جمعې په شپه مور درته خپله لمن په سر راواړوله. نور نو د کډوانو په شان ګوګ، د دووسانو په شان سر ټیټي، د شل ګوډ په شان بې وسې یو، نور مو څه له خوروې؟ » ما وویل، « بس څو پوښتنې دي که ستاسو اجازه وي! » برمانو په خندا وویل، « بس ډاکټر صیب، ته مو سندا، مور دې لکۍ، چې په هر لور موبیا بې، چې هره پوښتنه کوې، خو وار وکړه چې زه دا د چرسو تلې خو یو څه پوخ کړم! » ما په جینګه خوله وویل،« یره دغه نن زما خاطر وکړئ، د چرسو نه تېر شئ » مفتاح چلم پریوللی خیشت پیشت د باغ صفې ته راخیژاوه، خو زما په سترګې کې بې چې غوسه ولبده بیرته بې د ویالې غاړې ته یوور. ماوویل، « ورونو، دا لس ورځې کېږي چې ستاسو د جمعې د شپې خبرو خوب رابانديي که حرام نه وي نو تریخ کړی خو دی. داسې بې وګڼئ لکه چې زه په دې دندو کار کې حاضر وم، بلکې کله خو وایم چې ددې هر څه ملامتي په ما کې ده چې درنه لاړم او په شریکه مو ونه ګاله ». حاجي احمد وویل، « نه ته ګرم یې او نه مور، بس تقدیر همداسې په تنده راته لیکلي وو ». ما بې خبر غوڅه کړه، « داسې نه ده. څه مور په خپله په ځان راوستل، څه زمور مشرانو او څه سره کاپر. د پښتنو دا متل به

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

سپک بنکاري خو دنښې مينځ ولې چې وايي قسمت کتې کړی خر دی، هر طرف ته يې چې شړې، په هماغه طرف روان وي. دا ترل د بنيادم کار ونه وو، د بنيادم د هماغې برخې چې تاسو اوس ورته مخه کړې ده. » حاجي احمد په جدي لهجه وويل، « ډاکټر جانه، دا تقدير چې هم رانه واخلې، نو موږ بايد ځانونه ووژنو. په همدې يو څه تکيه يو، هغه مه رانه اخله. موږ خو په نورو داسې ظلمونه نه وو کړي! » ما وويل، « احمد خانه، دومره يې تاوده مه خوره. د حسن باچا زوی، دنوروز زامن، دا څوک وو؟ ددوی پلرونه گوندي ستاسو په شان مسلمانان نه وو؟ هغه د کندوز امنيتي قوماندان چې کلی په کلي يې هدفونه د نقشو سره روسانو ته ورکول، ستا خپل ورارو نه و؟ » سالم جان وويل، « ته څه څه وايې؟ زه خوستا په مطلب پوه نه شوم. ته وايې چې خپل ټول قاتلان وبخښو؟ » ما وويل، « نه زه دا نه وايم، بې هغې هم هغوی اوس ستاسو په لاس کې نه دي. ستا وراره اوس په اوکراين کې دی، د نوروز زامن په هاليند کې چکر وهي. زه بل څه وايم. » برمانو په قهر وويل، « ډانګ صيبه، لکه ماته ژرنده لګيا يې. خو شي دي د فقير د بوټي نه هم پاتې کړو او خبره هم ژويلې کوې ». ما وويل « ژويلي نه ده، صفا، روښانه ده. زما پوښتنه دا ده چې اوس څه کوئ، څه پلان لرئ؟ » برمانو داسې په قاه قاه وخندل چې په آخر کې د ټوخي حمله ور باندې راغله او زه خوشاله شوم چې د خبرو فرصت مې پيدا کاوه، « ستاسو د هغې شپې د خبرو نه خو دا معلوميږي چې ستاسو په نظر دوه لارې پاتې دي، يا به ځانونه وژنې او يا به لکه دا اوس، سورو کې پټيږئ او چې راوزئ


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پوهنه

تو سرو نه به موخوړند وي. همداسې نه ده؟ » برمانو لا د توخې نه، نه وخلاص. حاجي احمد وويل ،« تو تاته دريمه لار معلومه ده؟ » ما وويل ،« هو، خو که تا سو يو څه ځانونه په سد ونيسئ. » د برمانو توخې ځای په ځای ودريد او دا نور هم څک شول . سالم جان وويل ،« ته لا ورته ګوري؟ » ما وويل ، « زه څه افلاطون نه يم، د هرشي ځواب نه لرم، خو راځئ ، لږ يې په سره سينه وشاړو، څنګه ؟ »هغوی لکه چې په يوه غټ خبرې کوي، وويل ، « بسم الله کړه! » ما وويل ، « دا ظلمونه چې تاسو يې بيان وکړ او زه هم يو څه پرې خبروم، دا خو وشول او لا کيږي به، دا هم منم چې دا به پيړی پيړی هېر نشي او بايد هم چې نه شي. دا هم منم چې موږ پښتانه يو او که ددې ناکړ دومدعيان تاسو ته، ما ته، زما او ستاسو اولادې ته، او ه پښتنه ته په لاس ورغلل دهغې غچ به اخلو. دا ټول منم، خو دا نه منم چې دهغوی د ګناه او شرم پيټې به اوس موږ په اوږو چلوو . ظلم هغوی وکړ او سترګې به زموږ ټيټې وي؟ ، دا نه منم »

د دېرې شيبې خاموشۍ نه پس ، سالم جان وويل ، خدای ته معلومه ده چې موږ خو کوشش کوو ، بهانې کوو ، خوماغزه او زړونه زموږ په لاس کې نه دي، » ما وويل ، « زه د همدې کسب ډاکټر يم. پوهيږم چې که دا ټول کنټرول هم کړئ، خپل خوب خو نشئ کنټرولولی. دا ټول منم. دا تور داغ به تر څو ژوندي يو په وښيه او خوب را باندې پاتې وي » برمانو وويل ، « نو اوس ته څه وايې؟ » ماوويل ، « زه دا وايم چې موږ د خپلو شهيدانو د روح پور وړي يو. هغوی وايي ، چې موږ قرباني شوو ، د يوه مقصد د پاره چې



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

تاسو به يې پوره کوئ، زموږ شهادت مه پريږدئ چې بابيزه لاړ شي. زه وايم چې کور سوی دی، اوس يې نو بايد چې دېوالونه پاخه وي. زه نه وايم تېر هېر شي، بلکې وايم چې د تير نه بايد عبرت واخلو. هغه دلغمانيانو بدله چې د منگي سره يې وايي، دوباره به نه کړم. د سيند له غاړې گلونه، داسې بند وتړل شي چې بيا دا سېل زموږ زامن، نمسي او کړوسي په سر وانخلي. د شهيدانو تمه خو همدا ده. » احمد وويل، « نو هغه چې په موږ تېر شول، هغه هسې باد ته ونيسو ؟ » سالم جان پرې برچ وهل « سړی پرېږده چې خبرې خلاصې کړي! » ما وويل، « ماپخوا وويل چې زه نه فيلسوف يم نه حکيم. زه په خپله همداسې ژوبل يم. لکه تاسو، خو په يوه شي پوهېږم، هغه دا چې په چرسو او سمڅو دا دغاړې غور نشي لرې کېدلی. » سالم جان وويل« همدا وايي چې دا يې چاره نه ده، داسې نه شي کېدلی، نو ته يې لار راوښيه چې دا د بې غيرتی سوندر څنگه له وچويلی پاک کړو ؟ » ما وموسل، « دا نه پاکېږي، تل به را سره وي، د شهيدانو تمه هم همدا ده چې را سره وي چې په بچيانو او کليوالو يې بيا دا کانه ونشي. د همدغو شهيدانو د بچيانو په خاطر، د دې سيلاو په مخ د بند تړل ښايي. » حاجي احمد چې تر اوسه يو څه غلی و، په خبرو راغی، « زه پوهېږم، ته وايي د سمڅو نه راووزئ، خپل بچيان هم د جهالت د خره نه را کوز کړئ، ښتانه وايي، چې خپ ، آبازو له به ورځي. که بيا د مکتب او جغرافيې خبرې کوې خو تر موږ ته ښه پوهېږې چې دا آفت همدا موږ جغرافيه والاو راووست، طالبان دې خير ويسي چې د مکتب بابو نوغی يې ورک کړ،



(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

همداسې نه ده ؟ » ما وویل « مکتب یې بولې که جغرافیه، دا خو یوه هه ده، او یوهه مازې یوه وسیله ده. تا په خپله د قطب نما خبره کوله او په خپلې کیسې دې زموږ ماغزه ستړي کول چې څنګه د ښکار په شپو دې لار ورکوله او سرحد به دې ان علی آباد ته وخوت. پوهه یوه وسیله ده، لکه د ترکانۍ تېشه، د دهقان یوم، لکه چې تاسو د حاجي بهرام کیسه کوله. هغه دهمدې ښېل نه د دښمن د وژلو وسله جوړه کړه. دا نو بیا بله خبره ده چې یوم کلاشینکوف سره د مقابلې جوګه نه و. ضروري نه ده چې هلک مکتب لوستی شو نو کمونست شي. » حاجي احمد وویل، « پوهه یوازې په مکتب کې نه وي، مکتب یې مازې د لارو نه یوه لار ده. ستاسو په یاد نه دي چې قادر ماما به نالوستی دهقان و، خو د باران او واورې نه نیولې، د تخمونو د قسمونو پورې، د هرشي پوهه او اټکل ده په جیب کې وو، حتی چې پوهېده چې تور غوبې چې سپینه غوا تېره کړي نو بچی به یې څه رنګ راځي... » ما وویل، « تا خوښه دو زما خبره وکړه. مکتب وي مدرسه وي، که تجربه، ټول د پوهې وسیلې دي. یوازې په مکتب نه غږېدم، اصلي خبره مې دا کوله چې راووزئ د سمڅو نه راووزئ، د چرسو نه راووزئ، د شرم نه راووزئ. بیرته خپل ژوند شروع کړئ. خلک را ټول کړئ، اشر وکړئ، ویالې بیرته ګیلو کړئ، شګې یې وباسئ، پاس د نري سیند بند بیا جوړ کړئ، مڅکې بیا کرته جوړې کړئ، بس لکه پخوا خپل ژوند وکړئ. » بیا نو یو ساعت، لا به څه زیات وخت ټول غلي وو. نوري خبرې پکې ځایېدې هم نه.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ځو ورځې د کور د ماتوګوډو په سمبالولو او د خپلو خپلوانو تر مینځ د کړه ونو او تاو تریخوالي په لرې کولو بوخت وم. یو زوړ ټراکټور مې د یوه قوماندان نه چې ویل یې، د خلقي نه یې ولجه کړی دی را ونیو، کلي مې مفتاح ته ورکړه. عجیبه دا وه چې په کلي او ښار دواړو کې ګڼتي نه وه، بلکې قیمتي وه. بازار لا هم د مالونو نه ډک و، په منډیو کې لا هم هیا هو وه، خو عرضه د تقاضا نه زیاته وه. ما فکر وکړ چې اقتصاد علم خو وایي چې اوس خو نو په کار دا وه چې نرخونه ارزانه شي، ولې داسې ونه شو؟ اوریدل مې چې غیر زموږ له توابونه په نورو کلو او ښاریو کې د بیا ودانولو یو څه خوځښت شروع دی. د مفتاح په غوښتنه مې دوه جوړې مستت د بوي غویان هم واخیستل. په خو ښاري پنډیانو مې په کلي کې تیره شوې ویاله، له شګو صافه کړه، که څه هم چې پوهیدم چې کله چې د بره نه او به شبوه شي، بیرته ډکیږي. زما غټ صرف دا و چې لرو بر کلیوالو ته د خوځښت زیری ورکړم. او دې نتیجه هم ورکړه. یوه ورځ د سور ګل او مفتاح سره په ټراکټور لګیا وم، چې یوه ډله کلیوال راغلل. زما دري یاران هم ورکې وو. د باغ په صوفه، چې اوس مو بېرته د پخوا په شان سازه کړې وه، سره کښیناستو او چا یې مو سره څښلې. برماتو غاړه تازه کړه، «هلکه روان خو به نه یې؟» ما دروغ وویل« یم. ښه شو چې راغلئ چې همدله خدای پاماني وکړو. » حاجي احمد وویل، « کاشکې راغلی نه وای! په موږ کې دې تور غاړي چینجي را وکتمول او اوس مو بوازې پریږدې! » ما وخندل، « دنیال سنګ جو لاب به مو د چینجو نه خلاص


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

کړي! زما رخصتي زياتي نوختمه بويه. » خو هغه غاړه تازه کړه، لړ او بر کليوالوته يې وکتل،« کليوال وايي، چې لالا، لار رابنيي، خو څوري نه راکوي! » ما ويل، « شکر دی متې در پوري دي، په هر کور کې پنځه شپږ مېږه درسره دي. تاسو يې زما شوټ لاسي وروړنه زده کړئ، ورته د دښن، ويالې وباسئ، شگې وبهوئ، دنري سر بند و تړئ او بيرته کلي سمسور کړئ، زه څه د توري بنگړي يم چې تاسو راته هيله کړې ده ؟ » سالم جان چنغړک چې تل کم خبری و په خبرو راغی،« تول، په تېره موږ درې واړه درته د خير دعا کوو چې له خوبه دې راوينن کړ، خو اوس لا يو څه ژويل يو او څه درواغ به درته وايو، لاسونه تش دي؟ » د کلي پخواني هوښيار، ارباب زرداد، دده خبر غوڅه کړه، « موږ د دروبزې د پاره نه يو راغلي، يو څه عقل را وښيه، يو څه مو سره روان کړه! » ما وويل، « زه پوهيږم چې د دروبزې خبره نه شته د زړه خواله دي. که زما اورئ نو اول دا نهر وباسئ. د کلي بر سرته، ان تر نري سينده پوري چې زه د مشرانو سره غربدلی يم، تول اشر ته تيار دي. بس زموږ کلي ته گوري چې د نهر لاره صافه کړو. » ارباب زرداد وويل،« موږ هم بر کلي ته جرگه ولېږله او د سولې خبره مو ورسره وکړه! » زه خوشاله خوشاله شوم،« يره، دا مو زما د زړه کار وکړ. زه پوهيږم چې زموږ کلي به دې ورسره وران دی چې په هغوی کې هماغه خلک زيات وو چې د روسانو سره يې دجوال خوله نيولې وه. نو دا دستا په شان مشرانو هوښياري ښيي. زه په دې هم ښه خبر يم چې تاسو تر پسلونو پوري يو څه لاس تنگي يئ! » تول غلي شول او څينو سرونه کوز واچول. ما


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پوښتنه

وویل، « په امریکا کې یوه خیریه موسسه ده چې تل یې ماته ویل، چې که کومه پروژه ور وښیم نو دوی به ورسره مرسته وکړي. چې راتلم، هغوی یو څه پیسې را کړې چې دا پروژه شروع شي. د هغې پیسې مې هم د مفتاح سره پرېښې دي. چې تاسو ته یې په تفاوت درکړي او بیا به ماته صورت حساب را واستوئ. » بر مانو نورو ته ستر ګه وتومبله او ویې ویل، « که یې ورنه تیک وهو او بیا یې لې وچې کړو، څنګه؟ » ما وویل، « د مور شودې مو دې شي » بیا مې سالم جان ته وویل، « په هماغه پخواني ځای کې د مکتب ودانۍ بېرته جوړه کړئ، د هغې لګښت او د ښوونکو د دوو کالونو تنخوا هم په مفتاح شوه. جومات چې په بمباریو کې وران شوی، د هغې د جوړولو د پاره ماګوښې مفتاح ته پیسې ورکړې دي چې سبا ته یې حاجي احمد ته ورو سپاري. » حاجي احمد وویل، « نور به نو هغه ته مفتاح بای وایو » سالم جان د خدای پاماني په وخت کې وویل، « او تاته به د ډانګ په ځای جادوګر کمال بای وایو چې په مور دې طلسم وکړ » حاجي احمد وویل، « نه طلسم یې ونه کړ، مات یې کړ، » ما په خندا وویل، « توره تاسو وکړه، زه درکې د فتح خان د کیسې کرمي ( کره مي ) شوم. » دوی ته مې ونه ویل، چې اوس حاضر خو نه یم روان. په بله ورځ مفتاح در بست واز په سرک باندې تیار درولی و، د فاکولته یې یارانو سره کندوز ته ولاړو چې هلته په ګډه د طالبانو ته د هلکانو او نجونو د پخوانو ښوونځیو د بیا پرانستلو امر واخلو. د حاجي احمد په تدبیر مو طالبانو ته د مکتب په ځای د مدرسې نوم ورکړ.



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## «۱۹»

په چار چاپېره خاورېنو، غونډېو کې له ورايه د سمڅو غارونه تور ښکاره کېدل. مګر په يو ځاى کې د غونډۍ په سر، د خداى په قدرت د تور کاڼي يو غر شين شوى و. دا غرد ځلي په شان لوړ ختلى و. برمانيو ويل چې ملاعبدالرحمن هماغلته اوسي. ملا عبدالرحمن چې شل کاله د مخه په اول ځل ما و پېژاند، زه لا ژنکى وم، دى تازه د هند نه راستون شوى و. د عليګړ د مدرسې نه چې د ورته پوهنتون ويل، فارغ و. د ويل چې سياست خپله ناولې آونګه هرچېرته وهي. عليګړ او ديوبند دواړه د ديني علومو مرکزونه دي خو يو د بل سره بې ورانه ده. د يو بنديان د پيرنګي تالي څټي بولي. خو ملاعبدالرحمن دواړه داسې ځنګلونه ګڼل چې په هريوه کې د



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کمونستانو، تالي څېړو او د جیدو او زیده دیني علماوو کمی نشته. د
عصري علوموا و ترقی خبرې یې کولې. هغه وخت نو ښایسته ځلو ښېت
کلن ځوان و. تر یوه وخته په کلي کې اوسېده. خو نه د خلکو ورسره جوړه وه
او نه د ده د خلکو سره. کلیوالو به ویل، سړی چې جومات ته راشي نو ځانله
لمونځ کوي، هغه هم داسې چې فرض کوي، سنت پرېږدي. د لمانځه پس دعا
هم نه کوي. سقاط، اوشکراني نه تېرلوي، تاویزنه ورکوي. یوه ورځ یې
کلیوالو ته په جومات کې د دیني موعظې په ځای د ویټامینو په باب، چې
ده حیاتین بلل، لکچر ورکړی و. هره ورځ به یو ځلې کلي ته ورښکاره شو،
زیاتي به تري تم و. حاجي احمد چې یوه ورځ د خراړو په ښکار غونډی ته
ختلی و، دی د همدې غره د پاسه په یوه هوار ځای کې لیدلی و چې گوښې
ناست او کوز کلو ته څېر دی. چېرته په کومې خدایي سمڅه کې اوسېده
او خلک حیران وو چې په څه شي گوزاره کوي. ملا عبدالرحمن د اول سر نه
چې ما وپېژاند، تیار یې کوره مهاجر و. د پلار مخکه یې لا دی په
هندوستان کې وچې تربورانو قبضه کړې وه او چې بېرته راغی نو یو ځلې
چې یې وریاده کړه، هغوی نور تور بریښنې پرې وکړل. هندوستان دده نه
مربي (پسه) جوړ کړی و. ده ویل چې خبره چې رسوایي ته ورسېده نو زما
دي ترې توبه وي. بس یوه خورجینه به یې په اوږو وه چې بوي خوا کې یې
کتابونه او بله کې یې فالتو کمیس پرتوگ وو. د صابون چکی، د غاښو
مسواک، لرگینه ږمنځ، رنجلو مه،نوسي، غاښ تومبوني، سلايي، چاقو،
دايي په سل جيبي واسکټ کې گرځول. پاک ستره، سنت او د ږېرې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

استر خر بیلی، خوله دخندا ډکه د مخلصانو حجره وه که په کاني، سر لګولی، بس چې چیرته بنه، هلته شپه. عجیبه عادتونه یې لرل. په لارکې به یې چې د کاغذ ټوټه ولیده، په عزت به یې را جګوله، خاورې به یې ترې څنډلې، همداسې به یې په لاس کې وه چې کوم لښتي یا نهر ته به ورسېد، په ډېر قدر او دقت یې، لکه د ماشومانو کاغذي بېړۍ، ور خوشې کوله.

ملا عبدالرحمن به د پښتنو په باب ویل، «د دنیا په مشهورو مشرانو کې خان عبدالغفار خان د ټولو نه ناکام مشر دی، جناح پاکستان جوړ کړ. ګاندي هند آزاد کړ، خو باچاخان به بوه ورځ خپل ملک هماغسې پرېږدي، لکه ده ته چې پلرونو پرېښی و.» ده ویل، کسر دادی باچاخان د هندوانو د فلسفې پېښې کوي، حال دا چې د پښتون د طبیعت سره عدم تشدد نه جوړېږي.... » بیا به یې په خوره موسکا وویل،» زه هم د باچاخان نه په ساده ګۍ کې کم نه یم. زما هم دخرپ نه ترپ خوښېږي. مخکه مې غونډه ترېورانو ته پرېښوده، د ځان نه مې هندو سنیاسي (ده ورته سنداسي ویل) جوړ کړی». د کلي په ملا یانو یې رای نه واهه. د ښار ملایان هم ورته په اوبو کې خولې کېدل خو غاښ یې نه ښت. بالاخره یې بوه جمعه د ښار په لویه مدرسه کې نه پوهېږم په کوم بحث راګیر کړ، د تکفیر نه یې بتر کړ، په وهلو یې د مدرسې نه بهر ګوزار کړ. دا د لسېزو پخوا خبرې دي چې دی تازه د هند نه راستون شوی و. هغه وخت زه تنکی زلمی وم او دده څو کړه وړه لا تور وه. وروسته د کابل په د یحیی کې د ملا دخپلوانو تر مینځ د بوې شکلې یتیمې نجلې په سر پتنه جوړه شوې وه چې مرې هم پکې



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

وشول. دواړو خواوو په ازره کې د احمدزو جرګې ته مخه کړې وه او هغې د دریمګړي سپارښتن کړی وه چې هغه همدا ملا عبدالرحمن وخوت. برمانو ویل چې دغه په ښایست کې بیساري ښځه د ځینو خلکو د قراره په لنګون مړه شوه، خو نورو نوري خبرې وریسې جوړې کړې وې چې روسانو ووژله او ځینې وایې چې خپله یې ځان د غره نه ورغړاوه. اوس یو دی و، یوه یې لور او یو سپی. حتی ان چې زوی یې هم تري تښتیدلی دی. برمانو ته مې وویل چې ما ورولې. اوس نو برمانو نه ډانګ بللم او نه ډاکتر، بلکه «ډانګتر لالا» یې ویلې چې هم ډانګ یکې و او هم ډاکتر ما ته یې وموسل.» یره، ډانګتر لالا، ولې مې درسته ورغ په زیارتونو ګرځوې؟ هغه بله ورځ دې د کلي ډم استا خنده ته بوتلم چې ویې نه پیژندلې او نه دې په ورتګ خوشاله شو. تیره هفته دې د ارباب سامو په کلي کې نژدې په سپو خوړلی وم. لالا هغه پخواني سپي نه دي اوس ډیر زلاله شوي دي. » ما په قهر ورته وویل، « تر ما مشر یې که نه ویلي به مې وو چې نور مه تېږه، بس د ملا عبدالرحمن کور ته مې ور وله!» برمانو مې خبر سمه کړه «کورته نه، سمڅې ته. » د بلې ورځې په غرمه مو چې په ختلو پیښه وکړه ایله نژدې لوړ مازیګر، ور ورسېدو. په لار کې هره خوا سمڅو خولې وازې نیولې وې. دځینو نه به تور سر رابښکاره شو، خو چې به ور نژدې شوو، د مړو په شان به بیا ورک وو. نه پوهیږم ولې په دې غونډه میاشت مې د منګل د هماغې بدلې ګردان کاوه، نه څوک ښکاره شو، نه چا بل کړل مشالونه، دا څه شوي دی، زما د ښار په ماښامونو، د ملا عبدالرحمن



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

سمخې ته ختل د خدای قهر و. د غونډۍ پر سر ته یو غر د خدای په حکم لکه څلې د غونډۍ ته را وتلی او همداسې تبغ پاس ختلی و. پخوا به د کلي ځوانانو د هغې څوکې ته په ختلو کې سیالي کوله، اوس مور په ستمېدا ورختلو، چې چوترې ته ورسېدو نور سیک پاتې نه و، هماغلته وغځېدو، خوږوږي (سپوخسه) مو په پرښوسولېدل. د صفې سر چې په اول کې هوار معلومېده، کندو کپرو. څه شګه او څه ډبره. زما په خیال د غه شګې ورکې ملاعبدالرحمن غوږولې وې چې تېرې پرښې او زور غالي پټ کړی، خواوس باد، چې په دې لوره تل چلېږي، شګې زیاتره وړې وې. د کور مخې ته د صفې جوړول لکه چې د ټول سمڅوالو دود و، دا یې ګویا یو پاتې و، چې پردې خپلې تورې نرۍ ته له ننوتلو راوګرځوي. مېلمستون به هم همدا و. زنه مې د صفې په ژۍ ایښې وه، کوز مې غونډیو او تر هغې کوز، کلیو ته کتل، ډهر یوه برید د کمکیتوب‌ه را یاد و، اوریا خبل دلته ختمېږي، کړو خبل هلته شروع کېږي... چندیانې فرق نه و راغلی. د سپېدارو باغونه چې مور پخوا د للمې نه ډهغو نندارو کوله، اوس هم و، خو د پخوا په شان ګڼ او ترخه شنه نه، بلکې ړنګي، زیږچکي، دېوالونه کسکر، کنډو. شیبه په شیبه مې شا ته کتل چې که څوک راووزي. خو چوپه چوپتیا وه، د ژوند آثار نه وو. برمانو پاڅېد، څادر یې وغوړاوه، د مازیګر په لمانځه و درېد. ما کوز کتل په چرتونو کې ډوب وم. » اوس نه سهار نه مازیګر شته دی، نه انتظار د جانان. نه تصور د کوم اختر شته دی، نه انتظار د جانان، په ګل وربنو سترګو الوزي ربګوته دا څه چل شوی


کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دی، زما د ښار په ماښامونو. نه کوم دېوال د کشمالو لېدی شي، نصیبه څه دي وکړل. نه چېرته بام نه پرې سالو لېدی شي. نصیبه څه دي وکړل. نه مېنې شته نه د مینو پېغامونه، دا څه شوی دی زما د ښار په ماښامونو ». بیا مې تکان و خوړ، ځانته مې وویل، کماله، پام چې تا هم د نورو په شان سمڅې ونه خوري. په همدې کې گورم چې څوک له ښکیه کړوپ پاس را خېژي، کوم پند یې په شا وخو چې نژدې کېده، نو یو بوډا و. چې پاس راوخوت، د شا بوجۍ یې په درز په مځکه خطا کړه، سترگو ته مې یې چې وکتل، په خپله ملا صیب و. په مخ یې خولې ماتې وې. یوه شیبه یې ځیر ځیر راته وکتل، ویې نه پېژندلم. بې سترې مشې یې بوجۍ اوچته کړه، په سمڅې کې ورک شو. زه په لمانځه ولاړ وم، چې له ښکالو یوه شوم چې راوتلی دی. پس له لمانځه یې را سره چسپه برگرندي وکړه، « دا لر له کومه راوخوت! » لکه چې په اول کې یې ځان ناگاره اچولی و. د کېناستلو ست یې راته وکړ. یوه توره چاځوښه یې د پترۍ وهلو پیالو سره ما او برمانو ته کېښوده. په خپله لرې. د سمڅې خواته کېښناست. چا- یې مو په خاموشی وڅښلې. ملا عبدالرحمن اوس زوړ بوډا و. پوهېدم چې بو څه د عمر خبره ده، نور بیا د تېرو دوو لسیزو د کړاو تاپه ده چې د تولو په تنده لگېدلې وه. په سترگو کې یې پخوانی مینه ناکي لا وه، خو ورسره د عجز او بېوسی د ملامتی موسکا هم انځوروه. دا د سوالگرو موسکا نه وه، بلکې د نهیلیو او قضا ته د تسلیمی بېلگه وه. هوا تیاره کېده چې لمونځ مو وکاوه، ده ته مو د امامتی اشاره وکړه، خو ده سر



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

وښوراوه، ولاړ، د صفې په څنډه يې څادر وغوړاوه، نيت يې وتاړه، گوښې په لمانځه ودريد. وروسته تر لمانځه، برمانو دځېلې تسمې تينگې کړې، «ډانگېره، راباندې تياره کيږي، نه دې دې اوريدلې چې په غره ختل يو غضب، ښکته کېدل يې دوه غضبه.» خدای پامانې موو کړه يوه څه را کوز شوي وو چې ملا غږ کړ، «کمال خانه، که چېرته دې کومه ورځ، تيعه ولگېده، يو څلې را پېښ شه، يو څه کار مې در پورې دی.» زه ودريدم چې نور څه وايي، خو ملا په سمڅه کې ورک شو. چې سمې ته شوو برمانو، په چاقو، دولې دوه لوی لرگي غوڅ کړل، زخې او ښاخونه يې ترې وتورل، ډانگونه يې ترې ساز کړل، يو يې ماته راکړ، خو زما حيرانې ته يې چې وکتل نو ويې ويل، «لکه چې مې درته ويلې وو، هغه زما او ستا د وختونو سپيان نه دي، لکه دوی چې هم زموږ بيوسی لېدلې وي، اوس يې سترگې نه سوځي، نېغ په نېغه په سرې دانگ وهي.» ما وويل، لېونيه« سپي نو زموږ په بېوسی څه پوهيږي؟» برمانو وويل، « اوس د بنيادم په غوښو روږدي شوي. پخوا به يې قبرونه، نه راسپړل، اوس جره بنيادم هم ما توي. » بيا يې کټ کټ وخندل، « هغه پخوانې گېدړې هم نشته چې دا وخت به يې اتهونه اچول، د سپو نه به وېرېږې چې په غوښې روږدي شوي، نو د چا خبره گېدړ هم دځېلې څرمنې په اندېښنه کې دی. پخوا مې هېڅکله مړ گېدړ نه ولېدلی، اوس يې ماشومان هر سهار شپيللې هډوکي راټولوي او بيا خدای خبر، صابون ترې جوړوي او که په هغو تاجرانو يې خرڅوي چې کلې په کلې گرځي او هډوکي اخلي، چې پاکستان ته يې وړي که څنگه! »



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## « ۲۰ »

بې هغې هم د دهقان زوی وم او کار مې په ختېځ کې اخېښل شوی و، خو د کابل دځو کالونو استوګنې، وربسې د اکتری، بو قسم په انګلیسي اصطلاح سپین کالره کارګر رانه جوړ کړی و. بس میرزا یې او د مریض لر بر کول راته کار بنکاره کېږده، لاس مې نه ښېل ته رسېږده نه تبر ته. خو د امریکې سفر مې ببرته یو ځه کارګري را ژوندی کړې وه. هلته که هر څومره معتبر یې، ان که ملیونر یې، سناتور یې، د رخصتی په ورځ به یو شلېدلی، شین جین پتلون اغوندې، زاړه کرمیچونه به پښو کوې، د کیشکر خولی به په سر کوې، ماشین مخکې، ته وربسې، خپلې کبلې به په خپله رېبې. نو اوس چې دویالې دابستلو اشر و، کلیوال حیران شول چې زه هم ښېل په اوږه ور روان وم. یو ځو بزګرانو خو رامنډې کړې چې ښېل



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

رانه واخلي، خو ما ورنه کړ. دوه ورځې، د سنباري نه پس، تر لوړ مازيګره د اشرګرو سره وم. د غرمې ډوډۍ مو هماغلته د شګو د پاسه خوړله. ګويا د ورځې سپورتي تمرين مې ترې جوړ کړ. حاجي احمد چې اوس يې د زړبودن نه سر بو ځه ړچېده خو لاپې هم د نورو برابر کار کاوه، پټ راته وويل، « کمالخانه، زه در باندې ډوه يم چې په دې کې دې هم چل و. خلک دې لمسول چې يره، لوی ډاکټر دی، د امريکا نه هم راغلی، پيسې هم لري، خو اوس هم زموږ سره اوږه په اوږه ډېل وهي. » ما وويل، « يو دوه ورځ به دې د امريکا د افغانانو نه خبر کړم چې په خپل وطن کې يې، لرې دې له مخې استنجا هم په نورو کوله، او هلته د ټکسيوانۍ نه، بيا تر قاه مېنځلو او کراچۍ ګرځولو پورې په داسې شوق کوي، ته وا د پلار پلاره يې همدا کسب و. » کليوالو چې زما او حاجي احمد لېوالتيا لېده نو نور يې هم کار ته زور ورکړ. دريمه ورځ وياله له شګو پاکه شوه. بيا نو پاس لاړو د نرې سيند نه مو ورته کندو را مات کړ. دا کندو پخوا هم و، خو چې به او به رابهېدې، شګو به يې مخه بنده کړه، ډب به شوې. اوس چې اوبه په تېرېدو زموږ نهر ته راتويې شوې نو ټولو لاسونه وپړقول، خو لکه بيا چې پښيمانه شوې وي، د ياچار يار او الله اکبر ناري يې شروع کړې. وروسته خبر شوم چې ملايانو چکچکې منعه کړې وې چې دا د کفارو رواج دی. موږ به مو-نه په اوږو، قدم په قدم، د اوبو سره، لکه د ناوې دورا پسې، کوزراتلو، کليوال په خوله خو لاهم غلي وو خو دسترګو د شغلو نه يې د هيلې سپرغۍ بادېدلې. دلته هلته شرمېدو کې موسکا په شونډو تالې خوړلې. مفتاح



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دخوشحالۍ نه خپل ګوډ لاس ته نازورکاوه او هر نژدې او لرې ګاونډي ته يې وعده ورکوله چې دده مځکه ضرور په تراکتور يوې کوي، ياران اوس هم نه پوهېدل چې زه پاتې کېدونې يم او که هسې دخو شپو خواخوږی يم، بېرته روانېږم. زه په خپله هم نه پوهېدم د کلينيک سامانونه مې تول په مزارکې پرېښي وو، اوس په دوو کې وم. کلیوال سوکه سوکه، له سمڅو راکوزېدل، کلاوې خونه، خود ختيو کوډلې يې شروع کړې وې، کوم کور چې ببخې وران نه و، لکه زموږ، نو په تاداوې يې نورې پسخې وهلې. عجيبه ده چې کورونه په اشر جوړېدل. غويي خو لا نه وو، مګر بېلونه او لرونه پرېمانه وو. خلکو د کورونو مخې ته واړه واړه پټي جوړ کړي وو او چې د اوبو د راتګ زيرې شو نو په پولو پټيو او نربو لښتيو او ورخونو هم کار روان شو. د شولو وخت تېرو خو، شوتله، جوار، رنجکه (شپشتې)، مې او نوره سپېده کاري لا کرل کېدلې شوه. يوه ورځ برمانيو د ملا عبدالرحمن وعده را ياده کړه. د اوبو او اشر په دېره کې، خواره کی زما هبر شوی و. نو جمعه چې خلک د لمانځه د پاره کوزښار ته لاړل، زه بر لوري ته، سمڅو ته روان شوم. دا ځلې بيا، ستومانه د صفې په شګو پرېوتم. چرتونه دومره را باندې غاوره شوي وو چې سر مې ولګاوه بيا ډوب وم. دا څه حال دی، څه چارده، کومه يې لار، کوم يې ګودر؟ وېرېدم چې په خلکوکې يوخامه ئمه ا کېدلې وه، او ما په ځان کې ددغو نامرادو ارمانونو د رژولو توان نه لېده. يارانو خو اوږه راکوله خو لکه سالم جان چې ويل هغوی مازې زماصويه داران وو چې ما به د تګ خبره کوله بر مانيو به ويل، نو ولې دې


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پوهنه

زمونږ ژوند ګډوډ کړ، ولې دې په مونږ کې وېدې بلاوې راوېښولې، پرېښې به دې وو، مونږ یوه شه او زمونږ د غم سمڅې. په همدې کې وم چې یو کالبوت د یوه سپي سره، له سمڅې راووت، سپی له قاره غورېده. ډېره شېبه ولاړ وو او بیا دواړه بېرته ورک شول. وترهېدم. لکه چې ملا یې خبر کړی و، هغه له یوې بلې سورۍ را پیدا شو، سترې مشي یې را کړه. ما ورته عذر وغوښت چې دکلي د جنجال نه، نه وزګارېدم چې ده ته راشم. ملا وویل، « زه پوهېدم چې ته بوخت یې، زما کار هم چندیاني کار نه دی، خدا زده چې ستا د لاسه به پوره وي، که نه، خو اول به یوه مړۍ ډوډۍ را سره وخورې ». ماته اونو وکړل خو دی، لکه زما خبره چې نه اوري، ودرېد، بېرته په سمڅه کې ورک شو. څنډ وروسته، د ښوروا دیوې کاسې او دسترخانه سره راغی. همداسې په پټه خوله یې ډوډۍ په کاسه کې وړه کړه، مخکې یې راته کېښوده ما چې ورته د شراکت ست وکړ، ده سر وښوراوه. بېرته سمڅې ته لاړ په یوه خاورین کنډول کې یې شړومبې راوړې. زه هم وږی وم. عجیبه خوندوره ښوروا وه، او لاد کوم مرغه پټون هم پکې و. شړومبې، ترشې او یخې وې. ښوروا مې په خوند وخوړه او بیا مې پاتې ډوډۍ د شړومبو سره ګړوټ کړه. ملا چې زما اشتها لېده نو موسک شو. وروسته یې چا یې راوړې، یوه پیاله ده هم راخیسته، « طالع دې وې چې پرون مې دوه زړکې وویشتلې، خو مآرغاز توري شوي دي، هسې ستا بخت نېک و. په امریکا کې څنګه، هلته به تول څنګلونه اوس په شیشمحلونو بدل شوي وي، چې ښکار شته که نه؟ » ما وویل، په



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

امریکا کې د ښکار او سپل ځنګلونه او پارکونه پرېمانه دي او مامورین خلکو ته سوالونه کوي چې راشئ چې مثال، غرڅو، یا بتو یا کبانو نسل د حده زیات شوی دی، ویې ولئ، خو البته ښکار څن باید لیسنس ولري او د بر مقررات یې ورته جوړ کړي. چې په پلانکي پسل کې به هره ورځ څو مرغان یا نور ځناور ویشتلی شي، بوازي نر به یې ولې. بچي به یې نه ولې، کب باید دومره غټ وي، غرڅه باید ددومره کالونو وي او داسې نور.

ملاسر په تعجب وښوراوه. دواړه د برد شیبه غلي وو.

زه پوهېدم چې داصلي مدعا د ویلو چل نه ورځي. دخاموشي د ماتولو په تکل کې مې وویل،« وبه یې مني که نه، بوکالبوت راتر سترګو شو چې بوسېي ور پسې روان و. چې څوک به وو که هسې مې سترګو وغولولم.»

ملا بیاهم خاموشه و. خو ناڅاپه پاڅېد، په سمڅه کې ورک شو او چې راووت، هماغه کالبوت ورپسې و، سپي ورسره غبرګ روان و. چې نژدې راغی. بنیادم و، د پوهنتون د وختونو سکلیټ ته ورته، چې موږ به ملنډې پرې وهلې، په دې فرق چې ددې هډوکو په سر زېړه څرمن غوړېدلې وه. په دلیل پوه شوم چې دا د ملا عبدالرحمن لور ده. دهغو یهودیانو په څېر چې دهټلر په کمپونو کې یې فلمونه ماکتلي وو، سترګې یې کړاغې راختلي وې. لکه وری یې چې ویلي شوې وي، غاښونه تر ببخه ښکارېدل. په دې حال یې هم دموسکا تکل کاوه او یا به یې پترو نیولي شونډې نه سره ورتلې. بیا میرات مړي بدله را یاد شوه. نه دې جلال نه دې جمال شته دی، د ژوندو ساوتې ده. نه په نظر کې دې څه سوال شته دی، د



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ژونده ساوتي ده. نه څوک ښکاره شول نه چا بل کړل مشالونه، دا څه چل

شوی دی، زما د ښار په مانښامونو. نه پوهېږم دغې ساده بدلې ولې زما

غونې زيږ کاوه، داسې به شوم لکه چې سل منه سرپ را پورې تړلي وي او

بيا هم زه لامبم. په تکان مې ځان په سد کړ. هلکه تا خوتر دې سخت

مريضان لېدلي، چې ته داسې وارخطا کېږې نو په لوی لاس دې دخپل

مريض زنې وتړلې. نجلی جينګه خوله ناسته وه. په پلار يې دشرم خولې

ماتې وې. ماغاړه صافه کړه، نجلی ته مې وويل،« ګلې، نوم دې څه دی»

هغې ځواب رانه کړ. بس د سپي په ورږ يې لاس تېاوه. ملا وويل،

«پخواني نوم يې مور پرې بخت جماله ايښې و، زه يې دنازه کوتره بولم.»

چې مايې اصلي نوم ياد کړ، د تږخي جوړه وريانده راغله. خونه يې په

زړه کې زور واونه يې د ينې مراندو دتږخي زغم لاره، زيږ مخ يې شين شو

نو بې لاس خولې ته نيولي، همداسې په تږخلو سمځې ته منډه واخيسته.

سپی هم وريسې و. زما ډاکتري راغونځېدلې وه. پوښتنه مې وکړه، چې

ولې نجلی له خپل اصلي نومه وېرېږي. ملا لکه چې ما آزميي، ځير را ته

وکتل،« ددې پخپله دپخواني نوم سره ورانه شوه، بلکې دخپل ټول

پخواني ژوند نه بېزاره ده او زه يې هم نه وريادوم بس داده او ددې سپي.

حتی د مور دنامه په يادولو هم اثر وريانده راځي.» ما وويل،« خدای به

هر څه آسانه کړي. اوس حاضر خو ته دومره وکړه چې حق ناحقه، ځای

ببخايه، په زور په رضا خوراک ورکوه. چرګې مرګې خو لږې برې کېږي،

بس ټولې ددې نه جار کړه. زه به دې بله جمعه خبر واخلم.» چې روانېدم



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ډاډینه مې ورکړه، « خدای به یې لکه ګل داسې جوړه کړي، غم یې مه کوه. ددې رغول په خدای، په ما . » په اول ځل مې د ملا په سترګو کې د پخوانی مستی ځل ولید.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

## « ۲۱ »

یوه ورځ زه او مفتاح په ټراکټور لګیا وو. زه حیران وم چې زما په یوه لاس ګوډ ورور، څومره ډېره انرژي لري، چې هیڅ نه ستړی کیږي، په همدې کې سالم جان را پیدا شو. ما ته هم خدای د دمې بهانه پیدا کړه، دواړه په پوله کېنېناستو. سالم جان په ډېره جدي لهجه وویل، اوس په ریښتیا ډانګ شوي، ډاکټري کوې خونه دارو لري او نه سامان، ستا نه خو د ښار حکیم جي ښه دی چې هم اغلته دې هم معاینه کوي او هم ځای په ځای دې په ستوني کې ګولۍ در رغړوي. ظاهر شاه ډم هم درنه ښه دی، هم ښکر در لګوي چې نا پاکه وینه درنه را کاږي، هم ژوري در پورې نښلوي، هم دې د ماشومانو شګنکي در غوځوي، هم دې غاښ د ژامې سره کاږي، او هم دې زخمونه درځېرې کوي. ته هسې د وچې کمال خان یې. پوهېدم چې په زړه



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

کې یې کومه اندېښنه لره بره کېږي. پرې مې بنود چې دکليوالو چم راسره وکړي. ده هم کله د ويالې خبرې کولې او کله د تخمونو، او شګو، او زمانظر يې غوښت. هسې زړه نا زړه څواب مې ورکاوه. پوهېدم چې اصلي مدعا يې بله ده. د ټراکتور يې راته وويل، چې که مفتاح بوه ورځ دده پټي پرې واړوي. ما ويل، ولې نه، بس ته يې ورځ را وښيه په آخر کې مې دده کار آسانه کړ.» ولې دومره شف شف لرې. آخر وايه، په زړه کې دې څه دي؟» سالم جان ترور شو،» هسې مې داستا د ډاکټرۍ پورې خبره کوله» بيا نو لکه څنګه، اصلي ټکي ته را وښوېږد،» برماتو خبر کړم چې، بر، د ملا کور ته ختلی وې. وايي دوه ځلې هلته لاړې. » ماوويل،» نو څه چې لاړم؟ دهغه لور ناروغه ده، زما کسب هم همدا دی! » سالم جان وويل، » د بخت جمالې درد لا علاجه دی. ددې په شان خوارانو دې خدای اسره وکړي. » ما وويل،» سمه خبره دوکړه، څه وايې؟ » سالم جان وويل، » ګوره کمال خانه، اوس که يې منې او که نه، دکلي سترګې تا ته دي. ته به خسنې بې خود کلي پير يې. منم چې ډاکټر يې، خو د سر درد او د سترګو ليچ يو شی دی، او ليونتوب بل څه ته چې ځان دې شيانو ته ورکړي نوهسې خو تړوله توابه په ليونتوب کې دبخت جمالې نه کمه نه ده، نو بيا به کوم بو ته ورسېږي، زموږ د ښې به هم ووزي. » ما وويل،» چنغر که. ته به خبر يې او که نه خو همدا د ليونو رغول زما کسب دی، دهلک سنتول او دغابښ ايستل خو ته په خپله وايې، دم ظاهر شاد يې ترمانيه کوي. » سالم جان وويل،» هغه زموږ د غم پريږد چې درې ورځې مو دلږ مانه د وينوسره در ته



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

بیان کړه، لکه چې بابېزه لاړه، یا به تهوایې، مورږ درواغ ویل؟» ما وویل،« نه، تاسو درواغ نه ویل، بلکې همتاسو مې پام کړچې دا مرض علاج لري. » هغه وخندل،« لېونتوب غیر له زیارتونو او تاویزونو نور څه علاج لري؟ ولې زمورږ خوارو کلیوالو نور کارونه نه سموي. د ټولو سترګې تاته دي » زما ډاکټري را تورېدلې وه،« سالم خانه. نه تاسو لېوني یئ او نه د ملا لور، او ما تاسو ته همدا خبره کوله، او همدې خبرې تاسو پوه کړئ چې رک روغ یئ. څوربدلي، شرمېدلي، ترهېدلي یئ خو لېوني نه یئ ». سالم جان، چې بې هغې هم کم خبرې و، لکه چې نورو بې خولې ته جندره اچولې وي، غلی شو، پاڅېد او د مفتاح سیل یې کاوه چې په تورو ګریسو او ډیزلو لړلی مخ، په شوټ لاس، لکه چنګکی کله لاندې او کله د ډرایور په سیټ، د ټراکټور سره اخته و.

یو هفته پس مفتاح هم نه، بلکې وربنداري مې راته وویل چې د سالم جان یوه کلیوال هم خپله مېرمن وژلې وه. قوه چې راغله نو دده په ناموس یې هم لکه چې تور داغ ایښی و. مفتاح ویل چې ښځه د هغې په خپلې خوښې زندۍ شوې دده. دروسانو د تګ نه پس، لکه چې د مېړه او رتې تر مینځ څو هفتې بحث شوی چې ګوندي د حل کومه لاره راوباسي. خاوند یې، چې هغه په مینتا به کړې وه، نو دا تجویز یې هم ورته وکړ چې یو څه وخت دې په خور د کابل کې د خپل پلار کور ته لاړه شي. حتی د طلاق خبره هم یاده شوې، خو ښځې ورته ویلي



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

چې دا به ګوندي دده شرم نيمايي ته را کوز کړي خو ددې به دوه چنده زيات کړي. وايي چې دې ورته ذخدای روی وروړی چې دا ، خپل ځان او اولادونه تول دې د شرمه خلاص کړي.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

## « ۲۲ »

بو څه د خوب او درد دارو مې چې د کليوالو نه، چې تل بې ورېسي زېږي وي، د بندې ورځې د پاره پټ ساتلي وو، په بسته کې واچول، د برمانيو ډانګ او د امريکا نه راوړې دوربين مې را سره واخيستل، د وعدې سره سم د ملا سمڅې ته ور روان شوم، لکه چې ملا خپله ورسپارل شوې وظيفه نه وه اجرا کړې، يا به يې وس نه د رلود، نجلی چې راوو تله، هماغسې وچه او جينګداړې وه. ملا د چای د بندو بست د پاره سوړې ته روان شو. ما نجلی ته وو يل، « کښېنه ګلې! دا سپی، لکه چې د رياندې ګران دی؟ » خو هغه همداسې ولاړه وه. ما وو يل، « تيوله هفته مې په جنجال تېره کړه، د نړي نه مو اوبه راماتې کړې. د ډېرو اشرونو د لاسه تاته راتښتېدلی يم، کښېنه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

چې کیسه یې درته وکړم. » نجلۍ وار دواره کښېناسته، سپی ورپورې نښتی پرېووت. ما وویل: « نرۍ سیند به دې نه وي لېدلی » هغې هېڅ شی ونه ویل. ما وویل: « لوی بې پایانه سیند دی، نه پوهېږم ولې یې خلک نری بولي. او په سر کال پرېمانه دي، غاړې تر غاړې بهېږي، داسې رڼې دي لکه اوښکه، په غاړه یې سپینې شګې دي، په هغو کې د سرو زرو بخرکې رانه ځلېږي. کلیوالو په اول کې اشر ته زړه نه کاوه، خو بیا خدای هر څه سم کړل، واړه زاړه ټول را ووتل، وبه یې منې که نه چې ما هم ورسره شپه ورځ کار کاوه. چې نهر مو تر نرۍ پورې د ختو شګو نه صاف کړ، ستړی یې کړم اونن مې ځانته رخصت ورکړ . . . » په کیسه کیسه کې مې نجلۍ ځار له چې په تنده کې یې کوم بدلون راغی که نه خو هغې هېڅ نه ویل، همداسې جینګه ناسته وه. ما وویل: « تا نرۍ لېدلی دی؟ » د بره شپه غلې وه، بیا یې په مازې اشاره سر کوزو پاس وښوراوه. د ځانه سره مې وویل، ښه ابتدا ده. دوام مې ورکړ: « اوس چې د اوبو تنګسه نوره نشته خلک لګیا دي، خپل کورونه جوړوي، پټي یوه کوي، خو د تخم کمبوتې ده. کلیوال ولایت ته تللي چې هلته یو څه برابر کړي، خو هر کار په مدار کېږي، که سږ کال د بر څه ونه شي، کال ته به نشالا، توری ځتمې واړوي » بیا مې وویل: « ګلې، زه تږې یم، ستاسو په کور کې اوبه شته؟ » نجلۍ اوچته پاڅېده، سپی هم ور سره پاڅېد. په یوه کنډول کې یې تروې راوړې، بېرته په خپل ځای کښېناسته. تروې ترشې او ترمې وې، یومخ پکې لامبووهله. له یو وزر نه مې ونیو، بېرته مې غوړیه کړ. بیا مې لرې واچاوه.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

کیږ لاس مې په سر کېښود ، کاسه مې په سر واړوله او په لوړ غږ مې شکر وایست. نجلۍ مې څارله چې په تعجب راته ګوري. دا نو لوړ مازیګر و ، دوربین مې کوز کلي ته سیخ کړ ، ومې ویل ،« زه وخدای ، ان د دې ځای نه د نهر او به ښکاري ، چې کږې وږې را روانې دي. ته خو بې بوار وګوره! »

دوربین مې ورته ونیو. هغه ټکنۍ ود . ما وویل ،« ته یې ستر ګو ته ونیسه ، ناڅاپه سپې وغرېده او د حملې تابیه یې نیوله چې هغې ټینګ کړ. بیا یې زړه نا زړه لاس را اوږد کړ ، دوربین یې سترګو ته ونیو ، خو ژر یې بېرته راکړ. ما وویل ، « کلی دې ښکاري ؟ » هغې سر وښوراوه او په خوار نجوکي غږ یې وویل ،« نه » د ځانه سره مې وویل ، « دا یې بل قدم ». پاڅېدم ، د هغې تر شا ودرېدم ، سپې بیا راته برګ شو خو د بختجمالې آرامي یې چې ولېده ، بېرته پرېووت. دوربین مې اول خپلو سترګو او بیا د هغې سترګو ته ونیو ، د هغې چورلندې مې ور وښود چې دې خوا هاخوا یې تاو کړي چې فوکس یې سم شي. ډېره شیبه پرې بوختــه وه ، زه ورتــه ځیــر وم چې څــه کوي. ناڅاپه یې غږ کړ ،« زموږ کلا » چې پاس یې ماته وکتل نو دا ځل یې موسکا بل شانې وه. په همدې کې ملا عبدالرحمن ، کالي په تخرګ کې ، دیوې کټوې سره چې پراسونه ترې ختل ، را ووت. نجلۍ پاڅېده. د پلار له لاسه یې کټوه واخیستــه ملا کالي وغوړاوه ، څلور پتیرې ډوډۍ یې مینځ کې وې. نجلۍ په منډه سمــڅې ته د ننه شوه ، حیرانۍ وه چې داوچ کــټکي (کړکۍ) څــومره ګړندۍ و . بخت جماله د دوو کاسو سره راووتله . ملا خپله کاسه کې ډوډۍ وږد کړه ، ماته یې هم اشاره وکړه ، خــرما وویل ،



کـتـابـتـون تـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

« گلې، ته خو بوه بله کاسه هم راوړه » د سترګو په رپ کې یې را وړله. ملا بیا را ته د ډوډۍ خوړولو بسم الله وکړه، خو ما بخت جمالې ته کتل. هغې کاسه لاس کې نیولې وه. ما وویل، « ګلې، ته ډوډۍ وړه کړه. » هغې سر وښوراوه. چې ملا هر څو مره ما ته ستونه کول، ما هم د نجلۍ په شان سر ښوراوه. بیا یې خپلې لور ته وویل، « کوترې بچې، مېلمه به نه خپه کوو. » بخت جمالې، لکه چې نوره یې چاره نه وي، کښېناسته، ډوډۍ یې وړه کړه. ما ورته موسل، هغې به چې هره توته ډوډۍ کاسې ته واچوله، ما به یې هم غبرګون کاوه. بیا نو ملا په درو واړو کاسو کې ښوروا واچوله. چې ملا بیا بسم الله کړه، ما هم بخت جمالی ته کتل، ورسره غبرګه مې کړه، نجلۍ لاس نیولې شوه. ما هم لاَ ونیو، نو هغې و موسل، بېرته یې په خوړو شروع وکړه. پس د ډوډۍ زه پاڅېدم. ومې ویل، « زه درنه روانېږم ل سبا بیا راځم خو په دې شرط چې کوتره بی بی، د سار مې سابه راته اخه کړي. » د کسته مې د هغې خبل نوم یاد نه کړ. لا یې وخت نه و. په لار کې مې پام شو چې د خوب دارو مې ورنه کړل. د خانه سره مې وویل، نور مه کوډ، په دې کې به هم خیر و.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## «۲۳»

زمور، د کلي ژوند د آبوانه ډېر فرق درلود خو یوشي چې ډېر ژر ځرګندېږي د « وخت » خبره ده. په کلي کې د پاوکم یوې بجې، یا دوه او پنځه پنځوس، یا پخوا ترغرمې، وروسته ترغرمې، مفهوم نشته. وخت یا دلمانځه دی یا دخوراک، یا د تیارې او رڼا، یا د بزغلي، کرلو، پېولو او لو. ساعت د سوغات او ډېر شي دی. داسې حال هم وو چې رانه هېره وه چې کومه مـاشت وه. خندا راتله چې په راډیو کې به مې اورېدل ساعت، نه بجې او پـ ـه دقیقې. د انګرېزانو په اصطلاح، هوکېرز؟ مانا په مایې څه چې نه بجې او پنځه دقیقې دي، که لس بجې وي، څه آسمان خو نه را لوېږي! نو مـــا هـــم ورو ورو بېرته د کلي سره ځان برابر اوه، خو دوه شیان چې د پخوا نه پکـــې تینګ وم یو د سهار سپورټ و، بل د وعدې پوره کول، د



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ملا عبدالرحمن سمڅي ته دختلو په لار کې سالم جان د ملامت ګوته راته، لکه کړې وه خو زه ستون نه شوم. ملا او بخت جمال راته منتظر و. تجلي بې د ستړې مشې غيبه شوه او چې را ووتله نو دسار مې د سبو کتهوه ورسره وه. وچه ډوډۍ هم تاوده وه، چې لا شين مرچکي هم ورسره و. درو واړو په اشتها و خوړله. د تجلي زېړ مخ کې يو څه سرخي غړېدلې وه. شونډې يې لا هم نه سره ورتلې خو ما کتل چې ډېره خوارې لرې چې خوله پټه کړي. ملا پاڅيد، ويې ويل، «ډاکټره، نن شپه به همدلته تېروې. زه څم د سورسن دوکان ته، يو څه ټک پوک اخلم...» زما خواب ته يې ونه کتل، کوز روان شو. تجلي هم لاړه په سمڅ کې غيبه شوه. ما فکر کاوه چې اوس مې لکه چې دخپل کسب اول خند يو څه لرې کړ. تجلي را باندې يو څه اتباري شوه. دويم ګام يې مشکل دی، هغه دا چې تجلي د زړه حال ووايي. چې بيرته راغله نو چا زوښه ورسره وه. خيرنه ګوړه هم وه. ما وويل، «خير ويسې، د ګوړې پسې مې نيم زړه نه و. په امريکا کې نشته. د کومه دې کړه؟» هغې، لکه په اول ځل چې خبرې کوي وويل، « دا دې په بوخڅې کې مې پيدا کړه.» بيا يې د شرمه شا را واړوله. ما د چاې سره د ګوړې نه په مزې مزې چکونه کول، خو له مې چړپوله.

ومې ويل په پېښور کې يو شاعر دی چې حمزه يې بولي، څه شه يې ويلي دي چې ګوړه چې له هرې خوانه وڅکې خوږه ده. « ګوړه مې چړپوله او ومې ويل،« زوروره خوږه ده. ورېندار مې وايي، ستا مور ډېره ښکلې وه، وايي ته ور باندې ډېره ګرانه وې.» بيا مې موضوع بدله کړه، او د کلي په



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

ښکلا وغږېدم چې په امریکاکې مې تل د هغې آرمان کاوه. څنډ وروسته مې ببر ته خبره په دې راغبرگه کړه، « مور دې خلک وایي نامې ښکلې وه ». په تعجب مې ولېدل چې هغې ،موسل او لکه چې د ښانه سره غږېږي،« وښتان یې ترېښنگرو رسېدل، سترگې یې ښکلې، ډېرې ښکلې، تاثیري ». ودرېده، سبې هم ،لکه چې سیوری یې وي، ودرېد. دوربین یې په مخکې را اوچت کړ. ډېره شیبه یې لر بر کړ، خو چل یې هېر شوی و. ما ورته برابر کړ، نو بیا یې کوز په کلي کې خپل کور ته واچاوه، څنډ پس یې دوربین له ستر گولړې کړ، په غمجنو سترگو یې ماته چې ناست وم وکتل،« چې ادې مې نه وي، په کور خاورې اړوم. » ما هېڅ ونه ویل، چې چای ختم شو، زه روانېدو ته پاڅېدم، هغې وویل،« ابا مې نن شپه مېلمه یې » بېرته کښېناستم. پوهېدم چې د ویم قدم باید واخلم، « په یو شرط پاتې کېږم ». هغې هېڅ پوښتنه ونه کړه چې څه شرط، ما وویل، « زه به د امریکې کیسې در ته کوم او ته د خپلې مور، څنگه ؟ » هغې را ته کتل، بیا یې خپل سر ته لاس کړ،« خوږېږي ». ما د جیب نه د سر درد گولۍ را ایستلې، هغې د خپل چای سره چې لا یې هم لاس نه و وروړی، گولۍ وخوړه، او بیا یې راته وویل،« بس نو سر مې د همدې گولۍ سره ښه شو ». ما په خندا وویل، « یو به ډاکټر ته دروغ نه وایې. لا دې تر ستوني تېره شوې نه ده ». هغې په اول ځل وخندل او گولۍ یې ایسته توکړه. ما ددې خوا او بیا خندا ته وخندل، لوبې او وښتې د اعتماد سرېزه وي. دې ته مې د ښتې ست وکړ او بیا مې په جدي غږ وویل،« د یوه لاسه ټک نه خېژي.


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

خپلې وعدې به ساتو. ما پرون درته دکلي د شواخون کيسه وکړه. ته به
ماته د خپلې مور کيسه کوې. » دې وويل ،« ومې کړه نو ډېره ښايسته وه،
ډېره خوږه وه. » شپې په خوب کې درځي » ؟ دې وويل ،« مورکۍ تل راسره
وي. » ما وويل ،« دا رښتيا ده چې خپله يې ځان له غره وغورځاوه ، که د پلار
لاس دی هم په کې و ؟ » دې تکان وخوړ ، خو ځان يې راټينګ کړ ،« هر څه
چې وو ، نوره مې مه کړوه! » خو ما پرېښودونې نه وه، « ټوله کيسه راته
تېره کړه ، زما وعده ده چې ددې صفې نه نېږد خوا ځې نه ښکيه! » هغه چې
اوس يې واګې خپلې شوې وې، وويل ،« اوس دې وي ، پلار مې د کوم
چرګوري پسې لاړ دی ، دراتګ وخت يې دی ، چې بيا يې زه سور کړم . بل
پېر ته چې راغلې ، ټول حال به درته بيان کړم . » ما وويل ،« پام خو دې دی
چې نن شپه په همدې صفې تېروم! سبا به هم همدلته يم ، او که دې وعده ونه
ساتله ، د همدې ځای وم ، د همدې ځای شوم ، خدا که قدم هم واخلم. »
په دې شپه مو د ملاچرګوري بوډ تت لالټين ته په درو سرو وخوړ. ځلي هم
کمې ونه کړاو یا به يې ماته ځان ښودد. وروسته مې بوډ بله ، داخلي
خوب ګولي را ووېسته ، ځلي ته مې د اوبو جام او ګولي ونيوله. هغې يې
د کوم چل تا بيه نيوله خوچې کتل يې چې زه جدي يم ، نو يې په ژبه کېښود
او کاسه يې په سر واړوله. ومې ويل« ګلې ته ورځه سر ولګوه ، زه او مولوي
صيب به يو ساعت د زړونو براس وباسو. » ځلې تکنی وه خو پلار يې هم
په سر د تلواشاره ورته وکړه. ملا رانه دا مريکې پوښتنې کولې . دی دا زل
کنجکاوه و ، د هر علم کتاب يې لوست ، خوابنامه که ګلستان ، ک


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

بيالوژی، بيا يې په قاچاقي دا خبره هم تيره کړه چې د کوترې گمان په ده راځي چې مور به يې وژلې وي. «ما وويل، « نو ته څه وايې »؟

ملا وويل،» زه به هر څه يم خو د نفس قاتل نه يم، دومره اسلام را کې لاپاتې دی. په علي آباد کې به مځکو گرځيدم. چې راغلم، خلکو يې مړې راخېژولې و. د کمره نه يې خان کولې کړی و، مرکونډی او غبرگې پښې يې ماتې وې. سپي يې څنگ ته پروت و. نور خونوته په خپله خبر يې چې ولې، زما بيان ته څه حاجت؟ کوتره به را له جوړه کړې؟ » ما وويل،» نه پوهيږم، لا مې را سپړلې نه ده. اول بايد د دې د ماغزو غوټه خلاصه شي. دا وخت غواړي ». ده په بيوزله لهجه وويل، « نو ته خو هم په کلي کې بوخت يې، وخت به نه لرې ». ما ورته د هغه هندو کيسه وکړه چې د چا پورې يې کار بند و او هغه به تل ويل چې وخت نه لرم. آخر هندو وويل، په توله دنيا کې تول تال څلېريشت ساعته دي، او دا تول ستا سره شته، او بيا مې وويل، « زما سره وخت شته، که بخت هم را سره مل شي ». د شپې تر ناوخته ملا دامريکا په باب خپله کنجکاوي او بوه پوښتنه يې د بلې پسې راشتې کوله. دواړه لمانځه ته پاځيدو. وروسته يې بوه نياليچه او څادر راوړل، د للمي ساړه باد ته پريوتم، خوشاله وم چې بوه شپه خو د شمال د برکته د کلي د مياشو نه خلاص وم. په سهار ما او ملا لمونځ وکړ، بخې تروې مو د ببگانې پتيرې د وډې سره وخوړې. ملا خوشاله ښکاريده.

« کوتره وېده ده ». ما وويل،» شور مه کوه، همداسې وېده ښه ده ». هغه وويل، « پخوا يې شپه په مېږتون وه، د رسته شپه دخان سره بنگېده، چې



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

هر څه مې چهل کاف ور باندې کوف کاوه، خوب نه ورته. یوه شپه به غلې پرته وه، خو بیا به یې بنګهار شروع کړ عجیبه دا چې د سپې هم را سره ورانه ده »ما هیڅ ونه ویل. ملا پاڅېد،« زه څم چې یا بوته لړې اوبه وکړم. »ما وویل،« آس لړې »؟ هغه وویل،« یابو دی یابو. زه خو له هماغې ورځې چې د مدرسې ملایانو د ښار نه وشړلم، بیا نه یم ورغلی، خپله سودا په علي آباد کې اخلم«. ما وویل. »نو دا آس دې چېرته ساتلی«؟ هغه وخندل، »ټولې سوړې سمبورې خو نه درښیم. هلته دهمدې غره بېخ ته یوه بله همداسې سمڅ او همداسې یوه صفه ده«. ما وویل،« نو اوبه له کومه کوې »؟ هغه وویل،« مور خو څه منګرې نه یو چې اوبه نه څښو. هر خلې چې د ښکیه راځم، دا یابو څلور ژې په آس باندې بار وم. زه درنه لاړم، ته یوه شه کوتره. »ما وویل،« زوروره، په سپې مې دارې که څنګه؟ زه خو د هغې د وینولو پسې سمڅې ته ننوتلی. پاتې به وې چې هغه یو خلي را پاڅېږي!« ملا وویل،« څم آس ته اوبه، چرګو ته دانې مانې ورکوم، بېرته راځم. چې روان شو شاته یې وکتل،« ډاکتېره زه خو څه: مدرسې مولوی نه یم چې وایم به ته نا محرم یې. زه دې پلار لا پېژنم او په تا د هر قسم عفت شرط ترم. بس ببغمه، که زه یم که نه یم، ته خپله ډاکتېري کوه. کمال خانه مور د اصلي نا محرم د لاس شهیدان یو، هم محرم پېژنو او هم نا محرم، زما لور کې یې مثال دی«.

زه نو د خدای په هیله ناست وم چې کله به دار او وینښېږي. څابنت مهال، سترګې له خوبه ډکې، جړ وینستان، نیغه راغله، »دا دې څه زهر را کړي وو



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

چې سر تورېې پرته وم»؟ ما وخندل، «اول خو لا پړه شه، مخ لاس پرېمنځه، سبناري راوړه چې سره وېې خورو». د هغې لکه چې ځان ته پام شو، په تراټ و تښتېده. چې راووتله نو پوه شوه يې زېړ مخ او پړنګې وېښتان د بنيادمانو وو. پوه وچه دودۍ يې په لاس کې وه، مړۍ يې ترې کولې، دا يې سبناري و. د زړه په کوم ګوټ کې مې يې راتلونکې ښکلا ته پام شو، لکه ګلاب چې لا غوټۍ وي، لکه د نقاش لوحه چې لا پوره شوې نه وي. لا ناسته نه وه چې پوښتنه مې وکړه، «بخت جمالي، اجازه خو به دې وي چې په خپل نامه دې ياده کړم؟ شپې دې خوب څنګه و؟» هغې، لکه چې د خپل نامه يادول خوند ورنه کړ او تکان وخوړ. بيا يې کمزوري موسکا وکړه، په کراره يې وويل، «لکه کانې».

ما وويل، «کوم بد خوب خو به دې نه وي کتلی؟ هغې سر وښوراوه. بيا نو زموږ تر مينځ لنډ سوال او ځواب وشو.

«پخوا خو دې بد خوبونه لېدل»!

«هو، دا ځو کاله کېږي، چې که قسم وخورم سترګه مې سمه نه ده پټه کړې، دروغجنه به نه شم».

«ولې»؟

«په خوب کې مې بدشيان لېدل، څوک را پسې وو، وژلم يې، دغرد نه يې رغړولم».

«نوچې وينبه شوې او څوک دښمن به نه و، بيا خو به دې سياله شوې وي»؟


(WWW.KITABTOON.COM) كـتابـتـون تـولـنـه

«نه، په ویښه مې هم هماغه خلک لېدل، کله بنیادم، کله بل ځناور، اکثر کېچه مار، چې کواږي واږي به را پسې ځغلېده، چې هر څومره تښتېدم. دوی را پسې وو . . . » بیا یې په بیوزلی داسې راته وکتل چې سل قسمه زاری ترې وربدي. دکتهوازي ساندهرا یاده شوه : «ولوېدم کوهي ته اوس مې کاږه له زندانه . . » څو شیبې دواړه غلي ناست وو. پاڅېدم. بې ږغ او غوږه کلي ته روان شوم. ان تر کوره په ځان په غوسه وم چې خوشې مې دکلیوالو د ژوند سره لوبې کولې، سره سپین مې له ورایه وربنکاره کول. خو بیا هیڅ نه و . اوس مې تجلی ته د دروا غو هیله ورکړه. دهغه شاعر دا خبره مې ستر گو ته ودرېده چې ډولچي ته د خدای روی ور وري: مه لسوه خلک اتیونو ته + مه پاروه خلک نور خو نونو ته.


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پوهنه

## « ۲٤ »

حاجي احمد، لکه چې دملواري په تپونګ بوه ورځ راته وویل، «کمال خانه، ته دخوږ ما خوږ د مشر، د جال په شاني يې، هره ورځ د کلي نه د تګ ګواښ کوې، خو، کلي خوشاله دی، چې دخدای نوم نه ورسره یادوې، سبا ته لا هم په کلي کې يې، اول خدای چې دهمدې ځای وې، دهمدې ځای شوې. نو څه وايې چې يوه چتيه درته وګورو؟» لکه چې زما د شرمه سور مخ يې ولېده، ويې ویل«تر څو به همداسې ینده ګرځې، یوازېتوب د خدای سره جوړېږي. ملواري لا دوختــه ستا دورېنداري سره پلان درته ترلی، يو درځن يې درته پيدا کړي، خو ما ورته وویل، ښځې صبر وکړه چې ډاکټر په خپله څه وايي.» ما وويل،« تاسو خو په دې کړايي کې اوس وريتـه څه چې لاسکاره شوئ. خو زما لا کال نه دی پوره، لااوم یم. وار وکړئ چې يو څه مې ځځا وخېژي، د تاسو غوندې خو نشم کېدلی خو يو څه .


کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ځان در لنډ کړم. زما زخمونه لاتازه دي، لا بې ستاسو په شان خپګ نه دی نيولی، د ښښوربانو په وينا، تايم به لګي. » حاجي احمد ډېر ساعت را ته څېر وکتل او بيا يې سر وښوراوه، د جمعې لمانځه ته روان شو. دا مهال نو زه کلي ته خوشاله وم، چې ورو ورو ځان د خپسې ته را وباسي. زياتره سمڅيان کلي ته را شپوه شوي وو او ډېره يې وه چې د ژمې تر راتګ پخوا خپلو مېنو ته يو څه رونق ورکړي. خو يو څه وخت يې غوښت چې، د برمانو په وينا، څلور بول د دوو پښو تګ زده کړي. لا هم په کلي کې خندا کمزوري، او خجالتي غاوره وه. يو شه زيږي دا و چې سپېده کاري پرېمانه وه، درمندونه او رشې د پخوا په شان غوندي نه وې، مګر همدا چې ورې توبه کې وې هم خلک ورته خوشاله وو. هيله بل پسرلي او شولو ته وه چې د کلي اصلي کروندې وه.

يو مياشت مې د خپل کور کروندې په سمبالولو تېره کړه. کلبوال چې بې هغې هم د هر چا ځار کوي، زه پوهېدم چې زما کارونو ته څېر دي. چې د قوس مياشت را د بره کېده، خلکو ځانونه د ژمي د پاره سره را ټول کړل. پر ورې يې بوساره کړې، غوياڼو ته يې ځلو نه جوړ کړل، د لاندې وس که نه و، د سارا بې سابو پرېماني وه، د بامونو د پاسه د سره الوان پروني ښکاريدل.

ښځو د سابو او باغي سبزيو، بېنډۍ، تورو او سرو بانجڼو، وچول شروع کړي وو. لا هم په هرو دوو درو ورځو کې يو ځل د ملا عبدالرحمن سمڅې ته ورختلم. په بخت جمالې کې مې يو څه، عادي ژوند ته د ستنېدو علامې لېدلې. اوس، لکه پخوا داسې نه وه چې د هرې ونې غنې نه په


کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

خوب او په ویښه په تېښته کې وي. په غومبورو کې یې سرخي راغلې وه او نور نو هغه د ځینګې خولې نجلۍ نه وه. وښتان یې لا لنډو، خو بیا هم تر اوږو رسېدل. د هرې ورځې په تېرېدو، ښکلې کېده. بوه ورځ ملا عبدالرحمن د چای په وخت کې وویل، « بره منم دې. خالق دې انځ و منځ لرد چې بې شوبې بدو دې زما کوتره ببرته رکه روغه را کړه. » ما وویل،« اول خو به یې نور ځپل نوم اخلې. اوس یې پخوانی وبره کمه شوې ده، خو لا د خوشالۍ وخت نه دی، مزل لا په وړاندې دی. بس هیله او دعا ژوندی ساته. » هغه وویل،« اوس یو څه خوب هم لري، د شپې دومره چیغې هم نه وهي، کله کله وربانډې څپه راځي خو د لنډ وخت د پاره. » بیا یې پوښتنه وکړه،« ډېره مې سودا ده چې د کوترې، نه، د بخت جمالې، ناروغي څه وه؟ » ما وویل،« څه وه مه وایه، وایه څه ده، لا ترې وتلې نه ده. ته خو د قدیمه د علم پسې ګرځې، خو زما ژبه به دومره قوت ونه لري چې داسې یې ووایم چې تا پوه کړلی شم.

دغه مرض ته Post traumatic stress disorder وایي. مانا د بدې پېښې نه پس روحي فشار او ګړ بړ. بد خوبونه او بیا چیغې، ورسره بې اشتهايي ددې مرض علامې دي. » ملا وویل،« دا مرض د وجود په کوم ځای کې وي؟ » ما وویل،« د سر د کوپړۍ په بېخ کې د غټې ګوتې د نوک په اندازه یو ځای دی چې هایپو تیله موس یې بولي، همدا یې مرکز دی. چې دا مرکز وران شي، مکروبي شي، خیرن شي، نو په بنده کې همدا د بخت جمالې مرض پیدا کېږي. ددنیا ټول غمونه، ټکانونه، وبره،



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

هېجان، ټول همدلته اوسي. تر څو بنده په خپل ژوند کنټرول لري دا مرکز ښه په دمه کې وي، او د هر قسم غم ښادۍ سره مقابله کولی شي. که موږ د چا د مرګ په غم خپه بو، نو د همدې مرکز د مقاومت له برکته، په څو ورځو کې دننه، بېرته عادي حالت ته راتلای شو متل دی، څکه نو متل وايي چې د غم د لاسه څوک نه مري. خو که د بهر نه راغلی آفت دومره شدید، دومره ناڅاپي وي چې ددې مرکز د وسې نه وتلی وي، نو بیا پخپله مرکز په ځان ژاړي، بېوزله شي، مقابله نشي کولی، مرض پکې پاتې شي. »

ملا وویل، « نو بیا يې چاره څه ده؟ دارو يې څه دي؟ » ما وویل،« ددې دارو نشته. یوازینی علاج يې دادی چې دغه هېجان، دغه جذبه ددې مرکز نه بهر کړای شي او ددې لار داده چې مریض د زړه حال ووايي، د زړه تماکې يې وچوي. ټول هغه حالات چې پرې راغلي، هر څومره د شرم خبره چې هم وي، ویې وايي. دا ګویا یو ډول جولاب دي چې مریض ته ورکول کېږي. »

ملا وویل،« په رښتیا جولاب دي. لکه جمال کوټه یا سنا؟ » ما وویل،« هو، خو دا کوم دارو نه دي چې مریض يې وخوري، بلکې مریض چې وغږوئ، دا بو څه وخت غواړي، د بیړې تداوي نه ده، خو چې د زړه حال، د زړه غوټه په خوله بیان کړي نو همدا د جولابو کار ورکوي، او په هاپیو تیله موس باندې فشار کم شي، خبره يې پاکه شي، بېرته سټره او تازه شي. » ملا وخندل،« شابس، یره که ته مولوي وای، عجبه به دې مستخلص آسانه کړي و. اوس دا راته وايه چې بخت جماله بې چوخسه جوړه شوې ده؟ » ما وویل،« په ظاهره کې خو مخ په جوړېدو ښکاري، ته



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

بې هم وینې خو دا نامرده مرض د خانې په شان کله ځان په ماغزو کې ومره ژور پټوي چې بیا یې د ډاکټر پلار هم نشي موندلی. ته به وایې دنیا گل گلزار شوه، خو ناڅاپه بابېرې وکړې. » ملا تېکان وخوړ، خو ما ډاډینه ورکړه، « غم مه کوه، زه به یې تل څارنه کوم. »



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## « ۲۵ »

هر څومره چې د کلیوالو حساب برابرېده، زما حال خرابېده. لکه چې د دوی مرض اوس په ما لګېده. د انتقام ناروغي راته پیدا شوې وه. اوس نو داسې ښځې دانې ته ورته وه چې که څيرې نشي نو د وجود داخل ته لاړ خلاصوي. په خپله پوهېدم چې ولې؟ ما دومره د نورو په غمونو کې ځان ډوب کړی و چې په خپله رانه دوی جوړ شوي وو، د ډاکټر روغ نصیحت را یاد شو چې هېڅکله به خپل خپلوان نه تداوي کوې. چې ډاکټر د مریض سره خاصه خواخوږي او رشته ولري نو بیا د ماغزو په ځای: زړه په لاړ ښود نه کار کوي، کنټرول یې ختم شي او دا وېره دده چې د ناروغ حالت دده په کالبوت هم ننه وزي. چې دا حال مې برمانیو ته وویل، نو هغه وخندل، « ته هم زموږ غوندې، د قربانۍ ګډوري پسې ګرځې، چې بړاس پرې وباسې. » په بله



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ورځ چې زه په ټراکټور سپور وم او د ګاونډي، مامدخان، مځکه مې اړوله، برمانو راغی او بې مقدمې يې وويل،« پيدا مې کړ. » ما وويل، « څوک ؟ څه شي ؟ » دې پاس ټراکټور ته را وخوت،« بس، چرګه نه ده، نر کولنګي دی، زه و خدای چې کلی به شندې وريانډي وکړي. » ما وويل،« دا څه اوتې بوتې وايې، کومچرګه کومچرګه څنګه، ولې ؟ » برمانو وويل،« دا د ټراکټور د سر خبره نه ده، نن شپه راشه چې د برمانو د پلان ننداره وکړې! »

زړه نا زړه، مابنام د برې ته ورغلم. برمانو د چرسو چيلم تيار اوه. په سر يې راته د کښېناستو اشاره وکړه، چې ما پوښتني ته ځان تيار اوه، هغه د لاس په اشاره منع کړم،« ډانګېره، ته لږ مه تېره چې زه ځان په سور کړم. » بيا يې نو لوخړې ترې ايستې او دمه يې کوله. چې د چيلم ايرې او سېرغی په باد يدو شوې، ايله يې خوله ببرته کړه. د زړه د اخلاصه يې اول و توخلې او بيا يې شروع وکړه،« د ادبياتو په پوهنتون کې پوهاند رشاد مور ته د خوشال خان د شعر شجره بيانوله چې ويلي يې وو : مستجاب بنده که چرګه د مغل ده + زه خوشال خټک خو باز يم ځای مې غر. هغه د نوروز زامن او نور ترت و لغت چې مور يې د ناخوالو کيسې در ته کړلې، هغوی مازې چرګې دي. زه د کولنګي خبره کوم. نوم يې دی نسيم او تخلص يې دی، شاليکار. په اصل کې د کندز دی. زمور د کلي د کور نقشه د نوروز زامنو جوړه کړې وه، خو د بريد پلان همده جوړ کړی و. شاليکار معتبره سړی و، په خپله په کلو ګرځېده، ويل يې چې جيب نه ورځي دی هم نه ورځي، په ښار کې ناست و، هلکان يې ګډول، او چې يو کلي به تصفيه شو



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ميرات به شو، د نوروز سپو به احوال ورکړ او بيا به نو شاليکار د بل کلي د بريد امر ورکړ. بس په يوه ورځ يې ټول لړ بر کلي، کسکر کړل. «ما وويل،» اوس دا جلاد چېرته دی؟»

برمانو وخندل،» مور خو درته د همدې ژړا کوله. دغه شاليکار، هم د خلقيانو نازولی و او هم د مجاهدينو. پخوا يې بنګله د بنګي په غاړه وه خو چې طالبانو تالقان ونيو، اوس اوسي په آی خانم کې. «ما ويل،» هماغه زوړ ښار چې يونانيانو جوړ کړی و او فرانسويانو کشف کړ؟» هغه وويل،» هو، هماغلته اوسي، ښاروال دی. «ما وويل،» هلته خو ښار نشته، نو دی د څه شي ښاروالي کوي؟» آی خانم به پخوا کنډواله وه، آس ايله ښار شو. بس په بولډوزرونو او کرينونو د مرمرو ستني، او د زړو لوښي ترې را وباسي. دی يې هم نه راباسي، هلته ليکه بهرني قرار د ادبان ورته ولاړ دی، د لويو ټريلرونو سره، راباسي يې، که مرمري ستنه درنده او اوږده وه، جنرېټرونه يې ورته لګولي، اره کوي يې، په ټريلرونو، او کله يې پر اوښانو باروي، ايسته يې د شاد سليم له غاښي چترال ته تيروي او يا يې د خوجه غار له لارې، کولاب ته. «ما وويل،» ښه، اوس نو د شاليکار نه څه غواړې؟ وژنې يې؟» هغه چيلم ولګاوه او په ګوته يې سرخانه سره راټوله کړه، اوږد کش يې ورکړ او بيا يې وويل، سخت ساده مې ته وليدې، وژنم يې نه، ژوندی، لاس تړلی يې درته دروم. «زما دلچسپي پيدا شوه،» زه يې څه په سر وهم؟» هغه وويل،» ما ويل تا به ژوندی خونکار نه وي ليدلی، زموږ خبرې به درته هسې ګپ ښکاري. بس، بيا به ته قاضي



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

شي، موږ به يې محاكمه كړو. » ما وويل، « د هغه راوستل ته وايي دومره آسان دي؟ » هغه وويل، « شاليكار د جمعي شپې د فرخار د دري په هغه چمن كې تيروي چې د ظاهر شاه ميله ځای و. ما يې پلان تړلی، فقط يو څو زلمي غواړم، نه، لس كسه. په خپله قوماندان صيب د بزكشي شوقي دی، په درځنو آسونه يې جابند ساتلي دي » په ما داسې يو حالت راغی، چې نژدې مې پخپله د چرسو د چيلم نه خرپ تير كړی و. هيجاني شوم. ومې ويل، « بره، خدا كه دې بد فكر كړی وي. يو ځلې به د حاجي احمد دعا هم واخلو. زما له لوري دې زما پهلوان وراره، سورګل در سره اشر وي. »

بود ورځ د ملا عبدالرحمن سمڅې ته وختلم، اوس مې ور تګ هفته كې يو ځلې و، ځكه نجلی د فشار نه مخ په وتلو ښكاريدله. دا ځلي تربښو هم ښه و: پلار سره ناسته وه، هغه كتاب لوستا او دې كوم شی ګندل. چې زه ور ورسېدم، دې خپل ستن سكويی، په منډه سمڅې ته ورسول او بېرته د يوه خټكي سره راووتله. ملا ويل،« دا آركاني خټكي دی، زما د خپلې مځكې، دا يوه هفته بخت جمالې تا ته ساتلی وو. لا به سم پوخ هم نه وي، دا د كاپر شی، ايله د اولې واورې سره او به پرېږدی. » ما خپل امريكايي هر كاره چاقو را وايست، تر ازې مې ترې ښلې كړې، د دواړو مځې ته مې كېښودې. بخت جماله زما په هوډ پوهېده چې كه دا يې ونه خوري، زه هم ځكه نه پرې كوم. د ډېر ساعت ناست وو. نجلی مې چاقو لر بر كاوه، تول تيغونه يې ترې را ښكل. زه ويرېدم چې ځان ژوبل نه كړي خو په داسې چابكي او مهارت يې تيغونه خلاصول، بندول، ته وا، دې جوړ كړي دي.



كتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

اوس نو سمه دمه روغه وه. وبښتان يې نژدې تر ملا رسېدل. سترګي يې تياري د هوسۍ وې، هماغسې برندې، او کوڅونه يې يو څه د بادام په شان پاس خوا ته کاږه، په عين حال کې تروري. بې له اجازې يې د بېګ نه زا دوربين را وکېښ او کوز يې کلي ته سيخ کړ. بيا يې خپل سپي ته هم برابر او ه خو ما پرې غبر کړ، « د سپي نظير د دوربين نه هم او چت دی. » زه او ملا په خبرو اخته شوو. د برمانيو تجويز مې ورته بيان کړ چې د شالېکار د راوړلو تابېه لري. ملا وويل ،« دا خو ښه زيري دی، که زما ا ورئ، د ټول کلي، بلکې لر او بر تو ابو په وړاندې يې محاکمه کړئ. » ما وويل ،« ته به قاضي نشې ؟ » هغه سر وښوراوه ،« ز.، بلکې چې له تا ،مور ټول مدعيان يو. مدعي قاضي کېدلی نشي. خو ما د ټول کلي د موجودګی خبره ددې د پاره درته وکړه، چې ټول ووینې چې جزا د عمل حقه ده، د ټولو سخې پخې شي، چې بيا د پرسان لا مړ نه دی. بله دا چې طالبان مه پرې خبروئ چې هغوی يې سمدلاسه اعداموي او مور به نيمه خوا پاتې يو. » بخت جمالي، لکه بېګ يې چې خپل وي، دوربين بېرته پکې کېښود، چاقو يې په لمنې پاک کړ هغه يې هم زما په واسکټ کې را دننه کړ. د ختکي پوټکي يې کوز ورغړول. چې ورته کتل مې، نو تکان مې وخوړ، د حسن ثاني يې نه و، زړ مې سترګي ترې واړولې، پاڅېدم. د خدای پاماني سره مې وويل ،« هغې پلار ته وکتل او بيا يې وويل ،« سر خو مې لا هم خوږېږي، د شپې هم کله کله وېره را باندې راځي. . . » ملا بې خبر غوڅه کړه، په نيمه خندا يې وويل، « زما د لور کې پېريان ستا نه وېرېږي، زمور ملايانو په



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ژبه، قصیده نیمګړې مه پرېږده. » په درسته لار د بخت جمالي د بې پیره برنده سترګو په فکر کې وم، کله وحشي آس چې ځان توپ ته تیاروي، کله تیرې پښې قبضی، کله مړې لکه د ورځ. داسې سترګې مې نه په کابل کې لیدلې وې نه په امریکا کې. د ځان سره مې په افتخار د خپل امریکایي یار، تام سره د زړه خواله کول، « تام جانه، چې ما ستاسو په ملک کې په ځجونو ناشکري کوله، ګرم نه وم. » هغه وویل، « نو ګوندې زمونږ ځجونې ښکلې نه وې؟ » ما وویل، « ښې ښکلې وې، خو که دې د بخت جمالي وحشي ښکلا ولېدله بیا به دې خپلې ګرل فرینډې ته ویل چې هله افغانې ښاپیری راغلې، کوښې ورته سمې کړه. » ناڅاپه مې د هدیرو سپیو ته پام شو چې، هره خوا راته د انګونه وهي. بېره مې وکړه چې تر تیارې پخوا ځان کلي ته کړم.


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

## «۲٦»

«ډز په څو؟»

«په ۳۵ لکه اوغاني»

«دا دڅه شي ډزدی چې دومره پیسې غواړي؟»

« د سورنګ ډز دی. که په خپله د استاد نه یې اخلې یا د امیر صیب نه، نو همدا بیه ده، خو هغوی، لکه ستن خوړلی، په عالمونو ګرځي. کله د چا ګوتو ته ورځي؟ نو یې قوماندانان په تاجرانو په ۵۰ لکه خرڅوي، ګویا شل لکه، تاجایي اخلي.»

«نو په ډز څه کوي؟»

«بس نو بخت و طالع، په ۵۰ لکو اوغانیو، د یکي یوه سورنګ د الوزولو حق لري. که دې څه لاجبر په همدې یو ډز، د کمره نه را وغورځول، هغه ستا شول، که نه بیا به نوري ۵۰ لکه ورکوې بل سورنګ به اخلې.»



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

«نو بیا په لاجوردو څه کوي؟»

«خو ښه دې خپله، چې د چترال له لارې یې پاکستان ته وړي او که د خواجه غار نه یې ایسته د تاجکستان کولاب ته. چندیانې فرق نه پریوزي. په دواړو کې خارجیان، ډالرې په لاس درته تیار ولاړ دي.»

«د مجسمو، بوتانو او مرمرو د ښتو بیه څومره ده؟»

«هغه بیا بل حساب لري، خارجي په خپل لاس امیر صیب مسعود ته پیسې ور شمېري او بیا هغه چېتې او ټریلر او پنډیان ور کوي. ددې نرخ نو په ډز نه دی، په متر دی. څلور متره په څلورو کې. ځای یادوی دروښیې او یا ته وریاندې ګوته کیږدې چې دا ځای غواړم. بیانو، ستا د پیسو پورې ده، خو چې ډېر شي، یو شواروز وخت در کوي، چې هر څومره یې چې کنې، ستا خوښه. که دې بخت یاري وکړه او څه شی دې راوایستل نو په سلو کې ۱۵ به د امــــیر صیب سړي ته د بیت المال د پاره ور کوې، نور یې ستا.»

«دا چېرته دي؟»

«لاجبر د بدخشان په سرای سنګ کې او زمروت د پنجشیر په خنج کې. د زمروتو حساب هم د لاجبرو دی. خو د هغې امر یوازې امیر صیب ور کولی شي، د استاد رباني پکې کار نشته»

دا د شالیکار خبرې وې، دا کومه د فاعیه نه وه. هغه به وروسته راځي. نه اعتراف و. اقرار خو په سوتې هماغلته په لار کې ترې اخیستل شوی و. سور ګل ویل چې د زر کې په شان مو په کرکړو راووست. په درسته لار مو اقرارونه ترې اخیستل. چې خبرې به ترې دوې شوې او دروغ به یې ویل پا


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

بې نارامي کوله، نو قنفبايي وه. ترننگي پوري خو به چې دی په سد شو، يا
به مو خوله ور ترله‌او يا بېرته به‌مو دده خپلې بوتلې په ستونې کې ور
تويولې، بس د شرابو ژي ترې جوړ و. برماتو بيا وروسته د شاليکار د
نيولو کيسه ټوله راته تېره کړه چې څنګه يې د جمعې په ماښام کې چې
محافظين ټول خپلو کلو ته تللي وو، د اعليحضرت په چمن کې را ګير کړ.
د چمن يوه خوا په سيند او بله د پسته‌وو په غره لګېده چې شاليکار يوه وړه
بنګله هم پکې جوړه کړې وه. لږلږ بزکش آسان جايند ولاړ وو. يکی يو
شاطر پاتې و او نور د جمعې د شپې په خاطر، خپلو کورونو ته رخصت
شوي وو. شاليکار په چوکی ناست و، هلک د زنګ وجامن، پايزيب او
ګونګروګانو سره يوه تېپ ته نڅېده خو دی د شرابو ګيلاس په لاس، د
فرخار سيند ته خير و چې غاړې تر غاړې بهېده، يوه نيمه څپه به يې دده
تر پښو لاندې کبلو ته رسيده. هماغلته يې غافلګير کړی و. شاليکار او
هلک يې ترلی په يوه آس سپاره کړي، بلکې د کوټې ټول شته يې په
جوالونو کې اچولي او په بزکش آسانو يې بار کړي وو. لوی دلسو مستو
آسونو کاروان و. کله سوټ بوټ ترلي، کله په شرابو نيشه، شپه په شپه
يې د فرخار د تنګي نه را ايستلي و او د جمعې په غرمه يې د بنګي نه دې
پلو را تير کړی وو. تر شپې پورې يې هماغلته د سيند په غاړه په درو،
درګوکې ځانونه پنا کړي، د شپې يې د آسونو او مال سره نيغ په نبغه د
ملا عبدالرحمان سمڅې ته خېژولی و. دغه وروستی خبره حتی زما نه هم
پټه وه، ايله هغه وخت پرې خبر شوم چې د حاجي احمد کور ته لاړم. اوس



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

بې کوټې بهر ته جوړې کړې وې. هلته مې نا څاپه بخت جماله ولېده چې د
بوه ډله پېغلو سره په باغچه کې په تال کې زانګي. زما په لیدو بې را منډه
کړه خو چې را نژدې شوه، پښه نیولې شوه، شا ته یې همزولو ته وکتل چې د
خندا ورته شنې وې. بې سلامه، بې خبرو بهر ته روانه شوه. حاجي احمد چې
بې هغې هم زوړ و، ماپسې احوال را استولی و چې بو څلې راشه چې ناسازه
یم. سړی رک روغ و. لکه چې د ملا عبدالرحمن سره یې پخوا تر پخوا پخه
کړې وه، چې شالیکار به هماغلته ساتي. دا ټول د برمانو دسیسه وه، چې
غوښتل یې مانا ځاېي ورسره مخامخ کړي. یو څو کلیوال چې پرې خبر وو،
هغوی آمنا کړې وه چې دا دوه هفتې به نه ښار او نه د جمعې لمانځه ته ځي.
د حاجي احمد د قراره، نه ښار پرې خبر و، نه د طالبانو ولسوال چې ده ویل،
هغه هم پوست کې پاک نه دی. زه دې ته حیران وم چې دا راز به درو کلو
کې، څنګه، لکه چا چې جندره ور اچولې وي پټ پاتې کېدلی شو. حاجي
احمد خبر کړم چې محاکمه بله ورځ شروع کېږي. ما وویل چې بهتره ده د
کلو مشران بو بل قاضي مقرر کړي، زه یې ځان لایق نه وینم. ما ورته د
ملا عبدالرحمن نوم تجویز کړ.


کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# «۲۷»

لوړ ماسپښين ددوو کلو دوه وکيلان د صفې په سر را تول شول. زمونږ د کلي حاجي احمد او سالم جان وو، برمانو هسې سرخاني کوله. اول يې د ملا عبدالرحمن په امامت په جمعه لمنځونه وکړل. پس له دعا يې وويل، «ما کمال خان ته عذر وړاندې کړی و چې زه مدعي يم، قاضي کېدای نشم. قاضي بايده دي چې بې طرفه وي او زما د زړه نه اوس هم د وينې بوی راځي، خو تاسو مجبور کړم. هلئ، متهم د سمځې نه وباسئ.» د هغه رنګ الوتی و او په لوړ غږ يې سلام واچاوه، خو چا ځواب ورنه کړ. بيا نو په اول سر کې برمانو د شاليکار د ګرفتارۍ کيسه په خوند تېره کړه، د بزکش آسانو، د شاليکار د کور او شتو، چې تول اوس د ملا سره امانت وو. او د هغه هلک چې په سمځه کې ابسارو، بيان يې وکړ. بيا يې هغه



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ظلمونه باد کړل چې د خلقیانو، وروسته د پرچمیانو او روسانو له خوا د دوی په خلکو وشول. بیا د هر کلي یو نماینده د خپل کلي حال بیان کړ، خو ددوی زیاتره زور د هماغې یوې ورځې په حملې و، چې د روسانو په منظوری د پولیسو د افسر، فاروق د نقشې له مخې او د شالیکار په قوماندې وشوه. په دغو ټپنبو بیا د کلي بل نماینده شهادت ورکړ. ملا لکه چې تابیه نیولې وه. د ږیرې او ږدوالي یوه قبضه، د زنې لاندې استره او سنت، پاک خریلي، ږمنکې ږمنکې، خو پاک کمیس پرتوگ، سترگې په رنجو پورې. غاړه یې تازه کړه،« زموږ کلیوالو هر کار نسکور دی، په کار خو دا وه چې اول مو شاهدانو ته قسم ورکړی وای، خو اوس به یې د ماکان په اعتبار، ورکړو. دا راپسې ووایئ: اشهد، شاهدی ورکوم، د الله د پاره، نه د ریا د پاره چې زه ......» نورو ورپسې تکرار کړه. ما پخوا تر دې، فقط یو ځلې شاهدي لیدلې وه، د کابل ولایت کې چې زما د یوه ملگري کور غلو وهلی و، ده په گاونډي عریضه وکړه نو بیا قاضي ترې شاهدان غوښتل. هغه که هر څومره عذرونه کول چې غلا د شپې شوې وه او هلته به څوک ولاړ و چې غل ووینې، خو قاضي په خندا وویل،« تاسو فاکولته یان اوس په شریعت کې هم خبرې را وباسئ که څنگه؟» خو وروسته د ولایت یوه وطندار میرزا، لاروز ښودلې وه. د ولایت دانگړ، دننه او بهر، ښه په شرعي جامو او جولې برابر حرفه یې شاهدان ناست وو. نرخونه یې هم معلوم وو. ایسته یې یو دخانه سره بوته، شاهدي یې پرې وویله، لکه چې بیا یې یو څه تاوان هم د گاونډي نه وشکاوه.



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

اوسنی محاکمه ما ته په زړه پورې وه، د کلیوالو په څېرو کې مې د تېرو دداتو په شان د عقدو او غوټو لړۍ لېده چې لر او بره کېده. مخونو لکه د پسرلي آسمان، قسم قسم رنګونه نیول. ملا چې د شېرو کلیوالو شاهدي واورېده نو بیا یې شالیکار ته مخ واړاوه، «بای ذنب قتلت؟» مورږ تولو ورته حیران وکتل چې دا څه وایي. ملا تولو ته په موسکا وکتل، «ستاسو په ژبه به یې ووایم، شالیکاره، په کومه ګناه دې دا خلک قتل کړل؟» چې کتل یې اوس هغه سړی نه و چې د لاجوردو او زمردو په باب یې داسې مرکه را سره کوله. لکه سړی، د خپل سیال یا خارجي سره کوي. اوس د خواخوږۍ او ورسره د خلکو د زباتلو په لهجه غږېده، لکه د کم سیالانو سره چې ګیر وي، په خندا یې وویل، «څو ځلې مې درته وویل، چې پرې مې ږدئ. بلا ورپسې، آسان دې ستاسو وي، څه حلالې حرامې چې مو زما د کور نه چور کړې، په هغې کې به هم برخه درکړم. تورې څله څوروئ؟ تاسو به څه یئ، محاکمه به مو څه وي، تاسو غونډې د بېړو پخوا هم تکفیر کړی یم. «حاجي زرداد وویل،» شالیکاره، ته خو اوس هم د پخوا په شان هورتور کوې، سپېږمې دې، لکه خراساني خر هوا ته نیولې. کم عقله، خبر نه یې چې اوس به څه سوتې درمنډو.» ملا عبدالرحمن زرداد ته برګ شو، «حاجي صیب، په محکمه کې د ګواښونو او ناکاره خبرو اجازه نشته، سم به غږېږې. بیایې مخ شالیکار ته کړ، «دا د رشوت محکمه نه ده، د ملت محکمه ده، د هغو خلکو چې تا خپله یې د وژلو امر تاپه کړی دی. خپله دې اقرار کړی او که وایې، بیا یې دربانديې کوو!» شالیکار په ملنډو


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

وویل،« د زور اقرار خو شرعي نه دی. » بیو کلیوال چې د بره غوسه ورغلې وه، بیو کاڼي ور گوزار کړ. خو خطا شو. ملا عبدالرحمن وویل،« که نور چا دغسې پېښه رو وکړه، د خپله ځانه دې گڼي. سمه ده. د زور اقرار شرعي نه دی، خو شاهدان څنگه؟! د دوو په ځای شپږ؟ دا څنگه دا شرعي دی که نه؟ بله دا چې ته د کله نه په شریعت مین شوې. تاسو خو همدومره محاکمه هم نه کوله، بس د نیولو سره سم وژل وو. » شالیکار وویل، « بس د گیدړ د لکۍ شاهدي ده چې په گیدړ یې ور کوي. کلی څارنوال، کلی قاضي، کلی شاهد. » ملا نورو ته مخ کړ، « سړی رښتیا وایي، مورږ ټول مدعیان یو، او له زه په خپله. تو زما سلا داده چې سبا ته یې لاس تړلي ولایت ته ورولو، طالبانو ته یې وسپارو. » یوه کلیوال وویل،« یره زما نظر خو دادی چې سبا ته یې کاپر کونج ته بوزو، او لاس تړلي یې د کلو سباسرو ته وسپارو او د هدیرې سپي ور وشکارو. » یوه خوش طبعه کلیوال وویل، « نو کاپر کونج ته یې ولې بیا یې؟ » پخواني سړي وویل، « هلته کورت کاڼي ډېر دي، ښځې دې لمنې ترې ډکې کړي، شالیکار به یې مینځ کې پره کړو، هره ښځه دې لمن ورباندې تشوي، بیا یې سړي خورو سپیو ته پرېږدو »

ملا مداخله وکړه. « نه، سنگسار خو به هله راځي چې قاضي فتوا ورکړي. د حضرت عمر په وخت کې چا امبارک ته لاړې ور تو کړې، گورئ د زمان خلیفه ته سپکاوی خو خامخا د مرگ لایق وي، خوامبارک وویل، که دا سړی سزا مومي نو د اسلام د پاره به وي، نه زما د پاره. » حاجي احمد وویل، « د ملا صیب خبره شرعي ده، زه هم وایم چې طالبانو ته یې



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

وسپارو، هماغلته دعوه وربانديسوره کړو. »د اوریا خېلو د کلي بو غاینده چې پس له شهادت نه تر اوسه غلی ناست و، وويل، «بس د مشرانو خبره به منو، خو يو ځلي بې کلي ته وربنکاره کوو چې ټول پوه شي چې هسې نه ده چې په موږ چې ظلمونه شوي، د هغې پرسان نشته. د هر کلي د مبنغ نه به بې لاس تړلی، په خره چپه سپور، مخ تور تېر کړو خو خبرداري به ورکوو چې څوک به زموږ سړي ته لاس نه وروړي. که لاړي ورتو کوي، باک يې نشته. » شاليکار ټولو ته بد بد وکتل. خلکو گوروم ورته کتل.



كـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

## « ۲۸ »

د مني په دې اولو شپو کې کليوالو يوه بله توره وکړه. ټولو د ملا عبدالرحمن مينه هم په اشرآباد ه کړه، بس دوه کوټې، څلور ديوالونه. ملا چې ډير کاله د ټولو نه مانيجن و، اوس د کلي د جمعې د ورځو امام شو. زوی بې لا هم په علي آباد کې پاتې و او د راتګ نه يې انکار کاوه. بخت جماله اوس په ظاهره کې بيخي ښه شوې وه، نه بد خوبونه، او نه جينګې داړې. زه چې اوس ورتلم، نو د پخوا په شان بې پروانه راوتله. يوه ورځ ورپيښ شوم، زما په لېدو يې د پخوا په شان بيرته کوټې ته منډه کړه، شيبه پس چې را ووتله د ارم ښاپېرۍ وه. د شاعر خبره، پېکي په تنده خپور، تيک پرې سپور، د پوزې پلو په بې پروايي يا په لوی لاس، د سر نه نيمی راښويېدلی. پريوللې، ږمنځ شوې څنې يې ولونه ولونه تر پونديو په شارا زنګېدې. لکه چې د کلي همزولو د سينګار لاس وربانديې تېولی و. زړه مې ورته تخ تخ شو. پس له سلامه يې وويل، «راځه کورته!» ما وويل، «ملا صيب مې په کار و؟» هغې د سترګو لاندې، مکرجنه خندا وکړه،



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

«ربښتيا؟» ما وويل، «د ښالېکار د آسونو پوښتنه مې ترې کوله چې ولايت ته يې سپارلي دي که نه.» هغه جدي شوه، «والله که خبره يم، بيا علي آباد ته تللی، ورور مې احوال کړی و چې رشه تيار ده. چې څه غله راوړي. شين، چای درته دم کړم.» ما وويل،« ګلې، اوس هغه وختونه تېر دي.» هغې وويل، «څنګه؟» ما وويل، «پخوا زه ډاکټر وم، ته مريضه.» هغې وخندل، «لا خو هم ستا ليونۍ يم، خوب خوارېږه نه لرم.» ما وويل، «اوس دې، که خدای کول، درواغ ويل هم بېرته شروع کړي دي.» دواړو وخندل. د خدای پامانۍ په وخت يې وويل، «ولې لرې تښتې؟ زه هماغه ليونۍ يم، ته هماغه ډاکټر. که ته کمال لرې زه ...» خبره يې نيمګړې غوڅه کړه، کوټې ته يې منډه واخيسته.

هغه شپه په خوب کې کړې شپه د بحث جنجالي سره وم، سهار راباندې د شرم خولې ماتې وې. د رسته ورځ د ځانه سره په جنګ وم. د شيخ سعدي دا بيت مې ماغزو کې ګرځېده راګرځېده چې دوري له حرې چېل ژغورونکي ته وايي چې د ليوه نه دې ژغورلم خو اوس ته پخپله راته ليوه شوې. د ځانه شرمېدم چې ډاکټري مې په احساساتو او مينې لاهو کړله. د ملا عبدالرحمن نه شرمېدم چې په داسې سرې بې بې کچه اتبار کړی و چې شيطان يې زړه کې قابو ناست و. هر څه مې ځان ته نسل ورکاوه، چې هلکه، په تصور او خوب کې خو هر سړی ځان پاچا ږبني، د هر قسم ګناه پلان جوړوي، خو چې په وينبه ګناه ونه کړي نو بيا په شريعت کې هم باک نشته، خو ځان مې نه شو قانع کولی. بده لا دا چې تو بې ته مې هم خوله نه جوړېده، د زړه په هر ګوټ کې راته جمالو ناسته وه.



(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

«۲۹»

شالیکار کلیوالو ته‌لوی جنجال پیدا کړی و. په هغه ورځ چې مشرانو په درست واز موټر کې ولایت ته بووه، نژدې خلکو ورته وژلی و. تر ولایته، دري ځایه خلکو پاتکونه اچولي وو او خپل مدعي یې غوښت، خو مشران پخوا تر پخوا پرې خبر شوي وو او د شالیکار په وسلو پورو مامور زلمیان به‌چې پاتک ته ورسېدل، نو د موټر د ترپال نه به یې د مشنګنیو نلې بهر وایستلې او که به ناغېړي زیاته شوه، نو هوایي ډزې به یې وکړې. دا خو د کلي جنجال و او خلک یې په چل پوهېدل. د مشرانو په سلا بزکش آسونه، او څه لاجورد او ډالرې چې د شالیکار له کوټې را وتلې وې لا د وخته چېرته پټ شوي وو چې په کراره یې او به کړي او د هغې نه چې څه پیسې بوډ شي، هغه د شهیدانو په ورثه وو باندې ووېشي. اصلي سر خوږی هغه وخت پیدا شو چې چارواکو ته یې شالیکار تسلیم کړ. دوه درې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ورځې د طالبانو تحقیقات وه. د څنګه، کله، ولې، څومره، پوښتنې وې، ورقې ورقې پرې ډکې شوې. بس بس تر ماښامه تحقیقات وو او بیا به مشران د سرای په یوه کوټه کې سره پراته وو، په ملا عبدالرحمن به په غوسه وو چې ولې یې څای په څای د سرې دمرګ فتوا نه ورکوله. ایله په دریمه ورځ، والي ور غوښتی و، مننه یې تری کړې وه او رخصت کړی یې وو. حاجي احمد د ماښام د لمانځه نه پس په خندا وویل چې والي ته لکه چې څرو د آسونو او کانو رپوټ هم ورکړی وو. والي، ویل چې د شالیکار نه که څه پاتې وي د جنګ غنیمت او د بیت المال حق دی او که چا پکې خیانت کړی وي، سخته پوښتنه به ترې وشي. حاجي احمد ویل چې مور د شالیکار د سر نوشت پوښتنه وکړه، خو والي وویل، تاسو خپله ایماني وظیفه په څای کړه، نور نو د امارت کار دی. نورو کلیوالو بیا ویل چې مور ته همدا بس دي چې سخې مو وریاندې پخې کړې، د کلي داسې ښځینه به نه وي چې لاړې یې نه وي ور تو کړي یا یې کانې نه وي ور ګوزار کړي.

منی را رسېدلی و. د لته هلته هلکانو ډانګونه په لاس، خپلو د لاندې پسونو ته دونو پاڼې رژولې. د نژدې لرې توابونه درسته شپه د پایکو غنګهاری راته، او دا ښه زیری و. معلومېده چې په سر آو، کلو کې، یو څه د وریژو پسل هم اخیستل شوی و، خو زمونږ کلي پایناب و او سر کال دهقانان وزونه رسېدل. په همدې ورځو کې بوه ورځ، ملا عبدالرحمن مبلمه کړم. بیا یې د زرکانو ښوروا پخه کړې وه، ویل یې چې په علي آباد



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

کې یې اخیستې وې. دا څلې بیه ترخه سلاته او دتناره تاوده ډوډۍ هم ورسره وه. بخت جمالې هم دقرار داده سره سم زموږ سره ډوډۍ وخوړله. دچاي په وخت کې ملا ورته وویل، « ته ورشه بچې، هغه شی چې دې ډاکټر صیب ته جوړ کړی، هغه راوړه ». بخت جماله ورتله. ملا وویل، « کمال خانه، نه ربنتیا چې زموږ کلي، بلکې ټولې تواب ته یو برکت یې، په موږ کې دې نوې سا وغړوله. » ما وویل، « داسې نه ده، کلی زما پورې بنه شو، تر راتګ مخکې زه یو هسې دکتاب چېنجی وم، بې سبکه، بې دمې. تاسو دمساپرۍ، د پردیتوب، دلتېردګۍ، د تنهایۍ نه را واېستلم ... » خو ملا، لکه چې زما خبره یې هېڅ نه وې اورېدلې، وویل، « زه خو دې نور هم پور وړی یم بختو دې ببرته راته بختو کړه، د زړه ستنه مې دې ببرته ودروله. » په همدې وخت کې بخت جماله را ورسېده یوه غوټه یې راته ونیوله، « دا مې په خپل لاس درته جوړه کړې ده. » چې مې پرانستله، پړقا یې ختله. یوه لویه زري رنځلومه، یو په وربښمو چکن ګنډل شوی دسمال، او ورسره خولۍ دبر ساعت مې لړ او بر کړل، په ربنتیا دهنر کارو. نجلۍ چې زما حیرانتیا لیده، چې هره بخۍ او زرتار یې اړوم را اړوم، سترګې یې له خوشالۍ وځلېدې. بیا یې نو یوه د سپینو کړی را کړه چې قسم قسم شیان پرې ځړېدل. هغې را وښودل، « دا مې دادا په زرګر جوړ کړی دی. یو سلایي دی. په رنځلومه کې هم سلایي شته خو هغه د زرګي دی، دا د زرو، دابل یې غابن تومبونی دی، بل په کې نوسی دی، چې اغزي پرې وباسې، دا بله یوه، دا خمڅو کی ده، د غوږ پاکولو. » پلار



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

بې وويل، « بچې هغه زما تحفه دې څه کړه؟ » جمالې د يوې غوټې نه د تسبو په شان يو شی را وايست. ملا وويل، « دا به په مټ پورې تړې، تبغ بند دی. » ما وويل تبغ بند بې لا څه شی وي. جمالو وويل، « بيا تبغ در باندې تاثير نه کوي، ابا مې څه اوراد پکې ليکلي. » ملا په شرمينده کې غږ وويل، « چل کاف مې ليکلي، زرگر راته د سپينو زرو په شپېلۍ کې کېښود. زه نه پوهېږم چې همداسې ده که نه، خو وايي، چې دا د سړي په بازو تړلی وي نو بيا يې څوک نشي ژوبلولی. تبغ بند ور ته وايي، ځينې يې بازو بند بولي. » بخت جمالې خوا ږه راته وکتل، « د بازو مزې يې ماوبدلي. » چې دې خبرې کولې او سر د سپينه کبده ما يې په ببحيايی د سړي خولگی، د سپينو مرغلرو غاښو او سړي خورو سترگو ننداره کوله. لکه چې نور بې تاب نه وي را وړی، په منډه د کوټې نه بهر ووتله. نه پوهېږم چې د پلار به يې هم ما ته پام شوی وي او که نه. چې چای ختم شو، ملا وويل، « نو خپله خو دې ولېده چې څومره ورباندې گران يې! خو هغه ورځ په جومات کې گونگوسی و چې ته کابل ته د تگ تابيه لرې. نو زر بې يو څه نېشتو کې شيان سرشته کړل چې زموږ ننبه در سره پاتې وي. زه پوهېږم چې هلته ښه روغتونونه دي، ستا کار به جوړ وي. دلته خو بس يو سرطبيب گل آغا دی، چې په خپله هر څه دی، معاينه هم پخپله کوي، لابراتوار هم په خپله چلوي، درملتون هم د همده دی، ښه کار يې چلېږي. زموږ ښار، ستا وار و خلکو جوړه نه لري. خو زما سره د بخت جمالې غم دی چې بې مرض ببرته با ببړی ونه کړي. » روانېدو ته پاڅېدم، « خدای



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

به هر څه سم کړي. » بهر په پوله روان وم، چې شاته مې وکتل جمالو را پسې منډه اخیستې وه، ودرېدم. هغې په سوي ساه وویل، « د بازو بند مزې مې دخپلو وېښتانو نه درته اوبدلي. » نور یې ځواب ته ونه کتل، په منډه لاړه. په لار کې په ځان او جهان په غوسه وم. ایله مې کور کې وربندارې را پام کړه، « لالا دا غوټه څه شی ده؟ » ما ور گوزار کړه، « د ملا شکرانه. » هغې په شوق پرانیستله، د بخت جمالي د ستن اوسکوی صفتونه یې شروع کول، خو زه ترې خپلې کوټې ته لاړم، په کټ پرېوتم، مخ مې دېوال ته کړ.

ما تل فکر کاوه چې دا خلک چې مینه او عشق وايي، دا به داسې شی وي، لکه څنگه په نخرو او مدار مدار به در وبوسېږي. نه پوهېدم چې دا آسماني شرک ناڅاپه را پرېوزي. په کابل، پېښور، او امریکا کې مې کله کله یوه تجلي د مرد خوښېده چې ویل مې یره دځان غوښې مې پرې خوړلې وای، خو موږ دا اکثرانو د تیې او تبجنتوب تر مینځ فرق کاوه، په مینه کې مو هم یوه حالت ته infatuation ویل چې کله کله سالم جان د برمانو په حقله وینا کوله، « سړی سور راغلی دی » دا نو گویا د بنیادم د بوازې یوه حس، لکه شهوت یا لوږې غورځنگ دی مینه یا love بیا بل حالت دی، ماغزه او ټول حواس رانیسي او بس یوه ټکي ته یې متوجه کوي. تقریباً یوه هفته همداسې بې سوره وم. د غني خان دا شعر مې گرداناوه او هر بیت یې زما د حال سره سمې خوږ چې: هېڅ د عشق له غمه نه دي+ برابر غمونه کل . یوه ورځ مې ځان سره وویل چې راځه نور وپوښتم چې زه لیونی شوی یم او


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

که بخت جماله په رښتیا د مینتوب تړته ده. په خبرو خبرو کې مې وربنداري ته د دروا غو کیسه وکړه چې په امریکا کې یوه ډېره ښکلې نجلۍ ده چې وایي مسلمانه کېږم، ما سره واده وکړه. وربنداري مې چې تل زما په مخ کې به یې پلواچولی و، په شرمیندو کې غږ وویل: « مور د شرمه تراوسه نه درته ویل. خو اوس چې تا پخپله خبره را پورته کړه نو زه وایم ولې همدلته کلي کې، تیاره ښتنه، تیاره مسلمانه پېغله نه کوې چې سره بیزوگی کلي ته راولې. خدا که یې یو کال هم گذران وشي. » بیا یې په خندا ور زیاته کړه: « کلیوال کله د روس او امریکایي فرق کولی شي، ایسته به چا ځان وربانديې غازي کړی وي. » ما وویل: « ددې ځای نجونې به مې ونه کړي! » هغې وویل: « ړندې دې شي چې تا غوندې نبک سړی یې غواړي او دوی لا شکر نه باسي. » ما وویل: « چې نجلۍ نبک سړي کوي ولې د کوم پیر سید زوی ونه کړي؟ » هغې په پلو کې اول ښه وخندل او بیا یې چې، لا یې هم غږ کې د خندا جړې وې، وویل: « لالا، ته د کلي غمونو کې داسې ډوب یې چې که د کوی قاف ښاپېرۍ در پېښه شي، ته به ورته ونه گورې. ته څه خبر یې چې همدا اوس د لرېر کلو څو مره نجونې درپسې لېونۍ دي! » دواړو وخندل او ما په ټوکه ورته وویل: « ته خو د یوې نوم راته واخله! » هغه جدي وه، بې ډیله یې د لس دوولسو نجونو نومونه په گوتو وشمېرل، د پلانکي لور، د پلانکي لور، د پلانکي خور. ما وویل: « په دوی کې بیا څوک ښې دي؟ » هغې وویل: « ټولې. درنې اصیلې، پېمخې اوچتې دي. کومه یوه غواړې؟ » ما وویل: « ستا ډېرو نومونو سر بداله



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کړم. اوس يو دوه داسې ترې را ونښتـېـزه چې دا ټول صـيـټـونـه ولري. »

هغې بې واره وويل: « يوه دملوارې، د حاجي احمد لور، پاتېښې ده، بله د ملا عبدالرحمن لور، بخت جماله. » پام مې شو چې ښځې په دې کار کې سختـې څېـر کې دي، لکه ابن سـينا چې د ناروغې نجلۍ د مـرونـد پـه رګ لاس ايښې و او دهرات ټولې محلې، ټولې باندې او کورونه يې راسپړل، چې د کار ځای ته يـه ورسـېـد نو د نجلۍ رګونه به په ترپکو شول، په همدې کې يې د ناروغې عاشق پـيـدا کړ. ما وويل: « که پـه دې دواړو کې په يوې لاس کېږدي، نوڅوک بـه وي؟ » هغې وويل: « دا کـار ډېر سخت دی لالا، په ښکلا کې خو د بخت جمالې ثاني نشـتـه، د مـور پـه نمونه نومـيـالې ده. خونورې ښا يستـو کې هم شتـه. پاتېښې هم نيـمـه نندارده ده. دواړه غوره په غوره دي، خو جمالو، يوه لوټه درنه خېژي. » ما وويل: « هغه لېونۍ ښيې؟ هغه تر اوسـه زما د تداوي لاندې ده. » وربنداري د يو قـسـم تتې او شونډو لاندې موسکا سره وويل: « هسې خو لالا، مور ټول روغ لېونيان يو، ستا په برکت مو ايله يو څه عقل سرته راغی. » نو چې ببا ځانتـه شوم فکرمې وکړ، چې يا به مې وربنداري زما په خاطر پـه دروا غـو د بخت جـمـالې نوم ياد کړی وي او يا به يې په رښتيا ثاني نه وي.

ځو ورځې پس مې د برمانو سره عجيبه بحث و. هغه هم زما د تګ ګونګوسه اورېدلې وه، خوما ورته وويل، د کوم ننګريز خوم به وران شوی وي، چې دغـسې آوازې خپروي، اوس چې کلي يو څه ځان را ټول کړی و نو حق ناحقه د خلکو پام ماته اوښتی و. برمانو وويل: « ډانګمره، اينجرا


کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

خو به نه یې ؟ » ماته خندا راغله. ومې ویل ،« ته خو مې وآزمېیې! » هغه وخندل ،« په امریکا کې خو به کومه شین سترګې در ته ناسته نه وي ، چې کابل ته دې د تګ تابیه نیولې او بیا د هماغه ځای په ځای امریکا ته وباسې ؟ » ما وویل ،« زه څه یم تابیه به مې څه وي. د لړم په شان چې بس لکۍ ډانګ کړي ، چې ځم بو سهار به وینې چې نور نشته یم. » بر مانو وویل ،« زه وایم آوازه به د کلو نجونو اچولې وي. د اوربدو د قراره ، بو څو چټې در پسې ژبې دي. »

ما وویل ،« ته خو د دوی نوموته را وښیه چې بیا جرګه ور واستوم. » برمانو بې ځنده وویل ،« یوه خو ستا د نامه سره قافیه ترې. کمال ، جمال ، » ماته غوسه راغله ،« یو خو به د ټوکو ، نه پټاکې نه جوړوې ، زه ډاکټر یم او د طبابت اصول نشم ماتولی ، په دې خبرې به نوره لویه تیره کښېږدو . » برمانو یو څه وارخطا شو « ما خو څه کفر نه دی ویلی او نه مې ستا سپکاوي مقصد و . » دواړه ډېر ساعت غلي وو . بیا لکه د ځان سره چې خبرې کوي ، خو بو څه خورول پکې وو ،« توبه خدایه ، سړی د زړه حال هم نشي ویلی. زما نوم خو تاسو سپی مه اینبی و ، خو ته چې پې ، خوشالیږي که خپه کیږي ، یا انجرا یې ، یا ړوند ، یا نر ښځې ، یا پرښته یا هسې ډانګ. » ماته یې چې وکتل چې غوسه مې زیاتیږي ، په تبنښته وتښتېد ، ما هم د هلکتوب د وختونو په شان منډه ورپسې واخیسته. ان د احمد دوی کلي ته نژدې رسېدلي وو چې برمانو کوز پټي ته ولوېد ، یا یې ځان وغورځاوه ، زه یې سرته په پوله کښېناستم ، دواړو د زړه د اخلاصه وخندل.


کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

برمانو لر بر کلو ته وکتل او بیا یې ماته وموسل .« نشالاچې تللې او به بهرته په وړخ را درومي. » بیا یې یو لاس په غوړ پوري ځپلې کړ، پاس یې آسمان ته مخ کړ او کریغه یې کړه .« به کریان! دلته لړ زمور اوربل د ی، وړ کورګی دی وړ بورجل دی. » ما هم ورسره غبرګه کړ د .« دلته دي د غرو لمنې، زمور کیږدۍ دي پکې پلنې ..... » وروسته برمانو ارمان کاوه .« ما ویل ستا به بوازې شپېلۍ زده وي، ددروي شپېلۍ، یرد که سالم جان چنغړ ک هم راسره چمبه وهلي نو د ساز دسته به مو پوره وه، څه وختونه، وو! » ما وویل .« د زاره چاودون او ناداني وختونه وو، ملواري ته ستا د سپي سپي کېدو وختونه وو، د جوارو د وږو د غلا وختونه وو..... » برمانو مداخله وکړه .« خدای دي خوار کړه چې د حاجي احمد په مخکې د ملواري نوم وانه خلي رښتیا د ملواري لور، پاتېښي، بېدو د مور نمونه ده، څه وایې چې هغه درته وکړو؟ » ما وویل .« ته یې ولې نه کوې؟ » هغه وویل .« یو خو زه نظر تا ته شپېږ اوه کاله په عمر پوخ یم. لور ګاني مې پېغلتوب ته رسېدلي او بل، بې هغې هم چې اوس کله د خپلي مېرمنې سره یو ځای کېږم نو سترګې پټوم او داسې یې انګېرم چې د ملواري سره یم. » ما وخندل .« لا هم هماغه سپي مه یې! » هغه وویل .« بس نو هر څه یې چې بولې، نو د مور او لور سره خو یو ځای نکاح نه خېږي.... » خپلو خبرو ته یې کټ کټ وخندل. بیا جدي شو، « نه، ټوکې نه کوم، راځه چې بیه مست واده درته جوړ کړو. په ژوند اتبار نشته. نظر تا ته شالیکار لا بیه دی، هلک خو یې ساته رښتیا بیه شو چې هلک مو خوشې کړ او که نه په



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ولایت کې به چارواکو چرچې برې کړې وې. «ما وویل،» زه پوهېږم چې ته د خواخوږۍ نه دا خبرې کوې، خو زه په بلې کړایی کې ورتېرم. «برمانیو بیا لاس غوږ ته یو وړ،» مېنې لیونی کړم، ځکه دې تل لارې څارمه، بر کندو ته گوره، په انتظار ولاړه یمه... «ما هم ورشتی کړه،» په سپینه ږیره لیونی شوې، په انتظار و لاړه یمه، په لنگوټې پورې دې بنگ ترلې دینه.... «د برمانیو نوبت و،» زړه مې ډانکمر، ډانکمر ناری کړې....

ډانکمر کاپر شو د خولگی تمه لرینه.... «دا خلې ماته هېڅ غوسه رانغله. دمابیام خړه دوړه په را پرېوتو وه، خو مور خپلې لندۍ، یوه ده یوه ما، شتی کولې، په آخر کې برمانیو وویل،» بس توره ډال مې واچول، منم دې. ته خودا دومره کاله د کفر په وطن کې وې، څنگه دې دا پښتنې سوې ساندې یادې پاتې دي؟ «ما ورته د امریکا کیسه وکړه، د آیوا د پوهنتون، د مجنونو، د عیشونو، دملگرو، د لندیو د ترجمې... «برمانیو ته بې لکه چې خوند ورکړی وې، چې په زه غلی شوم، ده به ویل،» گونگی کېږه مه، نور هم وایه!» شپه پخه وه، د سپیانو د نول گړنجې و چې زه پاڅېدم. برمانیو لاناست و. چې ترې روان شوم، را پسې روان شو،» شوله کماله، نیمه خواشې، چې نیمه خوا دې پرېښودم. څه بښکلې کیسه دې نیمگړې پرېښوده. دا د بنا پېرو ملک او داسې ښېنوا ترې راغلې. ته انجړا به هم ځانته خامتما بې چې امریکا مې ولېده. لالا مې مساپر دی کونه وړې کونه راوړې. «ما پوښتنه وکړه،» که ته لاړ وای څه توره به دې کړې وه؟ «هغه لنډه په لنډو ځواب راکړ،» اوس به یو درځن برمانیوان په امریکا کې گرځېدل.»



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

«۳۰»

د بر وخت مې لار د ملا عبدالرحمن د کوټې نه چپوله، چې ګونډې مې زړه صبر شي. خو يوه ورځ چې کشرۍ خور مې، د هغې په وينا، زما د يدن ته راغلې وه، ګورم چې په خپله بخت جماله د يوې سپين سرې ښځې سره راغله. ياد مې شو چې دا يې هغه کونډه نيا وه چې د ملا له زوی سره په علي آباد کې اوسېده. د دواړو د ملا سره ورانه وه. مورږ په چای ناست وو وربنداري مې هغوی ته هم پيالې کېښودې. چې بخت جمالې ته مې کتل، لکه د ګلاب ګل تازه وه، بلکې هماغسې يې په باړخو دلته هلته پرخه هم ځلېده. دې هم د ګلو د نجونو چل کړی و چې، کله يې نور سينګار پوره شي، خاتمه يې په دې د چې ګوتې په اوبو کې ننه باسي، بيا يې په مخ او پيکي و پرخوي. زړه مې ګېز و کړ، زړ مې سترګې سپين سرې ته واړولې. هغې،



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

سپين سرې ته وويل، «همدا زما ډاکټر دی.» وربنداري مې ماته په رمازه کې وموسل. سپين سرې چې دهرې خبرې سره يې زګېروي کول سر لوڅ کړ، لاسونه يې آسمان ته ونيول،« خير وبسې ډاکټره، الله تعالى دې په دين دنيا سر پرازه لره چې زما نيازبينه غسې دې راته روغه کړه.» ما ته سودا راولوېده چې څنګه راغلي دي. يو څه وېرېدم چې هسې نه بې شوبې بدو او بې جرګې يې را وستله. خو خور مې راته سترګه وټومبله او ويې ويل،« ادې، دا مې هماغه ورور دی چې سترګې مې ور پسې پوچې خټلې وې، شکر دی راغی». سپين سرې يو دوه ځلې زګيروي ووهل او بيا يې ماته کړه،« زويه، زه په يوه مسخد پسې راغلې يم چې خوله مې نه جوړيږي. چې څنګه يې درته ووايم!» ما وويل،« څوک مو ناروغ دي؟» هغې وويل،« نه شکر دی ټول رک روغ يو، الله دې جنتونه نصيب کړه، جمالي دې ډېر ضيپت راته کړی و، ما ويل چې يو وار دې په سترګو وينم. » زه نور هم ووېرېدم، چې کومه نا پريته ونه ولي. و مې ويل، « ادې، يو ځلي مې خو په خپل مسخد پوه کړه چې دا څه خبره ده چې ته يې دومره سرګردانه کړې. » هغه موسکه شوه او بيا يې وويل، « بچيه نور خير خيريت دی، هسې د عبدالحليم د پاره راغلې يم. » بخت جمالې ته نوره ، لکه چې حوصله پاتې نه وه، ويې ويل،« عبدالحليم زما ورور دی، په علي آباد کې په مځکو باندې پروت دی. » بيا يې سپين سرې ته مخ کړ، « بې بې، ولې سم دم نه وايې چې د ډاکټر خورزه ورته غواړې! » ابله مې دمه راسته شوه. په خندا مې وويل،« ادې زه خو پنځه خويندې او په شمار



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ديارلس خورزې لرم، په دې ترخو منو کې کومه غواړې! » هغې سمدلاسه ووېل ،« گلبرې، ستا دهمدې خور لورچې درسره ناسته ده. » ما خپلې خور ته ووېل ،« ږيره زما ، واک يې د ملا. لورستا دداو جرگه ماته راځي؟ » هغې په شرمېندوکي غږ ووېل ،« لالا ، ته چې بې نو زموږ ټولو سر او مال ستا په لاس کې دی، زما او دخاوند مې په هو، او نه کې جوړه رانغله. هغه ووېل، ډاکټر کمال دې مېنځگړی شي. . . . . » ما ووېل، « ډاکټري لا کمه وه چې اوس د کورونو جنجالونو قاضي هم شم؟ » بخت جماله چې ترا اوسه غلې وه خپل پيکی په لاس له سترگو بوې خواته کړ ،« تا مې وروړ نه دی لېدلی، د گوتې غمی دی، خوښ به دې شي. » ما وخندل، « زه يې څه په سر وهم، مقصد چې نجلی او هلک بو د بل خوښ شي. » بيا مې په ټوکه د خور نه پوښتنه وکړه ،« گوتې خو به يې نه وي سره خوړې کړې؟ » خور مې په غوسه ووېل ،« سترگې به يې وباسم! » ما ووېل ،« قاضي ته وخت ورکړئ چې بو غلې د دواړو سره گوښې وغږېږي، بيا به حکم کوي. » سپين سرې بيا په زگيروې او بلاگې دې واخلم. وارې دې شم. د خپل لمسی صيېتونه يې شروع کړل. ما چې ورته کتل، بو وخت به دا بوډۍ هم، لکه خپله غمسی ښايسته وه. د کلابست په شان يې د گونځې مخ په کنډوونو کې، د بنکلا د انځورونو نخښې لا پاتې وې. بخت جمالې خپلې نيا ته ووېل ،« دومره وارې وارې کېږه مه، زما ډاکټر دی، زما خواست نه ماتوي. چې څه ورته وايم، کوي يې. » په بې گناهي يې ماته وکتل ،« همداسې نه ده؟ » ما په خپل ځواب باندې ډېر فکر و کړ او بيا مې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

وویل ،« بې شکه چې همداسې ده. » په بل وار مې چې جماله ولیده ، د ژمي یخني شروع شوې وه. ددې دورور واده تېر شوی و. دا یوه میاشت ، کله د کار د پاره او کله هم د کار په بهانه د ملا په انګړ برابرېدم. انګړ ته مې غلجلکې نظر آچاوه ، خو نه مې لیدله ، بوما بنام د جومات نه دوتلو سره ، د ملاعبدالرحمن سره په خبرو خبرو دده کور ته ورسېدم ، ملا راته ست وکړ ، زه هم بې تېونو ، ورپسې شوم. بخت جماله چې خبره شوه ، زر یې لالټین ولګاوه ، په لاس یې د کوټې بر سر ته نیا لیچه پاکه کړه ، او بیر ته ووتله ، ملا وویل ،« ستا د تګ مې اورېدلي ، کله او چېرته دېنیت دی؟ » ما په توکه وویل ،« ما هم دا آوازه اورېدلې ده. » هغه یود شیبه غلی و ، بیا یې وویل ، « ښه در پوهېږم چې دا کلی ، بلکې دا ټول ولایت درته تنګ شوی دی. ته لکه د بر کلي ، طوطي خان مجاهد یې چې وایي ، چې جهاد ختم شو زما ژوند هم ورسره ختم شو ، د بې خوندۍ ورځې شپې دي... ستا هم په کلي کې کار مخ په ختمېدو ښکاري ، چې د لاسه دې کېدل په نره توره ، په شوق دې وکړل ، نور نو کلیوال پوه شه او کار یې. » بخت جمالې ، چای راوړ او ماته یې وویل ،« تاسو تر څو چای څښئ ، ما به نګولی تیار کړی وي. » چې وتله نو پلار یې ورپسې غږ کړ ،« بچې ، د تېکری پلو خو دې اچود! » د ملا په لهجه کې مې یو څه تریخوالی خو نشم ورته ویلی ، خبر داری ولېد ، یا به هسې سودا وه. فکر مې وکړ ، لکه چې څه شک ورلوېدلی دی. څه مې ونه ویل ، خو پاڅېدم ،« زه ځم ، مفتاح راته



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

انتظار ناست دی، چې زه ور نشم دوه‌دی نه خوري. «هغه وویل،» زموږ
سره به دې خوړلې وه» ما دګانه سره وویل، چې کور دې وران شه، دا خو،
ست نه دی، خدای یاماني مې وکړه او په بیره وو تلم.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# « ۳۱ »

واوره لا پیل نه وه خو دجومات پیتاوي ته کښېناستلو خوند کاوه.

حاجي احمد بهوېل، د ژمي يوه علامه په هندوانو کې معلومېږي، چې غوښه يې له پوستکي نه بېلېږي او چې څيري يې کړي، په مينځ کې يې ډنډاوېه ولاړې وي. د شپې له خوا د پايکوګانو او آوجوازونو غنګهار و.

حاجي احمد ويل، « په ما دا غږ لکه ملهم داسې لګېږي: شکر دی، سږ يو څه شولې خوشوې دي چې اوس يې وربڅې کوي. » زما هم د دې غږ سره جوړه وه. د وړکوني ياد يې را تازه کړ چې د رسته ورغ به زاره چاودون و خو شپې به همدې غږ ته خوب يووړم. تر دې حده ورسره آشنا وو چې پوهېدو چې د کوم کلي نه غږ راځي، يو قسم د روند. لکه د يوه لرې سيند، زګيروي، بغرې هم د لرګي نه جوړه دداو مولی هم، خو د مولي په سر کې د



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

وسپنې مېخونه تک وهل شوي دي. لکه ژرنده، داوبو په زور يو څرخ تاوېږي، مولې د څټک په شان دی، جگېږي او په بغری، يا خور، چې له شولو ډک وي را پرېوزي. شپه ورځ همدا کار وي او بزگران په نوبت خپلې شولې وروړي، هماغلته ورته شپې کوي. چې دل شي، نو بيا چجگر، وريژې دسې نه بېلوي. په خرو او آسونو باربري او د کور کندوانو ته چلول کېږي. د دهقان د کال لوبه گټه همدا ده.

په همداسې ورځو کې يوه غرمه ملا عبدالرحمن راغی. زه ترې مانيجن څه، سخت خپه وم. خپه هم نه، بو قسم د بېوسی او جفا تر مينځ بو احساس را سره و. زما وروړ په کلي کې په دې مشهور و چې خلکو به ويل، د مفتاح کموی تل ابشېږي. بس يوه څمڅی او به بې بنوروا ته ور زياتې کړې. وربنداري مې، چې په اصل کې د شمالي دقره باغ وه، ويل، بس يو څه وچ کړي رومي بانجن، څو پليه سره مرچ، پرېمانه کور کمن، د رنو او بو نه هم مسته بنوروا جوړوي. ملا هم په بنوروا څان تهډ کړ او بس همدا يې ويل،« زه و خدای سا په مزه ده! » زمونږ د کليوالو تر مينځ ستر نه و. چې ملا به لاس نيولی شو، وربنداري مې ورته ستونه کول. دچای په وخت بې وربنداري او مفتاح دواړو ته وويل، « تاسو څانونه لږ پنا کړئ. زما د ډاکټر سره څه خبري دي. »چېرته د زړه په گوټ کې مې گوره ماتبدله را ماتبدله خو څان مې تينگ کړ. وربنداره مې د لوسو سره ووتله او مفتاح د لمانځه په نامه جومات ته روان شو. ملا عبدالرحمن وويل، « يوې مشورې ته راغلی يم. » ما وويل،« ته لا ورته گورې! » هغه په شرمېندوکي غږ



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

وویل، « د تا نه بې څه پټه کړم. نجلی چې پېغله شي، شرعي حکم دی چې په پټ او درنښت ســـره یې لنډون وشي. » زمـــا زړه درز وکـــړ. مـــلا وویل، « بخت جماله خو لا هم تا خپل ډاکټر گڼي او ډېر ور باندي گران یې. » زه نور هم شکي شوم ملا وویل، « لرا او بر یې ډېر خواستگاران پیدا شوي دي. همدا اوس پنځه دي که او د کلیـوال ورته خرېږي. نو مـا وبل د تا نه مشـوره واخلم. » لا هم دده په مقصـد سه نه پوهېدم او ومې ویل، « بس ستا خپله لور ده، زما مشورې ته څه حاجت؟ » هغه وویل، « ډېر حاجت دی، نه پوهېږم چې د نجلی واده کول به څنگه وي، وېرېږم چې مرض یې با بېرې و نه کړي، ما ویل ستا نه پوښتنه وکړم. » بې اختیاره، لکه یخې اوبه چې په څـیله کې چا راباندې اچولې وي، وربږدېدم. خو هیڅ مې ونه ویل، هغه دوام ورکړ. « دخدای په دې ارته دنیا کې بس بوه لور لرم چې د مور بوی یې ترې راځي. زوی خو مې خدای دې ژوندی لري، خدای دې تاهم ژوندی لري چې خورزه دې پرې ولوروله. هغه د مور د مرگ نه پس ما ته سم مخ نه را ښکاره کوي، لکه چې دښمن یې یم. هماغلته د نیا سره په علي آباد کې اوسي. لکه زما دهقان چې وي، مخکه کري، په درمند، دري برخې ماته راکوي او بیا مې مخ نه ویني. » ما یې ملوني را واړولې. « تاسو د خپلې لور خبره کوله. » مـلا وموسـل، « هسې یو غم خو نه دی، بس ته مې بنه موندلی یې، زړه د رته سپړم. خبره داسې ده چې لور کې مې پېغله شوې ده، غواړم چې کوم نیک سړی ورته وگورم، چې همدلته ما سره واوسي. » ما وخندل، « خدای خبر که پښتون زوم په کور کې ایسار کړي. پاړسیوانان



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

لا د خانه داماد، دود لري، خو په پښتنو کې به په خپل کور کې د زوم خوندي کول مشکل وي حتی که تا ورور خور لرلی او بیا دې دغه اولاد ته لور ورکړې وای، بیا به هم ګډه ګوزاره مشکله وه. » ملا په فکر کې ډوب شو، وروسته یې وویل، « مشکله خو نو ده چې دد، خو د پېغلې تجلی په کور کې ساتل هم بده خبره ده، خو ماستا نه په دې کې مشوره غوښته چې که بخت جماله چاته ورکړم، نو مرض خو به یې بیا ونه کتېږي؟ » ما وویل، « یره ملا صیب، د بنیادم اعصاب یو داسې ماشین دی چې لا یې طب او ساینس په یقین سره نه جاج اخیستی شي او نه یې د بابېزې اتکل کولی شي. » ملا وویل، « دا به څرنګه شي، که تجلی واده شي، او بیا دا ظالم مرض وربانديې غوټه وکړي، دا به څرنګ شي؟ » شیطان راته ویل چې سم صفا ورته ووایه چې بس نو ما ته یې را کړه، خو لا حول والله مې کړه، « زه نه پوهېږم. ملا صیب. ساینس لا ستا دځواب جوګه نه دی. » ملا یوه شېبه راته شکمن څېر و. او بیا پاڅېد، « خیر دی، که کومه تېکه را وشکېده، نه چې هر څای یې، بیا به دې پیدا کړم. » ماته یو څه غوسه راغلې وه، « خدای به خبر کړي، نور ډاکټران به خدای پیدا کړي، چې د بخت جمالي تداوي وکړي. » په هغه شپه مې هر څومره د ساثومانو سره تېوکې وشتې کولې خو ورېنداري مې په یو قسم غمناکه نظر راته کتل، ما فکر وکړ چې هغه بوازېنی موجود و چې زما په ببوزلی پوهېده. زما حال هغه مرض ته ورته و چې ناروغ یې نه حال ویلی شي او نه یې علاج ورځي. بو غم خو نه و؟ او زه دومره زوور هم نه وم چې ووایم



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

عاشقي بې سراسر واړه بلا ده. ما منلې .... بلا ده. او دا د زړه ورتیا خبره هم نه وه. د خپل زړه سره په جنګ وم، د خپل وجدان سره مې مقابله وه. سلام مې نه اچاوه، چې وامې چاوه، په هندو وخوت.

چې به ډاکټر شوم نو د بخت جمالې حسن به را باندې غوټه وکړه او بیا به نه د طبابت لوړه ورته ښینګېده او نه د ملا عبدالرحمن اتبار. هغه نقاش ته ورته وم چې په خپل انځور مین شي. چې به مې پس له لمانځه څانته دعا کوله نو بیا به د غني خان شعر را ته وړېد چې « په مکه کې مې ونه موند، په جومات کې رانه ورک شو، خدای په خپله را حضور شو، چې مې مخ د یار کړېکل. » دا هم سمه نه وه، حرامه دې شي که به مې تر رغېدو پس ان لا وښتو ته لاس ور وړی وي، بس مازې په کتو مې زړه د ګوګل نه وووت.

تصور بې لا ښکلی و، د انار د پوټکي په شان وښتان، تر زنګنو را پرېوتي، هغه هم کاشکې ګوړ ګوتي او لکه وبلي شوي سره زر نه وای، کاشکې بې لکه د سیند او به چې نرې ورمه بې څپې یوه په بلې شویوي، څپې او کړلیچې نه لرلی. په دې هم نه تسل کېدم چې ددې سکلیټ وزمه بدن او جینګي داړې په زړه کړم. داسې د شګو ډېر بندونه مې په وینبه تړل په خوب کې نړېدل، د امریکا د ښکلا د ملکو خاطرې مې را ننګولې چې هر کال به د هر ایالت نه چټې په سیالی ورته راغلې، قاضیانو به په پنځوسو کې یوه د امریکې د کال د ښکلا ملکه ونو مله. جګ د ښتو په شان قدونه، نرې ملا وې، ښایسته، نه پنډې نه نرې پونډی، تې د ګرېوان



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

نه د راوتلو په درشل کې، د ښکلې موسکا سره به ستیج ته راغلې، ناز او قینج به یې وکړ، لږ و بر به وګرځیدې، د غاښونو ملغلرې به یې په ننداړ چیانو وشیندلې، د تعظیم په علامه به یې سرونه ټیټ کړل او غیبې به شوې. بیا به نو قاضیانو د یو نه تر لسو نومرو پورې هرې یوې ته ورکولې. چې تر شیبړو به اوچتې وې. نو د اول نومرې ګی چانس بې‌و. د ښکلا کچ میچ تاو اندازه ګیری هم به عددونو وه. ۳۲-۲٦-۳۲ دښه اندام معیار و. ما نا د انچ په حساب یې د سینې سور ۳۲، ملا ۲٦، سپو خسه ۳۲. خو اوس مې چې فکر کاوه، چېرته کوتی لال چېرته لال د بدخشان! څو ځله مې په تصور کې بخت جماله دغو سیالیو ته وروسته او هر ځلې به دهغې نومرې پوره لس وې. دځانه سره مې ویل، دقاضي پلار به د بخت جمالې ښشه کاتو ته تېنګ شي!

په خوب کې به مې په داسې بې حیايي او خیر سترګتوب شپه ورسره رنیو له چې سهار به له خولو ډک وم. موږ ډاکټرانو، دې ته د خیشت خوب توری کاراوه. داسې نه وه، لکه د پښتو متل چې زړه چې مین شي، ښایست نه غواړي، هر ځلې مې چې یارانو د ښکلاخبره جګوله، نو بخت جماله د لست په سر کې وه. ماچې هر څومره ځان ساته خو په زړه کې پوهېدم چې رسوایي راته سترګکونه وهي.

په شتو یارانو کې ببکسه‌وم. برمانو ښه وخو هره خبره یې بابېزه اخیسته که زړه مې ورته سېرلی وای، داسې ناپرته به یې وبشتې وه، لکه ډانګتره، ماته یې چل راځي، بخت جماله به هم د شالیکار غونډې درته



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

وتبنتوم. په سالم جان باندې د خپل کلي د ښځې د مرګ د ړه که تېره شوې وه، په هر شي غړېده غیر له ښځو. بوازې حاجي احمد پاتې و چې په هغه کې بیا دا بلا وه چې پخپله یې پښغله لور لرله او دانو یو قسم سپکاوی و چې زه ورته د بخت جمالي غم وژاړم، او بیا مشوره هم ور نه وغواړم. دا لا کمکي خندونه وو. اصلي خنډ چې د ځان نه مې هم پټاوه، پخپله بخت جماله وه چې تر اوسه پورې نه پوهېدم چې په څه نظر راته ګوري، د عمر تفاوت خو په کلي کې مهم نه و، د ډېرې پښغلوټې بوډاګانو ته ناستې وې. بې هغې هم د شلو کالو د جنګونو د لاسه د لراو بر کلو د نجونو شمېر تر هلکانو دومره زیات و چې زما د ورښنداري په وینا، هر څېرته د مور او پلار تلوسه وه چې لور یې زوړه پښغله پاتې نه شي.

یوه شپه مې غوټه تابیه و نیوله چې سبا به نبغ ورځم، بخت جمالي ته به حال وایم چې د هغې په زړه کې هم مینه شته او که لا هم ورته مازې ډاکټر یم. سبا تر انګړه هم ورغلم خو په پښو کې مې دمه نه وه چې د کلا ور وټکوم. او چې بېرته راتلم په لار کې مې د بې وسۍ نه په ځان پورې ملنډې وهلې، که برمانو په دې حال لېدلی وای. ویل به یې چې خدای دې ووهه په دې بې سلو که اوږده قد، ولې دې په امریکا کې ځانته د زمري زړه نه اچاوه؟ د ځانه سره مې په قاد قاد وخندل. بیا مې هرې خواته وکتل، هلکه ځان راټول کړه، لیونی شوې که څه بلا؟

یوه ورځ زما مزاري دوست ډاکټر برنا عاطفي، جامې په دوړو لړلې، د بوې لویې بوجۍ سره په خپل جیپ کې راغی. مزار زما او د امریکایي



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

دوستانو دارتباط لاره وه. په بوجی کې هر څه و. لیکونه چې آشنایانو را استولي وو، د لنډیو دمجموعې لس ګیې، بو څه د آیوا دلیکوالو کیسې او شعرونه، او یو وړوکی سر تړلی کارتن. په کارتن کې دننه یو پاکټ و او په هغې کې یو څه ډالرې او ورسره یو خط چې ویل یې، دا د لنډیو دمجموعې په خرڅلاو کې ستا برخه پیسې. دمزارې دوست بېره ووه، په سبا یې بېرته روان شو. خو دخدای پامانی په وخت کې یې وویل: «لکه چې ترخې دریاندې د حدد زیاتې ډېرې شوې دي. هغه پخوانی شهرازې دې نه شته. ولې نه راځې یو څو ورځې، هم به د سخې جان زیارت دریاندې وکړم او هم به یو څه سوکه شې. » ما وویل: « راځي نو، په بنیادم هر قسم حال راځي، بوازې خدای په یو حال وي. » په همدې وخت کې هیڅ بې هېڅه نا امېندګي راته ودرېده او دا سرباری مې هم ورسره زیات کړ: « اوس خو ژمی را روان دی، که خدای کول، د ګل سرخ مېله به دریاندې واړوم. »

څو ورځې مې د یارانو په تحفو او خطونو ځان بوخت کړ، زړې خاطرې مې را وکتولې. یوه ورځ لاړم بازار ته، پنځه څوربه چارې پسونه مې واخیستل، سورګل ته مې وویل چې دا به یو یو د برمانو، سالم جان، ملا احمد او ملا عبدالرحمن کورته ور وړې چې د ژمي د لاندې خسمانه یې وشي، په بله ورځ برمانو راغی او وار دواره یې راته وویل: « تر دې عجیبه په پرېت کړ. » ما ځان نانګاره واچاوه، ومې ویل: « ولې؟ ته لاندې نه کوې؟ » هغه وموسل: « ولې یې نه کوم، د سیاسرې مې وریسې بچې لوېدلې، همدا لاندې، لاندې وايي او زه د یوه کال نه بل ته وعدې ورکوم. »



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

بیا یې سر لوڅ کړ، لاسونه یې په دعا ونیول، د سترګو لاندې یې، په شیطاني راته وموسل،« که زما ګنانګار په دعا کېږي، خدای دې. په دواړو دنیاوو کې ښېرازه او سر بلنده لري. تیاره پرېښته ده. » ما وویل،« دا څه اپلتې وایې، پسه ما درو ستـه، دعا خپلې کور والا ته کوي؟ » هغه وویل،« خالک دې دا څانګه تانده لري، سیوری دې، زموږ رنځورانو د سر نه نه کموي. » بیا یې په کړنګولي غږ دابدله وویل،« خدای دې د څښو څانګې تاندې لره+ دا چې په ما غوندې رنځور زانګي. » ما وویل،« بر مانیه، لیونی شوې که څه بلا؟ » خو هغه زما پوښتنه نه اورېده،« ما هم په څلمیتوب کې لمن لمن جوار، د خپلې نجل وروړ ته ورکول. په زړه کې مې دا هیله وه چې ګوندې خپلې خور ته یې ورکړي، چې واده وشو نو بیا مې خدا که یوه چېنجنه منه هم اوښې ته ورکړې وي. » له دې خبرې سره برمانو چې بې هغې هم په دوو پښو ناست و، په تبښته لاړ. نن په ما کې دا توان نه و چې وریسې مې څغستلې وای. پوه شوم چې برمانو فکر کوي چې پسه د بخت جمالې د سر خیرات و، خو دا انګېرنه په سلو کې سل سمه نه وه. یو څه به پکې رښتیا و خو ده. لکه چې په دې تکې ددې د پاره زور اچاوه چې ماپوه کړي چې مینه رسوا شوه. وربنداري مې هم سپین غر په تور غره ویشته، بې ربطه شان به یې تکې اچولې او بخت جماله به یې په دې او هغه نامه پکې یادوله. زه چې د بر څوربدم دوو شیانو ته، یو خو زما مینه د زړه د سر ازغی و چې چاته مې نه شو ښودلی. څنګه به مې د بیخوبی، خجالت او بېوزلی کیسه کړې وه؟ بله په خپله بخت جماله وه چې لا هم نه پوهېدم



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

چې ما سره مينه لري او که نه، دا لا څه چې په دې هم نه پوهېدم چې زما په مينې خبره ده او که لا هم هغې ته مازې يو زړه سواندی ډاکټر يم چې په ګوګل کې مې د زړه په ځای ماشين درزا کوي. يوه شپه په همدې زاره چاودون کې بهر ووتلم، چې واوره شروع شوه، هماغلته تر لاندې ودرېدم، څپولي په مخ را پرېوتل. د آيوا سخته څپله بې د هغې د خوږو ترخو يادونو سره مخ کې راته ودروله.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

«۳۲»

لوړه مې وکړه، بلکې بېوزلي را باندې وکړه چې يو ځل خو به د دې غم د کڅوړې سر چا ته نه، چا ته خلاصوم. يوه ورځ د ملا کور ته ورغلم. چای، لکه د تل په شان تياري وې د بهي چای هم نه و، سم چای و. بخت جماله هم يو څو ځلې لره برده شوه خو نه پوهېږم ولې بې پلو اچولې و. خو په نيم نظر مې چې ورته وکتل، نو بيا مې وانې وتښتېدې او لکه چې د ملا هم راته پام شو، ځکه چې د خبرو لړۍ رانه د لته هلته شلېده. د لاندې د پسه منته يې وکړه او بيا يې په دې خبرې زور اچاوه چې بخت جماله بېخي روغه شوې ده. ما پکې دا الزام لوسته چې زياتې نو تا ته اجت نه دی پاتې، ولې دې رنګ نه ورکوې. يو مازيګر دهغې دنګې ونې لاندې ولاړ وم چې سور ګل مې دالکهف په قرائت ورباندې ليدلی و. پلار به مې کلېوالو ته ويل



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

چې که يوه ورځ سيلاب راشي او غير له دې ونې موږ تول لاهو کړي، نو
چې هر فريق دلته مبشت شي، دهمدې ونې نه دې زموږ تاريخ راوسپړي.
دا دشنډ توت ونه عجبه ميوه داره وه. د انګورو ميلوې له هرې خوا کوا ړې
وريانډې ختلې وې چې پاخه به شول زموږ او غومبسو به وريانډې شور وو.
د نولې (موش خرما)، مړو، مارانو او قسم قسم مارغانو د اوړي او ژمي
ځاله هم وه. دمنې په آخر، د واورې د راپرېوتو په درشل کې به موږ هلکان
ورختلو او هلته به مو د ډډ په سوړو کې هغه بادام، وچې منډتې او رنګ
رنګ ډانې، لمن لمن را تېولولې چې مړو به د ژمي د پاره هلته پټې کړې وې.
ونه د يوه لوړ چنار په ځګوالي، يا يو څه لاځګه، خو په مېنځ ګوره او ګنه
وه. زموږ هلکانو يوه لوبه دا وه چې درې څلور به ور وختلو، ځانونه به مو يو
د بل نه پټول، چې د چا دوجود کومه برخه به ښکاره شوه نو هغه لوبه
بايلوده. د ژمي په دې ترخه مازيګر زه تر لاندې ولاړ وم او دخپلې ببوزلې
نه مې د تېښتې ځاى لټاوه. دونې په پاس سر کې يو ګوريت اوسېده چې
زما په هلکتوب کې يو وزرى و. جوړه يې خداى خبر چا ويشتلې وه، که
خپله مړه وه خو دونې لاندې مړه پيدا شوه. اوس يې لکه چې بل واده کړى
و، يا به هغه خواره کې هم خپل عمر خوړلى وي او دا به بل کجير و چې
دخپلې جوړې سره يې پاس په ډبرې لټېي سره د ونې په سر دورې کولې.
د مابنام د تاريکۍ سره غبرګ، ګوريتانو هم د پرواز کړۍ تنګوله، يو بل ته
نژدې، وزر په وزر الوتل. سوړ اسويلى راغى چې په څومره ناز او خوږوالي
خپلې ځالې ته شپه ور وړې. هسې مې خولې ته راغلل چې« ډېره بې غوري



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

شوه په ښېبوې کې ګذران نشي نور + نن دی که سبا دی توکل يې ترې شرلی دی. »

نور نو په دې کلي کې زما پاتې کېدل نه وو په کار، نه د خلکو د ښې وم، نه د ځان، خو د سفر په شپه مې په خوب کې دشکونو ښکالو شوه. د ماغزو کوم ځای راته ويل، بې همته، ته د عشق د لاسه نه تښتې، د عشق نه تښتې او که نه نو تا خو به يو ځل ځېل وس کړی و؟

په سبا مې د سفر نه مخکې د برمانو کور ته مخه کړه، ما ورته وويل، چې همدلته په درشايې کې خدای پاماني در سره کوم، خو ده لکه چې زما خبره يې نه وي اورېدلې. له لاسه نيولی، په راښکلو کوټې، ته بوتلم. ميرمنې يې په خوشالی هر کلی را کړ او ويې ويل،« لالا عجب وخت کې را برابر شوې، د لاندې ښوروا تياره، د نيمې شپې را هيسې، کټوی په تناره کې خوټېږي، » ما وويل،« زه هسې ديو ځو شېبو مېلمه يم، يو چای به لا در سره وڅښم، نور روانېږم، ضرور کار لرم. » برمانو ښځې ته سترګه وټومبله، هغه په پخلي پسې ووتله. چې کښېناستو، برمانو وويل،« اوس نو وايه! »

« درنه ځم، خدای پاماني مې کوله! »

« کوم قبر ته روان يې؟ »

اوس حاضر خو مزار ته کېده کېږم، بيا نو ګوره چې قسمت مې په کومه بيايي. »

« ولې ځې؟ »



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

« بس څم، زياتې کلې پوه شه کار يې. »

« کلي دې را وکتماوه، اوس ته پخپله ترې تښتې؟ »

« نور نو نه زه د کلي په کار يم او نه کلي زما. »

« بخت جماله څنګه؟ هغه دې هم نه ده په کار؟ »

« ته بيا چا په دې پروپاګن کې شريک کړې؟ »

« زه په مين سړي پوهېږم.... دمينې سره تل رسوايي مله وي. »

دبرمانو په خبرې هم وشرمېدم چې اوس د کلي دخندا شوم او هم غوسه راغله چې برمانو ولې تر اوسه زما په بيوسۍ ځان نانګاره اچولی و. دبره شيبه دواړه غلي وو. په آخر کې مې وويل، « دځانه لکه ماته ژرنده ګرځېږي. »

خو برمانو پرېښودونې نه و، « لکه د کوکچې سيند چې په مستۍ، سر په سنګرو وهي، خو چې آمو ته ور پرېوزي، بيا نو کراره کراري وي. څومره په هياهوی، کيش وکړپ راغلې او څه په خاموشۍ درومي. » بيا يې نو په شيطنت وموسل، « ستا په دې لنډ کې پاچايي يې در پورې وهم. » ما هم وخندل او روانېدو ته ودرېدم، خو دبرمانو مېرمن لا دوخته د خوراک کالي غوړولي و، د بنوروا يو دلويه تنۍ يې چې براسونه ترې ختل په مېنځ کې کېښېښوده.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## «۳۳»

په کراه کړي روسی جیب کې د آودان میر علم د دښتې له لارې مزار ته روان شوم. د موټر درې ساعته مزل دی. د دې شګلن ډاګ لاره دوه مره د روسانو او جهادیانو د لاسه سوري سمبوري وه چې بې د جیپ نه بل موټر پکې تګ نه شو کولای. په لار کې دوه درې څایه د ټانکونو لاښونه او هډونه په شګو کې نیمه پټ پراته وو، د ځینو یې دارابو زنځیرونه شوارې کارې غځبدلي وو، دوه بولو ګور ګوتیو یې دځرمنې، د ښکلو پسې خوارې کړې وه خو بیا لکه چې ما بوسه شوې وو. وایې: اته میر علمخان. چې خدای خبر څو کو، یوه څا کیندلې وه، په ژمی یې داوبو ډکوله، سر یې ورله پوښه، په اوړې به ددې بیا بان جل وهلو دلارې د پاره خپل ژي ترې ډکول. په دې ورځ ډاګ کې بس سمسرې وې چې له لرې یې سرونه د



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

سوالیې په‌اشاره راته خوځول، لکه‌چې وایي، ته‌دلته څه‌بلا غواړې؟ او

ګیډران‌ورو چې لکې د پښتو تر مینځ لر بر تاوېدل. بل ژوندی ګړی نه‌تر

ستوګو کېده. بس‌زه‌وم‌او د ترخو یادونو او بېوسی بنې. یو وختې به‌دلته

دلر لوېدو سره‌د غلواو داړو وېره‌وه، خو اوس خلکو وېل طالبانو په

ګیډرانو هم‌لا بندیز لګولی او که‌نه‌وای‌هم‌زما یې پرې څه؟ بس‌یو بیګ

را سره‌و ، هغه‌یې ددوی له‌سره‌جار. د برمانیو د سهار خبره رایاده‌شوه‌چې

سخت په‌شور ماشور راغلې او سخت غلی‌ووتې. حتی خدای‌پاماني مې

نه‌وه کړې، د سهار په‌خړه کې مې بیګ ترخ ته‌واچاوه‌او مخ په‌ولایت‌روان

شوم. هلته‌مې دا جیب دربست کراه کړ، سرې‌را باندې اتبار وکړ چې په

مزار کې به‌یې ددوی نماینده ته‌ور وسپارم. ټول عالم تېښتې تېښتې‌وه،

سمسرې او ګیډړې له‌مانه، زه له‌بخت جمالې، مسعود له‌طالبانو ، د

مازیګر لمر له‌آسمانه، په‌تصور کې مې هغه‌لیونی لېده‌چې همزولو ورته

زما د سفر ویلې وې‌او هغې، نور نو نه‌پوهېدم چې هغې به‌څه‌عکس

العمل ښودلی وي، تندی به‌یې تریو کړی وي، یا به‌یې بابیزه تېره کړې

وي. حتی په‌دې هم‌نه‌پوهېدم چې هغه‌به‌زما مینه‌جدي ګڼي او که‌به‌لا

هم‌د پلار په‌سترګه‌راته ګوري.

د برمانیو په‌شان مې چیغې کړې،« دا تورې سترګې زما یادېږي، له

حاله زما کله خبرېږي، دا تورې.... » ایله مې پام‌شو چې د مازیګري لمر

میرات مړې غر غرې، تل په‌ما همدا د بوازېتوب څپې راولي. ځان مې

راټول کړ، ډرایو ته‌خبر شوم. سر ک خونه‌و، هر ډرایور ځانته لارا ایستې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

وه. وبرېدم چې په دې شګلنه هواره دښته کې، لار ورکه نه کړم. خو هر څه مې چې پام غلطاوه، هره خوا بخت جماله وه چې نشه يې سترګو يې ملامتولم چې ولې دې پرېښوم؟ ما تر دې دمه عاشقي نه وه لېدلې، نه مې وه کړې، نه وم پرې برابر شوی، او دغه د تروسکن انارو په شان د خوږ درد احساس راباندې هېڅکله نه و راغلی. هر څو مره مې چې ځان ورته ډاکټر کړ او د فرويډ تحليلونه مې وننګول چې يره مينه د شهوت روحي او دماغي ځل دی، چې شهوت خړوب شي نو مينه سړه شي، خو نه صبرېدم.
د ابرګه نک غابني ته سکني ماښام ورسېدم. دا هماغه ځای دی چې پر وختې، توره نومي ترکستاني اتل، چې دخوګيانو دانځري په شان لوی غل و، کاروانونه ورکې شکول. خلکو بدلې ورېسې جوړې کړې وې. د م کوتل ابرګنه+ توره قدم مېزنه. کله چې توره د توپ خولې ته وتړل شو. توپ اول صدا کد+ توره يا دخدا کد. توپ دوم صدا کد+ توره ره وارخطا کد. توپ سيوم صدا کد+ توره ره از بند جدا کد. دلته به يو وخت څه آرګا بارګا وه، مير علمخان به څنګه خپل د خير کارته خاتمه و، چې پېړی پېړی به خلک د آودان بخې اوبه څښې او دعابه راته کوي. په ټانک باندې د سپرو روسانو به فکرونه په مسکو کې دخپلو پېغلو تر او حرور ما شومانو سره وو او د دې شګو د سمندر په لېدو به يې په افغانانو او خپلو مشرانو لعنتونه ويل چې دوی يې په دې بوخته کې اچولي دي. څو مره ارمانونه په دې شګلنه کې شګه شوي وو! سکني ماښام، ما او زما ... جسب د ابرګه نک په پېچومي زګېروي کول.

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

«٣٤»

لا ور رسېدلي نه وم چې زړه راته وويل، په مزار به دې نه ونه شي. عزتونه، پولاوونه، د دمبورو او زرکانو د جنګ مجلسونه لا هم په پټه د شاديانو په دښته کې کېدل، په روضه باندې لا هم سپيني کوترې الوتلې او خلکو لا هم ويل چې هره سارايي کوتره چې دلته راشي، د سخي په برکت يې بڼکې سپينېږي خو زما او دمزار د ژوند فاصله نه کمېده. ملګري مې راته په خپل ګاوند کې معاينه خانه نيولې وه، زما ټول طبي سامانونه چې ورسره امانت و، هغه يې په لابراتوار کې اوښلي وو. سرې غالي بنايسته مېز. بهر يې په لويه لوحه ليکلي وو، ډاکټر کمال، نيورو سايکولوجست، تحصيل، امريکا، د عقلي او عصبي ناروغيو متخصص. دهماغه اول سر نه د ناروغانو را باندې وار نه و. ملګري ډاکټر ويل چې دا د شلو کالو



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

جنگ وهلي او لبنانيان تول درته په تمه وو، اوس ورته تينګ شه، آوازه دي ان تر حيرتانه رسېدلې ده. د ځانه سره مې ويل، د بارانه بچ شوې د ناوې لاندې کېناستې. د فيس پيسې راته حرامې ښکاره شوې، شلېدلې چپنې، خيرن مخونه، پښې پېلې، د ځينو لاسونه يا پښې تړلې، دا د کمونستانو، روسانو او قومانداناڼو ق .انسان وو او اوس نو انصاف نه و چې څه چې يې په جيبونو کې پاتې وو هغه ، زه ترې ولوټم. نومې وړيا معاينه کول، او لکه چې ښېل منکري ډاکټر پخوا تر پخوا د ډېره غېږولې وه ، ګنه ګونه راماته وه. خو دلته هم، لکه د پېښور په شان د علاج تابيه نه وه. ډاکټر عبيدالله روغ، (اوريدلي مې وو چې خپله لېوني شوی دی) به ويل چې د ډاکټر د نظره، لېوني مفرد توری دی، جمع نه لري. داسې نه شي کېدای چې په معاينه خانه کې کېښنه او د ورځې لس لېوني معاينه کوه. هر ناروغ د ورځو، لا مياشتو څارنه او پالنه غواړي. ځانله به يې داسې په مرکو او د زړه په خواله بوخت ساتي، لکه چې هېڅ بل ناروغ په دنيا کې نشته. ډاکټر روغ ويل، داځکه چې د ماغزو سره به د سيال، بلکې تر ځانه د لوړ په حيثيت سلوک کوي، ماغزه د خالق خاص انګړ دی چې په بنيادم بې لوړولی دی، همدا وجه ده چې د بنيادم دا نور غړي، لکه سترګې، غوږونه، سږي، پښتورګي او نور غبرګ دي خو ماغزه يکې يو. ماغزه جمع نه لري. تر اوسه مې سودا ده چې ډاکټر روغ به د زړه په باب څه ويل چې غبرګ نه، بلکې يو دی او هغه هم جمالي رانه وړی دی.

د ګل سرخ مېله مې هم وکتله او خوند يې رانه کړ، بس ګڼه ګونه او



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

شور ماشور و. د تاریخ ښوونکي ریښتیا ویلي وو چې دلته نه علي ښخ دی نه ملي. بس کوم باچا چې سلطان حسین بایقرا و که یې وزیر، علي شېر نوایي و، د خوب د لېدلو په نامه. د بخارا نه چې هلته مبارکه خرقه وه، بلخ ته د تاجرانو د راماتولو په مقصد د حضرت علي په نامه زیارت جوړ کړی و. د ابومسلم خراساني کیسه هم بابیزه بویه چې ګوندې د شهر دخدای تابوت یې د کوفې نه مرو ته راوړی وي او بیا سلطان سنجر بلخ ته چلولی وي. ګل سرخ یې ځکه نوم شو چې دا مهال په چار چاپېره دښته کې د سرو خاټولو چکن و. که برمانو وای نو به یې ویلي وو، په تا، ګل سرخ سور ګل نه، سور اور دی، سره تبې ده ستا زړه په بله هر کاره کې ورتېږي. که بانه وه که مانه، زما د پښو لاندې اوریل و. د تګ په فکر کې وم، خو دخانه سره مې ویل، وتښتم فشاره ځیني کوم پلو؟ ورو ورو، لکه مست مېږ چې په لومه کې تېرېونه وهي، کړی نوره هم په مری را تنګېدله. په تګ خو روان وم خو نه پوهېدم چې بر لاړ شم او که لر، ترې وتښتم که ورلنډ شم. د هر یوه د پاره د دلېلونو باره جوړېده او بېرته نړېده.

یو د ورځ یوه ښځه، ښځه هم نه، بلکې د ځوارلسو کالو نجلی معاینه خانې ته د ننوتلو سره په ژړا سر شوه. هر څه مې کول او ښکې یې نه درېدې. چې د حال پوښتنه مې وکړه نو هغې په سلګو کې راته د خپل مېړه کیسه وکړه چې طالبانو بندي کړی او دې قرآن خوړ چې وژني یې ما ویل، چې زه خو واسطه کېدلی نشم، نه حاکم یم نه قاضي، ولې عریضه نه کوې؟ خو هغې د ژړا نه لاس نه اخیسته او ویل یې »« ګپ غریباره کی



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

مېشنوه؟ » د ځان د خلاصون د پاره مې ووېل، « زه به یې پوښتنه وکړم! »
هغې را ودانګل او لاسونه مې یې په اوښکو لړلو سترګو پورې کړل. ما
دځانه سره ووېل، عاشقي دې ته وايي، نه د جمالو په شان چې هر څو مره
یې ټنګوم، نه مې لاس نیسي، نه را رسېږي. په سبا یې بې غږ غوره مخ په
ولایت روان شوم، والي صیب د ولایت د دروازه وان په وینا پس د
ماسپښین تر لمانځه دوه ساعته قیلوله خوب کوي او فرمایلي یې دي چې
احد من الناس یې را پانه ځوي. د دېوال شاته کښېناستم، په همدې کې یو
ږیره ورچې ولایت ته ننه ووت، په ما یې چې سترګې ولګېدې، راغی،
« ته ډاکټر کمال نه یې؟ » ما ونه پېژاند، د ږیرې د لاسه تول نارینه داسې
سره ورته ښکاري، لکه د یوه ماشین نه چې راوتلي وي. ده را باندې غږ
کړ، « زه خه واني، ستا د لیلیې ملګری یم، یا ددې دې چې تا او هغو دوو
نورو جېکرانو دېمور ته سندرې ویلې؟ کله دامریکا نه راغلې؟ » پس له
روغبړ مې ورته دمجلې د مېره خبره وکړه، خو هغه هېڅ ځواب را نه کړ، تر
لاس نیولی یې خپل دفتر ته بوتلم. هلته مو چایې وڅښلې او پخواني
یادونه مو تازه کړل. اوس ورد ګ خه واني لوی مولوي، لوی طالب
او دولایت لوی چارواکی و. مازیګر یې والي ته بوتلم او دیوه لوی ډاکټر او
عالم په نامه یې معرفي کړم. والي چندان زما په کسب کې رای ونه واهه،
بلکې د ابن سینا الشفا د څلورو عنصرو او د هر یوه سره د تړلي جسمي
حالت بیان یې راته وکړ. ورپسې عرض او جوهر ته شو او که چای نه وای
راغلی، خدای خبر که به په اسانه ورنه خلاص شوی وای. پس له چا یه لاړ



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

اوداسه ته.نا چار زه هم ورسره پاڅېدم. ترلمانځه وروسته يې په يو څه ترمه د مېلمه پالنې په لهجه وويل،« ښه ډاکټر جانه، څه امر خدمت دى؟ » ما ورته د اوزبکې نجلۍ کيسه بيان کړه. هغه خه واني ته کړه،« دا خو به هماغه کړتنه نه وي چې تل د دروازې نه بهر په ژړا ولاړه وي؟ » خه واني د هو په علامه سر وخوزاوه. نو بيا يې وويل،« دا ځوان د دوستم په ډله کې و، بيا د جنرال مالک سره د هماغو خلکو په ګروپ کې و چې د دشت ليلي په قتل عام تورن دي. ښځه څه وايي؟ خاوند يې په خپله ژبه، بې د کوم اکراه او اجبار نه اقرار کړی دی، اوس ته راغلی يې د همدغه سړي شفاعت کوې؟ » ما وويل،« دده نه، د خپلې مريضې شفاعت کوم؟ والي حياناکه موسکا وکړه،« ستا مريضه خو بندي نه ده. » ما وويل،« زړه يې بندي دى. زه د عقلي ډاکټر په حيث پوهېږم چې که د خپل خاوند سره يو ځای. نشي، نو که مړه نشي، په ليونتوب کې خو يې شک مه ګڼه. » والي ډېره شيبه را ته خير و او بيا يې د ساړه اسويلي سره وويل،« ډاکټر جانه، هسې مې مه ګڼه چې د مينتوب په زور نه پوهېږم. د قتل نفس په ګناه هم خبر يم، خو دغو ظالمانو دري زره طالبان هېڅ بې هېڅه ژوندي ښخ کړي دي. زه به خدای ته دهغو څه ځواب وايم؟ » ما وويل،« زه ستا په ځواب نه پوهېږم، خو دومره پوهېږم چې زما مريضه د مرګ يا تر هغې بتر، د لېونتوب په درشل ولاړه ده. هغه ماته په ننواتې راغلې او ما تا ته اسره دروړې ده. » والي را تاوډبده،« ته ذمه وهې چې ددې خاوند په قتل عام کې برخه نه درلوده؟ » ما وويل،« نه، بس د خپلې مريضې ذمه وهلی شم چې يا مړې



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

یا لیونی کیږي » والي یوه شیبه څیر راته وکتل او بیا پاڅېد، « ډاکتیر صیب اوس خو ناوخته دی، د مېلمستیا دې پوروړی یم. » ما نا رخصت یې کړم.

ژرندو کې نجلی به هره ورځ د معاینه خانې په لار کې راته ولاړه وه خو زه به ښوی خپلې کوټې ته تیر شوم. څو ورځې ورکه وه. یوه ورځ، د کوټې نه بهر شور زوږ شو. چا د یوډا څوکیدار د اجازې نه پرته، په غرب، دروازه را خلاصه کړه، د سترګو په رپ کې ګورم چې نجلی او هلک مې پښو ته راپریوتل او بیا یې زما تول وجود په مچکو لوند کړ. خو زه، تر هر شي زیات د والي میرانې ته چرت وړی وم.

په همدې هفته کې د تاشکنت نه بله بسته راورسېده. پکې دارو درمل اود تام، آتینا او وینډي لیکونه وو، هغوی د خپل فېکس او اي میل لمبر ونه هم را استولي وو، یو څه روپۍ یې هم. دلنډیو د چاپ له بابته، د یوه مزاري تاجر په حواله را لیږلې وې. تام اوس د اوهایو د یوه عصبي کلینیک ډاکتیر و. آتینا خپل مونوګراف پوره کړی و، چې څو میاشتې پس به یې دفاع کوي او زما نه یې دعا غوښتې وه.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# « ۳۵ »

دغسې پښنو مې فکر بوخه په بلې کاوه، خو دا تهول د ورځې د تبښتې لارې وې، شپه تهوله د جمالو وه. هېڅوک يې نژدې نه را پرېښودل ، لکه راته وايي چې،« زه تهوله‌ستا نه يم، خوته تهول زما يې! » په تقريباً هر شي کې مې دا ليده. دکاله تهول شيان، د پيالې نه نيولې د بالښت ترېنکو، د مزار د گونبد نه تر سپينو کوترو پورې، تهول د بخت جمالې د تصور لوښي وو. مزار ته زما د راتگ د وختـه، ډاکتـر عـاطفي، خپله خښـينه، ماه رخسار، راته‌لره بره کوله. له يوه نظره خوښايستو کې وه.مخ يې گرد لکه د کوچې د پوخې کلچه، سپين ،ښوی، ډاکتر راباندې پوه و او لکه‌چې په دې هيله و چې گوندې د جمالو مينه د ماه رخسار په مينې بدله شي. مگر زه د بل قفس مارغه‌وم. د ډار خبره داوه چې کله‌کله به‌د ناروغ د منعابنې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

او تشخیص په وخت کې د فکر بهیر رانه بلې خوا ته وښویږد، مریض به راته رنې رنې کتل چې ډاکټر په کومه سر شو! د هغه سلیمانخیل خبر مې ستر ګو ته درېده چې خپل مریض ته به د غزنې ولیان راوننګوي. د ډاکټر روغ خبره را باندې ربښتیا کېده چې ویلي یې وو، چې نوره لار پاتې نشي نو بیا یې په زیارتونو ګرځوي. زه هم د مزار سخي د لبار ته لاړم، هماغلته مې پس له لمانځه سر ولګاوه او د ملا عبدالرحمن په اصطلاح، د استخاري خوب بووړم. خو چې مازیګر پاڅېدم هماغه د روند شی چې وم، لاوم. ډاکټر روغ ویلي وو چې، « په زیارتونو کې اول شرط پوره باور او اعتقاد دی، چې هغه درسره نه وي نو چې هر څومره یې سر په شناخته وسولوي، هسې بابیزه ده، د عصري طبابت هم اول شرط په ډاکټر باندې د ناروغ عقیده ده. ایمان، اعتقاد، باور یوازې د طبابت نه، بلکې د ټولنې د ډېرو ستونزو د قلفونو کلي ده. » دده خبره د کاڼي کرښه وه. بخت جمالي که په ما باور نه لرلی، هر ګوره یې درغېدو امکان نه و. خو په همدې وخت کې مې هېڅ بې هېڅه غوني زېږ شو عجب باور! ، عجب اعتماد! زه بو بې کوره بې سر نوشته مارغه وم او ثابته مې هم کړه چې بې شې، بې بدو د جمالو نه والوتم. درسته شپه مې د حمید مومند ترکیب بند نظم ګرداناوه.

« نن به شپه زما دیار په کوم مکان وي+ په ډېوه به یې د مخ څوک پتنګان وي. نشته ماغوندې بې پت څوک په یاری کې+ چې همدم نه شوم د یار په دا خواری کې+ په څه شان به غمزده درومي پر لارې+ په ګردونو آلوده سپینې رخسارې »، او بیا مې ټوله پارچه تکرار کړه، چې کالونه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پخوا به ملا لنده کی د جومات په حجره کې په کړنګ وکړونګ ویله، ما او بر مانیو زوتوله.

درسته هفته، په تېره د شپې، داسې ناکراره وم، لکه آس، چې خلک وابي، د زلزلې یا بل آفت نه مخکې په خپل شپېږم حس خبرېږي او له وېرې، یو بل قسم ته ششنېږي. دا دفراق اور نه و، نه بې سوی درلود، نه لمبه او نه لوګی، بلکې یو قسم ژوره بېوسي وه، لکه په خوب کې چې سړی د کمره نه راغونګار شي، همداسې پسې کوز را لوېږي، خو تل ته نه رسېږي. دڅانه سره مې وویل، کماله، ځان سره راټول کړه، دا تیوکې لګیا دي دربانديې پټاکې کېږي. خو چې هر لوري ته مې کتل، دامېد درونځه نه ښکارېده. ابې تیوله بې‌ېود. په همدې وخت کې مې په امریکا کې خپل ملګری تام یاد شو چې د فېکس لمبر یې هم را سره و. دخپل مزاري ډاکټر کور ته لاړم چې فېکس ماشين يې درلود. خو هغه وويل، «زه کمپيوټر هم لرم او انټرنېټ ته مې هم لاره شته، په هغې کې يې ورته وليکه.» ما وویل، «مزار ګوره او انټرنېټ!» ده وخندل، «دا لويه کيسه ده، بس ته دې د ملګري سره خپلې خبرې کوه.» نو ورته کښېناستم او د جمالو کيسه مې تیوله ورته تېره کړه او بیا مې د خپل اوسني حالت بيان ورته وکړ، مشوره مې وغوښتله.

په بله ورځ زما ملګری دروغتون نه راغی، اول يې ډېر وخندل او بیا يې د تام ليکلی ځواب را کړ. ما جدي پوښتنه کړې وه، خو تام د تیوکو او ښکنځلو نه ډک و. «وحشي افغان، کمال خانه، عجبه ده، ما ويل چې افغانان چې کمپيوټر ويني، اول يې بوبوي چې دا د خوراک شی دی که



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کوم بل څناور. اوس ستا سرحد لا انتهٰی ته ورسېد. د خدای شکرونه چې بالاخره دې ښځو ته مخه کړه، که څه هم چې ستا د دې خای ملګري یې اوس هم نه مني. » بیا یې د هغو عصبي ناروغانو په زړه پورې کیسې راته لیکلې وې چې دده کلینیک ته ورځي. ابله یې د اوږده لیک په آخر کې زما لیک ته اشاره وکړه او هغه هم نیغ په نیغه نه، بلکې په رمازه کې .« هغه ورځ مې په یوه کتاب کې ولوستل چې ...ینډ ...صبي ناروغان د خپلې غوټې نه داسې وېرېږي، لکه چې قاتل یې وي.

ډاکټر لره ښايي چې دغسې مريض د همدې قا... د مخامخ کړي، هله به پوه شي چې اصلي قاتل دده په ماغزو کې و. »

د قیامت په څېر د اورې اوږدې ورځې وې. معاینه خانې ته لاهم ډېر ناروغان راتلل خو زما زړه پکې نه لګېده. هسې د پام غلطولو په هیله پکې ناست وم. بهر هر څه په ځای ولاړ وو له کړکۍ حتې بنیادمان هم نه لېدل کېدل، د روضې شنه ګونبذه دلمر لاندې پرقېده، خو کوترې هم ورنه کوچېدلې وې کړکۍ مې پرانیستله چې ګوندې شمال مې د زړه تیاره یو څه سوکه کړي خو د تناره تود تاو مې په مخ ولګېد، ژر مې بېرته بنده کړه. په خپل حال پورې خندا راغله. د برماتو هغه خبر را په یاد شوه چې ویل یې .« زه چې کریا به او خپه یم نو بهر چې څومره تندر، ګرز او طوفان راشي زه ورته لا سو نه پرقوم، چې زلزله شي خو شکرونه باسم، چې ایله د دنیا هم زما د حال سره سور برابر شو. » هغه ویل چې دا د خدای قهر دی چې ته به د غوسې او کړاو په بڼ کې ورتېرېږې او بهر به داسې کرارې او



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

سوله صفا وي، لکه ته او ستا حال ذره قدري اهمیت چې نه لري. اوس په ما هم همدا حال و، نه تندر را لوېده او نه آسمان را پرېوته، حتی باد هم نه الووت. خو زما په زړه د جمالو مېنې نوکارې ښخې کړې وې او هېڅ خلاصېدن یې نه و. د مینې غم لاکم و، چې ورسره په دې شرم کې هم ویلې کېدم چې کلیوال به وایي، حتی ملا عبدالرحمن به شکي وي چې کمال د خپلې مریضې سره ګوتې خوږې کړې وې. راغی، څو ورځې یې ځان لر بر، د بو سو دسخي په شان وپرساوه، ځان یې مشر مشر کاوه، په آخر کې یې تور داغ پرېښود او ابسته یې تر پلل. په زړه مې تیاره ناسته وه. د پام غلطولو کوشش هم نتیجه نه ور کوله. همدا غه نیم بیت مې په زړه کې ګرځېده چې: وتښتم فشاره ځینې کوم پلو + یاره وفاداره ځینې کوم پلو. داسې کومه ډبوه نه وه چې اسره مې ور وړې وای. د ببوزلي په همداسې وخت کې ناڅاپه داسې بو لړ پېښې پرله پسې راغلې چې هر څه یې را باندې بدل کړل.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## «۳۶»

دسهار په لمانځه ولاړ وم چې ور خلاص شو او بوه سړه، د مزار د چړبانګ، وړمه رانوتله. چې سلام مې وګرځاوه. سالم جان و، چنغړ ک یې لړ بر کېده. پس له روغبړ، ددې د پاره چې د کلي کوم بد زبرى مې ورغ نوره هم ابته نه کړي، ژر لاړم، چا خوبنه مې په ګازي نغرى کېښوده، ګوګړ خبشته وه که څنګه چې په لس دو لس ګوګړو مې ایله د ګاز نغری ولګاوه.

دا ګاز د دوستم د باچایي پاتې شونی برکت و. خلکو ویل چې دا دسخي صيب کرامات و چې په دې دومره جنګونو کې پايپ لاین، چې بنخ نه و، هنسې د سړ ک سره غبر ګ، لکه بنامار، کوږ وږ، دوه سوه کيلو متره له شبرغان نه مزار ته سلامت را غځېدلی و.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

چا یې مو په کراره وخوړې، د مزاريو قسم وړې، گردې ډوډۍ چې په شودو کې لمدېدې او خلکو شیرمال بللې، د پوډري شودو سره زما همېشگې سبناري و. پس له چایو مې د لرا و بر پوښتنه کوله او چنغړک هم برسېرن څوابونه راکول. لکه نه چې زما پوښتنو ته شوق کېږي او نه دده څواب ورکولو ته. څو په زوره کې مې تماکې وې چې هسې تماکې! سالم جان هم په دې ببخونده ژبلویه کې زما نه کم نه و. پسلونه څنگه دي؟، والله ښه دي، پسرلي يو څه وريا وشود. للمه څنگه؟ والله د غنمو خونده نه وه خو ختهکي پرېمانه وو. برمانو په څه دم کېږو؟ ښه و غریب، بس د نورو په شان اخته و. مفتا جان ته دې خدای خیر ورکړي، څو ورځې يې تراکتور وريا ور کړی و. حاجي احمد لا ژوندی دی؟ هو، ښه په دمه کې دی، لور يې واده کړه، د پشم دین اوريا خپل زوی ته يې ور کړه. نور نو زما گوډی تش پاتې شو، توره ډال مې واچول، څنگه را پېښ شوې، گل سرخ خو هم تېر دی او که هسې زما ليدو ته راغلې؟ ده چې زما زمول حال ته وکتل نو نسواريې خولې ته واچول، جدي کښېناست. ما ددې د پاره چې سری شکي نشي، وويل،« نسواري ماما، دا څنگه لکه د نکاح شاهد نبغ کښیناستې؟ » خو هغه، لکه زما د توکې تکل بابېزه واخیسته. سر يې را نژدې کړ،« بدبخته، یاد دې دي چې درته ویلې مې وو چې د اور سره لوبې مه کوه، نجلی د مرگ د سلگو په پاوړی ولاړه ده، بس ستا اجازې ته گوري چې ور ودانگې او که نه! » ناڅاپه مې د تېرو څو ورځو بې خوبی او خپسې ته پام شو چې زړ بې هره شېبه د دغسې خبر اوريدو ته تیار کړی وم، دده



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پښاله مې ډکه کړه او بیا مې ، لکه چې دي بدخبر هیڅ اثر را باندې نه وي کړی وویل ، « ماته یې ولې وایې ؟ د همدې د پاره راغلی وې ؟ » هغه راته موسک شو ، « نو دا لاس دې ولې د نغري د لګولو په وخت کې ریږدېده ؟ » زه پوه شوم چې پوه دی ، خو بیا مې هم د وارخطایی د قابو کولو کوشش کاوه ، « د ملا په لور څه شوي دي ؟ » سالم جان د پیالې نه غوړپ تېر کړ ، « مرض یا بېړی کړی ، بیرته د مبوره ترې جوړه شوې ده ، د کندز ډاکټر ستنې ورکړې خو نجلی هماغسې مخ په خوړ روانه ده . » ما وویل ، « ولې یې ماته وایې ؟ ملا خو به په ما پسې نه وي را لیږلی ؟ » سالم جان وویل ، « نه ، زه خو کرمی نه یم چې پېغام وړه پیغام راوړه . » بیا یې زیاته کړه ، « که رښتیا مې پوښتې ، یو څه خو کرمی هم یم . د برمانیو په سلا راغلی یم ، هغه راته ستا او بخت جمالې داستان بیان کړ ، بس راغلم چې هم د دوستی دین ادا کړم او .... » نور غلی شو . خود سالم جان چوپتیا مې اور چې لا خوړ لن و ، په لمبو کړ . پاڅېدم . هسې بېواره مې بوټان په پښو کړل او د کوټې نه وتلم چې ده راپسې غږ کړ ، لیونی شوې که څه ؟ چېرته دې توله واخیسته ؟ » ما ورته وویل ، « ته کښېنه چای څښه ، زه زر بیرته راځم ! » د مزاري ډاکټر کور په ګاونډ کې و ، ورغلم ، میرمنې یې راته د چای ست وکړ خو زما تروړتیا یې چې ولیده نو یې خپل میړه ته چې لا د خوب په خونه کې و ، ور غږ کړ . هغه د خوب په جامو کې را ووت او چې ماته یې وکتل نو یې خپلې میرمنې ته په اشاره څه وویل ، هغه له کوټې ووتله . ما ورته د جمالو د حال کیسه وکړه . هغه ډېره شیبه په فکر کې شو او بیا یې وویل ، « بیا که



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

بریم! » ما وویل چې دده تګ ته حاجت نشته، یو مهلمه راته کور کې ناست دی. نو یې د دېوال د مېخ نه د موټر کلي واخیستله. د بوره بکس نه یې یو څه ګولۍ او ستنې را کړې. بیا یې څو کڅوړې سېروم هم ور سره کېښود. زه چې روانېدم نو مې ورته وویل، « فکر کوم چې دا خل مریضې کوم خطرناک لوري ته روانه ده. تا ویل چې فیکس اوای میل لرې. تمام ته وایه چې بېدار اوسه، بیا به غبر در باندې وکړم. »



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## «۳۷»

کله چې په ژوند کې دغمونو پر له پسې چپه راشي نو بیو وړو کی بنه شی هم زیری وي . دسالم جان خبرې مې زړه سوکه کړ چې ملا عبد الرحمان بېرته خپلې سمڅې ته ختلی دی. نومې د ایرگنه او آودان میرعلم په ځای سمه باچایی لار غوره وګڼله . دمزار نه ان تر پلخمري اوزاړه بغلانه پورې خوسړ ک صفا قیر (کړیږ) و . په لار کې سالم جان د کلې په حالاتو خبرولم، په فابریکه (صنعتي بغلان) کې مو دغرمې ډوډی وخوړله ، سخت خونده ور کباب و .

عجیبه وه چې په دې دومره ورانه ورانی کې هم پرېماني وه. هلته لا دوستمی پیسې چلېدلې چې ددولتی افغانیو نیمایې ارزښت یې و . علی آباد ته په رسېدو ، موږ ړه لار ونیوله چې په للمه او ده ویران تیرېده ،



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

مانا دکندز په لاره لانه ړو چې بیا به مجبور په خپل کلي تېر شوي وای.
جیب موټر دللمی او آبی پروا نه لرله، همداسې نبغ مې قریب سمڅو ته ور
خېژولی و خو سالم جان وویل، بهتره ده چې همدلته یې په خوړ کې ودروي
چې بیا کلیوال بله هنګامه جوړه نه کړي. بو بکس دداو بل ما واخیست،
دغاړې بسته مې چې تل به راسره وه، په اوږه وځړوله، وروختلو.

داخل په صفه باندې یو کټ و، بخت جماله پرته وه. ملا دکټ په بازو
ناست و، دهند نه راوړې زړې سپمي چشمې یې په تارونو ټینګې کړې وې،
سر یې دکیچه مار په شان دې خوا ها خو کړېده، په تلاوت بوخت و. زما په
لېدو، نه یم پوه چې خوشاله شو او باخپه، خو همداسې ما بوسه یې راته
وکتل او ویې ویل «آبی به کار ما، که نیایی بکار ما. »مړې اوبنکې یې
رواني شوې. بخت جمالې ته یې ګوته نیولې وه چې، ړنګه بنګه کالبوت، تر
بړستني لاندې نیمه پټه پرته وه. زما زړه ته دخپلې مور تلپاتې خبره نبغه
ودرېده چې په سختو شپبو کې به یې ګردانوله، «صورت ته تیږه شه! »ملا،
لکه چې ماته ځای خالي کوي، پاڅېد، خو زه هماغسې ولاړ، نجلۍ ته ځیر
وم. سترګې یې پرانتې وې خو هېڅ ته یې نه کتل بس حیرت وهلې پرته وه.
ملا وویل، «څه امېد یې شته؟ »ماځواب ورنه کړ. دبکس نه مې د سېږومو
یوه کڅوره، دخپل تک یوک سره راوابستل، اوبیا مې سالم جان ته
وویل، «هغه دملا امسا را واخله، دکټ دبازو پوري یې لکه کړه. »کڅوره
مې سر په ځیري ور پوري ټینګه کړه. ایله مې ملا ته و کتل، او تقریبا دامر
په لهجه مې وویل «دجب لاس لستوني یې ونغاړه. »مټ یې دکړ کې به شان



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

نري هډوکي و. چې مې لاس ور وړ، د ژېړ پوستکي د نري پردې لاندې، دشنو رګونو ليکې مې ږي ربړ دېدې. په توکل مې ستنه يوه لوى رګ کې ننه ابستله. څاڅکي خو نه، يو ه وړه پر خه وينه بهر را بوړ بوکې شوه، بس صحيح ځاى و. پاس مې په ډاګه باندې د سيروم د تو بېډو درجه سمه کړه چې په اول سر کې، درو ثانيو کې يو څاڅکي ورتوى شي، چې يو ځل بدن ته لار پرانيزي، بيا به يې پرې زياتوم. سيروم نور څه نه دي، مالګه او اوبه دي مانا پنځوس فيصده پروتين دي چې په د غسې حساسو شيبو کې چې مريض تکان يا شاک ليدلى وي، وينې ته وز تېرېږي. دشکرې يا ګلوکوز پوډر به ورو ستنه ور تېروم. جمالو، دملا په وينا، دا لس ورځې په ډوډۍ څکه نه وه کړې، نو سيروم ګويا د وجود خوراکي اړتيا هم د حاضر وخت د پاره پوره کوي. سيروم، وجود ته د قسم قسم دارو ګانو د تېرولو آسانه لار د هم دد. سالم جان ته مې وويل چې ته ورځه کور ته، خو کليوال به نه خبروې چې بيا به د لته اندوخر جوړوي. هغه ټکنى و، خو ملا ورته وويل، د ډاکټر خبره ومنه. «ما ملا ته په يو څه ترخه لهجه وويل،» ته هم ورسره بدرګه شه! «هغه ر اته حيران و کتل، خو ما په ترخه موسکا وويل،» چې په لار کې بې سپي و نه خوري. خو اول به د سمڅې نه لرې اوبه او الکين را باسې. «زړله يې ناونو ته خلاصوله، خو چې زما غوسه ناک مخ ته چې وکتل، بې غږ غوړد بې څراغ، د اويو منګى او څه وچه ډوډۍ را وايستل. ما ته يې د ببوسى نه خوله ويته کړه، مانا نور د خوراک څه نه وو. او د سالم جان پسې کوز روان شو.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ماښام را روان و. بر، د اشکمش په غرونو د لمر د تبي رنګ په سور کېدو و. ښکیه (کوز) ، په کلیو، د ماښام لوګجنه خړه هوارېده. زه چې د سفر ستړی وم د بخت جمالي د کټ په بازو کېښناستم. دا همداسې نامعلوم لوري ته څیره وه. ورو ورو مې ډاکټري بېرته را کتېدله. د ډاکټر روغ خبره راته ورېده چې د بدن علاج په دارو او عملیاتو شي، خو ماغزه د خدای جوس دی، هر څومره ماهر ډاکټر چې وي بې اودسه دې نه ورنژدې کېږي. د ډاکټر روغ د خبرې په معنا نه پخوا پوه وم او نه اوس، خو یو قسم بېوسي را باندې خپره شوه. دامریکا په یوه تلویزیوني فلم کې مې یو وخت، د افریقا د زمریو بچیان د ښکار په وخت کې وکتل. مور یې د ونې شاته ورته پټه وه چې وګوري سنګوتی یې د ببلېدو جوګه دي او که نه. په همدې وخت کې یو کیشپ خرامانه روان و، د زمري بچي ور ودانګل. خو کیشپ سر په خپله هډوکینه کوټه کې دننه کړ. د زمري بچي چې هر څه خوله پر لګوله، هر څومره یې چې په پاپېو دي خوا ها خوا تېل واهه، شي ترې بودنه شول. نو چې ستړي شول، شا یې ورواړوله. کیشپ بېرته خرامانه خپل یون شروع کړ. ما خپل حال د همدغسې زمري بچوزلي ته ورته لېده، له هرې خوا مې چې د برېد تابیه سنجوله، د جمالو ماغزو ته د ننوتلو رد، روودنه و. سیروم خو ماشومانو هم لګولی شو. یوازینی معلوم شی و او هغه مې لګولی و. په همدې وخت کې د تمام پیغام را په یاد شو چې ویلي یې و، اول شرط د ناروغ د باور جلبول دي. هغه ته، لکه چې دخپلې پوهې له مخې، زما او جمالو د مینې ښکالو ور رسېدلي وي، لیکلي یې وو « ورته



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

وایه چې دریاندې مین یم، بیا به، ودې شي چې که د ځان د پاره نه وي ستا د پاره ځان ژوندی وساتې. مینه د زړونو کنګل ماتوي. » په اتیا ته مې دجمالو یخ، بې سبکه، ژیړ، بښې لاس ونیو. ورو ورو مې سولاوه او په کرار غږ مې راز ونیاز ور سره کاوه. خو دا ځل هغه خبرې نه وې چې بو کال دمخه مې دهغې دعلاج په وخت کې ور سره کولې. بلکې زه هم پکې وم» دریسې خپه وم. دا ځلې به، چې په خیر روغه شې، د مزار سیل دریاندې وکړم. بس زه او ته به ځانله یو. دسخي جان شنې گونبدې لکه شین آسمان، سپینې کوترې، لکه جمالو، موټر مې هلته کوز دروليی، بس ایسته به دې بوزم. » خو دجمالو په لاس کې دګرمېدو هیڅ نښه را پېدا نه شوه. » پلار دې مهربانه سړی دی. بنه شو چې پاس یې را وخېژولې. دلته د کلي مچان، میاشې او ګندګي نشته، وچه سړه وږمه په ما او تا دواړو بنه لګیږي. » پام مې شو چې تیاره خوره شوې. لا لتهین مې ولګاوه او بېرته کښېناستم. د جمالو په مخ مې لاس را بنکه. ګوتې مې د غوږونو په پوڅکیو، او تنده ورتیرې کړې، د ړنګیو وېښتانو پیکی مې سره را ټول کړ. د امریکا دهغې نجلی کیسه مې ورته تېره کړه چې د سرطان ناروغی یې ټول وېښتان ور رژولي وو، خو چې علاج یې وشو، بیرته دا ځل تر پخوا ګڼ، راشنه شول. دتام پیغام مې ورته تیر کړ چې په ما یې دین پرې ایښی وچې بخت جماله چې روغه شوه نو بیا دې شوندې سرې کړي. په یوه کاغذ باندې دې، لکه تا په ولګوي، ما ته یې را واستوه. په دې ټول وخت کې مې بو لاس ددې په لاس پورې ټینګ و. به آرامه غږ، چې زما



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

د تلوسې ببلګه پکې نه وي، وويل: «که زما خبرې اورې نو مې لاس کښېکاږه!» هېڅ حرکت مې پکې ونه لېد. پاڅېدم، د سيروم د توييدو درجه مې زياته کړه. د ښکاره نه مې ډوډۍ را واخيسته، وچ ګکړ و. يو کنډول مې د منګي نه راډک کړ. بېرته کښېناستم. ډوډۍ مې لمدوله او چکونه مې تريې کول. يو ځل بيا مې په يوه لاس د جمالو د مخ، غوږو او تنډې زيارت وکړ، بل مې ددې د مړوند پورې ټينګ و. هوا سړه کې سړه کې لګېده. پرستن مې ترستونی ورته جګه کړه او ومې ويل: «په بغلانو کې چې مې حلاله مرداره ډوډۍ خوړلې، نوره مې څکه هم نه ده کړې. نه ګورې چې د لوږې نه په وچې ډوډۍ خوله لګوم؟» خو هغې هېڅ حرکت ونه کړ. بيا مې وويل: «ستا د لاس ننګولی مې ډېر يادېږي، هغه اوله ښوروا چې په ګډه مو سره همدلته وخوړله.» حرکت نه و، خو دربړد په شان شي، هغه هم نه و، درګ ورزېدا ته ورته ښکالو وه چې يوازې مې لا سونه پرې خبر شول، يا به هسې زما خپل خيال و. خو همدا کرښه مې ونيوله، «نه پوهېدم، زړکه وه چې ملا صيب ښکار کړې وه، او که خدا زده چې به بابنه وه يا مېنخورک، خو زورور خوند يې وکړ، په تېره چې تا ما ته کتلې او مړې دې زما په خاطر پورته کوله.» پوه نه شوم چې بيا زما تصور و او که په کراره يې زما ګوته زور کړه. د يو څه امېد د سره پاڅېدم، په سيروم کې مې د خوب د دارو پنځه څاڅکي ور پېچکاري کړل، بېرته کښېناستم او يوه اوږده شېبه غلی وم، په ډوډۍ مې شخوند واهه. بېرته مې بوا ږخېږه مرکه شروع کړه.: «ته خبره يې چې د کلي خلک، څينې



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

راته ډاکټر ډانګ وايي، ځينې مې د نګ کمال خان بولي، ستا خورينګو به هم ملنډې را پورې وهلې.... » په همدې همدې کې مې کټ‌ل چې د بخت جمالې سترګې پټې شوې، لکه چې دخوب د قافلې سره د غبرګېدو تابيه نيسي. د للو بدله خو مې نه وه زده، خو په پيکي مې لاس ور تېراوداو په کرار غږ مې دا غزله ورته په لنډېز کې ويله چې،» دا نيم زړګی مې تاوړي دی غوړه پېکيه، دانيم! » هر څومره بې چې د خرېدا غږ نرۍ نرۍ او چتېده. بدله مې دهغې سره غبرګه وروکوله. چې په آخر کې هغه د خوب په سفر ګډه شو، زما سندره هم د لکيور ستورې په شان د آسمان په شنې ور شوه کې ډوبه شوې وه. لالټين مې سمڅې ته يو ووړ، دوه برستنې، يوه نيالېچه مې چې ديوال ته تکيه وه، را وابستل، د کټ سره نژدې مې وغوړول. وروستی کار مې چې يادېږي، داو چې د سيروم کڅوړه مې، چې نيمايي ته را کمه شوې وه نوې کړه، د لالټين پلته مې ټيټه کړه، د جسمي او دماغي ستړيا له امله وکه بل څه، نور نو د وينې پاتې کېدو جوګه نه وم.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

« ۳۸ »

سهار، لکه چې الهام را باندې شوی وي، په وارخطایی را پاڅېدم، د سېروم کڅوړه په ختمېدو وه. ژر مې بله کڅوړه ور واچوله، دا څلې مې درې ځاڅکي ویتامین ور زیات کړل. خوشاله شوم چې بخت جماله وېده وه. بیا سودا راودرېده. لاس مې د هغې خولې ته ونیو، یو څه تاو ترې خوت. په بیړه مې اودس وکړ، پس له لمانځه، مې هرې خواته کتل چې که د چای د تیارولو بندو بست وشي. په همدې وخت کې ملا را پیدا شو چې کړوپ کړوپ پاس را خېژي. ور سره دا ځلې برمانو و. غاړه مو ورکړه او په همدې حال کې برمانو په غور کې راته وویل، «څنګه یې د رتلی سبې په شان بېرته راوستې!» ما ونه خندل، ملا یوه خورجینه له اوږو بښکته کړه. دهغې نه یې د تغر د اوبدلي دسترخان بسته را وابستله، په مڅکه یې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

وغوروله. اته ګردي دودی به هره خوا وشنلي، برمانو هم تش لاس نه وراغلی. په یوې کتموی کې به شودې راخېژولې وې. په بوه بل کندول کې پرند پېروی و. تر څو د چای اوبه ایشېدې، ما په خپلې برخې پېروي شندي وکړي، د دوو دوه دوه یو سره مې تالی پاک کړ او بېرته مې په خندا برمانو ته ګوزار کړ، «د دووس سړی به پېروي خلاصېږي!» برمانو تالی په هوا کې قاپ کړ، ویې موسل، خو د ملاله شرمه یې ځواب را نه کړ. د سهار وړانګې د سمڅې په چوترې را غځېدې چې جمالو راویښه شوه. نور حرکت نه وخو سترګې یې پرانیستې او بېرته خپل نامعلوم طرف ته خیره شوه. زه پاڅېدم، برمانو ته مې هم اشاره وکړه، ملا ته مې وویل، «آپلو تر جیپه ورځو. ته به بخت جماله، یو څه پرېمنځې. بس توته په اوبو کې لمده او ددې وجود پرې مېنځه! بېرته راځو.» چې موټر ته ورسېدم، برمانو یې سیټ کې کېناست. زه بېر ورته ودرېدم او د للمې وړمه ناک لر ته مې هدو کې سره اړول.

برمانو وویل، «دانګه، دا څه زنده ناچ دې شروع کړی، د امریکایانو سپورټ به همداوي؟» ما هېڅ ونه ویل، بس دناستې، لاړې شمېره مې دووسوو ته رسوله. یو شی چې ما هېڅ کله نه دی قضا همدا سپورټ دی چې هر سهار یې تر لمانځه وروسته کوم. برمانو ته مې وویل، «دا ستا خبتیه چې لکه بنی پر سبدلې ده، تول د همدې کسر دی چې نغرې او وبدیرې، نغرې او وبدیرې. داسې وخت به را شي چې د قیانوس په شان به دې خبتیه د ومرد په ... راشلمه شي چې زیاتې به دې د وربنداري سره مامله



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

مشکله شي. » ده وویل ،« ته همداسې نڅاوي کوه ، مست ینده ګرځه ، حلاله مړی دې په خپله شونډو ته در اوچته شوه ، خو تا یې د خوړلو نرتوب ونه کړ. » زه یې په خوی بلد وم ، نومې د اصلي خبرې په انتظار څو ځله نور هم ناسته ولاړه وکړه او مردمې پوره کړه. برمانیو د موټر نه ووت ، دواړه د غونډۍ په ژۍ کښېناستلو او برمانیو خبره شروع کړه. « لالا ته به ډېرې پوښتنې لرې. چې ولې ،څنګه اوچا بخت جماله دې مرګاني حالت ته راوسته. زه د ټولو دپاره ځواب نه لرم خو دومره به ووایم چې دنجلی ناروغي بېدو په هماغه شپه شروع شوه چې پلار خبر ورکړچې د نو روز کشرۍ زوی ، ګلروز ،ته دې په نامه کوم. بس دهمدې ګوابن په سهار نجلی له کوره تر پلل ، د حاجي احمد په کور بې ننواتې ور وړه. » ما یې خبره پرې کړه ،« لږ بریک شه استاذه ، کوم ونه مه اچوه ، ته وایې چې د ملا ګوابن او دنجلی تبښته په یوه ورځ کې وشول ؟ » برمانیو سر دهو په علامت وښوراوه. ماوویل ،« ښه ، ته نو دا دواړه پېښې سره تړلې بولې ؟ » بیا یې سر وښوراوه. « ددې نه داسې ښکاري چې هم نجلی او هم ملا په دې خبر دي چې دبخت جمالي خوښه دې نژدیکت ته نه وه. همداسې ده ؟ » برمانیو وویل ،« څه تحقیقات دې شروع کړي. ټول کلی پرې خبر دی. داسې مه ګنه چې موږ بېسوادان به نو دوه او دوه نه شو سره جمع کولی. ته به ډانګ یې که بله بلا خو کلیوالو ستانیکي هېره کړې نه وه ټولو یې په پلار پړه اچوله چې ولې یې نجلی تا ته درنه کړه. حاجي احمد خو تر هغې وترټه ، چې بېرته یې خپلې سمځې ته وشاړه. ایله یې لور وروپېښوه. » ما وویل ،« نو ګلروز



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

بیا څه شو ؟ » برمانو تنده تر یوه کړه .« اره مونی به چېرته ګرځي ، لکه کوڅه ډب سپي ، خو دده په پلار هم دا ابنبودل شوي وو چې نور به هلک دي توابي ته سرنه ورښکاره کوي. نو لکه چې اشکمش ته یې تر پللي دی ، هلته یې د پلار څه مځکې جایداد ، شته ، همالته به وي. » ما وویل ،« دادي شوه په دي ، نو اوس یوه بله پوښتنه لرم ، هغه دا چې آیا بخت جمالي زمانوم یاد کړی دی ، همزولو ته ، یا نورو ته یې څه اشاره رسولې ده ؟ » برمانو وویل ،« بچو ، دا امریکا نه ده . پښتني نجوني که مري هم دمینې اقرار نه کوي او چې ویې کړي ، هم زه خو ستا جاسوس نه یم چې د دېواله تر شا به مې غوږ ابښی و او بیا به تا ته حال وایم . » ما وویل ،« نو بیا ته څنګه نتیجه اخلې چې بخت جماله په ما مینه ده ! » برمانو جدي شو ،« خدای چا نه دی لیدلی ، په قدرتونو یې پېژنو ، یا دا خبره ریښتیا ده چې جګ قدې بېراوی او ته هسې ارهنده یې ، خدای لکه چې د عقل په ځای هم جګ قد در کړی دی . » زه پاڅېدم ، برمانو مې له مټ نه ونیو ، را پامې څاوه . په ریښتیا یې خبره یو څه شلمه شوې وه . ومې ویل ،« برمانیه یاره . زه چې دا پوښتني کوم ددې د پاره چې هغه څوک یا هغه شی پیدا کړم چې د عصبي ډاکټرانو په اصطلاح د مریض مدعي دی باید بخت جماله د مدعي سره مخامخ کړم . نور تفصیل نو ستا تر سویې اوچت دی . ملګریه ، زما مننه او تشکر نه دي زده ، راځه چې د مریض حال وپوښتو . زه چې فکر ورته کوم ، دا ځلي یې رغېدن زما په کتابونو کې سخت راغلي . » خو برمانو د پاس په ځای کوز مخ په کلي ، روان شو ، مخ یې راواړاوه او ویې ویل» ته خواوس



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د پوهنتون د وخت په شان، په هاستل، لیلیه کې اوسې، نو زه به تاسو ته د قیام وطعام انتظام وکړم.»

بخت جمال د پرون په شان بې منجاله پر ته وه. ملا سیرډم تری لرې کړې وو. د مینځلو نه یو څه خیشته بنکاریده. رنګې ځمې بې د کټ نه کوزې زنګیدې. پلار بې زما په لیدو، لکه چې رانه تښتې، بهرته سمځې ته ننووت. د سیرومو یوه نوې کڅوره مې په بازو کې ورتینګه کړه. درې قسمه ویتامین مې، داخلې لس لس څاڅکې، ورکې توی کړل، د کټ په بازو کښیناستلم او بیا مې د دې لاس ونیو. درې ساعته ور سره په خبرو بوخت وم، ایله مې بیا د دې په لاس کې د ېبزند ګلو حرکت ولید. زما د خبرو نه اوس الف لیله جوړه شوې وه، یوه کیسه به مې را واخیسته، خو هیڅ کله خته نه شوه، یا به جمالو خوب وړې وه، یا به برمانو، یا ملا راغلې وو. پرون مې به کیسه کیسه کې خبر په روسانو را وستله چې څنګه په تښتیته لاړل او څنګه یې خدای خپل ملک ورپرنګ کړ. د روسانو د لوږې او بدحالې خبرې مې ورته وکړې، او ومې ویل چې دافغانانو آزار وریسې دی. نمت مې دا وچې ررو ررو د خوږ ځای ته ورلنډ شم. خو، لکه چې نجلې لا تیاره نه وه، بس، رنګه بنګه پر ته وه. نو مې د خبرو واګې بهرته د خوږې وادي ته، د شیخ حسین دغارې کڅورې ته چې رنه مالګه یې ترې رابکله او څښله، حاجې اسحاق ته چې دومره خدای ترسه وچې کنګل او واوره به یې هم په تول خرڅول، د آمو د سیند تپاپو، در قد ته چې



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

سا رایې چرګان ورکې په لاس نیول کېږي، واړولې او پام مې شو چې ورو ورو مې په ورغوي پستې لیکې را کاږي. د سیروم کڅوړه یې لا دمتې پورې تېښګه وه.


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

## « ۳۹ »

پوره په پنځمه ورځ، بخت جمالي په اول ځل زمونږ سره ښوروا وخوړله. پلار يې په عذر ويل چې غير له ښوروا مې نور پخلي نه دي زده . ما ويل، داوس د پاره ښوروا ښه ده، ښه هضميږي. خو سبا بازار ته لاړ شه، څه غوښه، وريژې او ترکاري واخله، د سالم جان کور ته يې يوسه چې ښه پسته د غوښې وريژې (بته) پخه کړي. سيروم مې لرې کړ دهغې په ځای مې ويتامين او يو څه د خوب دارو په اوبو کې ورکړل. سهار د وخته ملا سبناري ته پاڅولم او پخپله کوز بازار ته روان شو. جمالو، يو لاس تر سر لاندې، بل د کټ نه ځوړند، زلفې پريشانې ، په درانه خوب پرته وه. ما چای خوړ او د راتلونکي ، د ملا خبره د ماسيکون په اعتبار مې چې ورته کتل، د ښايست مخې يې نه و. په همدې کې دې سترګې و غړولې او زما



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

خبرتیا یې چې ولیده، نو کمزوري موسکا یې وکړه، لکه چې شرمېږي، شا یې را واړوله. لږ وروسته یې په کمزوري غږ وویل: «هغه دوربین دي لا هم شته؟» زه پاڅېدم، د بکسې نه مې را وایست. ښېښې مې یې پاکې کړې. چې ورکاوه مې، نو سپي راته نیمه برګ وکتل خو را پانه څېد. دې سترګې کوز کلو ته نیولې وې. دوربین مې چې لاس کې ورکاوه وریاندې دروند شو، بیرته یې را پرېښود. نو زه ور تېر شوم، په بازو کېښناستم، دوربین مې برابر کړ او بیا مې د هغې سترګو ته ونیو. هغې په یوه لاس تر هغې زما لاس ته لاړ ښودنه کوله چې فوکس یې برابر شو. کوز په شولګرو او جوار ګرو کې، ورو د نري باد سره، نرمې نرمې، څمې اچولې. مانه غوښتل چې د برو په تېرو خاطرو کې را ګیره شي، نو مې وویل: «څمې به دې کله تر زنګنو ورسېږي؟» هغې پاس را وکتل، یوه شیبه راته څېره وه او بیا یې په نخرو پیکي څنګ ته پورې واهه: «دڅانه و پوښته!» ما وویل: «یره زه خو اټکل کوم چې شولې لو کېږي، تر ملا، چې پایکو ته څي نو تر زنګنو او چې اوله واوره راځي تر پاړکیو.» «بیا جدي شوم: «ته خو رکه روغه وې، ولې بېرته داسې شوې؟» هغې هم په جدي غږ وویل: «ته به خبر یې، زه څه پوهېږم؟» ما وویل: «د هر چا ګناه چې وه، وه به، نور څه یې ونه کړل، زما او ستا کار یې یو څه مشکل کړ، او س به د لاس غوټه په غاښو پرانېزو.» هغې وموسل: «خو بیا ستا، زما پکې کار نشته.» بیا یې زما د لاس ورغوي ته ګوته ونیوله: «دا ولې موړه دی؟ ما ورته د هغې کیسه وکړه چې په ماشومتوب کې د دروې د تورلو په وخت کې چاړه رانه



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

په ورغوي برابره شوه. په زړه کې دې خبر راباندې خوړه ولګېده چې زما
لاس ته يې هم پام دی، او دا اول ځل و چې ما ته اشاره رسوي چې يوازې
مې ستا پاکتېږی ته پام نه دی، تا ته مې هم پام دی. بېرته دې پوښتنې ته
راستون شوم،« ولې دې کار نه شته، ناروغه هم ته یې او جوړېدن هم په تا
پورې دی. » هغې په مينه راته وکتل،« ته چې بېرته راغلې، اوس به هر څه
خدای سم کړي. » ما دلوستي کتاب مطابق د هغې د نيت د معلومولو د
پاره پوښتنه وکړه،« ته په ما اتبار لرې؟ » هغې د خندلو کوشش وکړ خو
ټوخلې ورغله،« هو. » زه پرېښبودونې نه وم،« څومره باور؟ » بيا د ټوخې
حمله ورباندې راغله. سپی بيا را ته برګ شو. زه ودرېدم چې يو ګيلاس
اوبه ورته راوړم. چې راغلم، يو لاس مې شا ته ورتکيه کړ، کښې مې نوله.
يو غورپ اوبه يې وڅښلې او بيا يې وويل،« ټوخله مې د زړه مراندې
خوړوي، که ته مې اوبا ټوټې کړې، په تا دومره اتبار لرم چې بېرته به مې
سرد کوشېر کړې. » د ځانه سره مې وويل، زوی يې مړ کړې په داسې اتبار.
په خندا مې وويل،« دا خو تيار شعر دی چې ته يې وايې، دا دې له چا زده
کړل؟ » هغې په يو څه غوسه ناک غږ وويل،« نور دې مه کړوه! » زه پوه
شوم چې ما ته د ملامتی ګوته نيسي. دا څو ورځې مې چې دخدای وسې
وکړې د تام مشوره مې نه شوه عملي کولی چې جمالو د خپل مدعي سره
مخ کړم. نو په سبا مې د جمالو نه د يوې هفتې رخصت واخيست. هغه
ترورد شوه او ويې ويل،« بيا روان يې؟ » خو چې يې زما جديت ولېده، نو
باور يې راغی چې خپله وعده به وساتم نو په جيب کې بېرته مزار ته روان



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

شوم . هلته مې تام ته تپوله کیسه ورفبکس کړه، په هماغه شپه فبکس راغی، بس دومره یې لیکلي وو چې « دارو مې در استولي . ورسره زما ملاحظات هم شته. » په بله ورځ مې د دارو بسته چې تام را استولې وه، واخیسته، دخپل ډاکټر ملګري سره مې په بېړه خدای پاماني وکړه، موټر ته مې اکسلیټر ورکړ. ماز یګر سمځو ته ورسیدم. خو جمالو، لکه ما چې پرېښې وه هماغسې بېحاله پرته وه. ما ملا ته چې ستړي مشي یې راکوله سر وبنوراوه، بیرته مې سېروم ولګول، څو څاڅکې د خوب دارو مې ورسره کړل، او د تام بسته مې پرانیسته.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

«٤٠»

تر تقریباً نیمې شپې مې د تام‌را استولې پاڼې او د دارو د هر بوتل هدایتنامې لوستلې. ورو ورو مې سر خلاصېده خو ویل مې دا به سهار ته پرېږدم. نو مې دجمالو سېروم تازه کړ، په بړستنې کې مې پټه کړه او ستومانه په تغر پرېوتم. سهار چې ملا چای راوړ، او د تګ تابیه یې نیوله ما ورپسې غږ کړ،« ملا صیب ته لړ. کنبنبه چې بو دوه پوښتنې لرم.» ملا په وارخطایي راته وکتل،« خیریت خو دی؟» ما وویل،« خیریت نه دی، کښېنه!» ودې شی چې زما په څېره کې یې غوسه لبدلې وي، ځای په ځای کښېناست، ما وویل، « بخت جماله خو یې نه وایي، نو ته راته ووایه چې ددې مور په رښتیا ځان کوز ورغړاوه او که تا پورې وهله؟» ملا ترور شو، جمالو ته یې وکتل،« راځه هغې بلې سمڅې ته لاړ شو. د جمالو په



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

مخکې دا خبرې نه دي. » ما وویل. « هغه وېده ده او که وینبه وي، لا بهتره ده چې وایې ورې. ځواب راکړه! » ملالاسونه ومروړل. « ما درته پخوا هم ویلي دي چې زه به هرڅه یم خو قاتل نه یم. » ما وویل. « قتل تر قتله دی، ځینې یې په کلاشنیکوف وژني، ځینې په زهرو، ځینې بیا د ورېښمو مزی په لاس کې ورکوي، خو داسې یې تر منتر لاندې راولي چې خپله ځان ته زندې واچوي. تاڅه وکړل؟ » ملالکه ځبلي ماشوم په قهر وویل. « ډاکټر ګله، ته خپله تداوي کوه، په ما کار مه لره. همدومره پېغور بس دی چې دخوانې جانې لور سره دې یوازې پرېږدم، او که دې په مرض سر نه خلاصېږي، نو ورځه الله دې مل شه، زما خپل کور دی، خپله مې لور ده. » خو ما ورغوڅه کړه. « او خپل دې ناموس، چې دکمره نه دې ګوزاره کړه. » ده په قهر وویل. « ته بیا چا قاضي کړې؟ زړه مې وايي چې همدا اوس مې رخصت کړای. ته ډاکټري کوې که دې بل مقصد دی؟ » ما وویل. « ته ربښتیا وایې. زه دې د نورو سره کار نه لرم، دومره وایم، زه هم نه بلکې زما کسب، چې ناروغ باید د خپل مدعي سره مخامخ شي او اوس حاضر زما ناقص عقل تا ته ګوته نیسي. » هغه هم لږ نرم شو. « نو ولې مې ولایت ته نه کش کوې؟ » ما وموسل. « زه خو څه د ولایت پولیس نه یم! ستا خبره مازې ډاکټر یم. بس مازې راغلی یم چې خپل مریض روغ کړم او د دې مرض مورینه ته یې ببغمه اوسه چې بخت جماله روغه شود، بیا به مې په سترګو هم ونه وینې! » دی غلی شو. د کټ نه د جمالو بنکالو راغله. سبې هم، چې د کټ لاندې وېده و، سر راجګ کړ. په ملامې زړه وسوځېد.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ومې ويل،« ته خو چېرته روان وې، نو ورځه خو بو واري د سالم جان کور ته سر ورښکاره کړه چې دغرمې بندوبست يې کړی دی که نه! د مزاره وری راغلی یم. » ملا چې لهصفې کوز روانېده ويې ويل :

« ډاکټره، حکم دې که سم هم وظالمانه و. »

په راتلونکو پنځو ورځو کې مې په جمالو باندې خپله نوې زده کړې تجربه کوله. ډاکټر روغښه ويلي وو چې د بنيادم ماغزه د سقاو د زوی فوټو ته ورته دي. سقاو تل دوه قطاروزمې اچولي. تېرې را ببرې لکه د X علامه يا لکه ماشوم چې په ورونې کې په سوزنې برابر وتړي.... د ماغزو ښۍ خوا د بدن کينه خوا اداره کوي او کينه خوا يې د دوجود ښۍ خوا گويا خدای تعالی بنيادم د ماغزو سره د ترنګلي پالنګي کټ په شان اوبدلی دی. چې د روحي تکان په وجه دغه مزی، دغه بوڼ، سست شي، نو دلنګې دمضبوطولو د پاره ډاکټران قسم قسم طريقې لري. يوه يې چې د تام په پانو کې راغلې وه، ډاکټر شاپيرو کشف کړې وه، EMDR يا د سترګو دحرکت دمعقولولو طريقه ده. دا آسان کار دی، که نور څه نه وي، يو پنسل د نا روغ مخې ته ونيسئ او له ښې نه يې کين، او د کيڼ نه ښي لور ته يې ښوروئ. د مريض نه غواړئ چې دا حرکت په سترګو تعقيب کړي. مريض د ځانه نه وي خبر چې په همدې همدې کې يې ټول بخواني خاطرات بو په بل پسې را وکتېږي. تر اوسه خو مريض د هغې نه د نبيتنې اوهېرولو کوشش درلود او ټول دغه بدخاطرات يې دهاپيو تله موس په تحويلخانه کې ( چې ډاکټران ورته هاپيو کيمپس يعني دهاپيو



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

انګړوایي) اچول چې هلته کنګل شي، او تر څو مریض ژوندی وي، بیرته را ونه وزي. ډاکټر یې باید بېرته راوباسي. دهمدې دپاره مې په اوله ورځ جمالو ته یوه د زولوفت او یوه د پروزاک ګولی ورکړه چې شپې ښه خوب وکړي او سهار آرامه را ویښه شي. په بله ورځ مې ددې د لاس ځنځلو مه له جېبه را وایسته، ددې مخ ته مې د تار نه نیولې زنګوله او دې هم له یوې خوا بلې ته ورته کتل. په عین حال کې مې خبرې کولې، «څه ښایسته ځنځلو مه دې راته ګنډلې، تل یې د تاویز غوندې د سینې د پاسه ګرځوم، ګوره چې څه په خیال زانګي. » پس له پنځو دقیقو مې یوه کمزورې د آرامی ګولی د اوبو سره ورکړه. ساعت ته مې وکتل، چې پنځه دقیقې استراحت وکړي. بل ځلي مې بیا ځنځلو مه سترګو ته ور زنګوله.

دا ځلي اصلي موضوع ته لاړم. ددې د مور د شکلا نه مې پیل کړه. د روسانو راتګ ته مې ورسوله. بیا مې د روسانو د بریدونو سلسله چې هغوی ورته عملیات ویل، راواخیستله. روسانو په کلي برید ښخ کړی دی. دا وړې ورځ ده، د ټانکونو کړچهار، د کلاشنیکوفونو ګړزهار، د اورونو لوګي او لمبې، د خلکو تېښته. . . . بیا مې نو جمالو ته وویل چې دا کیسه را ته ختمه کړي. هغه په مدار مدار په خبرو راغله خو په خبرو کې ښتله او چې به لږې تېرې ورانه شوه نو د شهادت ګوتې به یې تندې ته ونیوله او د بېر څند پس به یې خبرې بیا شروع کړې. یو ځلی د ماشورې سر ورته ورک شو او پښتې یوه د بلې سره ور نه ګډې وډې شوې، ماستنه کړه.



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ناڅاپه په ژړا سر شوه او په سلګو کې يې د زړه حال را وسپاړه.

« پلار مې ظالم دی، د روسانو د بريد نه پس يې زه او ادې دواړه په هيڅ خبرې دګلو. څوک نه و چې حال ورته ووايو، خو يوه ورځ يې چې زه وهلم. خدل ور باندې توپ کړ تر هغې يې مروړلو چې مور مې ترې بېل کړ. تر دې حده بېهوسې وه چې زمونږ يوازينی ګټندوی سپی و. نو پلار به مې خدل وتاړه او په مونږ به يې پېښنه وکړه. په اصل کې مې په مور باندې په غوسه و خو چې وهله به يې ما به يې لاس ونيو، نو بيا به يې دواړه وهلو. په سوک، څاپېړه، ډانګ او حتی ان چې د آس په متروکې يې هم هيله نه کوله. بيا به د شپې لاړ دغره هغې ډډې ته، خپلې بلې سمڅې ته... سبا بيا همدا حال و. »

ما وويل،« د کله را هيسې په غوسه و ؟ » هغې وويل،« بس د روسانو د بريد له ورځې. » ما پوښتنه وکړه،« ولې ؟ » هغه بيا په ژړا شوه، شونډې يې وچيچلې او بيا يې وويل،« روسانو مې ادې ته بېشرمي .... » دڅانه سره مې وبل، همدا يې موقع ده چې نوره غوټه پاتې نه شي، نو مې سوالونه ورضربه کړل.

« نو مور دې پلار وژلې ده ؟ »

« هو، اصلي قاتل همدې دی »

« دخپله انده يې دا کار وکړ او که آبا دې تېل وهله ؟

« نه پوهېږم، زه کلي ته کوزه شوې وم. که خدل ژبه لرلی حال به يې ويلی و. »



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

« سپي ور سره و ؟ »

« هو ، بس د ليوني په شان په يوه منډه کې و . کله کوز کلي ته راته ، زه يې له لمنې کشکودلم او بيا يې برمنډه اخيسته. آخر مې شک پرې راغی ، زه هم ورپسې ورغلم. چې ومې ليده زه لکه لېوني ، ببرته مخ په کلي وتښتېدم . چې خلک مې خبر کړل ، ببرته راغلم ، خېل مې لکه چې د ادي پيره کوي ، گرد چاپېر ترې تاوېده. نژدې يې کليوال دا پلي وو .

« نو ته څنگه ناطقه حکم کوې چې پلار دې ووژله ؟ »

« نو خپل ولې ورسره وران دی ؟ »

« هغه خو د هماغه اولې ورځې ور سره وران و ، د مور د مرگ نه پخوا . »

« نو ته څه وايې چې زما د مور خون د چا په غاړه دی ؟ »

« زه وايم د کلي د ټول قتلان خون د روس او زمور د کلي د حراميانو په غاړه دی. ډېر يې همدغسې کسکر کړل. زه وايم ستا پلار هم قاتل دی او هم نه دی. د گرنگ ژي ته دې پلار رسولې وه ، خو ټوپ په خپله ستا مور وهلی. »

« نو زه اوس څنگه وکړم ، د چا نه يې وگنم ؟ »

« ظلم دې ببښکه چې پلار کړی خو قاتل نه دی ، قاتل روس دی چې اوس په تپښته د آمو نه پورې وتلی او هغه زمور خپل عزيزان دي چې اوس په نورو ملکونو کې چکر وهي. نه يو لاس ته درځي چې قصاص يې کړې ، نه بل. »

« نو د اد کو مرگ مې همداسې بابېزه لاړه ؟ »



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

« هېڅکله نه. خو اصلي قاتل وپېژنه، د خپل پلار په غاړه ملامتي اچول آسانه کار دی، ځکه اصلي مدعيان موجود نه دي. هغه خواره کی هم ستا د مور په شان د همدې آسماني کاڼي قرباني دی. »

« هغه رک روغ دی. نه يې مغزی مات دی نه مړ کوندی، نو په څه قرباني شو؟ »

« ته هم د همدې آفت قرباني وې چې اوس خدای بچ کړې. د پلار ژوند دې، ته به پرې آگاه وې که نه، ژوند نه، بلکې هر دم شهيدي ده. هر گام شرم، هر کاته خجالت، هره ساه بې ننگي، مرگ سل ځلې پرې بهتر. گلې، ستا پلار د زړه سوې دی. » د بخت جمالې اوښکې لا روانې وې او د کټ د پاسه يو خوا بل خوا زنگېده.

د ډاکټرې د نظره د غوټې پرانيسل شروع شوي وو، چې کوز مې کتل ملا د پنډ لاندې کړوپ را خېژي. د جمالو په لېدو يې جوال په درب وغورځاوه. ماته يې وکتل، « ظالمه، په لورکی مې دې څه وکړل؟ » ما هېڅ ونه ويل. ځلي د پلار په لېدو په هاې هوی سر شوه او لاس يې ور وغځاوه.

ملا د کټ په بازو کېناست، هغې غېږ ورته خلاصه کړه، « مورکی مې تا نه ده وژلې پلاره، ته مې نيازبين پلار يې، د رنه واری شمه پلاره. » ملا ژبون وهلی ناست و، يو لاس يې د لور په سر تېراوه او په بل يې خپلې مړې اوښکې په شمله پاکولې. ما وويل، « تاسې، پلار لور به خپل راز ونياز کوئ، زه به د اول ځل د پاره کوز کلي ته لاړ شم چې مفتاح دغوی ووينم، ډېره تلوسه به يې وي، خو ما تيول کليوال د راتگ نه منع کړې وو. » ملا


کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پاڅېږد ،« مـا په بوجـي کـې دخداى خـواږه راوړي، ډوډى وخـوره ، بيـا لاړشه . » په حيرانى مې بخت جماله ولېده چې دکټ نه کوزه شوه ، په اول کې خو يو څه کږه وږه تله خو بيـا يې ځان سم کړ او وېې ويل ،« ته کښېنه ، کمال خانه ، زه به دسترګو په رپ کې ستا دخوبنې ښوروا درته جوړه کړم . »

اوښکې يې لا وچې نه وې خو ورسره يې يو قسـم دماشومانو خوشالي هم په سترګوکې ځلېده . ما وويل ،« که د خداى رضا وه دوه درې ورځې پس بېرته راځم . اوس مـــــې بېره ده چې که تياره شي بيا به مې د سپيو سره اخ و ډب وي ».



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# «۴۱»

په بله شپه، برمانو مور، ټول مسلمانانه کړو، ټول مانا، زه مفتاح، سورګل، حاجي احمد او سالم‌جان چنغرک. د ډوډۍ په سر، سالم‌جان رانه پوښتنه وکړه، «ناروغه څنګه ده؟» ما وويل، «نشا لا چې د قابو لاندې ده، يو څو ورځې نور هم‌ وخت غواړي.» برمانو د سترګو لاندې راته وموسل او چې‌ما ونه موسل، سترګې يې بلې خواته واړولې.

په‌سبا يې چې سمڅو ته‌ستون شوم، جمالو، بيرته د پخوا په شان غلبدل شروع کړي وو. غومبورې يې لا تر اوسه هم‌سره نه‌و خو چسته چالاکه لره‌بره کېده. چې هغه د چای پسې سمڅې ته‌ننوتله، ملا وويل، «يره منم دې.» ما هيڅ ونه‌ويل. هغه په‌نيمه خندا ووېل، «ملا ته خو به‌سړی په شکرانه کې چور ګوړی ورکړي. زه حيران يم چې تا ته څه‌شی



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

در کړم. » ما بې خبر غوڅه کړه،» زما د پاره همدا تحفه کافي شافي ده
چې لور دې د تيـاره کـوهي نه راووتله .خـو هـفـتـه نـيـمه لا غـواړي چې د
ماغزو تهوله خيره بې پاکه شي. نور نو نشالانه دارو ته حاجت پاتې دی. »
بيا مې ورسره زياته کړه،» او نه ډاکټر ته. » ملا، لکه چې پخوا يې هيڅ نه
وم لبـدلی، خـوږې راته وکـتلې،» زمـا نه خـو به مـانـيـجن نه يې؟ » مـا
وويل،» نه هر څه سم شول. ته د قتل د الزام نه خلاص شوې، بخت جماله د
ليـونتـوبه. زما کار ختم شو، نور نو ته پوه شه او بخت جماله دې. » ملا،
ژبون وهلی پاتې شو، زه ترې روان شوم.


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

«٤٢»

دجمعې ورځ وه، ټول په جومات کې وو. اوس نو زموږ دکلي جومات د سره جوړ شوی و خو ملا يې نه درلود. ملا عبدالرحمن د جمعې لمونځ ورکاوه خو چې خلکو ورته دکال د امامتۍ خبره کوله ده نه منله. ده ويل چې زما د ټوک، اسقاط او تاويزونو، شوبستونو او خوردو سره جوړه نه ده. خو د جمعې لمونځ يې، منلی و چې تر څو کلي ملا نيسي، ورکړي. بهر د وياليې له غاړې د خلکو د اخ ټوخ، شړپ او شړوپ غږ راته. په همدې وخت کې څه شور ماشور شو. چې بهر ووتلم نو يو بوډا، دلګړې سره د جومات دېوال ته تکيه وهلې، خلک تری را تاو دي. چې څير شوم، ګورم چې ملا لنډه کی دی. دا هماغه سړی و چې په وړکوني کې يې موږ ته د امير حمزه صيب او رحمان بابا کتابونه په کړنګولي غږ ويل، هماغه سړی چې زما، برمانيو او سالم جان نه يې د سندر غاړو ډله جوړه کړې وه او زه يې



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

شعر او شاعرۍ ته راښکلم. د جومات نه هم خلک را ووتل او دخپل زاړه یار سره په نوبت تر غاړې وتل. ملا عبدالرحمن ورته محراب خوشې کړ، خو هغه په صف کې ودرېدا او د لمانځه تکبیر یې شروع کړ. نه پوهېږم چې دا زموږ د کلي شناختي پاس ګرځېدلی و که څنګه، خو ملا عبدالرحمن د الکهف په سورې پېښه وکړه. د لمانځه نه پس یې ملا لنډه کې ته د سر په اشاره د وعظ ست وکړ. ملالنډکی اوږده شیبه غلی و. بیا یې د لکړې په زور ځان محراب ته ورساوه. لکه عادت یې چې و، په نرم غږ یې شروع کړه. «اې خلکه، داصحاب کهف مانا، د سمڅې یاران. ددې په شان نزول کې خود قیانوس باچا یاد شوی چې څو کسه مومنان د بوه سپي سره دده له وېرې بوې سمڅې ته شول، خو زه چې فکر ورته کوم د قیانوس همدا سره کاپر وو او مومنین تاسو سمڅوال.» «لیکن چې سور کاپر خدای ورک کړ بیا هم تاسو خپلې سمڅې نه پرېښودې، خو خدای ستاسو خپل سرې،» بیا یې هرې خوا کتل چې سترګې یې په ما ښخې شوې.« کمالخان، در باندې پېرزو کړ، بېرته یې سمې ته کړئ.» بېرته یې دالکهف ترجمې ته مخه وکړه. د ملالنډه کې په غږ او دخبرو په انداز کې دا بو بیساری تاثیر و چې پېچلي قرآني آیتونه یې په داسې رواني، کلیوالي پښتو بیانول ته وایې دهمدوی په ژبه راغلي، او دهمدوی دتجربو سره جوسر لګېږي. همدا وجه به وه چې د ښار خطیبان ورسره وران وو، ځکه هغوی آیتونه په اړولې، کړکیچو پښتو او پارسو ترجمه کول، داسې چې خلک به پرې پوهېدل نه، خو سرونه به یې د ثواب د پاره هم عربي او هم ترجمې



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ته په اخلاص بنوروول. چې دالکهف سوره ختمېده نو ملالنډه کي د
حضرت خضر چې ده ورته خوجه خدر آيات ويل او موسی پېغمبر د ګډ
سفر کيسه وکړه او په آخر کې يې وويل، حضرت موسی هوډ وکړ چې تر
هغې به خپل دې مزل ته دوام ورکړي چې د سمندرونو د يوځای کېدو حد ته
ورسېږي. نو بې خبره کلي ته را واړوله. پخوانی ناخوالې او دخلکو را
ژوندی کېدو نکي هیلې يې يادې کړې. نه پوهېږم څنګه يې خبره زموږ
خپل نري سيند او بندونو ته را وګرځوله او په مدار مدار يې قرآن داسې د
کليوالو د زړونو مراندو ته نژدې کړ چې کتل مې چې داکثرو خلکو
څېرې مې لمدې وې اود برمانو په شان يې باکه سرې هم خپلې او ښکې په
شمله وچولې. ملالنډه کي د وعظ په آخر کې ماته اشاره وکړه چې يو څو
خبرې وکړم. زما سره دوه خبرې وې خو د ويلو چل يې نه راته. په همدې
وخت کې مې بخت جماله مرستې ته راغله. پاڅېدم، خپل ورغوی مې
خلکو ته ونيو، «دا زما د ورکتوب د لېونتوب د وختونو يار دی چې ما به
د سيند د غاړې په درګو او شېر غشو کې د شپېلۍ د پاره دروې لټول.
اوس چې مې ياد يېرې، پوره يو هفته داسې پرسېدلی ولکه خيګ، چې په
آخر کې دم ظاهر شاه په پاکی څېرې کړ. اوس يې هم موږه وينی. درد
نښته خو داغ يې شته. په تاسو هم لوی د ندو کار تېر شو او لکه ملا صيب
چې وويل، د سرو کاڼو د لاسه په سمڅو کې پټ شوئ، اوس خو که خير
وي بېرته د بېرازی دور را روان دی. کال ته به نشالا د شولو توري څنې
واړوئ او مستې رشې به واخلئ، خو داغ به لا پاتې وي. داغ بنه شی دی،



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

عبرت دی، چې بیاسری په دې کوهي کې پرې نه وزي. بله مې دا خبره کوله چې ښه یې بولئ که یې نه بولئ، چې زما په لاس پوره وهغه مې وکړل. نور نو په تاسو پورې ده. » ملا عبدالرحمن نورو ته مخ واړاوه. « د کلي مشران حاضر دي. زه یو عرض لرم چې ټول یې واوري. » بیا یې ماته کتل او ویل یې، « تاسو دې شاهد اوسئ چې زه د دغه ډاکټر هم پوروړی یم او هم ورته پړ. پوروړی په دې چې زما ناروغه لور کې یې راته روغه تسلیم کړه او پړ ځکه چې » بیا یې په خجالت کې نغښتې موسکا کلیوالو ته وکتل، « زه هم پښتون یم او ډاکټر که هر څومره ښه شي خو نامحرم دی، نو په زړه کې خامخا یو څه خرخښه راسره وه. لا محال به تاسو سره هم وه خو څه به مو نه ویل، زه فکر کوم چې ډاکټر هم را باندې پوهېده خو په صداقت یې ثابته کړه چې هم مسلمان دی هم پښتون. نواوس ترې بخښښت غواړم، تل به یې د احسان پوروړی یم » ما ځانه سره وویل، چې زه د څه شي تمه لرم او دی د ووس څه لګیا دی. په اول ځل قهر راغی. کلیوالو هم د هغه نه دغوڅې خبرې یا لوز تمه لرله خو ملا په خپل ځای کېناست. ټولو ماته کتل. زما خاموشي د جومات فضا په زهرو لړلې وه. ځیني له نارامي تو خېدل. ځینو په زیږو لاسونه تېرول، ځیني هسې سره منجېدل. هر څومره چې خاموشي زیاتېده هماغومره په ملا خولې را ماتېدې او کلیوال نا آرامه کېدل. د ځانه سره مې ویل چې همدا دي غوښتل، اوس ولې دوه زړې شوې؟ نو ومې ویل، « د تاسو او ملا صیب د لوربنې او خواخوږی نه مننه. زه د دومره پېرزوینې لایق نه وم. د بخت



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

جمالې بي بي رغبدل خدايي خبره وه، چې تاسو يې زما کوشش بولئ د بېره مهرباني. د بخت جمالې » ما غوښتل چې ښايست و وايم خو بېحيايي راته ښکاره شوه، « په کړو وړو، پاک لمنی او قابلې کې هېڅ شک نشته. دا زه څکه وايم چې له نژدې يې پېژنم. » خلک د کار خبرې ته منتظر وو. ما وويل،« خو بوه سکتلي لا زما او د ملا صيب تر مينځ پاتې ده چې گندل غواړي. » ملا له خجالته سر تيت واچاوه او کليوال چې گوروم ښکاريدل، همداسې غلي يو بو له جوماته ووتل. وروستی يې برمانيو، چې دوتلو په وخت کې يې مخ را واړاوه. د ملامتي گوته يې راته سيخه کړه،« په اول څل مې درنه وبره وشوه چې څه وراني ونه کړې ».



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## «٤٣»

زه نبغ ځمځو ته وختلم. ملا نه و. بخت جماله د صفې په ژۍ په يوه تغاره کې د جامو په مينځلو بوخته وه. زما په ليدلو اوچته راپا څېده، په بيړه يې د کټ نه هماغه څادرچه په دې به مې غوړاوه، راواخيست، پلو يې واچاوه او خپل پاو ليداره سره بخملي، کميس ته يې وکتل چې په ځان پورې يې تنګ و. دوار خطايي په خندا يې وويل، «دامې دوړ کتوب کميس دی. دوه نورې جوړې مې ومينځلې. «بيايې زياته کړه، «درې نورې جوړې هم په يکې کې شته خو دا مې، دمورکی خبره، ددويانو کميس دی.» زه په کټ کنبېناستلم او کوز مې کلي ته په سيل ځان مشغول کړ، چې جمالو ته موقع ورکړم چې ځان سره راټول کړي. ابا راباد شو چې کلا ته دننوتلو سره سم يې ځو ځو خلي تېوخل، چې ښځګلو ته دستر او دځان دراټولولو موقع



کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

ورکړي. جمالو مینځلي کالي، نښتیځل اومروړل، په ښانک کې را تړلول چې بیا یې د سمڅې دمخې په طناب وځړوي. همداسې مې شادي ته وه او سوال ځواب مو سره کول:

..ته شیطانه رکه روغه شوې، داځنګه؟

..هو شکر دی.

..دا څه جادو یا کوډې وې که څنګه؟

..ستا قصید ې ته څو ک تینګېدای نشي.

..ته پوهېدې چه زما د رسره مینه وه، ډاکټري نه بنیم، هغه بل قسم؟

..هو

اوستا؟

ځنګه بې شرمه خبره!

زما سره واده کوې؟

.. اوس لکه چې زما په ځای ته لیونۍ شوې که څنګه؟، پخوا خو دومره بې شرمه نه وې؟

.. واده شرم نه دی.

..خو پوښتنه یې شرم ده، او که ته دامریکا کانې کوې.

..نه د امریکا کانې نه کوم خو په قسم قسم مې چې ستا پلار ازمویلی، خو ولا نشکر ک، مانا، نه کېږي.

..پوهېږم.

..ته پوهېږې چې نه دې راکوې؟



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

..هو. زه خپل پلار پېژنم. نورو ته به سپين چرگ وي. خوزه يې پېژنم چې داوبې نه زيات کينه کښ دی.

..نو اوس به څنگه کېږي؟

..ستاپې خوښه . زما سره يې دهغې ورځې نه نوره هم ورانه شوې ده چې ده د نوروز زوی ته په نامه کړم او ما په حاجي احمد نتواتې وروره.

..ماسره واده کوې؟

..څومره ډېر يې وايې!

..کوې يې؟

..بې د پلار داجازې؟

..سم خواب راکړه . واده راسره کوې؟

..بس نو خبرې ډېرې مه کوه، که نر يې. در خپله مې کړه.

..نو ته څه. داغوستو جامې تياري کړه.

چې ما خوله نورو پوښتنو ته پرانستله، له لرې ملا را ښکاره شو چې د همېشه په شان د بوجۍ لاندې کړوپ کړوپ را خوت. بخت جمالې ته مې وويل، «ته څه، تولې جامې، تک پوک په بوجۍ کې واچوه، راووزه.» په بيړه يې د جامو ښانک اوچت کړ او غيبه شوه. ملا زما په ليدو داخلي نظر پخوا ته په ډېر زرپ بوجۍ په صفې وغورځوله او بې له سلامه را ته مخامخ ودرېد. دمازيگر لمر له غونډيو اوږده سيورې د کلي په لور غځولي وو. له کلو دغواوو رمباړې او ورسره د څپنو کوروتو نه لوگي پاس را ختل. ملا بو لاس سترگو ته چجه کړ، «کمال خانه، نه پوهېږم څنگه يې درته ووايم، خو



كتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

لنډه یې د ! چه ورځه په مخه دې ښه، لور نه درکوم. «زه حیران پاتې شوم. بیا مې پوښتنه وکړه،» تا څه ویل ملاصیب؟ «هغه وویل،» بس لور نه درکوم، زه پښتون یم او خبره مې بوه ده. د نوروز زوی ته مې ورکړې وه، دهماغه ده، ما وویل،» ملاصیب ما خو تر اوسه د بخت جمالې پسې جرګه نه ده دروستې خو لکه چې ته په نیمه نه پوهیږې. اوس به صفا درته ووایم چې بخت جماله ګلروز نه غواړي، نو اوس څنګه کوې؟ «هغه دناخوالې په خندا وویل،» دا امریکا نه ده. «ما وویل،» یا به بیا درنه وتښتي او یا به بیا ناروغه شي او دا ځلې بې علاج نا شونې دی، سوال درته کوم، په لوی لاس خپله لور مه وژنه! «ملا په قار وویل،» سوال کوې که امر؟ «ما وویل،» هرڅه یې چې بولې خو بخت جماله نور د نوروز په زوی حرامه ده. «ملا په تعجب راته وکتل،» څوک وایي؟ «ما وویل،» بخت جماله یې هم وایي او زه یې هم وایم. «ملا بیا په زهرو لړلې خندا وکړه،» رنګ دې ورک کړه او که نه، په یوه مردکي دجنت مرغی درنه جوړوم. «په همدې وخت کې بخت جماله، سپی تر وروړ نیولی، بوجې په شا، راووتله. سترګې یې پر سرې وې او مخامخ ملا ته ورغله. «پلاره، زه خو نوره وسله نه لرم، خو قسم دی چې خپل درشکارم. «سپي د مست آس په شان وړاندې زور کاوه، بخت جمالې ببر ته را تینګاوه. ما ته یې په غوسه وویل،» ته لا ولاړ یې؟ «په خپله بوجې په اوږه، سپی تر وروړ نیولی، خرامانه او بغمه کوزه روانه شوه.

ما داسې نه غوښتل خو نا چاره ورپسې روان شوم. شا ته مې نه کتل. د مزاري ملګري موټر لا د غونډۍ نه کوز په خوړ کې ولاړ و. چه له اول



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

پېچومې ورکوز شو نو ځان مې بخت جمالي ته ورساوه. بوجۍ مې ترې واخیسته، بیا مې تر لاس نیولې د موټر خوا ته روانه کړه. زړه کې، د برې خبرې، داند ښېنو سره ګډې هیلې لرې برې ګرځېدې، بخت جمالي سره به بې را برسېره کوم، خو نا ځاپه مې تر شا ډزې واورېدلې او ورسره داګوزه رغښتله او ما، لکه په خوب کې، وریسې منډې وهلې، نه پوهېږم څنګه او چېرته مې، ړنګه بنګه په غېږ کې را جګه کړه. پاس مې وکتل، ملا تو یک په لاس ولاړ و لکه ښکاري چې له ډز نه پس خپله کامیابي ازمېیې.

نور نو څه نه په کې ځایېدل، موټر ته مې ورسوله. په سیټ کې مې وغزوله. په منډه خپل بکس او د شابستې پسې لاړم چې په مخکه مې غورځولي وو. موټر ته لا رسېدلې نه وم چې بل ډز مې واورېد، په سر کې مې کړنګا شوه، خو زړه کې مې وګرځېده چې د لامدو به څه لامده شي، په موټر کې مې د جمالو په مخ لاس تېر کړ، د لته هلته وینې برخ برخ راکتېدلې او، د وینتانو له مینځه بې هم وینو په وروځو کوزه لاره جوړه کې وه. پوه شوم د ملا د ښکار چره ییز و. بېرته ډاکټر شوی وم. د بکسي نه مې خپل کمیس را وایست، رینبکی رینبکی مې کړ. د چرو د لګېدلو ځایونه مې پاک کړل. بوه ټوټه مې را غبرګه کړه، په سر مې ورته کېښوده، بیا مې نورې رینبکی سره غوټې کړې، او ړده رسی ترې جوړه شوه. هغه مې په سر او مخ داسې ترې را تاو کړه چې د غوټې ځای ببدو په زخم برابر شو. رسی مې په ټول قوت ټینګه وتړله چې وینه ودرېږي. او موټر مې چالان کړ. مخامخ په خوړ کې مې کتل چې یو سړی ځادر راته



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ښوروي خو زما فکر ورته شوی نه و. موټر مې سست کړ، برمانيو شاتني سيټ ته را تيوپ کړ.

اکسلبټير ته مې لته ورکړه. وينه مې درولې وه، خو ويره وه چې په بندو رګونو کې پرنده نشي چې که ډېر وخت وينه ډب شي، نو بيا زخم زمونږ ډاکټرانو په وينا ګانګرين کېږي، چې بيا د غوڅولو هيڅ لاره نه لري. د علي آباد په لار مخ په بغلان بو څه لاره تللي وو چې زما په اوږه هم درد راغی. برمانيو غږ کړ، «وينې درنه بهيږي، لکه چې ته هم لګېدلی يې. د خانه سره مې وويل، دا لا بله بښرمي. لستوني مې بهر وابست، برمانيو ته مې وويل،» هلکه د موټر د درولو وخت نه لرو، بس ويې تړه. «هغه خپل څادر ريښکی کړ، وينه يې وچه کړه او بيا يې ټينګ وتاړه. او په خوش طبعي يې وويل،» زه و خدای که به مور خپل ماشوم داسي ښکلي په ورونې کې وتړي. «ما وويل،» برمانيه ته د تيوکونه نه اوړې، خو پام چې له هر لوري سخته را پښبه دده. د موټر تېل هم مخ په ختميدو دي. «هغه په ډلاسايي وويل،» بره، د تلاشي پوسته ده. ګوندي چاره وشي. «اکسلبټير ته مې لته ورکړه او د د تېلو د ستنې نه مې سترګې بلې خواته واړولې، بې هغې په حسفر ولاړه ووده.

د صباد په تنګي مې ايله د تلاشي په پوسته سترګې ونښتې. ډېرش لاري ليکه ولاړې وې، زه بې ترسا ودريدم. برمانيو په تيوپ د موټر نه کوز شو. ما کوشش کاوه چې شاتني سيټ ته شم چې د جمالو خبر واخلم، هغه همداسي غلی پرته وه، اوږې مې څريکې وهلې او په پښو کې مې زور نه و.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

په څنګ کې ورواوښتم، بس نوره زما د کميسه په ړيښکيو کې پټه وه، بوازې سترګې او خوله يې ښکاريدل. په وينولړلې پټۍ مې په کرار کرار خلاصې کړې. وينه د ريدلې وه خولمن يې ټوله سره وه . ما وويل، « ګلې، خبرې مه کوه، مزار ته لړه لار پاتې ده، خدای به هر څه سم کړي، » هغې يوه کمزورې موسکا وکړه، لاس يې اوچت کړ او زما په خوږ بازو يې کېښود. وينه د برمانيو د پټيو نه بهر را پرخېدلې وه. ما وويل، « زه هسې برسېرن لګېدلی يم، پروا مه کوه. » بيا يې لاس زما تندي ته يوړ. ما دهغې زخمونه بېرته وتړل او خپل سيټ ته راستون شوم. په هينداره کې مې چې کتل، وروڅې مې په وينو سرې وې.

تلاشي والا طالب او برمانيو يو ځای را ورسېدل. سره خوله هلک وچې د کلاشنيکوف کنداغ او د تورې پګړۍ شمله د واړه ورپسې په مخکې څنېدل. سر يې را دننه کړ، ما ته او بيا يې شاتنې سيټ ته وکتل، « دا څه د وينو تالاو دی؟ » په وارخطايي يې مخه خپل دفتر ته کړه چې برمانيو راستون کړ، « دواړه لګېدلي دي او که په يو ساعت کې ډاکټر ته و نه رسېږي، خون يې ستا په غاړه. » طالب تکنې شو خو بيا يې چې شاتنې سيټ ته وکتل نو ويې ويل، « درځئ، ستا يې تلاشي وسوه! » جمالو په نرې غږ څه لګيا وه، برمانيو ويل، نجلۍ او به غواړي. طالب ورک شو. برمانيو درې دانې د تېلو ډک پنځګېلنې له کوم ځايه را پيدا کړي وو او تر څو طالب راته، ټول يې په ټانکې کې توی کړل. زه وېرېدم چې اوس به نو د پوستې بابوګان راځي او تحقيقات به وي، خو طالب د تېلو په بوي ګېلنې



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

کې اوبه راوړې او وېې ویل ،« دا درسره واخلئ په لار کې به مو په کار سي. »
نور نو په ځان خبر نه شوم چې موټر مې چالان کړ که نه. دومره مې یاد شي
چې خوارۍ مې دېره کوله او په همدې وخت کې ، داسې لکه خوب چې وینم
د جمالو لاس و ، گرېوان ته یې را اچولی و ، چیغې وهلې ، « مه رانه ځه. »



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

«٤٤»

د ماغزو کوم ځای مې وینې و ، خو دخوزېدو مترده را کې نه وه. ژوره تیاره ځاوه، چا مې لاس نیولی و خو هغه را ایستلم نه، او زه و تلی نه شوم. نوره نو بیا تیاره وه. یو وخت مې تیرې چړې په سترګو را سیخې وې. اوس په ځان پوهېدم خو سترګې نه خلاصېدې. چې لږ مې په خواری نیمکښو کړې، بیا تیرې چړې وې. له لرې آشنا زوږونه را تلل او چا مې لاس سرو یه. په همدې کې مې د مزارې ډاکټر غږ وپېژاند چې نورو ته وایې چې سړی بچ شوی دی غم مه کوئ. بیا مې دسترګو د پرانستلو کوشش وکړ، چا لاس وریاندې کېښود، « د رڼا تاب لا نه لري، د کړکۍ پرده را کاږئ » چې بیا مې تکل وکړ نو لکه د لالټین رڼا ته، سیوري وو، لر او بر



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کېدل. ما ډېر مریضان لېدلي وو چې په سد به شول، نه پوهېدل چې چېرته دي. د ځانه سره مې وموسل چې هغه وخت ما نه منله چې دوی رښتیا دخپل ځای ځایګي نه نا خبره دي، خو اوس همداکانه په ماشوې وه. چېرته، ولي، کله، څنګه؟... حسمي او دماغي کمزوری بېرته د بې خبری غېږ کې للو کړم.

خدای خبر څومره وقفه پس مې سترګې پهاتیات پرانستې. دوه کسه ولاړ وو خو دواړه سیوري تهوو، فرق یې نه کېده. خوزما لوېه تلوسه د لوړې وه، د شونډو په پرانستلو مې زور وواهه خو هغه د سر پو په شان درندې وې. لاس مې جګ کړ چې خولې ته یې یوسم چې وږی یم، خو کتل مې چې په یوه مزي پورې تړلی دی. چې پاس مې وکتل، د سېروم کڅوړه وه. پههمدې وخت کې سیوري را نژدې شول. بونرم یخ لاس مې په تنده ولګېد. پهشواخون مې شونډې پرانستلې خو غږ پکې نهو، چا غوږ ور پورې ونبلاوه، پهبېړه یې بل تهوویل،« وایي وږی یم. » د پښو دربهار، د دروازې غنګهار اوګونګوسې شروع شو. ډاکټر ډاکټر یـــــې لـــــرل. شیبه پس مې د مزاری ډاکټر غږ واورېد، « کمال خانه، بېرته زموږ دنیا ته ستړی مشې. اوس خومې سیروم تړلي خو دښوروا بند وبست روان دی. »

ما سترګې پرانستلې خو غږ لاهم نامردي کوله. بېرته یې مننې یووړم او ایله هغه وخت را وېښ شوم چې چا مې دشونډو مینځ کې پهلر ګېنې ځمخۍ ګرمه ښوروا راڅڅوله. د ستوني پهنلی کې نرمه لګېده.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پس له څو غوړېونو، مې لوږې غزونې وکړې، غوړېونه مې لوی شول او پر له پسې مې خوله وازه نيوله چې را وايي چوی د يو خېل خوشالی ښکالو مې اورېده او ناڅاپه مې د بزمانېو خندا واورېده چې ويل يې، «سړی تش لری دی، چې اوس موږ ونه خوري!»



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## «٤٥»

په دریمه ورځ په کټ کې کېناستلم او برمانو راته په یوه جمله کې حال وو ایه ،« ملا عبدالرحمن په ښکاري توپک وویشتی ، د پاتکه پوري ښه وي خو ښيا بې سده شوې . زما د برکته ، د طالبانو یوه موټروان ، نېمژواندی تر ډاکټره ورسولې . » ماوویل ،« ما یه توپه وله ، جمالو چېرته ده ؟ » هغه موسک شو ، « رکه روغه ده . ته خپل غم کوه چې زوږ نشې . » په همدې کې مزاري ډاکټر ، ستیاتیسکوپ په غاړه کوټې ته ننوت . ایله یوه شوم چې روغتون ژ . په کټ مې کښېناست . زما لاس یې په لاس کې ونیو ، ساعت ته یې کتل . تر شونډو لاندې یې شمېر کاوه . پاڅېده او په موسکا یې راته وویل ،« پیران دې زورور دي . » بیا یې نور د وتلو تا بیه نیوله خو کوم شی یې په زړه کې وګرځېد . بېرته د کټ په ژی کښېناست ، » ته او هغه دواړه



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

خو په چره بیز توپک لګبدلي وي. ستا د مټ او بخت حمالي ځه. دمځ ا، کپری نه مې چرې په نوسي را وایستلي. هغه بې چوخسه روغه جوړه ده، زموږ کور کې اوسي او زما د مېرمنې سره بې یارانه ښلولي. ببغمه اوسه، خو اوس زه دې ته حیران یم چې ایکسرې ښا په ماغزو کې بود لویه ګولۍ ښیې، چې دا له کومه ښود؟» برمانو لکه دځانه سره چې رغبږي وویل.» ملا خو دوه توپکونه نه لري. کمال خانه، تا خو ویل چې هغه دې پاس په غونډۍ ولید چې ستاسو ننداره یې کوله، څنګه خبره وه؟» ما وویل.» ما چې کتل بس هماغه یو توپک یې په لاس کې و خدای مې دې غاړه نه نیسي له نلۍ یې لوګی هم خوت که به زما سترګې تېر وتې وي.» پس له ډېره څنډه برمانو په خبرو راغی.» زه او خدای چې په هوښیارۍ کې مې ثاني نشته، بیا مې موند. ملا کله دغرڅو ښکار ته هم تللو او چې ما پوښتنه ترې وکړه چې ملا صیب غرڅه خو په چره بیز نه را پرځي نو هغه راته د یو کالتوس سر خلاص کړ چې د باروتو په سر یوه د سرپو ګولۍ وه. ده خپله ډک کړی و. ته وایې چې دریږه وشول. نو ودې شي چې همدا وروستۍ پکې د همدې کالتوس و.» ډاکټر د شاباسي په علامه سر وښوراوه. د برمانو ځان ستاینه را غونځېدلې وه.» بره په دې بزرګۍ زه هسې په هوا نه الوځم.» ډاکټر ورسره ومنله، ما ته یې مخ کړ.» همدا یې پیره ګولۍ ده چې په ماغزو کې دې ځنبه ده او ما یو څه خواري هم پسې وکړه خو ونه شوه او نه یې اسباب را سره شته. نور نو خپله اټکل وکړه چې پیران دې څومره زورور وو چې ځای په ځای یې په



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

مخکه خبلي نه کړې. » دی د پاڅېدو په حال کې و چې ما ډلستوني نه ، اتېګ کړ . ببرته کښېناست . غږ مې اوس ایله د پس پسي نه یو څه جګ و . پوښتنه مې وکړه ،« ته وایې خواري دې وکړه ، چېرته پرته دة ؟ » ډاکټر راته موسک شو ،« هغه د ډاکټر روغ په تاتوبي ، په ماغزو کې پرته ده ، د کېرې یو څو کودې او مات شوې هډوکي مې په نوسې را وایستل خو ماغزو ته مې لاس ور نه وړ ، او زما وس پرې نه رسېږي . خو چرت مه خرابوه ، دهغې بندو بست هم شوی دی . » چې ډاکټر لاړ د برمانیو اوتې بوتې شروع شوې ،« زوی یې لوی کړې کمال خانه ، چې زه څومره هوښیار یم ! » ډېره شېبه دواړه غلي وو . په آخر کې برمانیو ، لکه چې ایله یې زما په تلوسې سر خلاص شوی وي د آس د شنهار په شان د زړه د اخلاصه وخندل ،« برمانیو څه بې وقوف څناور نه دی . » نورې څه ببو لالې یې هم وریسې شتې کولې خو زه خوب وړی وم .

د روغتون نه د رخصتولو په ورځ ډاکټر وویل ،« ته او برمانیو به یو هفته ، بلکې لس ورځې زما مېلمانه یئ . هوټل مې د رته نیولی دی . » ما ته نوره حوصله پاتې نه وه ،« ستا کور طالبانو نیولی او که د رباندې غمېدلی یم ؟ » هغه په نرمه ژبه وویل ،« په غوسه کېږه مه ، نه مې کور چا نیولی ، نه را باندې غمېدلی یې ، خو دا زما د مېرمنې امر دی . د بي بي بختجمالې هم همدا سلا ده . خیر دی یو څو ورځې به هوټل کې تېرې کړه ، هسې هم روان یې ! » زما غوسه لا پسې زیاته شوه ،« بخوا خو دې داسې ژوولې خبرې نه کولې ! کوم قبر ته روان یم ؟ » ډاکټر وخندل ،« وریه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

شي خبر به شي. » چې د خدای وسې مې کولې دا کتهر کور ته بو نه تلم.
هسې خو بې د هر عزتونه را له کول خو د کور ست يې نه کاوه او ماته هم
پښتو زندۍ را اچولې وه، دده د کور نوم مې نه اخيسته.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

«٤٦»

یو مازیګر په هوټل کې ناست وم، سر مې یو څه سوی کاوه، ورمېږ مې راباندې دروند کېده، په واسلین غوړ او هغه چې برما نیو را نیوولي و، پاخه دانګه چې مېلمانه یو. « زه هم په خوشالی پاڅېدم. ویل مې چې دا ازبک کله خام څنګه دومره مهربانه شو!

دهغه کور دوه سره ببل انګړه لرل. لوی یې د مېلمنو چې دوی یې قوشخانه بولي، بله د آل آیل. دلوی انګړ مینځ کې یو درخت ټوی دیګي په نغریو اېښې وه، اورونو یې هرې خوا ته زېږ وهلې او دلوخړو منحلې تږې هوا ته کېدې. په قوشخانه کې سرې غالی، د پرو بالښتونه او د سرو بخملو نیالیچې غوړېدلې مخور اوزبک د سرو او شنو چپنو، لویو پګړیو سره، ماسی په پښو، ملا په ګل سیب دسمال تړلي ناست وو. برسرنه چې



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

مې کنل د مزار والي، تسبې په لاس پلټی وهلې، مخورو ته خبرې کولې. زما په نوتلو تول له ځایه پاڅېدل او په نوبت یې برګېندي را سره وکړه. ما: شوتی چار چاپېره بو تش ځای د ناستې د پاره لټاوه خو والي له لاسه ونیولم، خپل څنګ ته یې کښېنولم. د نورو سره یې خبرې بس کړې او ما ته یې په خندا ووېل، «ډاکټر ګله، هغه تجلي بیا څه شوه چې هغه بل ځلې یې تا را ته شفاعت کړی و؟»

ما ووېل، «صیبه، نه یم خبر، ما بیا ونه لیده. بخښنه غواړم چې زه په بېړه بېرته خپل کلي ته ستون شوم، که نه ستاسو نه به مې مننه کړې وه چې د نه پېژندنه په حالت کې مو د ومره مهربانه وکړه.» والي مې خبر غوڅه کړه، «مهربانه نه وه، صله رحمي وه، تا د تجلي سره وکړه او ما ستا سره. رښتیا په تا څه شوي چې اوس دې بیا ځان په بله لومه کې ګیر کړ؟»

ما ووېل، «څه لومه صاحبه، ره لګېدلی وم، بس د پاټک والا طالب توره وه چې تر ډاکټره پورې یې ورسولم. تاسو به نور بنه پېژنه کېږد، خو مهربانه مو په ما پوره ده. نور جنجال در ته نه جوړوم.» هغه وخندل، «چېرته ځې؟» زما سره ځواب نه و. والي صیب زه د قسمت د سېلاو نیز وړی یم.» والي ووېل، «خیر دی، دا خبرې به وروسته سپینوو، اوس به ستا مېلمستیا وخورو.» ما ووېل، «ما خو مېلمستیا نه ده کړې، زه هم ستاسو په شان مېلمه یم.» والي بیا وخندل، «خبر یې چې مېلمستیا خو هم ستا د پاره ده،؟» اوزبک مخورو هم خورې را ته کتلې او یوه سپین ږیري غږ کړ، «نام خدا، قت ای قد قیل!... په دې دنګه ونه.» برمانو بېشرمه پاڅېد،



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

خدای د دمگری بهانه ورکړې وه . اوزبکو ته یې مخ کړ او د خپل نیمګړي
څادر سره یې په ګډېدا پیل وکړ. ورسره یې دا بدله هم ویله.« هلک نری
چنار دی جلی دګلو ونه ده. »بیا یې د ازبکو د پاره ترجمـه هم خپله
کوله.« بچه چنار قیل است، دختر درخت ګل. »چې کتل مې دوو کسو
یوه لویه قدیفه کوټې ته راچلوله، نبغ راغلل، زما په سر یې تشه کړه. ټول
نقل او پټاسې وې. ایله مې پام شو چې برمانو او ډاکټر پسات را باندې
وکړ. والي غاړه تازه کړه او د قرآن آیتونه یې شروع کړل.وروسته برمانو
او ډاکټر؟ راغلل او دوالي مخې ته یې زنګنونه ووهل. والي وویل،« له
کومه راغلئ از کجا آمدین؟ » دوی په یوه غږ ناري کړې،« از شهر
عدالت »والي بیا پوښتنه وکړه،« څه مو راوړي، چی آوردین؟ » هغوی
وویل« اصل وکالت، »بیانو اول برمانو او بیا ډاکټر وویل،« بي بي بخت
جمال، بنت عبدالرحمن. . . . »وروسته نو والي په عربي نکاح وتړله،
برمانو مې د لاس ورغوی په نکریزو سور کړ، له هرې خوا د مبارکی
غږونه شول. والي د نقلونو د شخوند سره وویل،« یې خلکو! شاهدانو خو
دنجلی در ضا ډاډ را کړ خو شرعي داده چې د کمال خان نه هم پوښتنه
وشي. څه وایې کمال خانه؟ »ما وویل،« چې تاسې دومره زحمت بنکلی،
نو ستاسو خبره کله ایسته غورځولی شم؟ »والي ته هم لکه چې لوبې خوند
ورکړی وي وویل،« داسې نه کیږي ، سم صفا ووایه چې قبوله دې ده که نه
؟ »ما وویل« هو »خو والي پرېښودونی نه و،« مازې هو؟ »خو برمانو
ورته وویل،« بي بي کمال خان د بکرۍ نه هم زیات شرمیندوکې ده، خو له


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

بې نه جوړېږي. » په همدې وخت کې دوه ډاکټران راغلل او ټول غلي شول. د ماسختن تر لمانځه وروسته والي د تګ تابیه ونیوله خو زه یې هم لاس نیولی د انګر ته وایستلم، په لار کې یې وویل. ستا سره زما یو، بلکې دوه کارونه دي. یو دا چې د کندوز والي په تلفون کې راته وویل چې عبدالرحمن د دوی سره بندي دی، ووایه چې څه ورسره وکړو. موږ خو د اسلحه ناریه او جرح شل کاله قید وړ باندې خبر ولې چې ته څه په کې وایې؟ » ما وویل « په ناریه او جرح دې نه پوهېږم خو که زما د زخمي کولو په جرم مو نیولی وي، بیره ما خو بښلی دی. » والي د رضائیت سر وښورا وه، « په رښتیا چې کمال خانه ته ښه سړی یې. دا دې هوښیاري هم وکړه چې د خپلې ښځې په زړه کې دې هم خرڅښه پاتې نه شي. زه به سبا ته د کندوز والي ته تلفون وکړم. زما بله خبره د پاسپورټ ده. » ما وویل، « د څه شي پاسپورټ، په خپل ملک کې هم تاسو پاسپورټونه لګولي دي؟ » هغه وویل، « ساده کېږه مه، ډاکټر دوست دې وایي چې ستا علاج دلته نه کېږي. لکه چې کوم امریکا یې آشنا دې هر څه درته تیار کړي دي، پخپله د هر کلي د پاره دې لا دوخته تاشکنت ته رسېدلی دی. نشالا چې سبا به غبرګ پاسپورتونه تیار وي. خو زما دا یوه خبره یاد لره چې بنده ناتوانه څیز دی. ماغزه د خدای اسرار دي او ته د بندګانو په ماغزو ډېر لګېږي. نو اوس د خدای د حکمت نه عبرت واخله چې ستا په خپلو ماغزو کې یې سرپ درته ښخ کړل. چې روغ شوې او سلا دې کېده نو بېرته راشه، په همدې مزار کې اوسه. بیا یې لکه خپل جدیت چې پټوي دا هم ورسره



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

غبرگه کړه.» زه به دې ننداره کوم چې ته د هر لیونیان رغولی شې که د سخي زیارت. » د خدای پامانی غبرګ بې رانه چاپېره کړه، په غوږو کې یې رانه وویل.» سماع او سرود په اسلام کې حرام دي، خوستا په خاطر به نن شپه، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر چار واکو ته، چې تاسو خلک یې په غلطه نکیر منکر بولئ، امر وکړم چې په غوږونو کې مالوچ کېږدي. »

چې بېرته انګړ ته ننه وتلم، د ډول او باجې ساز شروع و. برمانو وویل، دا ټوله پټنه ما او ډاکټر جوړه کړې وه.» د یوې تنګۍ بېزو نه وه، د سلورو پو زنځیر یې بوږ. ډانګ لالا، ته چندیانې شی نه یې خو د سرو زرو ټوټه به سبا زموږ نه بوزې».



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## دانش خپرندويې ټولنې خپاره کړي:

- تاريخ احمد شاهي
- افغانستان در قرن بيستم
- تاج التواريخ- پښتو
- د افغانستان سقوط
- سقوط افغانستان
- در افغانستان چه ميگذشت؟
- افغانستان سيتج بازی بزرگ
- د افغانستان لنډ تاريخ
- تاريخ مختصر افغانستان
- خسارات وارده به فرهنګ...
- شبخون افغان
- در زوایای تاريخ معاصر...
- رجال و رويداد های تاريخی...
- بازی بزرگ
- افغانستان سرزمين اريا
- افغانستان د تاريخ په رڼا کې
- جريانات تاريخی افغانستان
- نقد بر جلد دوم سير تاريخ...
- خاطرات حکيم طبيبی
- اسنا دونامه های تاريخی...
- سرې لښکرې په افغانستان کې
- افغانستان څنګه تباه شو؟
- د مرګبر وزرو
- سوځېدلې جنت
- احمد شاه بابا ديوان
- احمد شاه بابا افغان
- د الفت شعري کليات
- د الفت نثري کليات
- غرغښت يا ګرشاسپ
- تاريخ خط و نوشته های کهن
- روسيې پراختيا غوښتنه او ...
- سيمای سينمای افغانی
- ميتود های کلينکی طبی
- ګلزار لطايف
- جنسي اړيکې
- رازی راکه نميخواستم افشا کنم
- د پښتو ادبیاتو تاريخ
- ياداشتهای من
- مدعا و مثل در شعر بيدل
- داود خان د کې جي بي په ...
- فن زناشوی
- د بناپيرۍ ورغوی
- له نرګسه تر نرګسه
- خورې خبرې
- پلوشې، ژورليدونه
- افغانستان از جنګ ګرم تا جنګ...
- ضرب الامثال و کنايات
- يکدسته ګل
- ستوري د ادب په اسمان کې
- افکار جاويد
- اهنګهای احمدظاهر
- اهنګهای ساربان
- اهنګهای ناشناس
- د خزان طلايي پلونه
- سپوږمۍ په ځنګل زار کې
- ولسي سندرې
- محمد نور ولسي شاعر
- پالي شه باران دی
- شين ناغې
- ګتهالی
- ګلستان سندره
- د غزني شابهار او بودايي هنر
- شريک بالاپوش
- کوچباني بانګه
- منثور کره کتنه
- او نور...

کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)